# سیګار

د افغانستان د بیا رغوني لپاره
ځانګړی عمومي پلټونکی

جولای 30
2010






د متحده ایالاتو کانګرس ته درې میاشتنۍ راپور

3

سیګار | د متحده ایالاتو کانګرس ته درې میاشتنۍ راپور | جولای 30، 2010


سیګار
ځانګړی عمومي پلټونکی
د افغانستان د بیا رغوني لپاره

2221 South Clark Street
Suite 800
Arlington, VA 22202-3712



يو افغان موسيقيار د مى په مياشت کې په فراه ولايت کې د اناب ګل مشاعره کې رباب غږوي. رباب يوه تار لرونکي عود ته ورته آله ده چې په عام ډول د توت ونې له ډډې او د څاروي له پوستکي څخه جوړيږي. د مشاعرې په جريان کې، د هر عمر نارينه او ښځينه شاعرانو خپل شعرونو ولوستل چې اوريدونکي يې ايتلافي ځواکونه، ولايتي مشران او د فراه ولايت له 10 ولسواليو څخه راغلي افغانان ول. دا لومړی ځل وه چې په دوه کاله کې داسې يوه مشاعره جوړه شوي وه. (د متحده ايالاتو هوايي ځواک انځور، ريلان کې البرايت)

**د سرپاڼې انځورونه (د بره چپ نه ښي لور ته):**

قومي او ديني مشران د جون په مياشت کې په کندهار کې راغونډ شوي چې يو شمېر سيمييزې مسلې بحث کړي. د دې نه مخکې په همدې مياشت کې افغان دولت يوه درې ورځنۍ د سولې جرګه جوړه کړې وه، په کومه کې چې شاوخوا 1600 ديني عالمانو، قومي مشرانو، د مدني ټولنې د سازمانونو مشرانو، افغان کډوالو او د دولت استازو په افغانستان کې د تشدد د ختمولو او د تلپاتې سولې د راوستلو لارې بحث کړې. (د متحده ايالاتو د سمندرې پوځونو انځور)

د افغان ملي اردو د نږدې ملاتړ د کنډک يو سرتېرى د برتانيې د پوځ د شاهي انجينيرانو د کنډک سره په لومړي ځل ترتيب شوې د ګډې انجينيرۍ په هدف ځواک کې ګډون کوي. دا ګډ ټيمونه د هلمند ولايت د نهر سراج په ولسوالۍ کې د رحيم د ګزمې د اډې د انفراسټرکچر په پروژو کار کوي. (د ايساف انځور)

پنځلس افغانې مېرمنې په هرات پوهنتون کې د ژورناليزم په يو ورکشاپ کې ګډون کوي. دې ورکشاپ ته د هرات د پي ار ټي لخوا په دې درې مياشتنۍ کې وده ورکړل شوې وه. (د ايساف انځور)

دوه تنه افغانان د مى په مياشت کې غنم تلي چې د مارچې د سيمې د کورو چاره په بازار کې يې خرڅ کړي. د هغې لومړنۍ جګړې څخه راوروسته چې دا ښار د ياغيانو د کنټرول نه د ايستلو لپاره وه، ځايي اوسېدونکي خپلو کورونو ته ستانه شوي او بازارونه – چې د دې ټولنې د ټولنيزو چارو مرکزونه دي – بيا پرانيستل شوي. (انځور د متحده ايالاتو د سمندري پوځ،
ډلګی مشر جيمز کلرک)

## د ملي د فاع د صلاحیت ورکولو قانون (P.L. 110-181)
## د افغانستان د بیا رغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي (سیګار) بنسټ کیښود.

د سیګار د نظارت مشن، لکه چې د قانون په جوړولو کې تعریف شوی، په خپلواک او مقصدي ډول لاره برابرول دي لپاره

- د هغو پلټنو او څیړنو ترسره کول او نظارت چې د هغو پروګرامونو او عملیاتو سره تړلي وي چې د پیسو بودیجې ورته د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوې او یا په بل ډول په لاس ورکړل شوې وي.
- په هغو تګلارو کې مشرتابه او انسجام، او سپارښتنې پرې، چې د پروګرامونو او عملیاتو په اداره کې اقتصاد، استعداد، او اغېزمنتیا ته د ودې ورکولو لپاره جوړې شوې وي؛ او په داسې پروګرامونو او عملیاتو کې د ضیاع، دوکې او ناسم استعمال مخنیوی وکړي او معلوم یې کړي.
- د داسې پروګرامونو او عملیاتو د ادارې سره تړلیو ستونځو او بې کفایتیو په اړه او د پرمختګ او اصلاحي اقدام د ضرورت لپاره د بهرنیو چارو د سکرتر او د دفاع د سکرتر د بشپړ او تازه معلوماتو څخه د خبر ساتلو ذریعې.

د افغانستان په بیا رغونه کې هر هغه ستر قرارداد، مبلغ، تړون، او یا د بودیجې هر هغه میکانزم شامل دی چې د متحده ایالاتو د حکومت د کوم داسې ریاست یا ادارې لخوا ورکړل شوی وي چې د هغو پیسو په استعمال کې ګډون لري چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوې او یا په بل ډول په لاس کې ورکړل شوې وي؛ د افغانستان سیاسي یا ټولنیزې ادارې تاسیس او یا یې بیا رغوي؛ او د افغانستان خلکو ته تولیدات یا خدمتونه برابروي.

سرچینه: P.L. 110-181، "د مالي کال 2008 لپاره د ملي دفاع د صلاحیت ورکولو قانون،" 1/28/2008.

# د افغانستان اسلامي جمهوريت



د افغانستان د بیا رغونې لپاره
ځانګړی عمومي پلټونکی

جولای 30، 2010

زه خوښ یم چې کانګرس ته په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بیا رغونې د هڅو په اړه د سیګار درېیم میاشتنی راپور وړاندې کوم. دا راپور د سیګار فعالیتونه ثبتوي او د هغې درې میاشتنی لپاره په افغانستان کې د بیا رغونې د پروګرامونو د حالت تازه حال وړاندې کوي چې د 2010 کال د جون په دیرشمه پای ته رسېږي.

په دې درې میاشتنی کې د سیګار پلټونکو او څېړونکو ډېر څه لرل. مونږ 4 د پلټنې راپورونه خپاره کړل او د 5 نویو پلټنو اعلان مو وکړ، چې په دې توګه مو د قرارداد، کاري وړتیا، او ساینسي پلټنو ټوله شمېره 18 ته ورسوله. سیګار 27 نوې څېړنې خلاصې کړلې او 14 قضیې یې وتړلې، چې په دې توګه یې د روانو تحقیقاتو شمېره 55 ته ورسوله. مونږ په یو شمېر ګډو څېړنو کې ګډون وکړ، په ګډون د هغې یوې څېړنې چې دوو افغان شرکتونو پکې د رشوت تور قبول کړ. سیګار د نورو مرکزي قانون نافذوونکو ادارو سره هم همکاري وکړه چې د هغو بې حسابه نغدو پیسو د انتقال د منابعو څېړنه وکړي چې افغانستان نه د کابل د هوايي ډګر له لارې تللې دي.

په تېر کال کې سیګار 24 راپورونه تیار کړي دي، په ګډون د رغونې د قراردادونو او د پروژو د سمبالښت د پلټنو او د غټو پروګرامونو د کاري وړتیا د کتنو، لکه هغه 627 ملیونه ډالر چې کانګرس د افغانستان د ښځو او انجونو لپاره بیلې کړې دي. چې ما په دې درې میاشتنی کې په دوو مواقعو په بیانونو کې ویلي – یو ځل د جنګ د وخت د قرارداد کولو د کمیسیون په وړاندې او یو ځل د استازو د جرګې د دولت او بهرنیو عملیاتو د اختصاصونو د ضمني کمیټې په وړاندې – چې زمونږ کار زه د دې څلورو مسلو په اړه اندېښمن کړی یم چې د بیا رغونې د هڅې په وړاندې خنډ جوړوي.

- د احتساب نشتوالی او د تطبیقوونکیو لخوا ناکافي نظارت
- معیارونو ته نامناسبه پاملرنه
- دوامدارۍ ته نامناسبه پاملرنه
- په افغان ادارو کې د ظرفیت ناکافي شتون

د سیګار کار یو شمېر داسې برخې معلومې کړې دي په کومو کې چې تطبیقوونکیو ادارو کولای شول خپل توان بهتر کړي تر څو د پروژو نظارت وکړي او د بیا رغونې د ډالرو بهتر حساب وساتي. د بیلګې په توګه، د متحده ایالاتو ادارې د بیا رغونې د قراردادونو کوم شریک ډاټابیس نلري. تېر کال زمونږ په پلټنه کې د سپارښتنو باوجود، متحده ایالات اوس هم داسې یو مربوط د معلوماتو د سمبالښت سیستم نلري چې د ادارو سره د پروژو په انسجام کې مرسته وکړي او د بیا رغونې بشپړ شوي، روان او پلان شوي فعالیتونه تعقیب کړي. تطبیقوونکې ادارې داسې دقیقو او پر وخت معلوماتو ته اړتیا لري چې مناسب نظارت یقیني کړي.

مونږ باید د دې معلومولو لپاره بهتر معیار معلوموونکي جوړ کړو چې معلوم کړي ایا یو پروګرام دوامدار دی که نه. په دې درې میاشتنی کې مونږ ته معلومه شوه چې د توانمندۍ د معلومولو د درجه بندۍ سیستم، کوم چې له 2005 راهیسې د دې لپاره کارول کېده چې د افغان امنیتي ځواکونو پرمختګ پرې پیمانه کړي، د اعتبار وړ ندی. دې پلټنې د ښو معیارونو لپاره د سختې اړتیا خبره واضحه کړه. په ورته توګه، د انرژۍ د سکټور په اړه زمونږ پلټنې معلومه کړه چې د متحده ایالاتو دولت داسې اغېزمنه لاره نه درلوده چې افغانانو ته د زیاتې بریښنا د رسولو په لړ کې پرمختګ تعقیب کړي.

مونږ همداراز دوامداری ته باید لا زیات پام وکړو: د انفراسټرکچر د پروژو په اړه د سیګار ټولو پلټنو د فعالیتونو او انتظام ستونزې معلومې کړې دي. د بیلګې په توګه، د جمهوري افغانستان دولت تراوسه د دې توان ندی موندلی چې د هغه مرکزونو څخه یو هم فعال او منظم وساتي چې د افغان امنیتي ځواکونو لپاره جوړ شوي دي. د دې لپاره چې د خپلې پانګونې ساتنه وکړو، د متحده ایالاتو حکومت د 800 ملیونو ډالرو دوه قراردادونه ورکوي چې په راتلونکیو پنځو کلونو کې د امنیتي ځواکونو له 650 زیاتو مرکزونو فعالیت او انتظام روان وساتي. سیګار د دوامدارۍ دې ته ورته ستونزې د بیا رغونې په ټول پروګرام کې ویني.

زه په دې اړه هم اندېښمن یم چې مونږ په دې اړه کافي کار ندی کړی چې د افغانانو ظرفیت دومره لوړ کړو چې د خپل دولت انتظام وکړي او خپل اقتصاد جوړ کړي. د متحده ایالاتو تطبیقوونکي ادارې باید د بیا رغونې په هر پروګرام کې د ظرفیت د لوړولو پیاوړي پروګرامونه شامل کړي. د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت داسې ګامونه پورته کوي چې دا ستونزه د ملکیانو د زیاتوالي له لارې او د بیا رغونې نور ډالر د افغان ادارو له لارې ورکولو سره حل کړي. د سیګار د مشن یو مهم جزو د دې مهمې هڅې څارنه کول دي.

د تېرې فبرورۍ په میاشت کې، زمونږ د بودیجه شویو فعالیتونو فقط په شپاړسمه میاشت، ما د مربوطیت او وړتیا لپاره د عمومي پلټونکو د شورا (CIGIE) څخه وغوښتل چې د سیګار د کار په اړه یوه له وخته مخکې کتنه ترسره کړي.  د مشرانو لخوا د کارونو کتنه عموماً په دریم کال ترسره کېږي، خو ما د دې له وخته مخکې کتنې غوښتنه ځکه وکړه چې مونږ د خپلو مشرانو د نظر نه په تېزۍ ګټه واخلو او د اغېزمن نظارت د ترسره کولو لپاره خپل توان ته پراختیا ورکړو. د جولای په میاشت کې CIGIE خپل کتنه بشپړه کړه. په کتنه کې زمونږ د پلټنو د ریاست کمزورۍ ښودل شوي، او مونږ د هغوی د سمولو لپاره د CIGIE سپارښتنې عملي کوو. د CIGIE سپارښتنې معلومه کړې چې د څېړنو ریاست تراوسه د ځینو اداري شرایطو سره برابر ندی، خو CIGIE په دې نتیجه رسېدلی چې زمونږ د نویو تګلارو او پروسیجرونو د تطبیقولو سره امکان لري چې په نږدې راتلونکي کې د بشپړ برابرۍ نتیجه راوړي.

په افغانستان کې د متحده ایالاتو نهم کال دی، چې په یو خطرناک، مشکل، او په تېزۍ سره بدلېدونکي چاپیریال کې یو پراخ د بیا رغونې پروګرام عملي کوي. په عین حال کې متحده ایالات او ایتلافي ملګري یې کوښښ کوي چې امنیت برابر کړي، دولتي اداري جوړې کړي، او اقتصادي پرمختیا ته وده ورکړي تر څو د اوس نه یو کال وروسته د نظامي ځواکونو ایستل پیل کړای شي. د دې هڅې د پیچلتیا له امله دا مهمه ده چې سیستماتیکې ستونزې یې په تېزۍ سره معلومې کړای شي.

لکه په دې درې میاشتنۍ کې چې زمونږ کار ښیي، سیګار د انفرادي پروژو او همداراز د هغو سیستمونو پر وخت څارنه کوي چې د بیا رغونې د ټول پروګرام مرسته کوي. مونږ به د قرارداد، کاري وړتیا، او هغو ساینسي پلټنو د پراخې سلسلې ترسره کولو ته ادامه ورکړو چې د هغو بودیجو د ضیاع، دوکې، او ناسم استعمال د معلومولو او مخنیوي لپاره ضروري دي چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوې دي.

په ډېر درناوي



ارنلډ فیلډز

د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

SPECIAL INSPECTOR GENERAL

مفتش خاص برای بازسازی افغانستان

دافغانستان دبیارغونی ځانګړی مفتش

AFGHANISTAN RECONSTRUCTION

# د منځپانګې فهرست



## لومړۍ برخه
### د افغانستان عمومي کتنه


3 کابل کنفرانس د بیا رغونې لومړیتوبونه وټاکل

4 امنیت

6 دولتداري او د قانون حاکمیت

7 اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا

8 روغه جوړه او بیاخپلونه

9 سیمییزه همکاري

9 مخ په وړاندې تګ




## دویمه برخه
### د سیګار نظارت


13 د سیګار پلټنې

30 د سیګار څېړنې

32 د مشرانو کتنه

33 د سیګار بودیجه

33 د سیګار کارکوونکي




## دریمه برخه
### د بیا رغونې تازه حال


37 عمومي کتنه

41 د بودیجو حالت

55 امنیت

69 دولتداري

89 اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا

107 د مخدره موادو پرضد مبارزه



# څلورمه برخه

## د نورو ادارو نظارت

119 د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه

123 د نظارت روان فعالیتونه

132 د نورو ادارو څېړني

133 د نورو ادارو معاینې

## ضمیمې او پایلیکونه

136 ضمیمه ا: له قانوني غوښتنو سره د راپور کتنه

140 ضمیمه ب: د متحده ایالاتو د دولت اختصاص شوي بودیجې

142 ضمیمه ت: د سیګار پلټنې

144 ضمیمه ث: د سیګار څېړنې او د تماس شمېره

145 ضمیمه ج: مخففات او لنډیزونه

148 پایلیکونه

**وړاندې تګ**

يو امريکايي سرتېرى د جون په مياشت کې د لوګر ولايت پسپجک کلي ته سفر کوي. د افغانستان د بيا رغونې نوى پلان تر 2014 پورې په ټول هېواد کې د نظامي عملياتو مسووليت افغان امنيتي ځواکونو ته ورکوي. (د متحده ايالاتو د پوځ انځور، روسل ګلخرسټ).

# 1
# د افغانستان عمومي کتنه



"افغان دولت د امنيت ضمانت
يوازې هغه وخت ورکولی شي چې خلک يې
د عامه خدمتونو د رسولو،
ښې دولتدارۍ د کولو، او بشري حقونو
د ساتلو – په ګډون د جنسي برابرۍ – او اقتصادي
مواقعو د پيدا کولو پر توانمندۍ اعتماد ولري."

—— د کابل کنفرانس بيانيه

سرچينه: کابل کنفرانس، "بيانيه،" 7/19/2010.

# د افغانستان عمومي كتنه

د دې راپور ورکولو په موده کې، په افغانستان کې د بیا رغونې د هڅو، چې اوس په نهم کال کې دي، د رفتار په اړه اندېښنې بیخي زیاتې شوې. دا بیرنی احساس په افغانستان او نړیواله ټولنه دواړو کې پېدا شوی دی: چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت دې د هېواد د راتلونکي په اړه لا زیات مسوولیت پر غاړه واخلي. د بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو او نړیوالو د بریالیتوب اتکا د افغان دولت پر دې وړتیا ده چې په خپلواکه توګه ملت ته امنیت برابر کړي او د دوامداره اقتصادي پرمختیا مشری وکړي.

افغان دولت د بیا رغونې د یو نوي پلان په جوړولو سره، چې د نړیوالې ټولنې لخوا په کابل کنفرانس کې د جولای په شلمه تایید شو، د دې اهدافو د لاسته راوړلو په لور یو نوی مهم ګام واخیست. په دې کنفرانس کې، چې په افغانستان کې تراوسه تر ټولو ستر کنفرانس و، د 60 نه زیاتو هېوادونو او یو درځن نړیوالو سازمانونو استازي د دې لپاره راغونډ شول چې د نړۍ د بیا رغونې هڅې ته د افغانستان د لومړیتوبونو سره یوه نوې بنه ورکړي.

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن دا کنفرانس "په یوه اوږده او مشکل سفر کې مهم قدم" وباله. په عین حال کې هغې خبرداری ورکړ چې وړاندې لاره به اسانه نه وي: دا به ضروري وي چې په صداقت سره د ترسره شوي پرمختګ ارزونه وشي، د امیدونو او کار ترمنځ تشې وپېژندل شي، او د دغو تشو د ډکولو لپاره حل لارې وموندل شي. د دغو تشو د ډکولو لپاره د بیا رغونې د پروګرام سخت نظارت ته ضرورت دی.

## کابل کنفرانس د بیا رغونې لومړیتوبونه وټاکل

د کابل کنفرانس ګډونوالو د لومړیتوبونو او تطبیقونو یو نوی، درې کلن پلان منظور کړ، کوم چې د 2008 د افغانستان د ملي پرمختیا د ستراتیژۍ پر بنسټ جوړ شوی دی. دا نوی پلان د افغانستان ملي لومړیتوبونه په دې پنځو مهمو برخو کې ټاکي:

- امنیت
- دولتداري او د قانون حاکمیت
- اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا
- روغه جوړه او بیاخپلونه
- سیمییزه همکاري

په کنفرانس کې نړیوالو ګډون کوونکیو په دې موافقه وکړه چې خپلو مرستو ته د افغانستان د لومړیتوبونو د پرمختګ لپاره نوې بڼه ورکړي او د دې هدف ملاتړ یې وکړ چې د دوو کلونو دننه دې خپله 50% مرسته د افغانستان د دولت د بودیجې له لارې ورکړي. دا ژمنتیا پر افغان دولت اتکا کوي چې په بریالیتوب سره هغه اصلاحات تطبیق کړي چې د عامه سمبالښت خدمتونه پیاوړي کړي، اداري فساد کم کړي، د بودیجې پلي کول ښه کړي، او د عایداتو راغونډول زیات کړي تر څو مهمو ملي




له 60 څخه زیاتو هیوادونو استازي د افغانستان په اړه په نړیوال کنفرانس کې برخه اخلي، چې د افغانستان جمهوري دولت او ملګري ملتونه يي په ګډه کوربه توب کوي. د کابل کنفرانس د افغانانو په مشري پروګرامونه چې د پرمختیا، دولتداري، او امنیت د ښه والي په موخه په لار اچول شوي دي، تصدیق کړل. (د یوناما انځور)

پروګرامونو ته مالي بودیجه برابره کړي.

د کابل کنفرانس دا خبره واضحه کړه چې په تېرو دوو کلونو کې د متحده ایالاتو د بیا رغونې ستراتیژۍ څومره تکامل کړی دی – د هغې نه چې خصوصي قراردادیانو، همکارانه موافقو، او مرستو له لارې یې د بیا رغونې پروژو ته په بودیجو ورکولو سره یې اساساً افغان دولت څنډې ته پرېښودلو، دې ته چې بودیجې د افغان دولت له لارې ورکوي. د دې لپاره چې دا کار په اغېزمن ډول ترسره شي او دا بودیجې د ضیاع او فساد نه وساتل شي، د افغانستان عامه ادارې باید ښې پیاوړې کړای شي.

په دې تېزۍ سره بدلېدونکي چاپیریال کې په کوم کې چې متحده ایالات د پیسو غټه برخه لګوي، د څارنې اداري باید په تیزۍ سره سیستماتیکي ستونزې وپېژني تر څو تطبیقوونکي اداري د ټیکس ډالرو له ضیاع مخکې خپل پروګرامونه جوړ کړای شي. د دې لپاره چې اغېزمن نظارت وکړي، سیګار د قرارداد، د پروګرام د سمبالښت، او د کاري وړتیا یو شمېر پراخې پلټنې ترسره کوي چې تمرکز یې د بیا رغونې د هڅې په نوې جوړه شوې بڼه کې د افغانستان په لومړیتوبونو دی.

## امنیت

تر 25 ملیارده ډالرو زیات – چې دا د متحده ایالاتو د بیا رغونې د هغو ټولو ډالرو نږدې نیمه برخه ده چې له 2001 راهیسې په افغانستان کې لګول شوي – د افغان امنیتي ځواکونو بودیجې (ASFF) ته د دې لپاره اختصاص شوي چې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته روزنه، تجهیزات او ځایونه برابر کړي. د امریکایي اداري لخوا د مالي کال 2011 د اختصاص او د مالي کال 2010 د ضمیمه یي اختصاص په غوښتنو کې شامل دي اضافي 14 ملیارده ډالر د دې لپاره چې تر اکتوبر 2011 پورې د افغان ملي اردو ځواک 171600 سرتېرو او د افغان ملي پولیسو ځواک 134000 تنو ته لوړ کړي – چې دا د امنیتي ځواکونو د اوسنۍ کچې څخه 30% زیاتوالی دی.

"افغانانو د خپل راتلونکي لپاره یوه جامع ستراتیژي جوړه کړې ده. د هغوی پلانونه تفصیلي، د پلي کولو وړ دي، او د ډېر زیار او مشورو ښکارندویې دي. او مونږ دلته د جلا جلا ملتونو د استازیو او د نړیوالې ټولنې د غړیو په توګه د دې لپاره راغلي یو چې د خپل ملاتړ وړاندیز وکړو او خپلې سرچینې د افغانستان د اهدافو او د افغانستان د تګلارو سره په یو کتار کې کړو."

ـــــد متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیره هیلري کلنټن

سرچینه: DoS، "څرګندوني: د بهرنیو چارو وزیره هیلري رودهم کلنټن، په کابل کنفرانس کې خبرې،" 7/20/2010.

د افغانستان د امنیت او ثبات لپاره د متحده ایالاتو د اوسنی ستراتیژۍ په اساس، متحده ایالات به په جولای 2011 کي د خپلو سرتېرو ایستل پیل کړي. امریکایي ځواکونو ویلي چي د دې ایستلو کچه به د افغانستان پر شرایطو متکي وي؛ خو، د افغانستان د لومړیتوبونو او تطبیقونو پلان یو وخت وټاکه چي هغه به تر 2014 پورې په ټول هېواد کي افغان امنیتي ځواکونو ته د نظامي عملیاتو مسوولیت ورکړي. د متحده ایالاتو او افغانستان دواړو د پلانونو بریالیتوب د هغو هڅو په بریالیتوب پورې اړه لري چي د افغان پوځ او پولیس ځواکونو دا استعداد جوړ کړای شي چي امنیت راولي. تر جون 30، 2010 پورې، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت (DoD) د انفراسټرکچر د هغو پروژو لپاره نږدې 5.75 ملیارده ډالر ورکړي چي د افغان امنیتي ځواکونو د ځای پر ځای کولو او روزلو لپاره ورته اړتیا وه.

په دې درې میاشتنی کي، سیګار د هغو هڅو په اړه درې پلټني خپرې کړې چي د افغان امنیتي ځواکونو د استعداد د جوړولو په تړاو وې:

- د استعداد د معلوملو (CM) د درجه بندی د سیستم ارزونه
- په فراه ولایت کي د ملي اردو د یو مرکز د جوړولو د کار یوه کتنه
- په کندهار کي د ملي پولیسو د یوې ودانی د جوړولو یوه کتنه

کله چي سیګار د استعداد د معلوملو د درجه بندۍ د سیستم پلټنه پیل کړه، نو دغه سیستم د افغان امنیتي ځواکونو د پرمختیا د پیمانه کولو اساسي معیار و. سیګار معلومه کړه چي دغه سیستم، کوم چي له 2005 راهیسي کارول کېږي، د افغان امنیتي ځواکونو د استعدادونو د اعتبار وړ او یو شانته ارزونه نشي کولی. د مارچ په پیل کي، د سیګار پلټونکو د خپلو موندنو په اړه نظامي قوماندانانو ته معلومات ورکړل. د اپریل په پای کي، د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (ایساف) ګډې قوماندې د دغه سیستم په ځای یوه نوې، د یونټ د کچې ارزونه پیل کړه. اوس لا وختي دی چي دا نوی سیستم وارزول شي، خو د سیګار موندني او سپارښتني د هر هغه سیستم لپاره کارول کېدای شي چي د افغان امنیتي ځواکونو د فعالیتي پرمختیا لپاره جوړ شوی وي. متحده ایالات او افغان دولت که خپل دغه هدف ته رسېدل غواړي چي د امنیت ساتني مسوولیت افغان امنیتي ځواکونو ته انتقال کړي نو باید د ملي اردو او ملي پولیسو د پرمختګ د پیمانه کولو یوه د اعتبار وړ لاره ولري. د دې راپور دویمه برخه د دغې پلټني یو لنډیز وړاندې کوي.

په فراه کي د ملي اردو د یو مرکز او په کندهار کي د ملي پولیسو د یوې ودانی په اړه د سیګار پلټني یو شمېر ستونزې معلومې کړې، په ګډون د پروژې د نامناسب پلان او د کیفیت د ناکافي ډاډینه، چي دا د پروژو د ځنډېدنو او د لګښت د زیاتېدلو لامل شوي. د بېلګې په توګه، په فراه کي د ملي اردو مرکز په دوو پړاوونو کي جوړ شوی و، او دواړه پړاوونو په هغه وخت کي چي سیګار دا پلټنه ترسره کړه د خپل ټاکل شوي وخت نه څه د پاسه یو کال وروسته ول. د لومړي پړاو اټکل شوی لګښت – 29.4 ملیونه ډالر –شاوخوا 30% زیات شوی و.

په ورته توګه، په کندهار کي د څلورو هغو مرکزونو چي د افغان امنیتي ځواکونو ګډ سیمییز مرکز (JARC) ورته وایي رغونه د داسي ځنډېدنو سره مخ شوې چي د شپږو میاشتو نه تر دوو کلونو رسېږي. برسېره پر دې، د متحده ایالاتو د پوځ د انجینیرانو قول اردو (USACE)، چي د دې قرارداد مسوولیت یې په غاړه درلود، داسي اساسي پلان نه درلود چي څلور واړه پروژې یې مربوطي کړې وای. نتیجتاً، JARC غیر ضروري د برېښنا، اوبو، او ویالو سیستمونه او همداراز یو شمېر د تودولو او یخولو سیستمونه لرل. برسېره پر دې، د وسلو ذخیرې د بیرکونو په څنګ کي ایښودل شوې وې، چي په غیر ضروري توګه یې د هغو امنیتي ځواکونو لپاره خطر جوړ کړی و کوم چي په JARC کي ځای پر ځای شوي ول. د دې راپور دویمه برخه د دې دواړو پلټنو لنډیزونه لري.

سیګار د امنیت په سکټور کې څلور رواني پلټنې لري. دوه د انفراسټرکچر د هغو دريو قراردادونو ارزونه کوي چې د افغان امنیتي ځواکونو د اتو مرکزونو د جوړولو لپاره دي. یوه د هغې پروسې کتنه کوي چې متحده ایالات، د هغې ایتلافي ملګري، او افغان دولت یې د دې معلومولو لپاره کاروي چې د ملي اردو او ملي پولیسو څومره مرکزونو ته ضرورت دی او دغه مرکزونه باید چیرته جوړ شي. د سیګار څلورمه پلټنه د ملي پولیسو د پرسونل د سمبالښت د سیستمونو ارزونه کوي. د دې کار د یوې برخې په توګه، سیګار به د ملي پولیسو د معاشونو لپاره د بودیجو سرچینې او هغه حد وپېژني تر کومه چې ملي پولیسو داسې سیستمونه په کار اچولي چې د دوکې، ضیاع او ناسم استعمال خطرې کمې کړي.

## دولتداري او د قانون حاکمیت

د متحده ایالاتو ستراتیژي او د افغانستان د لومړیتوبونو او تطبیقونو پلان دواړه په هره کچه – کابل نه نیولې د ولایتي مرکزونو او تر کلیوالو سیمو پورې – د دولتدارۍ د ښه کولو او د قانون د حاکمیت د پیاوړي کولو پر ضرورت تاکید کوي. هغې بیانیې چې د کابل کنفرانس په پای کې خپره شوه دا ضرورت روښانه کړ: "ښه دولتداري، د قانون حاکمیت، او بشري حقونه د یو باثباته او پرمختللي افغانستان د هدف ته د رسېدو د ستراتیژۍ بنسټ جوړوي. په دې برخو کې پرمختیاوې نه یواځې باید د افغانانو د هغوی پر راتلونکي اعتماد زیات کړي، بلکې امنیتي پرمختیاوې او ټولنیزې پرمختیاوې هم پیاوړې کړي."[1]

افغان دولت ژمنه وکړه چې د دولتدارۍ د ښه کولو لپاره به په ګڼ شمېر مسلو اقدامات وکړي، په ګډون د سیمییز اداري ظرفیت د لوړولو، د اداري فساد د ختمولو، او د ټاکنیزو اصلاحاتو د پلي کولو. د متحده ایالاتو حکومت په زیات شمېر ملکیانو اتکا کوي چې افغانانو سره کومک وکړي. د دې کال له پیل راهیسې، د بهرنیو چارو وزارت (DoS)، د متحده ایالاتو د نورو وزارتونو او ادارو په همکارۍ، د هغو ملکي متخصصینو شمېره درې برابره کړې چې د افغانانو د ظرفیت په لوړولو کې د مرستې لپاره ځای پر ځای شوي دي. افغانستان او پاکستان لپاره د ځانګړي استازي، سفیر ریچارډ هولبروک له مخې، دا ملکیان "په یو شمېر فعالیتونو کې بوخت دي، د افغانستان د یو وخت فعال زراعتي سکټور د بیا رغولو څخه نیولې، مهمو افغان وزارتونو سره دې لپاره کار کولو پورې چې د د ولایتي مرکزونو څخه بهر د روغتیا، زده کړې، عدالت، او نورو خدمتونو اسانتیاوې ښې کړي."[2]

د متحده ایالاتو د ستراتیژۍ د بریالیتوب اتکا د دې ملکیانو پر وړتیا ده چې د خپلو افغان سیالانو سره د دې لپاره کار وکړي چې د بیا رغونې پروژې جوړې، تطبیق کړي او څارنه یې وکړي. سیګار د ملکیانو د زیاتولو په اړه یوه پلټنه ترسره کوي څو د هغه پرسونل شمېر او ډولونه معلوم کړي چې په ټول افغانستان کې ځای پر ځای کېږي او هغه حد وارزوي تر کومه چې دا ملکیان د دې توان لري چې د خپلو افغان سیالانو سره د دې لپاره کار وکړي چې د متحده ایالاتو د بیا رغونې ستراتیژیک او پروګرامي اهداف پر مخ بوځي. په جولای 2010 کې، سیګار او د بهرنیو چارو د وزارت د عمومي پلټونکی دفتر موافقه وکړه چې د دې پلټنې ځینې برخې په شریکه ترسره کړي.

### اداري فساد

اداري فساد اوس هم د نړیوالې ټولنې او افغانانو دواړو لپاره یوه جدي اندېښنه ده. لدې امله چې متحده ایالات ژمن دي چې د بودیجو نوره مرسته د افغان وزارتونو له لارې ورکړي، دا وزارتونه باید د دې استعداد ولري چې د دې بودیجو حساب ورکړي. سیګار به له نږدې څخه د متحده ایالاتو د ادارو لخوا ترسره کېدونکي هغه اقدامات ګوري چې د دې خبرې په یقیني کولو کې مرسته کوي چې د افغان دولت

له لارې ورکړل شوې مرستندویه بودیجې په معقوله توګه د دوکې، ضیاع، او ناسم استعمال څخه ساتل شوې دي.

د یو کال له مودې څخه زیات وخت مخکې، سیګار یو شمېر پلټنې پیل کړې چې لاندې خبرې معلومې کړي:

- متحده ایالات او نور مرستندویه هېوادونه د دې لپاره څه کوي چې د افغان ادارو ظرفیت دومره لوړ کړي چې د اداري فساد مخنیوی وکړي او د قانون حاکمیت پیاوړی کړي
- هغه حد تر کومه چې هغه افغان ادارې چې د متحده ایالاتو څخه د پام وړ بودیجې ترلاسه کوي داسې سیستمونه په کار اچولي چې د مرستندویه بودیجو حساب ورکړي

د دې پروګرام د یوې برخې په توګه چې د افغان ادارو د ظرفیت ارزونه وکړي، سیګار اووه پلټنې بشپړې کړې دي او څلور نورې ترسره کوي. د بشپړو شویو څخه دوو پلټنو د افغانستان د نظارت د مهمو ادارو – د نظارت عالي دفتر (HOO) او د کنټرول او پلټنې دفتر (CAO) – ارزونه وکړه. سره د هغه مهم رول چې د نظارت دا دواړه افغان ادارې یې باید د اداري فساد په مخنیوي او د مرستندویه بودیجو په احتساب کې ترسره کړي، تر دې وروستیو پورې د دې لپاره ډېر کم داسې کار شوی چې د دوی د ظرفیت په جوړولو کې مرسته وکړي.

سیګار د متحده ایالاتو د مرستې د هغو پروګرامونو یوه کتنه بشپړوي چې د دې لپاره جوړ شوي چې افغان دولت سره د دې د فساد ضد استعدادونو په بهترولو کې مرسته وکړي. هر څو که اوس د متحده ایالاتو ګڼ شمېر اداري د فساد ضد مرستو پروګرامونه ترسره کوي، خو د دې مرستې زیاتره برخه د یوې جامع فساد ضد ستراتیژۍ له ګټې پرته ورکړل شوې ده. هر څو که یوه ترتیب شوې ستراتیژي موجوده ده، خو یوې بشپړې شوې ستراتیژۍ ته عاجله اړتیا ده چې د متحده ایالاتو د فساد ضد مرستې لاربنودنه او رهبري وکړي. سیګار به د دې کتنې راپور په راتلونکي میاشت کې ورکړي.

## په ټاکنو کې اصلاحات

متحده ایالات او نړیواله ټولنه ټولټاکنې د یو مشروع دولت د دوامدارۍ لپاره مهمې ګڼي. د تېر کال د دوکې نه ډکو ولسمشریزو ټولټاکنو څخه وروسته، د سیګار یوې پلټنې سپارښتنه وکړه چې نړیواله ټولنه دې د دې لپاره اقدامات وکړي چې د افغانستان د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون (IEC) ظرفیت لوړ کړي تر څو انتخابي پروسه دوام ومومي. د کابل د کنفرانس په بیانیه کې افغان دولت ژمنه وکړه چې "د شپږو میاشتو دننه به د اوږدمهاله انتخابي اصلاحاتو لپاره یوه داسې ستراتیژي پیل کړي چې په ځانګړې توګه د انتخابي پروسې د دوامدارۍ لپاره وي.[3]

د ولسمشریزو ټولټاکنو څخه راپدېخوا، ولسمشر کرزي د ټولټاکنو مهم چارواکي بدل کړي دي، خو دا روښانه نده چې دا بدلونونه به د سپتمبر په پارلیماني ټولټاکنو څرنګه اغېز وکړي. د جولای په میاشت کې IEC د 2556 کاندیدانو وروستی لیست اعلان کړ، چې 406 ښځې پکې شاملې دي. متحده ایالات د دې ټولټاکنو لپاره یو شمېر سازمانونو، په ګډون د ملګرو ملتونو، ته مرسته ورکوي.

د راتلونکې درې میاشتنی پر مهال به سیګار یوه کتنه خپره کړي چې په افغانستان کې د انتخابي پروسې د بهترولو لپاره د تېرو ټولټاکنو تجربې معلومې کړي.

## اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا

د کابل د کنفرانس په پرانستونکې وینا کې ولسمشر کرزي له نړیوالې ټولنې وغوښتل چې د افغانانو لخوا جوړو شویو او پر مخ وړل کېدونکو پروګرامونو ملاتړ وکړي، لکه د ملي پیوستون پروګرام (NSP).

د افغانستان د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت دا پروګرام په 2003 کې پیل کړ چې افغانانو سره د هغوی د خپلو پروژو په جوړولو کې مرسته وکړي. له هغه وخت راهیسې، متحده ایالاتو او نورو نړیوالو مرسته ورکوونکیو دې پروګرام ته نږدې یو ملیارد ډالر ورکړي، په کومو چې د وزارت په وینا 40000 پروژې بشپړې کړای شوې دي.

سیګار د NSP یوه پلټنه ترسره کوي چې د مرستندویانو مرسته معلومه کړي، چې دا معلومه کړي چې متحده ایالاتو او نورو مرستندویانو د دې خبرې د یقیني کولو لپاره څه کړي چې NSP د هغوی د پیسو حساب ورکولای شي، او د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د دې پروګرام د پلانولو، انتظام او نظارت ظرفیت معاینه کړي. متحده ایالاتو د دې پروګرام لپاره د 440 ملیونه ډالرو ژمنه کړې ده.

د اقتصادي پرمختیا لپاره د افغان دولت په نویو لومړیتوبونو کې شامل دي د غټې کچې د انفراسټرکچر د جوړولو پروژې چې د هېواد معدني سرچینو ته انکشاف ورکړای شي، د اوبه خور د سیسټمونو پراخول، د سړکونو د شبکې غځول، او د برېښنا زیاتول. د دې نه مخکې په دې کال کې د انرژۍ د سکټور په اړه د سیګار یوې پلټنې معلومه کړې وه چې افغان دولت په عاجله توګه یو تازه اساسي پلان ته اړتیا لري چې په دې سکټور کې د نړیوالې پانګونې رهبري وکړي.

د کابل کنفرانس ګډونوالو د ښځو د حقونو د ساتنې په اړه خپله ژمنتیا بیا تازه کړه. له 2003 څخه تر 2010 پورې، کانګرس د افغان ښځو او انجونو د اړتیاوود حل کولو لپاره 627 ملیونه ډالر اختصاص کړي دي. په دې درې میاشتنۍ کې سیګار یوه پلټنه خپره کړه چې د دې ارزونه یې کوله چې ایا د بهرنیو چارو وزارت او نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداري (USAID) د کانګرس لارښودنې تعقیب کړې که نه او یا دا پیسې د هغو فعالیتونو د کومک لپاره ورکړل شوې چې د متحده ایالاتو او افغانستان د ملي ستراتیژیو سره سمون خوري که نه. سیګار ته معلومه شوه چې د بهرنیو چارو وزارت او USAID د دې پروژو په استعمال کې خپل راپورونه له یو بل سره ندي مربوط کړي، بواځې د کانګرس ځینې لارښودنې یې مراعات کړي، او د متحده ایالاتو د بودیجو د فعالیتونو او د افغانستان د اهدافو او معیارونو ترمنځ یې تړونونه ندي ښودلي. د دې راپور دویمه برخه د دغې پلټنې یو لنډیز وړاندې کوي.

## روغه جوړه او بیاخپلونه

د جون د میاشتې په پیل کې، افغان دولت یوه د سولې مشورتي جرګه جوړه کړه څو هغو یاغیانو سره د روغې جوړې د پروسې د پیل کولو لارې بحث کړي کوم چې دې ته لېواله دي چې د افغانستان اساسي قانون ومني او د القاعده او نورو تروریستي ډلو سره خپلې اړیکې وشلوي. د ټول هېواد څخه شاوخوا 1600 افغانانو د سولې په دې جرګه کې ګډون وکړ او یوه د 16 مادو بیانیه یې ورکړه کومه کې چې پر افغان دولت غږ وشو چې د سولې د پروسې د پلي کولو لپاره دې پروګرام جوړ کړي.

په کابل کنفرانس کې افغان دولت د افغانستان د سولې او بیا خپلونې پروګرام وړاندې کړ. ولسمشر کرزي لدې مخکې د سولې د عالي شورا اعلان کړی و چې د دې پروګرام مشري به کوي.  د سولې او بیا خپلونې د اعتبار یوه نوې بودیجه، چې په نړیوالو مرستو ورسره کومک کېږي، د دې لپاره جوړه شوه چې د دې فعالیتونو ته بودیجې ورکړي. دا پروګرام غواړي چې په زرګونو پخوانې جنګیالي راجلب کړي او په پنځو کلونو کې په 220 ولسوالیو کې 4000 ټولنې ثبات ته ورسوي.

د دفاع وزارت د کانګرس څخه منظوري ترلاسه کړې چې د بیاخپلونې دې هڅې ته د قوماندان د بیړنې ځواب د پروګرام څخه 100 ملیونه ډالر ورکړي. سفیر هالبروک ویلي چې د بیا خپلونې پروګرام د کابل کنفرانس تر ټولو مهم اقدام دی ځکه چې طالبانو ته د ماتې ورکولو لپاره یوه سیاسي پروسه ضروري ده چې د نظامي کمپاین سره څنګ په څنګ روانه وي.

د امنیت بهتري په افغانستان کې د بیا رغونې د پروګرام د بریالیتوب لپاره مهمه ده. سیګار به د روغې جوړې د پر مخ تلونکې پروسې څارنې ته ادامه ورکړي او که اړتیا شوه د متحده ایالاتو د لګښتونو نظارت به وکړي.

## سیمییزه همکاري

متحده ایالات او نړیوال ایتلافیان یې د زیاتې سیمییزې همکارۍ لپاره هڅونه کوي څو د افغانستان په ثبات کې مرسته وکړي او د اقتصادي پرمختیا لپاره لا زیاتې تجارتي او د پانګونې مواقع برابر شي. د دې هڅو ځانګړی تمرکز پاکستان سره د افغانستان د اړیکو په بهترولو دی. په دې درې میاشتنۍ کې د یو مهم پرمختګ په توګه، دا دواړه هېوادونه د تجارتي ټرانزیټ یوې موافقې ته ورسېدل چې د افغانستان ټرکونو ته به اجازه ورکړي چې تولیدات د پاکستان له لارې د هند پولې ته ولېږدوي.

د افغانستان د لومړیتوبونو او تطبیقونو پلان د سیمییز انفراسټرکچر په پروژو، لکه د اورګاډي پټلۍ او سړکونه چې افغان ښارونه د مرکزي اسیا، جنوبي اسیا او اروپا د بازارونو سره وتړي، کې د لا زیاتې نړیوالې پانګونې لپاره غږ کوي. په نورو لومړیتوبونو کې شامل دي د طبعي ګاز د یو پایپ لاین جوړول او د برېښنا د انتقال د سیمییزو شبکو غځول. په دې پروژو کې به زیاترو ته بودیجې نړیواله ټولنه ورکوي او اغېزمن نظارت ته به اړتیا لري.

## مخ په وړاندې کتل

په کابل کنفرانس کې افغان دولت هوډ وکړ چې مهم اصلاحات، لکه د عامه مالي چارو د سمبالښت سیستمونو بهترول، او دا خبره یقیني کول چې د افغان دولت له لارې ورکړل شوې نړیوالې مرستې افغانانو ته فایده ورسوي، به پلي کوي. د کنفرانس وروستۍ بیانیې یادونه وکړه چې مرستندویان باید د دې اهدافو په ترلاسه کولو کې د افغان دولت د پرمختګ کتنه وکړي؛ په دې کې شک نشته، چې دې بیانیې د دغو کتنو د ترسره کولو لپاره کوم میکانزم یا وخت ندی ورکړی.

د متحده ایالاتو تطبیقوونکي ادارې دا اساسي مسوولیت لري چې دا خبره یقیني کړي چې د متحده ایالاتو د ټیکس ورکوونکیو پیسې د متحده ایالاتو د ستراتیژیکو اهدافو په ملاتړ کې په هوښیارۍ لګول شوې دي. سیګار ژمن دی چې هغه مهم او پر وخت نظارت ترسره کړي کوم چې د ستونزو په تېزۍ سره د پېژندلو او د متحده ایالاتو د بیا رغونې د بودیجو د ضیاع، ناسم استعمال او دوکې د مخنیوي لپاره ضروري دی.

**پرمختلونکي سيمييز صنعتونه**
يو افغان کارکوونکی جلال اباد کې د USAID په بوديجه جوړ شوي يو مرکز کې شات په مرتبانونو کې اچوي. د زراعتي تجارتونو بيا فعالول د متحده ايالاتو د افغانستان او پاکستان د سيمييز ثبات د ستراتيژۍ مهم هدف دی. (د USAID انځور)

# 2 د سیګار نظارت



"احتساب د ښې دولتدارۍ بنسټ دی. لدې پرته،
مونږ دا خطر پر سر اخلو چې په افغانستان کې خپله
پانګونه په ضیاع، فساد او دوکه کې له لاسه ورکړو.
هر څوک چې د بیا رغونې په هڅو کې ونډه لري –
لکه د متحده ایالاتو ادارې، خصوصي قراردادیان،
نادولتي سازمانونه، او افغان دولت – ضروري ده
چې د دوی په واک کې د ورکړل شویو عامه بودیجو
حساب ورسره وشي."

- ځانګړی عمومي پلټونکی ارنلډ فیلډز

سرچینه: ځانګړی عمومي پلټونکی ارنلډ فیلډز، "افغانستان لپاره د متحده ایالاتو د ملکي مرستې نظارت"، د متحده ایالاتو د استازو د شورا، د دولت او بهرنیو عملیاتو د اختصاصونو د ضمني کمیټې په وړاندې بیان، 7/15/2010.

# د سيګار نظارت

په دې درېٍ مياشتنۍ کې د سيګار د پلټنو، تحقيقاتو، او مديريت رياستونو ډېر زيات کار کړی دی. سيګار څلور پلټنې بشپړې کړې او پنځه نوې پلټنې يې اعلان کړې، چې په دې توګه يې د قرارداد، کاري وړتيا، او ساينسي روانو پلټنو ټوله شمېره 18 ته ورسوله. سيګار 26 نوې څېړنې پرانيستلې؛ دې د نورو مرکزي قانون نافذوونکو ادارو سره په ګډو عملياتو کې هم برخه واخيسته تر څو د هغو بې حسابه لېږل شويو پېسو سرچينه معلوم کړي چې د کابل د هوايي ډګر له لارې د افغانستان نه وتل شوې دي. د سيګار د عامه کمپاين په نتيجه کې، د سيګار د تماس له لارې د بيا رغونې په ډالرو کې د ضياع، دوکې او ناسم استعمال په اړه په ترلاسه شويو شکايتونو کې 77% ريکارډ زياتوالی راغلی دی. چوکاټ 2.1 د جولای د 30 مې نېټې سره سم د سيګار د بشپړو شويو پلټنو ليست وړاندې کوي.

د دې راپور ورکولو په موده کې سيګار د خپلو کارکوونکو زياتولو ته هم ادامه ورکړه. کله چې دا راپور مطبعې ته تللو نو سيګار 93 تنه مامورين درلودل. سيګار په کابل کې د متحده اياالاتو د سفارت او په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو سره کار کوي چې د هغو کسانو شمېر زيات کړي چې دا يې په دغه سفارت او د افغانستان په نورو ځايونو کې ځای پر ځای کولای شي.

## د سيګار پلټنې

په افغانستان کې د متحده اياالاتو د ستراتيژۍ يو مهم هدف د داسې پر ځان متکي افغان امنيتي ځواکونو جوړول دي چې د دغه هېواد لپاره په خپلواکه توګه داخلي او بهرنی امنيت برابر کړي. د بيا رغونې د بوديجو تر نيمايي زياته برخه د دې لپاره کارول شوې چې افغان ملي اردو او افغان ملي پوليس وروزي، مجهز کړي، او ځايونه ورته برابر کړي. د سيګار د څلورو څخه درې پلټنې چې په دې درې مياشتنۍ کې بشپړې شوي د دې مهمې هڅې سره تړاو لري.

متحده ايالات دې ته هم ژمن دي چې په افغانستان کې جنسي برابرۍ ته وده ورکړي. په دې

چوکاټ 2.1

| د سيګار بشپړي شوي پلټنې، 1 اپريل - 30 جولای، 2010 | | |
|---|---|---|
| راپور شمېره | د راپور سرليک | د خپريدلو نيټه |
| سيګار-پلټنه10-14- | په فراه کې د ملي اردو مرکز په عمومي ډول ښه جوړ شوی معلومېږي، خو ځينې د رغونې مسلې بايد حل شي | 7/30/2010 |
| سيګار-پلټنه10-13- | د دې لپاره چې د افغان مېرمنو او انجونو اړتياوې حل او راپور يې ورکړل شي د کانګرس د لارښودنو د مراعاتولو لپاره لا زيات انسجام ته اړتيا ده | 7/30/2010 |
| سيګار-پلټنه10-12- | په کندهار کې د ملي پوليسو وداني په عامه توګه د قرارداد د شرايطو سره سمه ده خو د پروژې د پلانولو، نظارت، او دوامدارۍ ستونزې لري | 7/22/2010 |
| سيګار-پلټنه10-11- | د افغان امنيتي ځواکونو د ارزونو د اعتبار د بهترولو لپاره اقداماتو ته اړتيا ده | 6/29/2010 |

درې میاشتنۍ کې د سیګار څلورمې بشپړې شوې پلټنې د هغو 627 ملیونه ډالرو استعمال ته کتنه کړې چې کانګرس له 2003 راهیسې د دې لپاره ورکړې چې د افغان ښځو او انجونو سره کومک وشي.

## د بشپړو شویو پلټنو راپورونه

په‌دې‌درې‌میاشتنۍ‌کې،سیګار‌څلور‌دپلټنې‌راپورونه‌خپاره‌کړل،دکوموڵنډیز‌چې‌په‌لاندې‌ضمني‌برخوکې ورکړل شوی دی.

پلټنه 11-10: د افغانستان امنیتي ځواکونه

**د افغان امنیتي ځواکونو د ارزونو د اعتبار د بهترولو لپاره اقداماتو ته اړتیا ده**

په افغانستان کې د متحده ایالاتو ستراتیژي د امنیت د راوستلو لپاره د افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) په روزلو او مجهزولو سره د دغه هېواد د ظرفیت په جوړولو متکي ده. له 2002 راهیسې، متحده ایالاتو شاوخوا 27 ملیارده ډالر — چې دا د بیا رغونې د ټولو ډالرو تر نیمايي زیاته برخه ده — د افغان امنیتي ځواکونو د روزلو، مجهزولو، او دوامدارۍ لپاره ورکړي دي. د افغان امنیتي ځواکونو د اوسني نسل د ځواک هدف، چې افغان دولت او نړیوالې ټولنې پرې موافقه کړې ده، غوښتنه کوي چې تر اکتوبر 2011 پورې دې ملي اردو 171600 سرتېري او ملي پولیس 134000 غړي ولري. په لنډه موده کې د افغان امنیتي ځواکونو استعدادونه د متحده ایالاتو او ایتلاف د تروریزم ضد ستراتیژۍ لپاره مهم دي، د کومې غوښتنه چې د مهمو مرکزي سیمو خوندي کول دي او په دولت باندې د افغانانو د باور په زیاتولو اتکا لري. په اوږد مهال کې، د افغان امنیتي ځواکونو پرمختګ ډېر مهم دی، ځکه چې د متحده ایالاتو او نړیوالې ټولنې مرام دی چې د امنیت مسوولیت افغان امنیتي ځواکونو ته ورکړي. له 2005 راهیسې، د استعداد د معلومولو ((Capability Milestone (CM) د درجه بندۍ سیستم د دې لپاره کارولی دی چې د افغان امنیتي ځواکونو د استعدادونو په پرمختیا کې د پرمختګ څارنه وکړي او راپور یې کړي.

اهداف

دې پلټنې څلور اهداف بحث کړل:

- د CM د درجه بندۍ د سیسټم ارزونه.
- د هغو راپورونو ارزونه چې فیصله کوونکو ته ورکړل شوي دي.
- د افغان امنیتي ځواکونو د ارزونې په برخه کې هغه چیلنجونه معلوم کړي چې د متحده ایالاتو د هڅو په وړاندې پراته دي.
- د افغان امنیتي ځواکونو هغه سیستماتیکي کمزورۍ معلومې کړي چې د یونټ په کچه د استعدادونو د جوړولو هڅې یې اغیزمنې کړې دي.

موندنې

1. سیګار معلومه کړې چې د CM د درجه بندۍ سیسټم د افغان امنیتي ځواکونو د استعدادونو د باور وړ او مربوطې ارزونې ندي وړاندې کړې. د دغو ارزونو تراو د دې پر ځای چې د یو یونټ لخوا د خپل مشن په اغیزمن ډول د ترسره کولو د توان مقصدي ارزونه واخیستل شي په داسې عددي معلوماتو و لګه د پرسونل اکمالات او شمیر. په ځینو صورتونو کې د ملي اردو د پرسونل شمیرې زیاتې کړای شوې وې ځکه چې د هغوی بنسټ پر هغه شمیر و چې یو یونټ ته ورکړل شوی و نه په هغه شمیر چې په وظیفه موجود ول.

2. هغه پيماني چې د ارزوني په سيسټم کې کارول شوې وې د افغان امنيتي ځواکونو په استعدادونو کې يې مبالغه کړې، په ځانګړي ډول هغه په لوړه درجه کې راغلي د اردو او پوليسو يونټونه چې هر وخت يې دا توان نه درلود چې خپلواک عمليات ترسره کړي. د درجه بندۍ دې سيسټم په غير ارادي توګه د افغان امنيتي ځواکونو په يونټونو کې دا بې ليوالتيا پيدا کړې وه چې د لوړې کچې درجه بندۍ ته پرمختګ وکړي، ځکه چې هغوی د دې احتمال درلود چې د ځواک تحفظ، مهارت، اکمالات، بوديجې، او نفوذ به له لاسه ورکړي.
3. د افغان امنيتي ځواکونو د استعداد د درجه بندۍ په راپورونو کې په ارزونو کې زاړه معلومات شامل ول ځکه چې د CM د درجه بندۍ د ځينو مياشتو راپورونه پکې نه ول. د دې راپورونو د نشتوالي د نورو لاملونو تر څنګ يو لامل دا هم دی چې د راپور ورکولو روزونکي او شريکوال نه ول. د ملي پوليسو د ريکارډ په صورت کې، دا درجه بندي يا خو نه وه او يا تر څلورو مياشتو اوږده وخت کې ترسره شوې وه.
4. د افغان امنيتي ځواکونو د استعدادونو د ارزولو لپاره د متحده ايالاتو هڅې د جدي چيلنجونو سره مخ دي، چې په هغې کې امنيتي شرايط، د روزونکو کمبود، او نامناسب روزنه شامل دي. د ملي پوليسو روزنه او ارزونه بيخي محدوده او په ځينو وختونو کې په هغو سيمو کې بې اغيزې ده چيرته چې د دښمنانو فعاليت زيات دی. د روزونکو او شريکوالو کمبود او د ټريننګ نشتوالي د افغان امنيتي ځواکونو د يونټونو، په ځانګړې توګه د پوليسو، پرمختيا او ارزونه سخته اغيزمنه کړې ده.
5. د افغان امنيتي ځواکونو سيستماتيکو کمزوريو د يونټونو د استعدادونو د پرمختګ هڅې اغيزمنې کړې دي. په دې کمزوريو کې شامل دي لوژيستيکي ستونزې، د پرسونل تښتيدل، د پرسونل په لاس نامناسب واک، د انفراسټرکچر کمزورۍ، اداري فساد، نشې، او بې سوادي. د بيلګې په توګه، روزونکو او شريکوالو د داسې لوژيستيکي ستونزو راپورونه ورکړي لکه د اکمالاتو د غوښتنو وړکيدل، او د وزارت د اکمالاتو د زنځيري سيسټمونو له لارې د اکمالاتو د غوښتنو د فورمو په تعقيبولو کې ناتوانمندي. يوه بله مهمه مسله د پرسونل تښتيدل دي چې له امله يې غټه برخه هغه پوليس وتلي دي چې د پوليسو د تمرکزي ولسوالی د پرمختيا (FPDD) په پروګرام کې روزل شوي ول. د دې تيښتي ستر لامل د ايتلاف ضد قواوو فشار او د کمو معاشونو له امله ناهيليتوب دی.

سپارښتني

هر څو که د CM د درجه بندۍ سيسټم د 2005م کال راهيسې په استعمال کې دی، خو د افغان امنيتي ځواکونو د يونټونو د اغيزمنتيا په اړه يې مربوط او د اعتبار وړ راپورونه ندي ورکړي. د نړيوال سوله ساتي ځواک (ايساف) د ګډې قوماندې (IJC) د چارواکيو له مخې، د CM د درجه بندۍ د سيسټم په ځای يو نوی د يونټ د کچې د ارزوني سيسټم راوړل کيږي، چې سيګار ورته لا تراوسه کتنه نده کړې. د سيګار سپارښتني د نوي سيسټم په اړوند هم دي: له هغو پيمانو پرته چې په اړه يې مشوره ورکړل شوې، فيصله کوونکي به په واضح ډول په هغه حد ونه پوهيږي تر کومه چې د داسې افغان امنيتي ځواکونو په جوړولو کې پرمختګ کيږي چې د دې استعداد ولري چې په خپلواک ډول عمليات ترسره کړي او بالاخر د افغانستان امنيت ټينګ کړي.

د دې لپاره چې د افغان امنيتي ځواکونو د فعاليتي اغيزمنتيا لا زياتې د اعتبار وړ ارزونې لاسته راوړل شي، سيګار سپارښته کړې چې IJC دې لاندې اقدامات وکړي:

- د هغه عمومي فعالیتي استعداد په مقصدي ارزونه دې زور راوړي چې د روزونکو او د شریکوالو د ټیم د څارونکو لخوا ورکول کیږي.
- د روزونکو او شریکوالو لپاره دې داسې یو لارښود جوړ کړي چې د لا زیاتي مربوطې څارنې د ملاتړ لپاره پکې د حقیقي نړۍ بیلګې او تر ټولو ښه تمرینونه شامل وي.
- د ناټو د روزنیز مشن-افغانستان\د ګډ امنیت د انتقال د قوماندې-افغانستان (NTM-A/CSTC-A) سره دې د کورنیو چارو او د دفاع د وزارتونو د فرمانونو او پروسیجرونو لپاره د روزونکو او شریکوالو ټیمونو ته د لا زیاتې روزنې او لارښودنې د برابرولو لپاره کار وکړای شي.
- د افغان امنیتي ځواکونو مختلفو یونټونو ته درجه ورکوونکي دې په خپل منځ کې یو برابر پوهاوي ته وهڅول شي څو دا خبره یقیني شي چې د درجه بندۍ د کچې تعریفونه له یو بل سره مساوي وي.
- د ملي پولیسو او ملي اردو دواړو د یونټونو د پرسونل په ارزونو کې دې په وظیفه حاضر شمیرې د ټاکل شوي پرسونل د فیصدۍ په توګه ومنل شي.
- د ملي پولیسو د لوړې درجې د یونټونو د استعدادونو خپلواکي تاییدونې دې ترسره کړای شي.

د دې لپاره چې د افغان امنیتي ځواکونو د ارزوونکو راپورونو شفافیت او دقت نور هم ښه شي، سیګار سپارښتنه کړې چې IJC دې دا اقدامات وکړي:

- د یونټ د کچې د هغو څارنو د شمیر سیستماتیک تعقیب دې پیل کړي چې په هره میاشت کې ندي داخل شوي او د هغو عناصرو د شمیر هم چې د دې ارزونو ترمنځ ندي کټل شوي.
- یوه اضافي د عمومي درجه بندۍ کچه دې ورزیاته کړي چې د هغو "نه ارزول شویو" یونټونو نمایندګي وکړي چې روزونکي\شریکوال ورته ندي ټاکل شوي.

د دې لپاره چې د ملي پولیسو په استعدادونو کې ښکاره والی زیات کړای شي، سیګار سپارښتنه کړې چې IJC دې دا اقدام وکړي:

- د متحده ایالاتو او ایتلاف د نظامي روزونکو او شریکوالو په ټولو ټیمونو دې جبري کړي چې د یونټونو ارزونې ثبت کړي، او په هغو ولسوالیو کې دې د ملکي مشاورینو نه د یونټونو ارزونې غوښتل پیل کړي چیرته چې نظامي روزونکي\شریکوال ندي ټاکل شوي.

د دې لپاره چې د افغان امنیتي ځواکونو د ارزونې د سیستم په نتیجه کې پیدا کېدونکې نالیوالتیا ختمه کړي، سیګار سپارښتنه کړې چې IJC دې دا اقدام وکړي:

- د NTM-A/CSTC-A، کورنیو چارو وزارت، او دفاع وزارت په ملګرتیا دې یو داسې د ګټې ورکولو سیستم جوړ کړي چې د لوړې کچې د استعدادونو افغان یونټونو ته جایزې ورکړای شي.

سیګار همداراز سپارښتنه کړې چې NTM-A/CSTC-A دې دا اقدامات هم وکړي:

- د دې لپاره چې د اکمالاتو غوښتنې نظارت کړي، د کورنیو چارو د وزارت او دفاع وزارت سره دې د تعقیبونو د بهتر سیستم لپاره کار وکړي.
- د دې لپاره چې د FPDD په یونټونو کې د پرسونل د ټیېنتې په اغیزو کې توازن راولي، داسې یو پروګرام دې جوړ کړي چې په FPDD کې د ټاکلو لپاره داسې نوي کسان وروزي چې مخکې یې ټرینګ ترلاسه کړی وي.
- د دې لپاره چې د افغان امنیتي ځواکونو هر یونټ په دې وتوانوي چې د خپل پرسونل په کارولو سره ګرځنده ټرینګونه وغځوي، نو د روزونکي د روزلو ګرځنده پروګرام دې تطبیق کړي.



د کندهار د ملي پوليسو په وداني کې د نوي جنراتورنو په فعاليت پيل کړی دی. سيګار ته معلومه شوه چې د JRAC بريښنا ځيني تر اړتيا زيات سيسټمونه درلودل چې وجه يې د منسجم شويو پلانونو نشتوالی دی. (د سيګار انځور)

د اداري تبصرې

IJC د لسو سپارښتنو سره موافقه يا يو څه موافقه وکړه، او وې ويل چې دوی اراده لري دا سپارښتنې د درجه بندی په نوي سيسټم کې تطبيق کړي، د کوم نوم چې د قوماندان د يونټ د ارزونې اله (CUAT) دی. IJC د دوو سپارښتنو سره موافقه ونکړه، او سيګار هغه دواړه د اخري راپور نه ليرې کړل ځکه چې د IJC ځوابونو د هغو سپارښتنو ځای ډک کړ.

NTMA-A/CSTC-A په خپل ځواب کې د سپارښتنو سره موافقه وښوده خو وې ويل چې په راپور کې زاړه معلومات شامل ول. خو، د سيګار د پلټنې د کار اتکا په هغو مرکو او معلوماتو ده چې د اکتوبر 2009 څخه تر مۍ 2010 پورې راغونډ کړای شوي دي، په ګډون د افغان امنيتي ځواکونو د يونټونو د کار په ځای کې د 18 کتنو چې د فبروري او مارچ 2010 پر مهال ترسره شوي دي.

د دفاع د سکرتر د دفتر (OSD) پاليسی اضافي معلومات ورکړل، په ګډون د کانګرس ته د دفاع وزارت د راپورونو د نوعيت په اړه د سپيناوي او د CM د درجه بندی د سيسټم په باره کې د دفاع وزارت د انديښنو په اړه د تبصرو. د OSD پرسونل او چمتووالي هم په راپور باندې تبصره وکړه او د افغان امنيتي ځواکونو د ارزونو د بهترولو د هڅو د تاريخ په اړه يې اضافي معلومات ورکړل، په ګډون د CM درجه بندی د سيسټم د اعتبار او مربوطيا د ستونزو د حل کولو په کوښښ کې د OSD د ونډې په اړه تفصيلات.

پلټنه 12-10: د کندهار د ملي پوليسو ودانۍ

**په کندهار کې د ملي پوليسو وداني په عامه توګه د قرارداد د شرايطو سره سمه ده خو د پروژې د پلانولو، نظارت، او دوامدارۍ ستونزې لري**

په افغانستان کې نړيوال ايتلاف د دې لپاره کار کوي چې د افغان ملي پوليسو د روزلو او ځای پر ځای کولو لپاره مرکزونه جوړ کړي. لدې سره چې د ملي پوليسو د ځواک شمېره به په دسمبر 2009 کې د 95000 څخه تر اکتوبر 2011 پورې 134000 ته لوړه شي، CSTC-A په ټول هېواد کې د ودانيو د جوړولو د يو پروګرام سره مرسته کړې څو د ملي پوليسو اړتياوې پوره کړای شي. د دې هڅې د برخې په توګه، CSTC-A د متحده ايالاتو د پوځ د انجينيرانو قول اردو (USACE) ته 45 مليونه ډالر ورکړي چې په کندهار کې د افغانستان د امنيتي ځواکونو ګډه سيمييزه وداني جوړه کړي. دغه ودانۍ د کندهار د هوايي ډګر څخه بهر موقعيت لري.

دا ودانۍ د ملي پوليسو د څلورو جلا جلا پروژو څخه جوړه ده: يو د سيمييزو لوژيستيکو مرکز، يو د افغان ملي ملکي تنظيم د پوليسو کنډک، يو د افغان يونيفارم پوليسو سيمييز مرکز، او د افغانستان د سرحدي پوليسو د زون قومانده. USACE يو د ټاکلي بيې قرارداد د سيمييزو لوژيستيکو د مرکز د پروژې لپاره ورکړ او د ټاکلو بيو د هدف امرونه د افغان ملي ملکي تنظيم د پوليسو، د افغان يونيفارم پوليسو، او د افغان سرحدي پوليسو د پروژو د جوړولو لپاره.

اهداف

دې پلټنې درې اهداف بحث کړل:

- دا معلومول چې ايا JARC د قراردادونو د شرطونو سره سم جوړ شوی که نه، په ګډون د مودې او لګښت.
- دا ارزول چې ايا USACE د رغوني نظارت د ترلاسه کولو د مرکزي قاعدې (FAR)، د USACE د غوښتنو، او د قرارداد د نظارت د شرطونو سره سم ترسره کړی که نه.
- دا معلومول چې يو ځل دا مرکزونه افغان دولت ته وسپارل شي نو د دوی د دوامدارۍ لپاره څه پلانونه په لاره اچول شوي.



د کندهار د ملي پولیسو په ودانۍ باندې کار روان دی. په دې درې میاشتنۍ کې، د سیګار یوه راپور یو لړ سپارښتنې وکړې چې دا ډاډ ترلاسه شي چې د افغانستان دولت کولای شي په راتلونکې کې دا امکانات ساتلی شي. (د سیګار انځور)

موندنې

1. سیګار معلومه کړه چې د JARC د ځلورو ښځه درې پروژې د داسې ځنډېدنو سره مخ شوې وې چې د 6 نه تر 12 میاشتو رسیدلې. ځلورمه پروژه دوه کاله ځنډېدلې وه، ځکه د CSTC-A او د متحده ایالاتو د نشه یي توکیو د تنفیذ د اداري ترمنځ د ځمکې په سر د یوې شخړې له امله، کوم چې د JARC ځای ته د دې د انتقال سبب شوه. د USACE نږدې 280000 ډالرو لګښتونه د پروژې د دې بې ځایه کیدو سره تړلي دي. برسیره پر دې، اساسي قراردادي د خپلو لګښتونو د پوره کولو لپاره د 665000 ډالرو اضافي لګښتونو غوښتنه کړې ده. سیګار یاده کړې چې د JARC د اخري پروژې لپاره ټاکل شوې چې تر جولای 2010 پورې کار اخیستنې ته چمتو شي. د بشپړ شوي کار په اړه د سیګار معاینې د رغونې کومې ظاهري ستونزې ونه موندلې.
2. د پروژې نامناسبې پلان جوړونې ټولې ځلور واړه پروژې اغیزمنې کړې. د USACE کارکوونکو د JARC لپاره داسې کوم اساسي پلان نه و چمتو کړی چې په بشپړه توګه یې دا ځلور واړه پروژې له یو بل سره مربوطې کړې وای. نتیجتاً JARC یو څه غیر ضروري د برېښنا، اوبو، او لښتیو د سیستمونو او مختلف د تودولو او یخولو سیستمونه لرل. برسېره پر دې، د یوې پروژې لپاره د وسلو ذخیره د بلې پروژې د بیرکونو سره پیوست جوړه کړای شوې وه.
3. د پروژې نظارت هم په ډېرو برخو کې کمزوری و. د USACE د کیفیت د ساتلو پروسیجرونه په بشپړ ډول نه ول مراعات شوي، کوم چې دا خطره راپورته کوي چې د رغونې ستونزې وروسته د پروژې په ژوند کې راپورته کیدای شي، د عملیاتو او انتظام لګښتونه زیاتوي، او پکې د اوسیدونکو حفاظت له خطر سره مخ کیدای شي. برسیره پر دې، د ځای د معاینو د نتیجو اسناد

هیڅکله نه ول جوړ شوي؛ اساسي قراردادیانو د ځای د معاینو د نتیجو او د دې اسناد په مناسب ډول نه ول جوړ کړي چې ایا ضروري ازموینې او معاینې ترسره شوې وې که نه.

4. د CSTC-A چاروکیو ویلي چې افغان دولت په نږدې راتلونکي کې چې دا مرکزونه بشپړ شي د دوی د دوامداری لپاره مالي او تخنیکي ظرفیت نلري. د دې مسلې د حل لپاره، CSTC-A اراده لري چې د پنځو کلونو لپاره په ټول افغانستان کې د افغان امنیتي ځواکونو د مرکزونو د فعالیت او انتظام لپاره یو قرارداد ورکړي، د کوم اټکل لګښت چې 800 ملیونه ډالر دی. په دې قراردادونو کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د مرکزونو د دوامداری د استعداد پرمختیا شامله ده.

5. یو مهم پرمختګ چې ملي پولیسو سره به د خپلو فعالیتونو او انتظام په ساتلو کې مرسته وکړي د رغونې د "ساده" معیارونو په لور تګ دی، کوم چې د CSTC-A لخوا تشریح شوي دي. خو، په دې معیارونو کې د پخولو او تودولو د غوراویو او د برقي او د اوبو د شیانو په اړه جزییات ندي شامل کړای شوي کوم چې د متحده ایالاتو لخوا د جوړو شویو مرکزونو لکه JARC اوږدمهاله دوامداری ته وده ورکوي.

سپارښتنې

متحده ایالات لا د مخه ژمن شوي چې په راتلونکو پنځو کلونو کې د افغان امنیتي ځواکونو د ټولو امنیتي مرکزونو د ملاتړ لپاره اټکل 800 ملیونه ډالر ورکړي. د دې لپاره چې د USACE د کیفیت د یقیني کولو او کنټرول پروسیجرونو مراعات پراخ کړای شي او دا امکان زیات کړای شي چې افغان دولت د متحده ایالاتو له مرستې پرته د دې مرکزونو د دوامداری په ساتلو وتوانیږي، سیګار سپارښتنه کړې چې د USACE د قوماندې جنرال دې لاندې اقدامات وکړي:

- لارښودنه دې وکړي چې راتلونکي پروژې دې د USACE د کیفیت د یقیني کولو او د کیفیت د کنټرول ټاکلي پروسیجرونه مراعات کړي.
- د ساده رغونې د معیارونو په اړه دې اوسنۍ لارښودنه وګوري او تازه دې کړي چې د مختلف ډوله مرکزونو لپاره پکې د پخولو او تودولو غوراوي شامل کړي، چې د سیمییزو توپیرونو لپاره پکې اجازه ورکړل شوې وي.
- مرکزونو لپاره د برېښنا، اوبو، او نورو شیانو په اړه دې پکې اضافي جزییات شامل کړي.

د اداري تبصرې

CSTC-A د سیګار د دې سپارښتنو سره موافقه وکړه چې په افغانستان کې د ساده رغونې د معیارونو په اړه دې لارښودنه تازه کړي. USACE د دې سپارښتنې سره موافقه وکړه چې د کیفیت د یقیني کولو او د کیفیت د کنټرول پروسیجرونه دې په بهتر ډول مراعات کړای شي. CSTC-A او USACE د سیګار په دې نظر تبصرې وکړې چې یوه د وسلو ذخیره او یو بیرک د یو بل سره پیوست جوړ کړای شوي دي. CSTC-A څرګنده کړه چې ذخیره د وسلو د خوندي کولو لپاره وه نه د مهماتو، اشاره یې دې ته وه چې د خوندیتوب کومه اندیښنه نشته. خو د دې برعکس، USACE وویل چې دوی CSTA-A سره د دې لپاره په خبرو بوخت دي چې د دواړو ځایونو ترمنځ یو 20 فوټه کنکریټي دېوال جوړ کړي. سیګار یادونه کړې چې دا معامله حل ته اړتیا لري ځکه چې د افغانستان د انجینیرۍ د ولسوالۍ-جنوب (AED) څخه د USACE د چاروکیو له مخې دا مرکزونه به د جولای 2010 په پای کې افغان چاروکیو ته انتقال شي.



د کابل کنفرانس نه مخکې، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیره هیلري رودهم کلنټن د ښځو د توانمندۍ په یوه غونډه کې ګډون کوي چې د بهرنی تګلاری لپاره د اروپایي ټولنې د لورپوري استازي کاتهرین اشتن لخوا په کابل کې د 2010 کال د جولای په 20 مه جوړه شوي وه. (د DoS انځور)

پلټنه 13-10: ښځې او انجونې

**د دې لپاره چې د افغان مېرمنو او انجونو اړتیاوې حل او راپور یې ورکړل شي د کانګرس د لاربښودنو د مراعاتولو لپاره لا زیات انسجام ته اړتیا ده**

له 2003 څخه تر 2010م کاله، کانګرس 627 ملیونه ډالر د اختصاصي بودیجو په بڼه د دې لپاره بیل کړي چې د افغان مېرمنو او انجونو اړتیاوې حل کړي. کانګرس وخت په وخت د بهرنیو چارو وزارت (DoS) ته دا لاربښودنه هم کړې چې د دې بودیجو د استعمال په اړه راپور ورکړي. د دې بودیجو بیلول د کانګرس دا فکر ښيي چې، په افغانستان کې مېرمنو او انجونو ته د ورپېښو مشکلاتو په اړه د لا زیاتې پاملرنې پرته، د 2004 د یو کنفرانس د راپور له مخې، د دغه هېواد د اقتصادي ودې او دموکراتیکې پرمختیا امکانات به په تېزۍ سره کم شي. هر څو که متحده ایالاتو او ایتلافیانو یې د طالبانو له ماتې وروسته د افغانستان د راتلونکي سره د ژمنتیا یو اساسي دلیل د ښځو د حقونو څخه دفاع کول ښودلې و، خو په دسمبر 2009 کې د Human Rights Watch Report له مخې افغان ښځې اوس هم په نړۍ کې تر ټولو بدتر حالت کې دي.

اهداف

د دې پلټنې درې اهداف وو:

- هغه طریقه ارزول چې د بهرنیو چارو وزارت (DoS) او نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداري (USAID) په مالي کال 2008 او مالي کال 2009 کې د افغان مېرمنو او انجونو د فعالیتونو د بودیجو د انتظام او راپور کولو لپاره کارولې وه.
- د هغه حد معلومول تر کومه چې د ځینو سازمانونو مشخص معیارونه د کانګرس د لاربښودنو سره سم ول.
- د دې معلومول چې ایا راپور شوي فعالیتونه د افغانستان او متحده ایالاتو د ملي ستراتیژیو سره برابر ول، په ګډون د افغانستان د ښځو لپاره د ملي اقدام د پلان.

موندني

1. د سیګار د راپور تمرکز د افغانستان د ښځو او انجونو لپاره د متحده ایالاتو د بودیجو د فعالیتونو په اړه د بهرنیو چارو د وزارت د اکتوبر 2009 پر راپور و، او تر څه حده د بهرنیو چارو د وزارت د 2008 کال پر راپور هم. د 2009 د راپور په کتنه کې، سیګار معلومه کړه چې د بهرنیو چارو وزارت او USAID خپله طریقه یو بل سره د دې لپاره مربوطه کړې نه وه چې افغان ښځو او انجونو لپاره د ځانګړې شویو بودیجو د فعالیتونو په اړه راپور ورکړي. هغو راپورونو چې کانګرس ته په 2008 او 2009 کې ورکړل شوي ول د هغو راپور شوي فعالیتونو په اړه یې بشپړ او مربوط معلومات نه ورکول په کومو کې چې ښځې او انجونې اصلي حقدارې وې، داسې لکه د هغو د ګټه اخیستونکو ښځینه د شمیرې او د ورکړل شویو خدمتونو په اړه د بودیجه شویو فعالیتونو په تړاو.
2. سیګاردبهرنیوچارودوزارتدراپورورکولوپهطریقهکېنورېستونزېهمومونډلې.دبیلګېپهتوګه،دې راپورونو د ورکړل شوې ډاټا لپاره مختلف وختونه او طریقې کارولې. هر څو که DoS او USAID تیر کال اقدام وکړ چې په کابل کې د جنس سره تړلې مسلې انسجام کړي، خو د بهرنیو چارو وزارت داسې کومې لارښودنې یا طریقه جوړه نکړه چې د راپور ورکولو لایحې یې ټاکلې وای. دې راپور د دې کوم وضاحت نه ورکاوه چې ولې ځینې خاص فعالیتونه پکې شامل شوي ول او نور نه. نتیجتاً، کانګرس تهورکړلشویو راپورونو داسېواضح انځور نه وړاندې کاوه چې هغه بودیجې څرنګه د دې لپاره کارول شوې وې چې د افغان ښځو او انجونو اړتیاوې پوره کړي.
3. د کانګرس قانون جوړونه دا خبره هم مشخص کړې وه چې ځینې خاص افغان سازمانونه دې د مشخصو پیسو لپاره لایحې ترلاسه کړي. DoS او USAID په ځینو برخو کې د کانګرس دا لارښودنې مراعات کړې. د بیلګې په توګه، د ښځو د چارو وزارت، کوم چې د ښځو د قانوني حقونو د خوندي کولو او غځولو لپاره د افغان دولت تګلارې تطبیقوي، د هر کال لپاره هغه اختصاص شوې بودیجې ترلاسه کړې ندي چې په قانون جوړونه کې یې یادونه شوې وه. نورو سازمانونو د هغو بودیجو یواځې ځینې برخې ترلاسه کړې چې د کانګرس لخوا د هغوی لپاره بیلې شوې وې، په ګډون د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون او نادولتي سازمانونو او د مدني ټولنې د هغو سازمانونو چې مشرې یې ښځې کوي.
4. د متحده ایالاتو تګلاره دا ده چې د ښځو د حقونو، جنسي برابرۍ، او د افغانستان د ملي ستراتیژیو ملاتړ وکړي. خو، د 2009 په راپور کې د متحده ایالاتو په بودیجو د فعالیتونو او د هغو افغان اهدافو او لایحو ترمنځ کوم تړون ندی ښودل شوی چې د افغانستان د ښځو لپاره د ملي اقدام په پلان کې شامل شوې وې، دا هغه مهم سازمان دی چې له لارې یې افغان دولت غواړي د جنسي برابرۍ اهداف ترلاسه کړي. دغسې تړون د دې خبرې د یقیني کولو لپاره ضروري دی چې راپور شویو فعالیتونو د افغان ښځو او انجونو مسلې حل کړې وي.

سپارښتني

د وخت په تیرېدو سره د افغان ښځو او انجونو د اړتیاو د پوره کولو لپاره د اختصاص شویو بودیجو په بیلولو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی، په 2003 کې د 5 ملیونه ډالرو څخه په 2010 کې تر 175 ملیونه ډالرو. هر څو که کانګرس د بهرنیو چارو وزارت ته لارښودنه کړې چې افغان ښځو او انجونو لپاره د دې بودیجو د استعمال په اړه راپورونه ورکړي، خو دغو راپورونو داسې واضح انځور ندی ورکړی چې دغه بودیجې څرنګه افغان ښځو او انجونو ته د ګټې رسولو لپاره کارول شوې وې او یا دا چې د متحده ایالاتو د بودیجو فعالیتونه څرنګه د افغانستان د ښځو لپاره د ملي اقدام د پلان د اهدافو

ملاتړ کوي. په دې توګه سیګار د بهرنیو چارو وزیرې ته سپارښتنه وکړه چې د USAID له مدیر سره د مشورې په ترڅ کې دې د سپتمبر 30، 2010 څخه مخکې کله چې خپل راتلونکی راپور کانګرس ته وړاندې کوي دا لاندې اقدامات وکړي:

- د USAID او DoS د ټولو پروګرامونو او فعالیتونو لپاره دې د راپور ورکولو داسې مربوط شرطونه جوړ کړای شي چې د ګټه اخیستونکو ښځینه و او د فعالیتونو په پیمانه کیدونکو اغیزو معلومات ورکړي چې هدف یې د افغان ښځو او انجونو اړتیاوې پوره کول دي.
- د ورکړل شویو مشخصو بودیجو او یا د دغو بودیجو د استعمال په اړه د راپور ورکولو لپاره دې داسې مربوطې طریقې جوړې کړي چې د هر فعالیت په اړه دقیق معلومات ورکوي، د بودیجو سرچینې معلوموي، او د راپور شویو فعالیتونو معقولیت هم بیانوي.
- فعالیتونه دې داسې ترتیب کړي چې دا خبره یقیني شي چې هغه د افغانستان د ملي ستراتیژیو سره برابر دي، په ځانګړې ډول د افغانستان د ښځو لپاره د ملي اقدام د پلان سره.
- هغو سازمانونو ته دې بودیجې برابر کړي چې په قانون جوړونه کې یې یادونه شوې ده – په ګډون د ښځو د چارو د وزارت، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون، د نادولتي سازمانونو او د مدني ټولنې د هغو سازمانونو چې مشرې یې افغان ښځې کوي – څو دا خبره یقیني شي چې اختصاص شوې بودیجې د کانګرس د لاربنودنو سره سم او د افغان ښځو او انجونو د اړتیاو د پوره کولو لپاره کارول شوې دي.



د فراه د مرکز پروژه نږدې بشپړه ده. کله چې دا پای ته ورسي، نو دا مرکز به شاوخوا 2000 د ملي اردو پرسونل ځای کړي. (د سیګار انځور)

د اداري تبصرې

په هغه وخت چې دا خپرونه مطبعې ته لاړه، دې ادارو لا بیا هم د راپور په یوه مسوده د رسمي تبصرو کولو لپاره چمتووالی نیوه. د پلټنې په اخري راپور کې د موندنو او سپارښتنو په ځواب کې د اداري تبصرې او ځواب موجود دی (www.sigar.mil).

### پلټنه 14-10: په فراه کې د ملي اردو مرکز

**په فراه کې د ملي اردو مرکز په عمومي ډول ښه جوړ شوی معلومیږي، خو ځینې د رغوني مسلې باید حل شي**

نړیوال ایتلاف غواړي چې د افغان امنیتي ځواکونو په روزلو او مجهزولو سره د افغانستان ظرفیت داسې جوړ کړي چې خپل امنیت په خپله وساتي. د مالي کال 2005 څخه تر مالی کال 2010 پورې، د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجې ته تر 25 ملیارده زیات ډالر ورکړل شوي، کوم چې د افغان امنیتي ځواکونو د روزنې او تجهیزونې لپاره بودیجې ورکوي. نوې غوښتنې دا دي چې د افغان ملي اردو د سرتېرو شمېره دې تر اکتوبر 2011 پورې 171600 ته لوړه کړای شي. نتیجتاً، د ځواکونو د روزلو او ځای پر ځای کولو لپاره اضافي مرکزونو ته اړتیا ده. د فراه مرکز، چې د فراه په ولایت کې موقعیت لري، به شاوخوا 2000 سرتېرې ځای کړي. ملي اردو په اکتوبر 2009 کې دې مرکز ته انتقالېده پیل کړل. CSTC-A دوو قراردادونو ته د 68.1 ملیون ډالرو بودیجې ورکوي چې دا مرکز په دوو پړاوونو کې جوړ کړي. د USACE د AED-جنوب اداري دوه د ټاکلې بیې قراردادونه د اول او دویم پړاو د پروګرام د سمبالښت او نظارت لپاره د فضل الله ساختماني او انجینیری شرکت (چې یو افغان شرکت دی) او United Infrastructure Projects (چې یو امریکایي شرکت دی) ته ورکړي دي.

اهداف

دې پلټنې څلور اهداف بحث کړل:

- دا معلومول چې ایا د فراه مرکز د قرارداد د شرایطو دننه جوړ شوی که نه، په ګډون د وخت او



افغان کارکوونکي په فراه ولایت کې د ملي اردو د مرکزونو د جوړولو پر مهال د اوبو د ایستلو یوه ویاله وباسي. په دې درې میاشتنی کې د سیګار یوې پلټنې د رغوني یو شمېر مسلې وپېژندلې چې حل کېدل غواړي. (د سیګار انځور)

لګښت.

- د رغوني په تړاو د USACE د نظارت ارزول او دا چې ایا دا د FAR، د USACE د شرایطو، او د قرارداد د نظارت د مادو سره برابر و که نه.
- د افغان امنیتي ځواکونو د مرکزونو د دوامدارۍ لپاره د پلانونو کتنه.
- د دې مرکز د جوړولو لپاره د CSTC-A عمومي جواز معلومول.

موندنې

1. سیګار معلومه کړه چې، هر څو که دا مرکز نږدې بشپړ و، خو اول پړاو یې د بشپړېدو د اصلي وخت نه شاوخوا 16 میاشتې وروسته بشپړ شوی و. د دویم پړاو لپاره ټاکل شوې وه چې تر جولای 2010 به بشپړ شي – چې دا د بشپړېدا تر اصلي نېټې 12 میاشتې وروسته دی. د CSTC-A لپاره د اول پړاو لګښت، چې په 29.4 ملیونه ډالرو کې ورکړل شوی و، نږدې 10 ملیونه ډالر زیات شو، تر زیاته حده د قرارداد د هغو غوراویو له امله چې د AED-جنوب لخوا عملي کېدل او د کار په دایره کې د بدلونونو له امله. برسېره پر دې، د ځمکني ترانسپورت امنیتي ستونزې د تعمیراتي موادو له هوایي لارې راوړل د 100000 ډالرو د لګښت د زیاتېدو لامل شو. د دویم پړاو لګښت، چې د 34.6 ملیونه ډالرو لپاره ورکړل شوی و، د 5.7 ملیونه نه زیاتو ډالرو کمې پکې راغی ځکه ځینې هغه شیان یې ترې لیرې کړل چې په اول پړاو کې هم راغلي ول.
2. په عمومي توګه، دا مرکز ښه جوړ شوی ښکاري، خو، د دې د ځای د معاینې پر مهال، سیګار ځینې تعمیراتي ستونزې ولیدلې چې تړون یې د ځای د جوړولو، د قیر سرکونو، او د خاورې د راغونډولو سره و چې حل کېده غواړي. ځای په کافي توګه لوړ نه و جوړ شوی، دا به د دې لامل شي چې د ودانیو شاوخوا به اوبه راغونډېږي. قیر هر چیرته په صحیح ډول نه و هوار شوی او لدې امله به خرابېږي او بیا به ترمیم ته اړتیا لري. د اوبو د ویستلو بې ترتیبه کندې به خټه راغونډوي او زیات انتظام ته به یې اړتیا وي.
3. سیګار ته معلومه شوه چې د قرارداد عمومي سمبالښت او نظارت د قرارداد د شرایطو سره سم و. د پیسو ورکولو اسناد په مناسبه توګه جوړ شوي ول، او د کیفیت د یقیني کولو راپورونه د USACE د شرایطو سره سم ول. خو، د هستوګن د سمبالښت راپورونو او د اول پړاو لپاره دوو اضافي راپورونو یو څه ناسم معلومات درلودل.
4. د CSTC-A له مخې، افغان دولت د دې مالي او تخنیکي ظرفیت نلري چې د افغان امنیتي ځواکونو ټول مرکزونه دوامدار وساتي. AED-جنوب د دوو قراردادونو د ورکولو په پروسه کې دی چې د افغان امنیتي ځواکونو د مرکزونو لپاره فعالیت او انتظام برابر کړي. د پلان له مخې دا قراردادونه به د 800 ملیونه ډالرو وي او د افغان ملي امنیتي ځواکونو 663 مرکزونه به رانغاړي.
5. CSTC-A سیګار ته د فراه د مرکز کوم عمومي جواز ورنکړ، لکه د دې د موقعیت د ټاکلو په اړه. سیګار ګن شمیر نور اسناد وکتل چې د افغان امنیتي ځواکونو د قوماندانیو په اړه یې دا پوښتنه حل کوله، خو د داسې مرکز خبره یو کې هم نه وه شوې. په ځای د دې چې د ځای د پلان جوړولو په اړه په دې وخت کې سپارښتنه وشي، سیګار د افغان امنیتي ځواکونو د مرکزونو لپاره د CSTC-A د پلان جوړونې د هڅو په اړه یوه جلا پلټنه ترسره کوي.

سپارښتنې

متحده ایالاتو د دې مرکز د جوړولو لپاره 68 ملیونه ډالر ورکړي چې په فراه ولایت کې د ملي اردو د عملیاتو ملاتړ وکړي. د دې لپاره چې د متحده ایالاتو د پانګونې ساتنه وشي او د ملي اردو د سرتېرو

لپاره يو دوامداره مرکز برابر شي، نو ضروري ده چې د سیګار لخوا ليدل شوې تعميراتي ستونزې حل کړای شي. د دې خبرې د يقيني کولو لپاره چې دا مرکز د قرارداد سره سم بشپړ شوی وي او د دوامداری مسلې يې تر امکاني حده کمې کړای شوې وي، سیګار سپارښتنه کړې چې د USACE د قوماندې جنرال دې AED-جنوب ته لارښوونه وکړي چې لاندې تعميراتي مسلې حل کړي:

- دا خبره دې يقيني کړي چې تعميراتي ځای ښه جوړ شوی وي چې د اوبو د راجمع کيدو مخنيوی وشي.
- دا خبره دې يقيني کړي چې قير سرکونه او د موټرو د درولو ځايونه ښه هوار شوي وي څو د خرابيدو مخنيوی يې وشي.
- د اوبو وتلو په لښتو او کندو کې دې د مرکز شاوخوا د خټو د راجمع کيدو مخه ونيسي څو د انتظام ستونزې پيښې نشي.

د اداري تبصرې

په هغه وخت چې دا خپرونه مطبعې ته لاړه، دې ادارو لا بيا هم د راپور په يوه مسوده د رسمي تبصرو کولو لپاره چمتووالی نيوه. د پلټنې په اخري راپور کې د موندنو او سپارښتنو په ځواب کې د ادارې تبصرې او ځواب موجود دی (www.sigar.mil).

## نوې پلټنې چې د دې درې مياشتنی کې اعلان شوي

په دې درې مياشتنی کې سیګار پنځه نوې پلټنې پيل کړې چې د افغان امنيتي ځواکونو لپاره د انفراسټرکچر د پروژو د پلان جوړولو او تطبيق ارزونه، د نادولتي سازمانونو د همکارانه موافقو کتنه، او د هغو پروژو انتخاب به وکړي چې د قوماندان د بيړني ځواب د پروګرام (CERP) لخوا بوديجې ورکړل شوي.

### د افغان امنيتي ځواکونو د مرکزونو لپاره پلان جوړول

دا پلټنه د هغې پروسې معاينه کوي چې د افغان امنيتي ځواکونو د انفراسټرکچر او مرکزونو او د افغان امنيتي ځواکونو د بدلېدونکو غوښتنو لپاره معقوليت برابروي. لکه چې په دې درې مياشتنی کې د سیګار د پلټنو په خپرو شويو راپورونو کې يادونه شوې، د مرکزونو په اړه د يو داسې تازه پلان پرته چې د افغان امنيتي ځواکونو اړتياوې انعکاسوي، CSTC-A د داسې مرکزونو د جوړولو خطره په سر اخلي چې د افغان امنيتي ځواک د ښودل شوي قوت لپاره نامناسب وي. دا پلټنه درې اهداف لري:

- په افغانستان کې د افغان امنيتي ځواکونو د انفراسټرکچر او مرکزونو جوړولو لپاره د CSTC-A عمومي پلان ته کتنه.
- د افغان امنيتي ځواکونو د انفراسټرکچر او مرکزونو لپاره د CSTC-A ستراتيژيک او تاکتيکي معقوليت ته کتنه، په ګډون د افغان امنيتي ځواکونو د پرسونل د ځای پر ځای کولو د جوازونو، د مختلفو مرکزونو موقعيتونه، او د ملي اردو او ملي پوليسو په فعاليتي مشنونو کې د هغوی رول.
- د دې ارزونه کول چې CSTC-A د خپلو مرکزونو پلانونه څرنګه تازه کوي څو دا خبره يقيني کړای شي چې د افغان امنيتي ځواکونو اوسني او پلان شوي مرکزونه او انفراسټرکچر د بدليدونکو شرايطو سره سمون خوري.

### په هرات او مزار شريف کې د متحده ايالاتو د هوايي ځواک د انجينيری د مرکز او د چاپيريال د انفراسټرکچر د پروژو کتنه

سیګار د انفراسټرکچر د هغو دوو پروژو معاينه کوي چې د انجينيری او چاپيريال لپاره د متحده ايالاتو د هوايي ځواک لخوا تر مسووليت لاندې اخيستل شوې دي. دا کتنه درې اهداف لري:

- د دې ارزونه کول چې ایا دا پروژې د قراردادونو د شرایطو دننه بشپړې شوې دي که نه، په ګډون د وخت او لګښت.
- دا معلومول چې ایا د دوی جوړول د منظورو شویو تعمیراتي پلانونو او مشخصاتو سره سم دی که نه.
- دا ارزول چې ایا د متحده ایالاتو د قرارداد انتظام او د جوړوني نظارت اغیزمن دي او که نه.

په هلمند او کندهار کې د ملي پولیسو د ښېرو مرکزونو د جوړولو د پروژو کتنه

سیګار یوه د کاري ورتیا د معلومولو پلټنه پیلوي څو په ښېرو ولسوالیو کې د ملي پولیسو د مرکزي قوماندانیو د جوړېدنې د کار پرمختګ وارزوي، دا مرکزونه د USACE د قرارداد په اساس جوړېږي. دا کار به د هلمند د دریو ولسوالیو ګرمسېر، نهر سراج، او نادعلي په هغو ځایونو کې چې دا مرکزونه پکې جوړېږي او د کندهار ولایت په دریو ولسوالیو سپین بولدک، ژیړي، او ریګستان کې په هغو ځایونو کې چې دا مرکزونه پکې جوړېږي ترسره کېږي. دا پلټنه درې اهداف لري:

- د دې ارزونه کول چې ایا دا پروژې د قراردادونو د شرایطو دننه بشپړې شوې دي که نه، په ګډون د وخت او لګښت.
- دا معلومول چې ایا د دوی جوړول د منظورو شویو تعمیراتي پلانونو او مشخصاتو سره سم دی که نه.
- د متحده ایالاتو د قرارداد د انتظام او د تعمیراتي نظارت د نوعیت او دقت نظارت.

د کابل د ښاري ابادیو لپاره د خوړو د بې امنیتۍ ځواب (FIRUP-K) د پروګرام لپاره د پاملرنې د نړیوالې موسسې سره د USAID د همکارانه موافقې کتنه.

سیګار د USAID او د پاملرنې د نړیوالې موسسې (Care International) ترمنځ د اټکلاً شپېته ملیونه ډالرو د یوې همکارانه موافقې په اړه پلټنه پیلوي. دا موافقه، د کابل د ښاري ابادیو لپاره د خوړو د بې امنیتۍ ځواب (FIRUP-K)، یو د هغو څلورو پروګرامونو څخه ده چې د افغانستان په غټو ښاري سیمو کې د خوړو په اړه اندېښنې حل کوي. هر څو که د دې یو کلن پروګرام د بشپړېدو نېټه په اصل کې 2010 کال د مارچ میاشت وه، خو USAID په دې وروستیو کې ویلي چې دغه نېټه سپتمبر 2010 ته غځول شوې ده. سیګار به د USAID د قرارداد ورکولو او نظارت د پروسو، د پروګرام د پیل د نېټو او نتیجو، او د دې د تطبیق په وړاندې د چیلنجونو معاینه کوي. دا پلټنه درې اهداف لري:

- د همکارانه موافقو د کولو لپاره د USAID د پروسې ارزونه، په ځانګړې توګه FIRUP-K، او دې پروګرام لپاره د USAID سمبالښت او نظارت.
- د دې پروګرام د اهدافو او مقاصدو کتنه، دا ارزول چې USAID نتایج څرنګه پیمانه کوي، او دا پېژندل چې دې پروګرام څه لاسته راوړي دي.
- د هغو چیلنجونو پېژندل چې دا پروګرام ورسره مخ شوی دی، هغوی د دې تطبیق څرنګه اغیزمن کړی دی، او USAID او پاملرنې (CARE) د هغوی د حل کولو لپاره څه کړي دي، په ځانګړې توګه د بشپړاوي د نیټې د غځولو معقولیت.

په افغانستان کې د CERP د منتخبو پروژو کتنه

دا کتنه د قوماندان د بیړني ځواب د پروګرام (CERP) د منتخبو پروژو یوه تجربوي پلټنه ده. سیګار اراده لري چې دا تجربه د CERP د مرستې په منتخبو جغرافیوي سیمو او کټګوریو کې وکړي. دا پلټنه به د وختونو او لګښتونو، د پایلو، د متحده ایالاتو د نظارت، او د پروژو د دوامدارۍ لپاره د پلانونو معاینه وکړي. دا پلټنه به څلور اهداف بحث کړي:

- د دې ارزونه کول چې ايا د CERP پروژې د پروژو د پلانونو د شرطونو دننه بشپړې شوې وې، په ګډون د وختونو او لګښتونو.
- د CERP د پروژو د جاج اخيستنې لپاره په کار اچول شويو پروسو او هغه حد معاينه تر کومه چې د CERP د پروژو نتايج ارزول شوي دي.
- د CERP د پروژو لپاره د متحده ايالاتو د انتظام او نظارت د نوعيت او حد ارزونه.
- افغان چارواکيو لپاره د موجودو هغو پلانونو پيژندل چې دا پروژې په واک کې واخلي، انتظام يې وکړي او د دوامدارۍ لپاره ورته پيسې برابر کړي.

## رواني پلټنې

د دې راپور ورکولو د مودې پر مهال، سيګار په 10 پلټنو کار ته ادامه ورکړه، په ګډون د قراردادونو د ارزونو، د پروګرام د کتنو، او هغو پلټنو چې د سيګار د اداري فساد ضد پروګرام سره تړون لري. دا پلټنې د بيا رغونې هغه مسلې بحث کوي چې د امنيت، دولتدارۍ، او پرمختيا سره تړلې دي.

په افغانستان کې د متحده ايالاتو د بيا رغونې د هڅې په ملاتړ کې د ملکي پرمختيا د تطبيق کتنه
سيګار د دې معاينې په حدودو کې د حکومت د احتساب د دفتر (GAO) سره په همکارۍ کار کړی دی. GAO د دې معاينه کوي چې د متحده ايالاتو څېل شرايط څرنګه ټاکلي؛ سيګار د زياتو ملکيانو د ځای پر ځای کولو د اقدام د تطبيق ارزونه کوي. دا پلټنه درې اهداف لري:

- د هغه پرسونل شمېر او ډول معلومول چې د ملکيانو د زياتولو د تطبيق لپاره ورکړل شوی.
- د هغه حد ارزونه تر کومه چې په افغانستان کې د دې اضافي پرسونل د فعاليتي او ملاتړي ضرورت د مرستې لپاره لازمي سرچينې ورته برابرې کړای شوې.
- د هغه حد ارزول تر کومه چې په کار اچول شوي ملکيان د متحده ايالاتو د بنودل شويو ستراتيژيکو او پروګرامي اهدافو د لاسته راوړلو لپاره کارول کيږي، په ګډون د نظامي او نړيوالو شريکوالو سره د همکارۍ او د قرارداد د نظارت په مسووليتونو کې د مرستې.

### د افغانستان د ملي پيوستون د پروګرام کتنه

دا پلټنه د پلټنو د هغې سلسلې سره تړلې ده چې سيګار يې د دې لپاره ترسره کوي چې د افغان دولت د فساد ضد وړتياو د ملاتړ لپاره د متحده ايالاتو او نورو مرستندويانو د مرستې معاينه وکړي. دا پلټنې د هغو داخلي کنټرولونو ارزونه هم کوي چې د افغانستان عامه اداري يې دې لپاره د ترسره کولو توان لري چې دا خبره يقيني کړي چې افغان دولت ته د بوديجو په شکل کې ورکړل شوې نړيواله مرسته د ضياع، دوکې، او ناسم استعمال څخه په معقوليت ساتل شوې.

په 2003 کې، د افغانستان د کليو د بيا رغونې او پراختيا وزارت د ملي پيوستون پروګرام د دې لپاره جوړ کړ چې افغانانو سره د هغوی د خپلو پرمختيايي پروژو په پيژندلو، پلان کولو، سمبالولو او څارلو کې مرسته وکړي. له هغې راوروسته، دې پروګرام له 900 مليونه ډالرو زياتې نړيواله مرسته ترلاسه کړې او انفراسټرکچر د نږدې 40000 کوچنيو پروژو د بشپړولو راپور يې ورکړی دی. دا پلټنه دوه اهداف لري:

- دې پروګرام سره د متحده ايالاتو او مرستندويانو مرسته معلومه کړي او هغه اقدامات وپيژني چې د متحده ايالاتو او نورو مرستندويانو لخوا د دې خبرې د يقيني کولو لپاره اخيستل شوي دي چې د هغوی د مالي ورکړو مناسب احتساب شوی، په مناسبه توګه يې پروګرام جوړ شوی، او په پای کې د هغو اهدافو لپاره استعمال شوي د کومو لپاره چې ورکړل شوې وې.
- د کليو د بيا رغونې او پراختيا د وزارت د دې ظرفيت معاينه کول چې د دې پروګرام د پلان،

سمبالوني، او نظارت کار کولی شي چې داسې معقوله يقينداري ورکړي چې مناسب داخلي کنټرولونه په کار اچول شوي او د پروګرام د تاکل شويو نتيجو د لاس ته راوړلو لپاره په سم ډول کارول کېږي.

## د ننګرهار د ولايتي ادارې د احتساب او د فساد ضد استعدادونو او کاري وړتيا بهترولو لپاره د متحده ايالاتو هڅو ته کتنه

دا پلټنه د بوديجو، احتساب، او ظرفيت د هغو مسلو څخه بحث کوي چې د ننګرهار ولايت سره اړه لري. دا يوه تجربوي پلټنه ده چې د هغه سروې په نتيجه کې منځته راغلې چې د ولايتي حکومتونو د احتساب او فساد ضد استعدادونو او کاري وړتيا په اړه ترسره شوې ده. که بريالی وه، نو سيګار به دا پلټنه په راتلونکي کې په نورو مهمو ولايتونو کې هم تکرار کړي. دا پلټنه درې اهداف لري:

- ننګرهار لپاره د مرستندويانو او افغانستان د بوديجو د اندازو، سرچينو، او اهدافو معلومول.
- د هغو اقداماتو ارزول چې د متحده ايالاتو حکومت د دې خبرې د يقيني کولو لپاره کړي دي چې ننګرهار ته ورکړل شوې د متحده ايالاتو بوديجې د ملي او ولايتي لومړيتونو سره سمې لګول شوې دي.
- د هغه حد معلومول تر کومه چې د ننګرهار ولايتي اداره دا خبره يقيني کولی شي چې بوديجې د ناسم استعمال څخه په ښه توګه ساتل شوي او د ملي او ولايتي لومړيتوبونو سره سمې لګول شوې دي.

## د اداري فساد پر وړاندې مبارزې لپاره د افغان دولت د ظرفيت د جوړولو لپاره د متحده ايالاتو او نړيوالو هڅې

د هغه 51 ملیارده څخه زيات ډالر چې د افغانستان د بيا رغونې لپاره ورکړل شوي زياتره يې نېغ په نېغه د متحده ايالاتو د ادارو لخوا انتظام شوي او افغان دولت يې په ځای پرېښی و. د مرستندويانو د يوې نوې تګلارې په تسلسل کې چې په جنوري 2010 کې منل شوې، متحده ايالات پلان لري چې په راتلونکي کې د پرمختيايي مرستې تر نيمايي برخه د افغان دولت له لارې ولګوي. خو، دا مرسته د افغان دولت په دې توان اړه لري چې د نورو شيانو تر څنګ اداري فساد کم کړي. دا پلټنه د متحده ايالاتو او نړيوالو د هغو هڅو ارزونه کوي چې افغان دولت سره د هغه ظرفيت په جوړولو کې مرسته کوي چې د دې بوديجو انتظام او څارنه وکړي او حساب يې وکړي او د اداري فساد مخه ونيسي.

## د معاشونو د هغې مرستې کتنه چې د متحده ايالاتو د دولتي ادارو لخوا افغان دولتي چارواکيو ته ورکول کېږي

دا پلټنه د سيګار د هغه هڅې برخه ده چې د افغان دولت د مهمو ادارو داخلي کنټرولونه او د احتساب پروسيجرونه وارزوي. دا د افغان دولت د چارواکيو لپاره د متحده ايالاتو د حکومت د معاش د ټولو مرستو کتنه کوي، پرته د ANSF د نظامي چارواکيو. دا کتنه دا اهداف لري:

- افغان چارواکيو ته د متحده ايالاتو د حکومت د معاش ټوله مرسته معلومول.
- د معاشونو د ترلاسه کوونيکو او ورکړل شويو پيسو د معلوملو لپاره د داخلي کنټرولونو او نورو احتسابي ميکانزمونو معاينه کول.
- د معاش د مرستې په ورکولو کې چيلنجونه، که کوم وي، معلومول.

## په افغانستان کې د بيا رغونې د قراردادونو د سترو ترلاسه کوونکيو معلومونه

سيګار دا پلټنه د متحده ايالاتو د بيا رغونې د تر ټولو غټو قراردادونو د پېژندلو او تشريح کولو لپاره پيل کړې؛ دا معلومات به د سيګار د قرارداد په پلټنه کې د لارښودنې مرسته وکړي. د حکومت د احتساب

دفتر (GAO) سیګار ته هغه ډاټابیس ته لاسرسی ورکړی چې د دې لپاره یې جوړ کړی و تر څو په افغانستان کې د مالي کال 2007، مالي کال 2008، او د مالي کال 2009 د لومړنیو شپږو میاشتو پر مهال په افغانستان کې د قراردادونو چارې بحث کړي. سیګار د GAO دغه ډاټا تحلیل کړې تر څو په دغه موده کې د ټولو پیسو پر حساب غټ قراردادیان وپیژني او درجه بندي یې وکړي. دا پلټنه درې اهداف لري:

- دا خبره یقیني کړي چې مرسته ترلاسه کوونکي او ورسره تړلي قراردادونه چې پیژندل شوي د افغانستان د بیا رغونې لپاره دي (نه د متحده ایالاتو د حضور د ملاتړ لپاره).
- د پیژندل شویو قراردادونو ارزښت او هدف معلومول.
- په مالي کال 2009 کې د هر راپور شوي قرارداد ټولې ورکړل شوې پیسې او لګښتونه ثبتول.

سیګار د بهرنیو چارو وزارت، د دفاع وزارت او USAID سره کار کوي چې هغه اساسي قراردادیان وپیژني کوم چې په افغانستان کې د بیا رغونې د مسلسلې مرستې په چارو کې فعالیت لري خو د GAO په ډاټابیس کې ندي راښکاره شوي. دې لپاره چې د دې هڅې د تکرار مخه ونیول شي، سیګار دا کار د GAO د هغه کار سره یو ځای کړی چې د 2009 د وروستیو شپږو میاشتو پر مهال د قراردادیانو د معلوماتو د راغونډولو لپاره یې کوي.

### په افغانستان کې د ولسمشرۍ او ولایتي شورا ګانو د ټاکنو د تیارۍ او سرته رسولو لپاره د متحده ایالاتو د مرستو کتنه

دا پلټنه، چې د ټولټاکنو په پروسه د راپورونو د سلسلې دریمه ده، د 2009 کال د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو د ټولټاکنو  او هغو اقداماتو په اړه د خپلواکو ارزونو کتنه کوي چې د متحده ایالاتو او نړیوالو مرستندویانو لخوا د 2010 د ټولټاکنو د ملاتړ لپاره اخیستل شوي دي. دا کتنه به هغه تجربې وپیژني چې د 2009 کال د ټولټاکنو  او هغو اقداماتو څخه زده شوي چې د دې لپاره اخیستل شوي وو چې د انتخابي اصلاحاتو لومړیتوبونو او مسلو ته ځواب ووایي.

### په افغانستان کې د بیا رغونې د پروګرامونو لپاره د امنیت برابرولو لپاره د متحده ایالاتو د ادارو لخوا د قراردادیانو د استعمال کتنه

سیګار دا پلټنه د دې لپاره ترسره کوي چې د هغو قراردادیانو شمیر او اندازه معلومه کړي چې په افغانستان کې د امنیتي خدمتونو لپاره په کار اچول شوي دي. دا پلټنه دا اهداف لري:

- د هغو امنیتي قراردادیانو او پرسونل شمېره معلومول چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د مرکزي ادارو لپاره کار کوي.
- د امنیتي قراردادیانو او ضمني قراردادیانو په اړه د ادارو د سمبالښت او نظارت ارزونه کول.
- دا پریکړه کول چې GAO او د عمومي پلټونکو ټولنې تر کومې کچې پورې د شخصي امنیتي قراردادونو پلټنې ترسره کړې دي

### د قرارداد پلټنه: د ګلوبل سټراټیجیز انکارپوریشن لخوا د بیا رغونې د امنیتي مرستې خدمتونه

دا پلټنه، کومه چې د سیګار لخوا په افغانستان کې د شخصي امنیتي قراردادیانو په اړه د پلټنې سره تړلې ده، د دې خبرې معاینه کوي چې ایا USACE هغه امنیتي خدمتونه په معقول لګښت لاس ته راوړل چې دې د قراردادي څخه ورته اړتیا لرله. په دې درې میاشتنۍ کې سیګار د دې پلټنې کار ته د اهدافو د سپیناوي لپاره تغییر ورکړ. تغییر شوي پلټنه دا اهداف لري:

- هغه خدمتونه پیژندل چې د ګلوبل سټریټجک ګروپ لخوا برابر شوي، او دا معلومول چې ایا دغه خدمتونه د قرارداد د شرطونو سره سم ورکړل شوي ول، په ګډون د وخت، لګښت، او وروستیو

زياتونو.

- دا معلومول چې ايا USACE دې ګروپ سره د دې ګروپ د قرارداد نظارت د Federal Acquisition Regulation، د USACE د شرايطو، او په قرارداد کې د نظارت د کومو مادو سره سم ترسره کړی که نه.
- که کوم ضمني خصوصي امنيتي قراردادیان کارول شوي وي د هغوی پيژندل او دا معلومول چې هغوی څرنګه د دې وړ ګڼل شوي ول چې په قرارداد ورکړل شوي خدمتونه به برابر کړي.

د افغان ملي پوليسو (ANP) د پرسونل د سمبالښت کتنه

سيګار دا پلټنه د هغه حد د څارنې لپاره ترسره کوي تر کومه چې ملي پوليسو د پرسونل د شميرلو لپاره دقيق سيستمونه جوړ کړي دي. دا پلټنه په اصل کې په ملي پوليسو او ملي اردو دواړو تمرکز شوي وه، خو سيګار دې پلټنې ته تغير ورکړ چې يواځې په ملي پوليسو تمرکز وکړي تر څو د هغه کار د تکرار څخه ځان وساتل شي چې GAO کړی دی او په ملي پوليسو کې د مخ په زياتېدونکي علاقمندی سره سم کار وشي. دا تغيير شوي پلټنه څلور اهداف لري:

- د ملي پوليسو د پرسونل د سمبالښت د پروسو او سيستمونو تشريحول.
- هغه اقدامات تشريحول چې د افغان دولت او نړيوالو مرستندويانو لخوا د ملي پوليسو د پرسونل د سمبالښت د پروسو او سيستمونو لپاره ترسره شوي دي.
- د هغو چيلنجونو پيژندل کوم چې ښايي د ملي پوليسو د پرسونل د سمبالښت د پروسو او سيستمونو د تطبيق په وړاندې خنډ وي.
- د هغه حد معلومول تر کومه چې د دوکې، ضياع، او ناسم استعمال د خطرې مخنيوی کيږي.

## ساينسي پلټنې

سيګار د ترميمي قانون پي.ايل. 181-110 د صلاحيت د لاندې درې کتنې ترسره کوي چې دوه يې په دې درې مياشتنۍ کې پيل شوي. دا قانون جوړونه د سيګار نه غوښتنه کوي چې د پيسو د ناسمي ورکړې تحقيق وکړي – داسې لکه د تکراري پيسو ورکولو او يا د تکراري بلونو – او د هغو ټولو پروګرامونو او فعاليتونو په اړه يو وروستی د ساينسي پلټنې راپور جوړ کړي چې پيسې ورته د افغانستان د بيا رغونې لپاره اختصاص شوي او يا په لاس ورکړل شوي دي. دا نوې کتنې به د بيا رغونې د بوديجو په تړاو د DoS او USAID د پيسو د انتقال د ډاټا معاينه وکړي.

د افغانستان د امنيتي ځواکونو د بوديجې د پيسو د انتقال د ډاټا ساينسي کتنه

سيګار د مالي کال 2005 نه تر مالي کال 2009 د افغانستان د امنيتي ځواکونو د بوديجې په تړاو د دفاع د وزارت د اختصاص، ژمنې، او لګښت د پيسو د انتقال د ډاټا کتنه پيل کړې. دا کتنه به معلوماتو د راکنستلو د تخنيکونو او دوکې معلوموونکو په کارولو سره د پيسو د انتقال ډاټا د دې لپاره تحليل کړي چې هغه توپيرونه وپيژني کوم چې ښايي دوکه معلومه کړي. پايلې يې ښايي د سيګار د پلټنو او څېړنو په ارتباط د مرستې نتيجه راوړي.

د افغانستان د بيا رغونې په تړاو نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو د اداري د پيسو د انتقال د ډاټا ساينسي کتنه

سيګار د مالي کال 2002 نه تراوسه پورې د افغانستان د بيا رغونې د فعاليتونو په تړاو د USAID د اختصاص، ژمنې، او لګښت د پيسو د انتقال د ډاټا کتنه پيل کړې. د دې کتنې هدف د معلوماتو د راکنستلو د تخنيکونو او دوکې معلوموونکو په کارولو سره د پيسو د انتقال ډاټا د دې لپاره تحليل کړي

چې هغه توپیرونه وپېژني کوم چې ښايي دوکه معلومه کړي. پايلې يې ښايي د سيګار د پلټنو او څېړنو په ارتباط د مرستې نتيجه راوړي.

د افغانستان د بيا رغونې په تړاو د بهرنيو چارو د وزارت د پيسو د انتقال د ډاټا ساينسي کتنه سيګار د مالي کال 2002 نه تراوسه پورې د افغانستان د بيا رغونې د فعاليتونو په تړاو د بهرنيو چارو وزارت د اختصاص، ژمنې، او لګښت د پيسو د انتقال د ډاټا د کتنې د پيل اعلان کړی. د دې کتنې هدف د معلوماتو د راکنسلو د تخنيکونو او دوکې معلوموونکو په کارولو سره د پيسو د انتقال ډاټا د دې لپاره تحليل کړي چې هغه توپيرونه وپېژني کوم چې ښايي دوکه معلومه کړي. پايلې يې ښايي د سيګار د پلټنو او څېړنو په ارتباط د مرستې نتيجه راوړي.

## د سيګار څېړنې

په دې درې مياشتنۍ کې، د سيګار د څېړنو رياست 27 نوې قضيې پرانيستلې او 14 قضيې يې وتړلې. سيګار 55 رواني قضيې لري چې په دريو څېړنيزو فعاليتونو ويشل شوي دي، څرنګه چې د تنفيذوونکي قانون د صلاحيت سره سم د عمومي پلټونکو په قانون کې د عمومي پلټونکي د لاربښودنو لاندې واک ورکړل شوی دی. دا درې فعاليتونه دي ارزونې، ابتدايي څېړنې، او بشپړې څېړنې؛ د دوی ترمنځ جلاوالی د صلاحيت ورکړل شويو څېړنيزو ميتودونو او د تور لګول شوي جرم په اړه د معلوماتو د نوعيت څخه راووځي. د جولای 30، 2010 سره سم، سيګار يوه ارزونه، 19 ابتدايي څېړنې، او 35 بشپړې څېړنې ترسره کوي. سيګار د جنايي فعاليت تول فعاليتونه په بشپړه توګه ارزوي چې معلومه کړي ايا د بيا رغونې بوديجې پکې ونډه لري که نه. متحده ايالات په افغانستان کې دومره زياتو يو بل سره تړلو نظامي او ملکي فعاليتونو ته بوديجې ورکوي چې قراردادیان او د هغوی ضمني قراردادیان اکثر وخت د ډېرو ادارو سره په ډېرو فعاليتونو کې بوخت وي. دا زياتره وخت دا کار مشکلوي چې په تېزۍ سره د بوديجو سرچينه معلومه کړای شي، لکه د بې حسابه نغدو پيسو انتقال.

تر څېړنې لاندې قضيې د قرارداد د دوکې، عامه فساد، دوکې ترلاسه کولو، او نورو متفرقو جنايي فعاليتونو په اړه دي. انځور 2.1 او انځور 2.2 د حالت او ډول په ترتيب د دې قضيو يوه خاکه وړاندې کوي.

انځور 2.1

### تر څېړنې لاندې قضيې د حالت په ترتيب




سرچينه: د سيګار د څېړنو رياست، 7/19/2010

انځور 2.2

### تر څېړنې لاندې قضيې د ډول په ترتيب




سرچينه: د سيګار د څېړنو رياست، 7/19/2010

## د څېړنيز ظرفيت جوړول

د اخري راپور ورکولو له مودې راهيسې، سيګار درې نوي څېړونکي په کار ګومارلي او هدف لري چې د دې مالي کال تر پای به د خپلو مامورينو شمېر 32 تنو ته ورسوي. د سيګار څېړونکي د لوړې کچې، قانون نافذوونکي افسران دي چې سپين کالر کې د جرمونو په معلومولو، حساب، او د دوکې په معاينه کې تجربه لري.

د هغو 24 څېړونکيو نه چې لا د مخه په کارکوونکو کې شامل دي، 14 په افغانستان کې دي او 10 په ارلينګټن، ورجينيا، کې د سيګار په مرکز کې کار کوي. سيګار خپل څېړونکي په کابل کې د متحده ايالاتو په سفارت، په کمپ ايګرز کې د CSTC-A په مرکز کې، په باګرام هوايي ډګر او کندهار هوايي ډګر کې ټاکلي دي. د دې لپاره چې په افغانستان کې خپل څېړنيز حضور زيات کړي، سيګار په پنځو ولايتونو کې د اوو نويو دفترونو د پرانيستلو په پروسه کې دی، دا هغه ولايتونه دي چرته چې د بيا رغونې مهم کارونه پلان شوي او يا تر کار لاندې دي – ننګرهار، لوګر، خوست، هرات، او بلخ. سيګار د ايساف او امريکايي ځواکونو د قوماندانانو او د بهرنيو چارو د وزارت سره په تماس کې دی چې لوژيستيکي اسانتياوې ورته برابرې کړي، په ګډون د ځواک د تحفظ او د ژوند د ملاتړ د خدمتونو.

د سیګار څېړونکي په افغانستان او متحده ایالاتو کې د نورو قانون نافذوونکو ادارو سره له نږدې کار کوي تر څو سرچینې تر امکاني حده زیاتې کړي او دا خبره یقیني کړي چې د متحده ایالاتو د ټیکس ورکوونکیو د پیسو د ناسم استعمال په اړه ټول تورونه په جدي توګه تر غور لاندې راغلي. سیګار په واشنګټن ډي سي کې د قرارداد د فساد د نړیوال هدف ځواک د ګډ فعالیت په مرکز (ICCTF) کې مستقل او هر وختي حضور لري. ICCTF د متحده ایالاتو د قانون نافذولو اساسي اداره ده چې د دوکې په اړه په نړیواله توګه د متحده ایالاتو د مرکزي ادارو سره انسجام لري.

## دوه افغان شرکتونو د رشوت تورونه ومنل او 4.4 ملیونه ډالر جریمه شول

د 2010 کال د جون په 25 مه، د افغانستان د ټرکونو دوو شرکتونو دا تورونه ومنل چې په باګرام هوايي ډګر کې یې د متحده ایالاتو عامه چارواکیو ته د ټرکونو د خدمت د قراردادونو په ترلاسه کولو کې د طرفدارۍ لپاره رشوت ورکړی و. دغو شرکتونو د نورو شیانو ترڅنګ د بیا رغونې مواد لیږدول. دا قضیه د سیګار، د دفاعي جنایت د څېړنیز خدمت، د متحده ایالاتو د پوځ د جنایي څېړنې د قوماندې د ډویژن، او د ICCTF د نورو غړیو د ګډې څېړنې نتیجه ده. د جرم د منلو قراردادونه په دواړو شرکتونو، د افغانستان نړیوال ټرک خدمتونه (AIT) او د افغانستان تجارتي ترانسپورت (ATT)، لازمه کړې چې په شریکه 4.4 ملیونه ډالر جنایي جریمه ورکړي.

په څېړنه کې معلومه شوه چې AIT د متحده ایالاتو مختلفو نظامي چارواکیو ته په مختلفو مواقعو ټول تر 120000 زیات ډالر رشوت ورکړی دی، او ATT د دغو چارواکیو څخه یو ته تر 30000 ډالرو زیات رشوت روکړی دی. د حقیقتونو د بیانیې له مخې، د AIT مامورینو په 2004 کې د ترانسپورت په دفتر کې چارواکیو ته رشوت ورکول پیل کړل. په یوه موقع، AIT یو دولتي چارواکي ته 70000 نغد ډالر چې د چاکلیټو په ډبې کې یې بند کړي ول ورکړي ول.

## سیګار افغانستان نه د لېږدول شویو نغدو پیسو تحقیق کوي

د سیګار څېړونکي له نږدې د نورو مرکزي ادارو، لکه د متحده ایالاتو د کډوالۍ او ګمرکاتو د تنفیذ (ICE) اداره، سره کاره کوي چې د هغو بې حسابه نغدو پیسو د لېږد سرچینه معلومه کړي چې افغانستان نه د کابل هوايي ډګر له لارې وتلي دي. د مارچ په پای کې، ICE او نورو مرکزي قانون نافذوونکیو ادارو درې ورځنې عملیات پیل کړل چې هوايي ډګر نه د وتلو پیسو معاینه وکړي. په دې موده کې، اوو مسافرینو 8.2 ملیونه نغد ډالر وښودل. هیڅوک نیول شوي نه ول ځکه چې د افغانستان د قانون له مخې دې مسافرینو په خپل واک کې پیسې ښودلې وې.

د اپریل او مې پر مهال، د سیګار څېړنیزو ټیمونو دوبۍ ته سفرونه وکړل چې د روانو څېړنو سره مرسته وکړي، په کوم کې چې د افغانستان او دوبۍ ترمنځ د پیسو د جریان څېړنه شامله وه. سیګار ICE ته په کابل او دوبۍ دواړو کې د دوکې او بې حسابه پیسو د لېږد په اړه اړوند معلومات ورکړي دي.

## د سیګار تماس او د شکایتونو د سمبالښت سیستم

په دې درې میاشتنۍ کې، د سیګار تماس او د شکایتونو د سمبالښت سیستم (HCMS) 62 شکایتونه ترلاسه کړل – چې دا د تېرې درې میاشتنۍ نه 77% زیات ول. په جنوري 2009 کې له فعالیت پیلولو راوروسته، HCMS د افغانستان په بیا رغونه کې د ضیاع، دوکې او ناسم استعمال 196 راپورونه ترلاسه کړي دي.

د هغو 62 شکایتونو نه چې په دې درې میاشتنۍ کې ترلاسه شوي، سیګار 11 په داخلي توګه د مناسب اقدام لپاره او 13 نورو ادارو ته ولېږل؛ 19 تر کار یا تر کتنې لاندې دي. همدارګز، سیګار 19



د سیګار د تماس یوه لوحه د ضیاع، دوکې، او ناسم استعمال په اړه بیداري خوروي.  دا لوحه د کابل هوایي ډګر په لور تللي سرک ده. (د سیګار انځور)

داسې شکایتونه وتړل چې اعتبار یې نه درلود.

د دې راپور ورکولو د مودې پر مهال، د سیګار په تماس شمیره داسې ګڼ شمېر شکایتونه ترلاسه شول چې د افغانستان ضمني قراردادیانو ته د کار له بشپړولو وروسته پیسې نه وې ورکړل شوې. سیګار د دې تورونو تحقیق کوي ځکه چې د متحده ایالاتو د قراردادیانو لخوا افغان قراردادیانو ته د هغوی د صحیح کار په بشپړولو سره په پیسو ورکولو کې پاتې راتلل د بیا رغونې هڅې ته زیان رسوي.

د سیګار د څېړنو څانګې په دې درې میاشتنۍ کې د لاندې او نورو میتودونو په کارولو سره خلکو ته د عامه خبرداري یو پراخ کمپاین پیل کړ څو د سیګار د تماس په اړه معلومات ورکړای شي:

- په انګلیسي، دري، او پښتو کې پوسټرې او تجارتي کارتونه
- په کابل کې زیات ترافیک لرونکیو لارو باندې د اعلانونو لوحې
- د نظامي ځواکونو په شبکه تلویزیوني اعلان
- په دري او پښتو کې راديويي اعلان
- د ملکي او نظامي کاري ډلو سره خبرو اترو کې د دوکې په اړه بیداري

انځور 2.3 د سیګار د تماس د شکایتونو سرچینه ښیي.

انځور 2.3

د سیګار د تماس د شمیرې د شکایاتو سرچینه 1 اپریل – 30 جون، 2010

ټول:62




سرچینه: د سیګار د تحقیقاتو ریاست، 7/14/2010

## ماهرانه کتنه

د تېرې فبرورۍ په میاشت کې سیګار د مربوطیت او وړتیا لپاره د عمومي پلټونکو د شورا (CIGIE) څخه وغوښتل چې د سیګار د کار په اړه یوه له وخته مخکې کتنه ترسره کړي. مشرانو لخوا د کارونو کتنه عموماً په دریم کال ترسره کېږي، خو ما د دې له وخته مخکې کتنې غوښتنه ځکه وکړه چې مونږ د خپلو مشرانو د نظر نه په تېزۍ ګټه واخلو او د اغېزمن نظارت د ترسره کولو لپاره خپل توان ته پراختیا ورکړو.  د جولای په میاشت کې CIGIE خپل کتنه بشپړه کړه. په کتنه کې زمونږ د پلټنو د ریاست کمزورۍ ښودل شوي، او مونږ د هغوی د سمولو لپاره د CIGIE سپارښتنې عملي کوو. د CIGIE سپارښتنې معلومه کړې چې د څېړنو ریاست تراوسه د ځینو اداري شرایطو سره برابر ندی، خو CIGIE په دې نتیجه رسېدلی چې زمونږ د نویو تګلارو او پروسیجرونو د تطبیقولو سره امکان

لري چې په نږدې راتلونکې کې د بشپړ برابري نتيجه راوړي.

## د سيګار بوديجه

له 2008 راهيسې، کانګرس د سيګار د فعاليتي لګښتونو د پوره کولو لپاره 46.2 مليونه ډالر اختصاص کړي دي. په تېر کال کې، د سيګار کارکوونکي تر دوه چنده زيات شوي ده، دې کار دا سازمان توانولی چې خپل د پلټنې او څېړنې کار پراخ کړي. د سيګار د مالي کال 2011 د بوديجې غوښتنه 35.6 مليونه ډالر به سرچينې برابر کړي چې د کارکوونکو هغه 132 چوکۍ په بشپړ توګه پوره کړي چې د بيا رغونې د هڅې د پراخ نظارت د ترسره کولو لپاره ضروري دی. چوکاټ 2.2 تر مالي کال 2010 د سيګار د بوديجو لنډيز وړاندې کوي.

## د سيګار کارکوونکي

د دې راپور ورکولو په موده کې، سيګار خپل کارکوونکي شاوخوا 18% زيات کړل – د اپريل په پای کې د 79 نه مطبعې ته د دې راپور د تګ پر مهال 93 ته. سيګار په تېزۍ سره باستعداده پرسونل په کار ګوماري چې په مالي کال 2011 کې د خپلو کارکوونکو د غړيو هدف شمېر 132 ته ورسي.

سيګار په کابل او د افغانستان په دريو نورو ځايونو کې دفترونه لري. د جولای په پای کې، سيګار په افغانستان کې 25 د کارکوونکو غړي درلودل، په ګډون د هغو 19 چې په کابل کې د متحده ايالاتو په سفارت کې ټاکل شوي او دوه هلته په موقت ډول دنده لري. سيګار د متحده ايالاتو د سفارت سره کار کوي تر څو په کابل کې د خپلو دايمي کسانو شمېره له 20 تنو 32 ته لوړه کړي. سيګار په افغانستان کې د متحده ايالاتو د ځواکونو سره هم خبره کوي چې په نظامي مرکزونو کې زمونږ کارکوونکي زيات کړای شي. په عين وخت کې، سيګار په موقت ډول ټول افغانستان ته خپل کسان لېږي رالېږي چې پلټنې او څېړنې ترسره کړي.

چوکاټ 2.2

**د سيګار د بوديجې لنډيز (په مليونونو ډالر)**

| اختصاصي | عمومي قانون | اختصاص شوي | ورکړل شوي | له وخته تېرې | مبلغ |
|---|---|---|---|---|---|
| د 2008 مالي کال لپاره ضميمه يي اختصاصونه، H.R. 2642 | P.L. 110-252 | 6/30/2008 | 6/30/2008 | 9/30/2009 | $2.0 |
| د 2008 مالي کال لپاره ضميمه يي اختصاصونه، H.R. 2642 | P.L. 110-252 | 6/30/2008 | 10/1/2008 | 9/30/2009 | $5.0 |
| د غښتلي امنيت، د مصيبت مرستې، او دوامداره اختصاصونو قانون، 2009 | P.L. 110-329 | 9/30/2008 | 9/30/2008 | 9/30/2010 | $9.0 |
| د 2009 مالي کال لپاره ضميمه يي اختصاصونه، H.R. 2346 | P.L. 111-32 | 6/24/2009 | 6/24/2009 | 9/30/2010 | $7.2 |
| د پياوړي اختصاصونو قانون، 2010، H.R. 3288 | P.L. 111-117 | 12/16/2009 | 10/1/2009 | 9/30/2010 | $23.0 |
| **ټول** | | | | | **$46.2** |

**د بنسټ ایښودل**

افغانان په لوګر ولایت کې د هغو ټولنیزو پروژو څخه پر یوه باندې شریک کار کوي چې په ټول افغانستان کې د کلیو د پراختیا لپاره مهمې دي. (د متحده ایالاتو د پوځ انځور، روسل ګلخرست)

# 3

# د بيارغوني
# وروستي معلومات



"یوائې د خدمتونو په رسولو،
د قانون د حاکمیت په جوړولو،
او په ټول هېواد کې د اقتصادي فعالیت په
زیاتولو سره دولت کولای شي چې
د خپلو اتباعو په سترګو کې مشروعیت پیدا کړي."

—- د افغانستان د لومړیتوبونو
او تطبیقونو پلان

سرچینه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، "د لومړیتوبونو او تطبیقونو پلان،" 7/20/2010، مخ 4.

# عمومي کتنه

دریمه برخه د دې راپور ورکولو په موده کې د افغانستان یوه بشپړه کتنه وړاندې کوي. د لاسته راوړنو، چیلنجونو او سیمییزو اقداماتو په اړه تازه حال د هغه نظارت لپاره دلیل برابروي چې د بیا رغونې د هڅو لپاره اړین دی. دا برخه په پنځو نورو ضمني برخو ویشل شوې ده: د بودیجو حالت، امنیت، دولتداري، اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا او د مخدره موادو پر وړاندې مبارزه. د امنیت، دولتدارۍ، او اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا ضمني برخې هغه درې ستنې انځوروي چې د 2008 کال د افغانستان د ملي پرمختیا په ستراتیژۍ کې ټاکل شوې وې. د مخدره موادو ضد ضمني برخه په هغه یوه مهمه مسله تمرکز کوي چې په دغه ستراتیژۍ کې پېژندل شوې وه.

## موضوعات

دریمه برخه پنځه پراخه موضوعات بحث کوي: د بودیجو تاریخي او اوسني معلومات، امنیتي شرایط، د حکومدارۍ فعالیتونه، د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا پروګرامونه، او د مخدره موادو ضد اقدامات. درې میاشتنۍ ښکارونې چې په دې ټوله برخه کې خورې ورې دي د یوې مشخصې ضمني برخې دننه د بیا رغونې د هڅو په تړاو یوه واحده موضوع په نښه کوي.

د بودیجو حالت ضمني برخه هغو پیسو په اړه جامع بحث وړاندې کوي چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره یې ژمنه شوې او لګول شوې دي. دا همداراز د متحده ایالاتو په سترو بودیجو، نړیوالو ورکړو، او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د بودیجو په اړه مشخص معلومات شاملوي.

د امنیت ضمني برخه د افغان ملي امنیتي ځواکونو د فعالیتونو په اړه تفصیلات ورکوي، په ګډون د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو، او په افغانستان کې د امنیت د بهترولو لپاره د متحده ایالاتو او نړیوالو هڅو بحث کوي. . یوه درې میاشتنۍ ښکارونه د یاغیانو په درېیو هغو ډلو هغو تمرکز کوي چې په افغانستان کې کار کوي.

د دولتدارۍ ضمني برخه د ښې دولتدارۍ د هدف د لاسته راوړلو په لور د افغان دولت هڅو او پرمختګ ته کتنه کوي. دا په بیاخېلونه؛ ټولټاکنو؛ عامه ادارې، عدالت او د محبسونو په ریفورمونو؛ فساد ضد هڅو؛ او د بشري حقونو په اړخونو، په ګډون د جنسي برابرۍ او مذهبي ازادۍ، کې د پرمختګ په اړه کتنه کوي. یوه درې میاشتنۍ ښکارونه د لړه کیو استازیتوب ته کتنه کوي.

د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا ضمني برخه په هغو برخو کې د بیا رغونې په فعالیتونو باندې تمرکز کوي چې د زراعت او انرژۍ نه تر روغتیایي خدمتونو رسیږي. دا د اقتصاد د حالت یو انځور وړاندې کوي او د هغه پرمختګ تازه حال ورکوي چې د مالي کال د دوامدارۍ، د برېښنا د رسولو، او د زراعتي ګټو په تړلاسه کولو کې شوی دی. یوه درې میاشتنۍ ښکارونه د رسنیو تېزه وده بحث کوي.

د مخدره موادو په خلاف د جګړې ضمني برخه د افغانستان په اقتصاد کې د مخدره موادو د اثر د

کمولو هڅې تشریح کوي. دا د نشو، د نشه یي موادو په طلب کې د کمي، د بدیلې پرمختیا د پروګرامونو، او د مخدره موادو پر ضد د کار کولو د ظرفیت د پرمختیا په لړ کې د پرمختګ تازه حال وړاندې کوي. دا ضمني برخه د متحده ایالاتو او افغانستان هغه ګډې هڅې ښکاره کوي چې د مخدره موادو پر خلاف یې کړې دي او هغه ننګونې بحث کوي چې د دې هڅو د بریالیتوب په لاره کې خنډ دي. یوه درې میاشتنۍ ښکارونه په افغانستان کې په نشه یي توکیو د اعتیاد په اړه معلومات ورکوي.

## کړندود (میتودولوژي)

دریمه برخه د عامه سرچینو د معلوماتو او ډاټا د کارولو تر څنګ د هغو اضافي معلوماتو نه جوړه شوې ده چې د متحده ایالاتو د ادارو لخوا ورکړل شوي دي. استثنا له هغو ځایونو چېرته چې د سیګار د پلټنو یا تحقیقاتو مشخصې حوالې ورکړل شوي، سیګار د دې ډاټا پلټنه نده کړې؛ دا معلومات د سیګار د نظرونو څرګندونه نه کوي. ټول جزییات او معلومات د متن په پایلیکونو او یا د انځورونو او چوکاټونو په یادونو کې هغو ادارو ته منسوب شوي چې د دې راپور یې ورکړی؛ لدې امله چې ډېر سازمانونه معلومات ورکوي، شمیرې یې ښایي له یو بل سره په تضاد کې وي. د دې درې میاشتنۍ د سیګار د پلټنو او تحقیقاتو په اړه د یو بشپړ بحث لپاره، دویمه برخه وګورئ.

### د معلوماتو پوښتنه

د معلوماتو پوښتنې د پوښتنو یوه لړۍ ده چې د متحده ایالاتو د ادارو څخه د بیا رغونې په پروګرامونو، او د افغانستان په چارو کې د هغوی د ګډون یا ورکړو په اړه ترې شوې دي. د متحده ایالاتو په هغو ادارو کې چې د دې درې میاشتنې راپور د معلوماتو په پوښتنو کې یې ګډون کړی دا لاندې شامل دي:

- د بهرنیو چارو وزارت
- د دفاع وزارت
- د سمبالښت او بودیجې دفتر
- د متحده ایالاتو د تجارت او پرمختیا اداره

د دې راپور یوه لومړنۍ مسوده له خپرولو وړاندې دغو ادارو ته ورکړل شوې وه څو اړوندې ادارې د دې برخې منځپانګه تایید او تصحیح کړي.

### د پرانستې-سرچینې تحقیق

د پرانستې-سرچینې تحقیق د اتباري سرچینو څخه ترلاسه شوې ډېره تازه، او په عامه ډول ترلاسه کېدونکې ډاټا اتکاء کوي. د هغو سرچینو چې په دې درې میاشتنې راپور کې کارول شوې په یوه نمایند لیست کې لاندې سرچینې شامل دي:

- د متحده ایالاتو هغه ادارې چې د معلوماتو په پوښتنه کې استازیتوب ورکړل شوی
- د امنیت نړیوال مرستندویه ځواک (ایساف)
- د حکومت د احتساب دفتر
- ملګري ملتونه (او اړوندې څانګې)
- د پیسو نړیوال صندوق
- نړیوال بانک
- د افغان دولت وزارتونه او د افغان دولت نور سازمانونه

د پرانستې-سرچینې زیاتره تحقیق د دې راپور په ابتدایي مسوده کې شامل کړای شوی و کومه چې د معلوماتو د پوښتنې ادارو ته د کتنې لپاره له خپرېدو مخکې ورکړای شوې وه.

# په ګرافونو پوهېدنه

ټول انځورونه او چوکاټونه د دې درې مياشتنۍ لپاره د معلوماتو راپور ورکوي، په استثنا د هغه ځايونو چې په سرليکونو او يادونو کې پېژندل شوي.

## د ولايتونو نقشې

د ولايتونو نقشې هغه ځايونه ښيي چې په متن کې بحث شوي. هر رنګ د ډاټا د يو سيټ استازيتوب کوي، چې په تشريح کې ښودل شوی؛ تورېخن رنګونه زياتې شمېرې ښيي، سپين بخن رنګونه کمې شمېرې ښيي.




## د پټي چارټونه

دا راپور د يو شمېر هغو بوديجو او پروژو څخه د ډالرو پر ارزښت بحث کوي چې د مليونونو څخه مليارډونو ته رسېږي. د دې شمېرو په ګرافونو کې د دقيق استازيتوب د وړاندې کولو لپاره، د ګرافونو ځينې پټي ماتې ښکاري (د يوې کږې وږې کرښې سره) چې د صفر او يوې جيګې شمېرې ترمنځ توپ ښيي.




د پټي چارټ په پيمانه کې د يوې ماتېدنې سره




د پټي چارټ په پيمانه کې له ماتېدنې پرته

## بوديجي ښودونکي

بوديجي ښودونکي هغه انفرادي بوديجې ښيي چې په متن کې بحث شوي وي. د دغې بوديجې د انتظام مسوولیت لرونکې اداره د بوديجې د نوم نه لاندې په خړ بکس ليست شوي وي.




## د مليارډونو او مليونونو توپير کول

لدې امله چې دا راپور د بوديجو جزييات په مليارډونو او مليونونو ډالرو کې ښيي، دا د پيمانې د دواړو يونټونو د جلا کولو لپاره يوه کتنيزه اشاره کاروي. هغه ډالر چې په مليارډونو کې راپور شوي په ابي رنګ کې وړاندې کېږي، او هغه ډالر چې په مليونونو کې راپور شوي په شنه رنګ کې انځورېږي.

پايي چوکاټ په مليونونو کې



پايي چوکاټ په مليارډونو کې



# د بودیجو حالت

تر جون 30، 2010 پورې متحده ایالاتو د مالي کال 2002 راهیسې په افغانستان کې د اسانۍ او بیا رغونې لپاره تر51.50 ملیارده ډالر ډیر اختصاص کړي وو. د دې بودیجو د ټوټل بنسټ پر هغې ډاټا دی چې د ادارو لخوا ورکړل شوي او هغو پیسو چې په مالي کال 2010 کې اختصاص شوي، لکه چې په ضمیمه ب کې ښودل شوي. دا ټولې پیسې په لاندې ډول ټاکل شوي:

- نږدې 26.75 ملیارده د امنیت لپاره
- تر 14.74 ملیارده ډالر زیات د حکومتدارۍ او پرمختیا لپاره
- نږدې 4.24 ملیارده د مخدره موادو ضد هڅو لپاره
- تر 2.05 ملیارده ډالر زیات د بشري مرستو لپاره
- تر 3.72 ملیارده زیات د نظارت او فعالیتونو لپاره

انځور 3.1 د متحده ایالاتو د هغو غټو بودیجو یوه کتنه وړاندې کوي چې دې هڅو ته ورکړل شوې دي.

انځور 3.1

د افغانستان د بیا رغونې د هڅو د مرستې لپاره د متحده ایالاتو بودیجې
(په ملیاردونو ډالرو)




**ASFF:** د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه

**CERP:** د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام

**DoD CN:** د دفاع وزارت د مخدره موادو د مخنیوي او مخدره موادو سره د مبارزې فعالیتونه

**ESF:** د اقتصادي ملاتړ بودیجه

**INCLE:** د نړیوالو مخدره موادو کنټرول او د قانون نفاذ

**نور:** نوري بودیجې

یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوې دي. د USAID معلومات له 2010/31/3 سره سم دی، ځکه تازه معلومات د دې راپور د خپرولو په مهال په لاس کې نه ول.
أ.په کې شمېر ادارو کې شامل دي USAID، DoS، DoJ، خزانه، USDA.
سرچینې: د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب 7/13/2010،7/14/2010،10/14/2009 او 10/1/2009؛ د مالي کال 2010 د دفاعي لګښتونو بیان؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010/7/13 او 2010/7/12؛ خزانه، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010/7/13؛ OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010/19/4؛ USAID، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب 2010/1/15، 2010/8/1 او 2009/9/10؛ د عدلیې وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2009/7/7؛ د متحده ایالاتو د زارعت وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2009/4.




هغه پیسې چې د متحده ایالاتو د پنځو غټو بودیجو لخوا د مالي کال 2001 راهیسې د افغانستان د بیا رغونې د مرستې لپاره ورکړل شوي په شریکه 81.0% (نږدې 41.72 ملیارده ډالر) جوړوي. د دې پیسو نه، تقریباً 82.9% (تر 34.56 ملیارده ډالرو زیات) ورکړل شوي، او تر 73.1% (نږدې 30.50 ملیارده ډالر) لګول شوي دي. راتلونکې پاڼې د دې بودیجو په اړه اضافي معلومات وړاندې کوي.

## د افغانستان د بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو بودیجې

تر جون 30، 2010 پورې د افغانستان د اسانۍ او بیا رغونې لپاره مجموعي اختصاصونه ټول نږدې 51.50 ملیارده ډالرو ته ورسیدل. دا ټولې پیسې د بیا رغونې د بودیجو په پنځو سترو کټګوریو ویشل کېدای شي: امنیت، دولتداري او پرمختیا، د مخدره موادو ضد مبارزه، بشري، او نظارت او فعالیتونه. د ادارو لخوا تازه معلومات د مالي کال 2009 او مالي کال 2010 لپاره د ټولو مجموعي اختصاصونو اندازه لا زیاته کړه. د متحده ایالاتو د اختصاصونو په اړه د بشپړه معلوماتو لپاره، وګورئ ضمیمه ب.

لکه چې په انځور 3.2 کې ښودل شوي، د مالي کال 2010 مجموعي اختصاصونه د 2009 په مجموعي اختصاصونو تقریباً 30.1% زیات شول، چې تر 51.50 ملیارده ډالرو پورې ورسېدل. له مالي کال 2002 راهیسې، امنیتي هڅو تر ټولو زیات مجموعي اختصاصونه ترلاسه کړي دي. د امنیت لپاره اختصاصونه (نږدې 26.75 ملیارده ډالر) د متحده ایالاتو د بیا رغونې مرستې تر 51.9% زیات تشکیلوي. په مالي کال 2010 کې، امنیت د مالي کال 2009 نه په مجموعي اختصاصونو کې ډېر مخکې شو (تر 32.5% زیات)، وروسته حکومتداري او پرمختیا (تر 27.6% زیات)، او د مخدره موادو ضد هڅې (تر 20.8% زیات).

لکه چې په انځور 3.3 کې په مخامخ مخ ښودل شوي، د مالي کال 2010 لپاره اختصاصونه نږدې 11.91 ملیارده ډالرو ته ورسېدل، چې د مالي کال 2009 د اندازې نه تر 15.0% ډېر واوړېده. دا په یو واحد کال کې د بیا رغونې د هڅې لپاره اختصاص شوی تر ټولو ستر رقم دی.

امنیت لپاره د مالي کال 2010 اختصاصونه د مالي کال 2009 په اختصاصونو تر 17.0% زیات اضافه شول، د 6.56 ملیارده ډالرو نه زیات. د مالي کال 2010 د ټولو اختصاصونو څخه، د امنیت پروګرامونو ته نږدې 55.1% لاړل، وروسته د حکومتدارۍ او پرمختیا لپاره تقریباً 26.8% په مالي

انځور 3.2

د بودیجې د کټګورۍ په ترتیب ټول اختصاصونه، د جون 30، 2010 سره سم (په ملیاردونو ډالرو)




یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي دي.
سرچینې: د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب 7/13/2010، 7/14/2010، 10/14/2009 او 10/1/2009؛ د مالي کال 2010 د دفاعي لګښتونو بیان؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010/7/13 او 2010/7/12؛ خزانه، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، OMB، 2010/7/13؛ د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، USAID، 2010/19/4؛ د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب 2010/1/15، 2010/8/1 او 2009/9/10؛ د عدلیې وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2009/7/7؛ د متحده ایالاتو د زراعت وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2009/4.

# د بودیجو حالت

کال 2010 کې د امنیت اختصاصونه (تر 6.56 ملیارده ډالرو زیات) په یو واحد کال کې دویم تر ټولو غټ مبلغ دی؛ تر ټولو زیات (نږدې 7.41 ملیارده ډالر) په مالي کال 2007 کې د امنیت لپاره شوي وو.

انځور 3.3 د مالي کال 2002 نه تر مالي کال 2010 د بودیجو په کټګورۍ کلني اختصاصونه ښيي. دا پټې د هغو ډالرو اندازه ښيي چې اختصاص شوي. پایي چارټونه د کټګورۍ په ترتیب د ټولو اختصاص شویو اختصاصونه ښيي. دا شمېرې هغه پیسې انځوروي چې د اړوندو ادارو لخوا راپور شوي او هغه پیسې چې په لاندې قانون سازیو کې اختصاص شوي:

- د مالي کال 2010 د دفاع وزارت د اختصاصونو قانون (مالي کال 2010 د دفاع وزارت د اختصاصونو قانون)
- د مالي کال 2010 د ترانسپورت او د کور جوړونې او د ښاري پراختیا څانګو، او د اړوندو ادارو د اختصاصونو قانون (مالي کال 2010 د پیاوړو اختصاصونو قانون)

په مخکنیو درې میاشتنیو راپورونو کې، د هرې بودیجې لپاره مجموعي پرتلیزو ګرافونو هغه اختصاص شوې پیسې انځورولې چې د اړوندو ادارو لخوا یې راپور ورکړای شوی و. په تېره درې میاشتنۍ کې، دې ګرافونو د مالي کال 2010 لپاره د اختصاص شویو بودیجو هغه ټولې پیسې هم انځورولې چې د سمبالښت او بودیجې د دفتر (OMB) لخوا یې راپور ورکړای شوی و. په دې درې

انځور 3.3

## د مالي کال، رقم، او سلنې په ترتیب اختصاصونه (په ملیاردونو ډالرو)




یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوې دي.

سرچینې: د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب 7/13/2010، 7/14/2010، 10/14/2009 او 10/1/2009؛ د مالي کال 2010 د دفاعي لګښتونو بیان؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010/7/13 او 2010/7/12؛ خزانه، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010/7/13؛ OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010/19/4؛ USAID، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب 2010/1/15، 2010/8/1 او 2009/9/10؛ د عدلیې وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2009/7/7؛ د متحده ایالاتو د زراعت وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2009/4.




**د ASFF د بودیجو اصطلاحات**

**د دفاع وزارت د ASFF بودیجې د موجودي، منل شوي، یا لګول شوي په توګه راپور کړي.**
موجودي: **د ژمنتیاو لپاره موجودې ټولې پیسې**
منل شوي: **د پیسو د ورکولو ژمنتیاوې**
لګول شوي: **هغه پیسې چې لګول شوي دي**

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب، 4/13/2010.

میاشتنی کې ټولې اختصاص شوې پیسې هغسې راپور شوې څرنګه چې د OMB لخوا په هغو مثالونو کې ورکړل شوي کله چې معلومات په لاس کې نه وو او یا یې د کال د یوې برخې د پیسو راپور ورکړی و. د دې بدلون د ښکاره کولو لپاره، د مخکې راپور شوي ډاټا استازیتوب په راتلونکو مخونو د مجموعي پرتلیزو ګرافونو په لړ کې ورکړل شوي.

## د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه

کانګرس د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه (ASFF) د دې لپاره جوړه کړې چې افغان ملي امنیتي ځواکونو تجهیزات، اکمالات، خدمتونه، او روزنې او همداراز د مرکزونو او انفراسټرکچر ترمیم، تجدید او رغونه برابر کړي.[4] د افغان امنیتي ځواکونو د جوړولو مسوولیت لرونکی اساسي سازمان د ناټو د روزنې مشن – افغانستان\د ګډ امنیت د انتقال قومانده-افغانستان (NTM-A\CSTC-A) دی.[5]

د جون 30، 2010 سره سم، د افغان امنیتي ځواکونو د جوړولو لپاره د متحده ایالاتو د بهرنیو دفاع وزارت (DoD) لپاره نږدې 25.23 ملیارده ډالر اختصاص شوي دي – چې دا په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ټولې مرستې نږدې 49.0% جوړېږي. د دفاع وزارت راپور ورکړی چې د دې رقم نه، تر 21.83 ملیارده زیات ډالر ورکړل شوي، د کومو نه چې نږدې 21.79 ملیارده ډالر مصرف شوي دي.[6] انځور 3.4 هغه ارقام ښیې چې ASFF ته د مالي کال په ترتیب په لاس ورکړل شوي.

د دفاع وزارت راپور ورکړی چې د جون 30، 2010 سره سم ټولې ورکړل شوې پیسې د مارچ 30،

انځور 3.5

**د افغان امنیتي ځواکونو بودیجې ، ټولیزه پرتلنه (په ملیاردونو ډالرو)**




یادونې: شمېرې په ګردې کولو اغېزمنې شوې. پیسې هغسې راپور شوې چې د دفاع وزارت لخوا ورکړ شوي دي.
سرچینې: د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7/14/2010 او 4/13/2010.

انځور 3.4

**د مالي کال په ترتیب د افغان امنیتي ځواکونو بودیجې (ASFF) موجودي بودیجې(په ملیاردونو ډالرو)**




یادونه: شمېرې په ګردې کولو اغېزمنې شوې.
سرچینه: د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7/14/2010.

2010 د ټولو ورکړل شويو پيسو څخه تر 1.56 ملیارده زیاتو ډالرو زیاتي شوي دي. ټول مصرفونه د جون 30، 2010 سره سم، نږدې 2.37 ملیارده ډالر د مارچ 30، 2010 د ټولو مصرف شويو ډالرو څخه زيات شوي دي.[7] انځور 3.5 د هغو ارقامو ټوله پرتله ښيي چې د ASFF لپاره په لاس ورکړل شوي، منل شوي، او يا مصرف شوي دي.

## د ASFF د بوديجې فعاليتونه

د دفاع وزارت د ASFF دننه د بوديجې د فعاليت دې دريو ډلو ته پيسي ورکوي:[8]

- دفاعي ځواکونه (افغان ملي اردو، يا ANA)
- داخلي ځواکونه (افغان ملي پوليس، يا ANP)
- اړوند فعاليتونه (اساساً د بنديانو فعاليتونه)

د بوديجې د فعاليت هرې ډلي ته بوديجې د ضمني فعاليتپه څلورو نورو ډلو کې تاکل کيږي: انفراسټرکچر، تجهيزات او ترانسپورت، روزني او عمليات، او دوامداري.[9]

د جون 30، 2010 سره سم، د دفاع وزارت د ANSF د پروګرامونو لپاره تر 20.79 ملیارده ډالر زيات لګولي. د دې پيسو نه، نږدې 13.62 ملیارده ډالر په افغان ملي اردو لګول شوي، او تقريباً 7.08 ملیارده ډالر په افغان ملي پوليسو؛ پاتې 0.09 ملیارده ډالر نورو ورسره تړليو فعاليتونو ته ورکړل

**د بوديجې د فعاليت ډلې:** د اختصاص يا بوديجې د هر حساب دننه هغه درجې چې د هغو فعاليتونو اهداف، پروژې او ډولونه پيژني چې د اختصاص يا بوديجې لخوا يې مالي ملاتړ کيږي.

**د ضمني-فعاليت ډلې:** هغه حسابي ډلې چې د قوماندې لګښتونه په فعاليتي برخو کې ويشي.

سرچيني: د دفاع وزارت، "لارښود M-7110.1 د دفاع وزارت د بوديجې د لارښودني کتاب،" وکتل شو په 9/28/2009؛ د سمندري ځواک څانګه، "د طبي اسانتيا د منتظم کتابچه،"، وکتل شو په 10/2/2009، مخ 5.

انځور 3.6

د ملي اردو لپاره د افغان د امنيتي ځواکنو د بوديجې مصرفونه د ضمني فعاليت د ډلې په ترتيب،مالي کال -2005 30 جون 2010 (په مليادونو ډالرو)




يادوني: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي.
سرچينه: د دفاع وزارت، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 7/14/2010

انځور 3.7

د افغانستان د ملي پوليسو لپاره افغان امنيتي ځواکونو د بوديجې مصرفونه د ضمني فعاليت د ډلي لخوا،مالي کال -2005 30 جون 2010 (په مليارډونو ډالرو)




يادوني: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي.
سرچينه: د دفاع وزارت، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 7/14/2010

شوي.[10]

لکه چې په انځور 3.6 کې ښودل شوي، افغان ملي اردو لپاره د لګول شویو بودیجو څخه، تر ټولو غټې برخې (6.25 ملیارده ډالر) د تجهیزاتو او ترانسپورت مرسته کړې. د هغو بودیجو نه چې په افغان ملي پولیسو لګول شوي، غټه برخه یې – نږدې 1.94 ملیارده ډالر – هم په تجهیزاتو او ترانسپورت لګول شوي، لکه چې په انځور 3.7 کې ښودل شوي.[11]




د CERP د بودیجو اصطلاحات

**OMB د CERP بودیجې د اختصاص شویو په توګه راپور کړي.**

اختصاصونه: **هغه ټولې پیسې چې د ژمنتیاو لپاره موجودې دي**

**DoD د CERP بودیجې هغسې راپور کړې چې اختصاص شوي، ورکړل شوي، یا لګول شوي.**

اختصاصونه:

**د ژمنتیاو لپاره موجودې ټولې پیسې**

منل شوي: **د پیسو د ورکولو ژمنتیاوې**

لګول شوي: **هغه پیسې چې لګول شوي دي**

سرچینې: OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/19/2010؛ د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/14/2010.

## د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام

د قوماندان بیړني ځواب پروګرام (CERP) په افغانستان کې د متحده ایالاتو قوماندانان په دې توانوي چې د هغو پروګرامونو په ملاتړ کولو سره چې د سیمییزې ابادۍ سمدستي مرسته وکړي، د خپل مسوولیت په برخو کې بیړنیو بشري مرستو او د بیا رغونې غوښتنو ته ځواب ووایي. د دې پروګرام لاندې بودیجې د هغو وړو پروګرامونو لپاره دي چې د هرې پروژې لګښت اټکلاً د 500000 ډالرو نه کم وي.[12] پروژې چې لګښت یې اټکلاً د یو ملیون ډالرو نه اوړي اجازه یې شته، خو د هغوی لپاره د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندې د قوماندان نه منظوري اخیستل ضروري دي.[13]

انځور 3.9

**د CERP بودیجې، تولیزه پرتلنه (په ملیاردونو ډالرو)**




یادونې: شمېرې په ګردې کولو اغېزمنې شوې دي. پیسې هغسې راپور شوي چې د دفاع وزارت او OMB لخوا ورکړل شوي.
سرچینې: OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/19/2010؛ د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/14/2010، 7/15/2010او 1/13/2010..

انځور 3.8

**د مالي کال په ترتیب د CERP اختصاصونه (په ملیونونو ډالرو)**




یادونې: په معلوماتو کې ښایي بین الاداري لیږدونې شاملې وي. شمېرې په ګردې کولو اغېزمنې شوې دي.
سرچینې: OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/19/2010؛ د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 1/13/2010.

## د بوديجو حالت

د مالي کال 2010 د DoD د اختصاصونو قانون د CERP لپاره 1.20 مليارد ډالر ورکوي چې د پرمختيا فعاليتونو ته وده ورکړي او ملاتړ يې وکړي. د دې رقم نه، يو مليارد ډالر په افغانستان کې د پروګرامونو لپاره دي.[14] دا CERP لپاره ورکړل شوې ټوله بوديجه 2.64 مليارده ډالرو ته رسوي – چې دا په افغانستان کې د متحده ايالاتو د ټولې مرستې تر 5.1% زيات جوړېږي.[15] د جون 30، 2010 سره سم، د دفاع وزارت راپور ورکړی چې د دې رقم نه، نږدې 1.64 مليارده ډالر ورکړل شوي، د کوم نه چې تر 1.24 مليارده زيات ډالر مصرف شوي دي.[16] انځور 3.8 د مالي کال په ترتيب د CERP اختصاصونه ښيي.

د دفاع وزارت راپور ورکړی چې د جون 30، 2010 سره سم ټولې ورکړل شوې پيسې د جون 30، 2010 د ټولو ورکړل شويو پيسو څخه تر 1.56 مليارده زياتو ډالرو زياتې شوې دي. ټول مصرفونه د جون 30، 2010 سره سم، تر 98.91 مليونه ډالر د مارچ 31، 2010 د ټولو مصرف شويو ډالرو څخه زيات شوي دي.[17] انځور 3.9 د هغو ارقامو ټوله پرتله ښيي چې د ASFF لپاره په لاس ورکړل شوي، منل شوي، او يا مصرف شوي دي.

## د CERP د بوديجو کټګورۍ

د دفاع وزارت له مخې، د CERP د بوديجو د ترلاسه کوونکيو دوه کټګورۍ دي: محلي افغان قرارداديان او محلي افغان ملکيان. په پروژو او د پيسو په ورکړو کې شامل دي د جګړې تخريب او د غمرازۍ پيسې، او د کوچنۍ کچې پروژې هم (تر 5000 ډالرو کمې).[18]

د دفاع وزارت راپور ورکړی چې په هغو حالتونو کې چې کله محلي افغان قراردادیان شرايط نشي پوره کولی، نو کېدلای شي چې د CERP بوديجې وروسته نورو هغو سازمانونو ته ورکړل شي چې شرايط پوره کولی شي. په دې حالتونو کې شامل دي د متحده ايالاتو د حکومت ادارو ته لېږدونې، داسې لکه د متحده ايالاتو د پوځ د انجينيرانو قول اردو، کوم چې د ځينو غټې کچې د انفراسټرکچر د پروژو لپاره د CERP بوديجې د دې لپاره ترلاسه کوي چې هغه د لوړې سطحې تخنيکي مهارت او د پروژې د سمبالښت تجربې ته اړتيا لري. کورني او بهرني (غير افغان) قراردادیان يا نادولتي سازمانونه (موسسې) کله کله په افغانستان کې د بشري مرستې او بيا رغونې د پروژو لپاره لدې امله د CERP پروژې ترلاسه کوي چې افغان قراردادیان یا خو ظرفيت نلري او يا په يو ځانګړي ځای او وخت کې موجود نه وي.[19]

د CERP بوديجې د دې لپاره نه کارول کېږي چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت وزارتونو ته نېغ په نېغه پيسې ورکړي او يا هغه خدمتونه تکرار کړي چې د ولايتي ادارو لخوا برابرېږي. د CERP بوديجې افغان قراردادیانو ته د دې لپاره ورکول کېږي چې د وزارتونو د خاصو پروژو کومک وکړي (داسې لکه محلي افغانانو ته پيسې ورکول چې د پوهنې د وزارت لپاره يو ښوونځی ترميم کړي يا د عدليې د وزارت لپاره د محکمې وداني ترميمول). د افغانستان د دولت د نظامي او ملکي پرسونل د معاشونو، مراعاتو، او تقاعد د پيسو لپاره د CERP بوديجو د ورکولو په سختۍ سره منع دی.[20]

د ملي دفاع د صلاحيت ورکولو قانون، H.R. 2647-329، د دفاع وزارت ته صلاحيت ورکوي چې د مالي کال 2010 د CERP تر 50.00 مليونه ډالرو بوديجې د افغانستان د ملي پيوستون د پروګرام لپاره د بهرنيو چارو وزارت ته انتقال کړي. د دفاع وزارت راپور ورکړی چې دا تمه لري چې دا ټول مبلغ (50.00 مليونه ډالر) به د روان مالي کال پر مهال ورته انتقال شي.[21]

## د DoD د نشو او مخدره موادو ضد فعاليتونه

د DoD د مخدره موادو د مخنيوي او مخدره موادو سره د مبارزې فعاليتونه (DoD CN) بوديجه د DoD د هغو هڅو ملاتړ کوي چې د مخدره موادو د کاروبار او ورسره تړليو فعاليتونو په وړاندې مبارزې کولو سره افغانستان ته ثبات ورکوي. د DoD CN بوديجې په لاندې لارو د مخدره موادو ضد هڅې ته مرسته ورکوي:[22]

- د مخدره موادو د قاچاقبرو خلاف د نظامي عملياتو مرسته کول
- په افغانستان کې د مخدره موادو د مخنيوي عمليات پراخول
- په مشخصو روزنو، تجهيزاتو، او مرکزونو سره د افغانستان د قانون تنفيذوونکو ظرفيت لوړول، په ګډون د افغانستان د سرحدي پوليسو

د جون 30، 2010 سره سم، د دفاع وزارت ته د مخدره موادو ضد هڅو لپاره نږدې 1.43 ملیارده ډالر اختصاص شوي دي – چې دا په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بیا رغونې د ټولې مرستې 2.8% جوړېږي.[23] انځور 3.10 د مالي کال په ترتيب د DoD CN اختصاصونه ښيي. د دفاع وزارت راپور ورکړی چې د دې پيسو نه، نږدې 1.40 ملیارد ډالر ورکړل شوي او مصرف شوي دي.[24] انځور 3.11 د DoD CN د بوديجو د فعاليتونو لپاره ټولې اختصاص شوې، ورکړل شوې، او مصرف شوې پيسې ښيي.




د دفاع وزارت د مخدره موادو سره د مبارزې د بوديجو اصطلاحات

**د دفاع وزارت د DoD CN بوديجې د اختصاص شوې، منل شوې، يا لګول شوې په توګه راپور کړي.**

اختصاص شوي:**د ژمنتياو لپاره موجودې ټولې پيسې**

منل شوې: **د پيسو د ورکولو ژمنتياوې**

لګول شوي: **هغه پيسې چې لګول شوې دي**

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب، 4/13/2010.

انځور 3.11

**د دفاع وزارت د مخدره موادو پرضد د مبارزې بوديجې، جمع (په ملياردونو ډالرو)**




يادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. پيسې هغسې راپور شوي چې د دفاع وزارت لخوا ورکړل شوي. درې مياشتنۍ پرتلنه نده شوې ځکه معلومات نه دي بدل شوي. د منل شويو ډاټا نه ده ورکړل شوې؛ په دې توګه، منل شوې پيسې د مصرفونو سره برابر ګڼل شوي.
سرچينه: د فاع وزارت، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7/13/2010.

انځور 3.10

**د مالي کال په ترتيب د دفاع وزارت د مخدره موادو پرضد د مبارزې اختصاصونه (په مليونونو ډالرو)**




يادونې: په معلوماتو کې بنايي بين الاداري لېږدونې شاملې وي. په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي.
سرچينه: د دفاع وزارت، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7/13/2010

## د اقتصادي ملاتړ بوديجه

د اقتصادي ملاتړ بوديجه (ESF) پروګرامونه هېوادونو سره د هغوی د لنډمهاله او اوږدمهاله سياسي، اقتصادي او امنيتي اړتياو په ترلاسه کولو کې په مرسته کولو د متحده ايالاتو ګټې پر مخ بيايي. د ESF پروګرامونه د تروريزم پر خلاف د جګړې ملاتړ کوي؛ ملي اقتصادونه بهتروي؛ او د يو لا ښه شفاف او مسوول حکومت لپاره د اغېزمنو، د لاسرسي وړ، او خپلواکو حقوقي سيستمونو د پرمختيا لپاره مرسته کوي.[25]

لدې امله چې د دې درې مياشتنۍ لپاره د چاپ په وخت کې معلومات په لاس کې نه ول، نو دلته وړاندې شوي معلومات د مارچ 31، 2010 سره سم دي. د مالي کال 2010 د پياوړي اختصاصونو قانون په افغانستان کې د ESF د پروګرامونو لپاره نږدې 2.04 مليارده ډالر ورکوي. دا د ESF ټوله جمع بوديجه نږدې 9.74 مليارده ډالرو ته رسوي – د افغانستان د بيا رغونې د هڅې لپاره د متحده ايالاتو د ټولې مرستې تقريباً 18.9%.[26] د مارچ 31، 2010 سره سم، USAID راپور ورکړی چې د دې پيسو څخه تر 7.57 مليارده ډالر منل شوي، د کوم نه چې 5.39 مليارده ډالر لګول شوي.[27] انځور 3.12 په مالي کال د ESF اختصاصونه ښيي.

USAID راپور ورکړی چې د مارچ 31، 2010 سره سم په مجموعي ورکړل شويو پيسو کې د دسمبر 31، 2009 د مجموعي ورکړل شويو پيسو په نسبت تر 36.81 مليونه ډالرو زيات زياتوالی راغلی دی. برسېره پر دې، په مجموعي لګښتونو کې د مارچ 31، 2010 سره سم د دسمبر 31، 2009

انځور 3.13

### د ESF بوديجې، توليزه پرتلنه (په ملياردونو ډالرو)




يادوني: په معلوماتو کې ښايي بين الاداري لېږدوني شاملې وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. پيسې هغسې راپور شوي چې د USAID او OMB لخوا ورکړل شوي. ډېټا له 3/31/2010 نېټې سره سمې دي، ځکه تازه معلومات د راپور خپرولو په مهال په لاس کې نه ول.
سرچينې: OMB، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/19/2010؛ USAID، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/15/2010، 1/15/2010 او 10/9/2009.

انځور 3.12

### د مالي کال په ترتيب د ESF اختصاصونه (په مليارډونو ډالرو)




يادوني: په معلوماتو کې ښايي بين الاداري لېږدوني شاملې وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. ډېټا له 3/31/2010 نېټې سره سمې دي، ځکه تازه معلومات د راپور خپرولو په مهال په لاس کې نه ول.
سرچينې: OMB، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/19/2010؛ USAID، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/15/2010 او 10/9/2009.




**د ESF د بوديجو اصطلاحات**

**OMB د ESF بوديجې د اختصاص شويو په توګه راپور کړې.** اختصاص شوي: هغه ټولې پيسې چې د ژمنتياو لپاره موجودې دي

**USAID د ESF بوديجې هغسې راپور کړې چې اختصاص شوي، ورکړل شوي، يا لګول شوي.**

اختصاصونه: **د ژمنتياو لپاره موجودې ټولې پيسې**
منل شوي: **د پېسو د ورکولو ژمنتياوې**
لګول شوي: **هغه پيسې چې لګول شوې دي**

سرچينې: OMB، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/19/2010؛ USAID، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/15/2010.

**په افغانستان کې د ESF د پروګرامونو لپاره اختصاص شوي بوديجې د مختلف ډوله کټګوريو د ترلاسه کوونکيو سره مرسته کوي. د هرې ترلاسه کوونکې کټګورۍ اختصاصونه په لاندې ډول دي:**

- **0.21% سيمييزو افغان قرارداديانو ته**
- **0.84% د افغان دولت وزارتونو ته**
- **1.95% غير امريکايي او غير افغان قراردادیانو ته**
- 26.20% نړيوالو سازمانونو ته
- **69.56% د متحده ايالاتو داخلي قراردادیانو ته**
- **1.24% د متحده ايالاتو دولت ته**

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/6/2010.

د مجموعي لګښتونو په نسبت نږدې 419.65 ملیونه ډالر زیاتوالی راغلی دی.[28] انځور 3.13 د هغو پیسو یوه مجموعي پرتلنه وړاندې کوي چې د ESF د بودیجو لپاره اختصاص شوې، ورکړل شوې، او لګول شوې دي.

## د نړیوالو مخدره موادو کنټرول او د قانون نفاذ

د نړیوالو مخدره موادو او د قانون د تنفیذ (INL) لپاره د متحده ایالاتو دفتر یو داسې حساب سمبالوي چې د قانون حاکمیت پیاوړی کړي او د مخدره موادو د تولید او قاچاق پر وړاندې مبارزه وکړي – د نړیوالو مخدره موادو د کنټرول او د قانون د تنفیذ (INCLE) حساب. د INCLE بودیجې د INL د کنیو پروګرام ډلو ملاتړ کوي، په ګډون د پولیسو، مخدره مواد ضد، د قانون حاکمیت او عدلیه.[29]

د جون 30، 2010 سره سم، د INCLE د بودیجو د هغو لپاره تر 2.68 ملیارده زیات ډالر د INL لپاره ټاکل شوي – چې دا په افغانستان کې د بیا رغونې د ټولې مرستې تر 5.2% زیات جوړېږي. INL راپور ورکړی چې د دې رقم نه، نږدې 2.3 ملیارده ډالر ورکړل شوي، د کوم نه چې نږدې 1.68 ملیارده ډالر مصرف شوي دي.[30] انځور 3.14 د مالي کال په ترتیب د INCLE ته ورکړل شوې پیسې ښيي.

انځور 3.15

د INCLE بودیجې، تولیزه پرتلنه
(په ملیاردونو ډالرو)




یادونې: په معلوماتو کې ښايي بین الاداري لېږدونې شامل وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. د مالي کال 2010 ارقام اختصاص دی نه ټاکنه. د دفاع وزارت تازه معلومات د هغو اختصاص څخه د ټیټو شمیرو سبب شو چې د OMB لخوا د اختصاص لپاره راپور ورکړ شوي وي.
سرچینې: د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010/13/7؛ OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/19/2010؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/19/2010.

انځور 3.14

د مالي کال په ترتیب دINCLE
اختصاصونه (په ملیونونو ډالرو)




یادونې: په معلوماتو کې ښايي بین الاداري لېږدونې شامل وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي.
سرچینې: د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7/13/2010.




**د INL د بودیجو اصطلاحات**

**OMB د INL بودیجې د اختصاصو شویو په توګه راپور کړې.** اختصاص شوې: **د ژمنتیاو لپاره موجودې ټولې پیسې**

**INL د INCLE او INL نورې بودیجې د ټاکل شویو، ورکړل شویو، او مصرف شویو په توګه راپور کړې.**
ټاکل شوې:
**د ژمنتیاو لپاره موجودې ټولې پیسې**
منل شوې: **د پیسو د ورکولو ژمنتیاوې**
مصرف شوې: **هغه پیسې چې لګول شوې دي**

سرچینې: OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/19/2010؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/9/2010.

**په افغانستان کې د INCLE د پروګرامونو لپاره ټاکل شوې بودیجې د مختلف دوله کټګوریو د ترلاسه کوونکیو سره مرسته کوي. د هرې ترلاسه کوونکې کټګورۍ لپاره ټاکنې په لاندې ډول دي:**

- **68% سیمییزو افغان قراردادیانو ته**
- **20% د افغان دولت وزارتونو ته**
- **7% نړیوالو سازمانونو ته**
- **3% د متحده ایالاتو حکومتي او نیم حکومتي سازمانونو ته**
- **2% په متحده ایالاتو کې غیر دولتي سازمانونو ته**

یادونه: د غیر رسمي ډاټا څخه راایستل شوي څرنګه چې د DoS لخوا ورکړل شوې.

سرچینې: DoS، د سیګار د معلوماتو معاینې ته ځواب، 1/19/2010؛ DoS، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 1/9/2010.

INL راپور ورکړی چې ټولې ورکړل شوې پیسې د جون 30، 2010 سره سم د مارچ 31، 2010 نه د ټولو ورکړل شویو پیسو څخه نږدې 32.65 ملیونه ډالر زیاتې وې. ټولې مصرف شوې پیسې د جون 30، 2010 سره سم د مارچ 31، 2010 نه د ټولو مصرف شویو څخه تر 89.69 ملیونه ډالرو زیاتې وې.[31] انځور 3.15 د هغو پیسو یوه ټولیزه پرتله وړاندې کوي چې ټاکل شوې، ورکړل شوې، او لګول شوې دي.

## د افغان دولت بودیجه او د بودیجې پلې کول

د دې راپور مطبعې ته د تللو پر مهال د افغان دولت د بودیجې په اړه معلومات موجود نه ول.

## د افغانستان د بیا رغونې لپاره نړیوالې بودیجې

نړیواله ټولنه، برسېره پر هغې مرستې چې متحده ایالات یې ورکوي، په افغانستان کې د بیا رغونې د هڅې لپاره د پام وړ بودیجې ورکوي. د افغان دولت دننه د اداري ظرفیت په اړه اندېښنو ډېری نړیوال مرستندویان دې ته اړ کړل چې افغانستان ته د مرستې رسولو لپاره د اعتبار بودیجې وکاروي، لکه چې د سیګار د اپریل 2010 په درې میاشتني راپور کې یې یادونه شوې ده. مرستندویان د نورو هڅو د بشپړولو لپاره هم د اعتبار بودیجې کاروي.[32]

- د افغانستان د لومړیتوبونو سره سم د مرستو رسول تر څو د افغان دولت ملکیت او احتساب پیاوړی شي.
- مرستې د افغانستان د بودیجې له لارې رسول څو د افغان دولت دا ظرفیت جوړ کړای شي چې کلنۍ بودیجه د سرچینو د ترجیحي کولو، پر کار اچولو او ټاکلو لپاره وکاروي.
- د مرستندویانو د بودیجو لپاره یو اجتماعي پلیټ فارم برابر کړي چې دولت لپاره د پیسو د لیږد لګښتونه کم کړي.
- د مرستندویانو او دولت ترمنځ دیالوګ لپاره یو اجتماعي پلیټ فارم برابر کړي تر څو په دولت کې د مهمو ریفورمونو د تطبیقولو توان پیدا کړي.
- د ملي لومړیتوب پروګرامونو د بودیجې لپاره د کافي سرچینو لاره برابره کړي – کوم چې د پرمختیا لپاره تر انفرادي پروژو زیات اغیزمن میکانزمونه دي.

د نړیوالو مرستندویانو څخه د پیسو بهیر راوړل کېږي او د بیا رغونې پر فعالیتونو ویشل کېږي. د داسې بودیجو دوه اصلي سرچینې د افغانستان د بیا رغونې د اعتبار بودیجه (ARTF) او افغانستان لپاره د قانون او نظم د اعتبار بودیجه (LOFTA) دي.[33]

### د افغانستان د بیا رغونې اعتباري بودیجې ته ورکړې

د نړیوال بانک له مخې، له 2002 کال څخه نیولې تر می 21، 2010 پورې، 32 نړیوالو مرستندویانو ARTF ته 3.7 ملیارده ډالر ورکړي دي. متحده ایالاتو په دې پیسو کې نږدې 722 ملیونه ډالر ورکړي دي. دا ورکړې د اعتبار د دې بودیجې لپاره د افغان دولت په بودیجه کې د فعالیتي لګښتونو او پرمختیایي پروګرامونو تر ټولو ډېرې پیسې ورکوي.[34] د پیسو ورکړې د بودیجو په دوو چینلونو ویشل کېږي – د مسلسل لګښت کړکۍ او د پانګونې کړکۍ. د می 21، 2010 سره سم، د مسلسل لګښت کړکۍ ته ورکړل شوې پیسې 1.95 ملیارده ډالرو ته رسیږي. د مسلسل لګښت کړکۍ د افغان دولت د فعالیتي لګښتونو مرسته کوي، ځکه چې کورني عواید د دې د مسلسلو لګښتونو د پوره کولو لپاره ناکافي دي.[35] د پانګونې کړکۍ د پرمختیایي پروګرامونو مرسته کوي.[36] د می 2010 سره سم، 20 ARTF فعالو

انځور 3.16

د 2010 لپاره د ARTF برخه د حالت په ترتيب، له 21 جون 2010 سره سم ورکړ شويو پيسي په تناسب د ژمنه شوي پيسو (په مليونونو ډالرو)




يادونه: شميرې په ګردي کولو اغيزمنې شوي.
سرچينه: نړيوال بانک، "ARTF: د 2010/21/6 سره سم په مالي حالت د اداري راپور،" مخ 1.

انځور 3.17

د 2010 لپاره دARTF ورکړې، د جون 21، 2010 سره سم (په مليونونو ډالرو)




يادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي

سرچينه: نړيوال بانک، "ARTF: د 2010/21/6 سره سم په مالي حالت د اداري راپور،" مخ 1.

پروژو ته بوديجي ورکړي. دا پروژې په شريکه د 1.03 مليارده ډالرو څخه د زيات ارزښت دي، چې د دي نه 779.92 مليونه ډالر مصرف کړای شوي دي.[37]

د افغان دولت فعاليتي لګښتونه اوس هم کال په کال زياتېږي، چې دا د مسلسل لګښت د کړکی په ټوله بوديجه کې په عمومي شرکت کې د کمې سبب کېږي، لکه څنګه چې يې د نړيوال بانک لخوا راپور ورکړل شوی دی. د ARTF د مسلسل لګښت د کړکی شاوخوا 50% سرچينې د پوهنې وزارت ته ورکول کېږي. دا وزارت د ARTF څخه دومره غټه اندازه سرچينې د دې لپاره ترلاسه کوي چې شاوخوا 60% د بې دريشه يې ملکي خدمت پرسونل له ښوونکيو جوړ دی.[38] د نړيوال بانک له مخې، د پانګوني کړکی په اندازه او ساحه کې په تېرو دوو کلونو کې د پام وړ زياتوالی راغلی دی. په حقيقت کې، د دې وخت په موده کې د پانګونو لپاره ژمنتياوې تر اوسنيو لګښتونو اوښتي دي. نړيوال بانک راپور ورکړی چې د پانګوني د کړکی مصرفوني هم لوړې وې، چې 75% ژمنتياوې تر مې 21، 2010 مصرف شوې دي.[39] انځور 3.16 او انځور 3.17 د حالت او مرستندوی په ترتيب ARTF ته د جون 21، 2010 سره سم ورکړل شوې پيسې ښيي.

د راپور ورکولو د دې مودې پر مهال، د افغان مالي کال 1390 (لمريز کال چې د مارچ 20، 2010 څه پيلېږي او په مارچ 21، 2011 پای ته رسي) په لړ کې د ARTF د معاشي ګټې د رسولو په پروګرام يوه موافقه وکړه. د دې موافقې له مخې د ARTF د مسلسل لګښت کړکی ته بايد – پر کلني بنسټ – د ملتيا د اقتصادي اصلاحاتو د تګلارې په بدل کې اضافي په واک کې لرونکې بوديجې ورکړې. دا موافقه درې مفکورې لري:[40]

- د کورنیو عوایدو دوامداري
- د عامه سکټور دوامداري بهترول
- د خصوصي سکټور پرمختیا ته توان ورکول

افغان دولت د ARTF د ګټي رسولو پروګرام د جولای د شلمي نېټي لپاره د کابل په کنفرانس کي د ریفورمونو په پروګرام کي شامل کړی دی. د جون 2010 په دولسمه، د نړیوال بانک او د مالیي د وزارت ترمنځ د پوهاوي موافقه لاسلیک شوه. د ګټي رسولو پروګرام لاندي مقاصد لري:[41]

- په منځنۍ موده کي د ARTF د مسلسل لګښت د کړکی پیشبیني کیدونکي بودیجه
- د افغان دولت د بنسټیزي تګلاري د اصلاحاتو لپاره ملاتړ، په ګډون د کورني عاید د پیدا کولو
- ARTF د یو داسي پلیټ فارم په توګه پیاوړی کول چي د مرستندویانو او افغان دولت ترمنځ د دیالوګ ځای وي
- د ARTF د مسلسل لګښت د کړکی لپاره لا واضح ستراتیژیک مقاصد

د ګټي رسولو پروګرام د ARTF د پانګوني د کړکی له لاري د افغان دولت د بنسټیزي پرمختیا د پروګرامونو لپاره د زیاتو ټاکنو اجازه هم ورکوي.[42]

## افغانستان لپاره د قانون او نظم د اعتبار بودیجي ته ورکړې

د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام (UNDP)، د 2010 د لومړۍ کلیز دريي میاشتني پرمختګ په راپور کي راپور ورکړی چي د دغه راپور په موده کي د LOFTA ځخه لګښتونه تر نږدي 138.10 ملیونه ډالرو اوښتي دي.[43] د دې بودیجو یوې ستري برخي د ملي پولیسو د شاوخوا 96000 پرسونل معاشونه ورکړي دي – چي دا د دې بودیجي اساسي لومړیتوب دی.[44] LOFTA په پړاوونو کي تطبیق شوی؛ دا مهال دا په خپل پنځم پړاو کي دی، کوم چي لاندې لومړیتوبونه لري:[45]

- د ملي پولیسو د معاشونو ورکول
- د ادارو پرمختیا
- د پولیسو د غیر خطرناکو تجهیزاتو او اکمالاتو ترلاسه کول، انتظام، او فعالیتونه
- د پولیسو د مرکزونو بیا جوړونه، انتظام، او فعالیتونه
- جنسي بنسټ (د پولیسو انتخاب، جلبول، او روزل)
- په ځانګړي ډول په نبنه شویو ورکړو له لاري د محبسونو د مرکزي ریاست د دریشه یي پرسونل ته پیسي ورکول

د UNDP د راپور له مخي، LOFTA د مالیي وزارت ته برسېره پر نورو پروژه یي لومړیتوبونو د ملي پولیسو د معاشونو او د خوړو د مراعاتو پیسي بیرته ورکوي. دا د دې خبرې په یقیني کولو کي مرسته کوي چي ملي پولیس خپل معاشونه په شفافه او په وخت برابره طریقه ترلاسه کړي.[46] په یوه داسي هڅه کي چي د LOFTA د لګښتونو مالي دوامدارۍ ته وده ورکړای شي او پر مرستندویانو مالي بوج کم کړای شي، د مالیي وزارت راضي شوی چي د خوړو د مراعاتو د پیسو اخیستلو نه تېر شي او ملي پولیسو ته د دې پیسو بشپړه مسوولیت پر خپل سر واخلي.[47] ټاکل شوي چي د LOFTA پنځم پړاو به د 2010 کال د اګست په 31مه پای ته ورسي. UNDP یادونه کړې چي افغان دولت او نړیواله ټولنه به په دې بحث کوي چي ایا دا بودیجه وغځوي او د څومره مودي لپاره.[48]2010

# امنيت

د مستعدو، ښه روزل شويو، او پر ځان متکي افغان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) جوړول اوس هم د متحده ايالاتو د هغې ستراتيژۍ يو مهم جزو دی چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت سره په دوامدار جوړېدو کې مرسته وکړي.[49] دا ستراتيژي د افغان دولت د ښودلو پلانونو او اهدافو سره سمه ده. په کابل کنفرانس کې افغان ولسمشر حامد کرزي اعلان وکړ چې تر کال 2014 به افغانستان ټول نظامي او امنيتي مسوولیتونه پر غاړه واخلي. افغان امنيتي ځواکونو ته د امنيتي مسووليتونو د انتقال لپاره د افغانستان د لومړيتوبونو او تطبيقونو د پلان جزييات غواړي چې د دې پلان په څلورو پړاوونو کې دې دا مهم اقدامات او اهداف شامل کړای شي:[50]

- اول پړاو: د ولايتي بيا رغوني د ټيمونو (PRTs) مسووليتونه د نظامي مشرتابه نه ملکي مشرتابه ته ليږدول؛ افغان امنيتي ځواکونو د نړيوالو سوله ساتو ځواکونو (ايساف) سره د امنيتي عملياتو مشري کوي، چې په دې توګه د ملاتړ شوي ځواک څخه د ملاتړي ځواک رول ترلاسه کوي.
- دويم پړاو: ولايتونه مناسب عدالت او عامه خدمتونه برابروي؛ د ولايتي بيا رغونې ټيمونه د ولايت او ولسوالۍ د ملاتړ ټيمونه جوړېږي؛ د ايساف رول افغان امنيتي ځواکونو سره د شريکوال په ځای روزونکي او ارتباط کوونکي ته ځي.
- دريم پړاو: د ايساف د فعاليتي روزنې او ارتباط ټيمونه (OMLTs) د افغان امنيتي ځواکونو د استعدادونو د زياتولو لپاره د دوی ملاتړ ته ادامه ورکوي؛ OMLTs د افغان امنيتي ځواکونو د زياتيدونکيو استعدادونو په مناسبت خپل مقدار په دوامداره توګه کموي.
- څلورم پړاو: امنيت په بشپړه توګه د افغانانو ملکيت؛ افغان امنيتي ځواکونه د دې توان لري چې په خپلواک ډول عمليات ترسره کړي؛ ايساف لږ تر لږه مشورتي او د روزنې مرسته ورکوي؛ د افغانستان او نړيوالو شريکوالو ترمنځ ستراتيژيکه ملګرتيا نوره هم پياوړې کيږي او غځول کيږي.

د جون 30، 2010 سره سم، متحده ايالاتو نږدې 26.75 ملیارده ډالر – په ګډون د تر 6.56 ملیارده زياتو ډالرو د مالي کال 2010 لپاره – د افغان امنيتي ځواکونو د جوړولو لپاره اختصاص کړي. د دې بوديجو نه زياتره د افغانستان د امنيتي ځواکونو د بوديجې (ASFF) له لارې اختصاص شوي، چې د دفاع وزارت لخوا اداره کېږي، کومه چې افغان امنيتي ځواکونو ته د تجهيزاتو، خدمتونو، روزنې، او انفراسټرکچر سره ترلې مرسته ورکوي.[51] لکه چې د دې راپور په ضميمه ب کې ښودل شوي، دا رقم متحده ايالاتو لخوا د بيا رغونې نورو ټولو پروژو ته په شريکه د ورکړل شوي رقم څخه زيات دی.

## امنيتي اهداف

د دفاع وزارت له مخې، د افغان امنيتي ځواکونو د ځواک قوت د خپل هدف نه اوښتی دی، په مې 2009 کې د 170530 نه په جون 2010 کې 235758 ته. په دې وروستي شمير کې شامل دي 129885 د افغان ملي اردو (ANA) او 105873 د افغان ملي پوليسو (ANP).[52] چوکاټ 3.1 د امنيتي اهدافو په لور پرمختګ ښيي.

چوکاټ 3.1

| د امنيت لپاره ستراتيژيک لومړيتوبونه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **لومړيتوب** | **د ANDS هدف** | **اوسنی هدف** | **حالت** | **د ANDS د بشپړيدو نيته** |
| افغان ملي اردو | 80000 سرتېري (جمع 6600 په روزنه کې) | 134000 سرتېري (تر اکتوبر 2010 پورې)<br>171600 سرتېري (تر اکتوبر 2011 پورې) | 129885 سرتېري (د 6/20/2010 سره سم) | د 2010 پای |
| افغان ملي پوليس | 82180 پوليس افسران | 109000 پوليس افسران (تر اکتوبر 2010 پورې)<br>134000 پوليس افسران (تر اکتوبر 2011 پورې) | 105873 پوليس افسران (د 6/20/2010 سره سم) | د 2010 پای |
| د غير قانوني وسله والو ډلو بې وسلې کول | په ټولو ولايتونو کې ټولې غير قانوني وسله والې ډلې بې وسلې شوي | | د ډاياګ د هدف د 140څخه 98 ولسوالی برابر اعلان شوي | مارچ 20، 2010 |
| د ناچاودېدلو موادو ليرې کول | د ځمکې هغه برخه چې پر ماينونو او ناچاودېدلو موادو لړل شوې وه 70% کمه شوې | | ملګري ملتونه: د ځمکې هغه برخه چې پر ماينونو او ناچاودېدلو موادو لړل شوې وه 47% کمه شوې | د 2010 پای |
| | 90% هغه پېژندل شوې سيمې چې ماينونه او د جګړې پاتې ناچاودېدونکې توکي پکې وو پاکې شوې | | | 2012 |
| | ټول اېښودل شوي پرسونل ضد ماينونه تصفيه شوي | | د بهرنيو چارو وزارت: د لړل شوې ځمکې 665 مليونه مربع متره پاتې ده | 2013 |

يادونې: شمېرې په ګردې کولو اغېزمنې شوې. د ترجيحاتو بنسټ اصلاً د افغانستان د ملي پرمختيا د ستراتيژۍ (ANDS) پر اهدافو و.

سرچينې: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، "د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي، عمومي لنډيز،" 6/2008، مخ 6؛ NTM-A/CSTC-A، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7/6/2010؛ UNDP، "د افغانستان د نوي پيل پروګرام: د ډاياګ لنډ حقايق،" 7/3/2010؛ ملګري ملتونه، "د افغانستان د ماينونو د اقدام پروګرام خبرپاڼه: مې 2010،" 5/2010، مخ 4؛ DoS، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 6/30/2010.

## امنيتي پيښې

د جون په 6 مه، د افغانستان د ملي امنيت مشر او د کورنيو چارو وزير د افغان دولت د سولې په جرګه د ياغيانو له بريدونو وروسته د افغان ولسمشر حامد کرزي په وينا استعفا ورکړه.[53] د جون په 23 مه، د متحده ايالاتو ولسمشر باراک اوباما په افغانستان کې د ايساف او امريکايي ځواکونو د قوماندان جنرال سټانلی مکرسټال استعفا ومنله او جنرال ډيويډ پيټرياس يې د هغه پر ځای ونوماوه.[54] د 2010 د جولای په 4 مه پيټرياس، چې پخوا د متحده ايالاتو د مرکزي قوماندې (CENTCOM) قوماندان و، په افغانستان کې خپل نوي مسوولیتونه په لاس کې واخيستل.[55]

## مشترک عمليات

د 2010 د فبرورۍ په مياشت کې ايتلافي ځواکونو د مشترک عمليات پيل کړل، کومو چې د دفاع وزارت په وينا پنځلس زره د افغان ملي اردو او ايساف سرتيري د دې لپاره په حرکت کې واچول چې طالبان د مرکزي هلمند او مرکزي کندهار نه وباسي.[56] په لومړي پړاو کې دې عملياتو د دې لپاره کار وکړ چې په جنوبي افغانستان کې، زياتره په لويو لارو د تګ راتګ ازادي پيدا کړي. دويم پړاو – کوم چې په دې دري مياشتنی کې روان و – په مرکزي هلمند کې د جوړښت، تصفيې، تحکيم او رغونې عمليات ول. افغان امنيتي ځواکونه به د دريم پړاو مشري کوي، کوم چې به په مرکزي کندهار کې وغځېږي.[57] د دفاع وزارت چارواکيو په تکرار سره د ځپو د طالبانو پر ضد د اړولو او د افغانانو په مشرۍ امنيت د جوړولو لپاره د مشترک عملياتو پر ارزښت زور راوړی دی.[58] د دفاع وزارت راپور ورکړی چې تمه لري د اګست 2010 تر پای به په کندهار کې د ټولو امنيتي ځواکونو شمير 20000 تنه شي – چې دا په جون 2009 کې 7300 و.[59]

په دې درې میاشتنی کې، د CENTCOM له مخې، د برتانیې سرتېرو او افغان امنیتي ځواکونو د جنوب په لور هلمند کې د طالبانو تر واک لاندې سیمه په لور پرمختګ کړی، څو طالبان جنګیالي د ناد علي د ولسوالی څخه وباسي. دې ځواکونو درې د ګزمې مرکزونه جوړ کړي چې محلي خلکو ته یاغیانو نه د تحفظ لپاره به یې د اډو په توګه کاروي په داسې حال کې چې د برتانیې د بمونو خنثی کولو ماهران به د نږدې سړکونو نه د سړک د غاړې ماینونه پاکوي. په جون کې CENTCOM راپور ورکړ چې د دې ځواکونو تمرکز د سیمې په نیولو او ساتلو دی تر څو د بیا رغوني پروژې پیل کړای شي.[60]

## سیګار د استعداد د معلومولو د درجه بندۍ د سیستم پلټنه کوي

د یو پر ځان متکي افغان ځواک جوړول په افغانستان کې د امنیت د بهترولو لپاره د متحده ایالاتو د ستراتیژۍ له سترو اهدافو څخه دی.[61] د تیرو پنځو کلونو په موده کې، د افغان امنیتي ځواکونو چمتووالی د استعداد د معلومولو د درجه بندۍ د سیستم په واسطه پیمانه شوی دی. په دې درې میاشتنی کې سیګار د استعداد معلومونې د درجه بندۍ د دې سیستم د اغېزمنتیا په اړه یوه پلټنه خپره کړه.[62] دا پلټنه د اکتوبر 2009 څخه تر می 2010 پورې ترسره شوې وه.[63]

په اپریل کې د ایساف ګډې قوماندې (IJC) د استعداد معلومونې د درجه بندۍ سیستم استعمال بند کړ، او یو نوې سیستم ته یې انتقال وکړ چې د قوماندان د یونټ د ارزونې اله (CUAT) بلل کېږي.[64] د CUAT سیستم، چې د IJC لخوا اداره کېږي، اوس په استعمال کې دی او د شپږو اونیو په دوره چلول کېږي. په دې نوي سیستم کې د مشرتابه، عملیاتو، استخباراتو، لوژیستیک، تجهیزاتو، پرسونل، انتظام، مخابراتو، او روزنې او پوهنې درجه بندۍ شاملې دي.[65] د دفاع وزارت پلان لري چې د دې ارزونو پایلې په راتلونکیو میاشتو کې راپورول پیل کړي او کانګرس ته د اکتوبر د میاشتې د 1230 د برخې په راپور کې یې شاملې کړي.[66]

د استعداد معلومونې د درجه بندۍ د سیستم په باره کې د سیګار د پلټنې په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د دې راپور دوېمه برخه وګورئ.

## امنیتي پېښې

په دې درې میاشتنی کې IJC راپور ورکړ چې بریدونه د تېرې درې میاشتنی په نسبت 53% زیات شوي دي؛ خو، د دفاع وزارت راپور ورکړی چې د دې لامل په هغو سیمو کې د ایساف د زیاتو شویو سرتېرو ځای پر ځای کیدل دي چې پخوا پکې دوی نه ول.[67] په جون 2010 کې، د کورنیو چارو سرپرست وزیر رسنیو ته وویل چې د افغانستان د 364 ولسوالیو څخه یواځې 9 خوندي دي.[68] IJC په افغان امنیتي ځواکونو، ایتلافي ځواکونو او ملکیانو باندې د 6880 بریدونو راپور ورکړی:

- 3,918 مخامخ د ډزو بریدونه:
- 1,026 غیر مستقیم د ډزو بریدونه
- 1,428 د سړک د غاړې د ماینونو (IED) بریدونه
- 508 پېچلي بریدونه

د مخامخ بریدونو نږدې نیم په هلمند کې پېښ شوي.[69]

په جون کې، د ملګرو ملتونو عمومي منشي راپور ورکړ چې وسله والې جګړې او د سړک د غاړې د ماینونو پیښې د هغو پیښو څلورمه برخه جوړوي چې په دې درې میاشتنی کې راپور شوي. په اوسط ډول، هره اونۍ شاوخوا درې ځانمرګي بریدونه شوي – چې نیم یې په جنوبي سیمه کې رامنځته شوي دي. پېچلي ځانمرګي بریدونه په اوسط ډول هره میاشت دوه رامنځته شوي، د هغه شمیر دوه برابر چې

**مخامخ د ډزو برید:** هره جګړه یا برید چې یواځې نېغ په نېغه د وسلو د ډزو سره پیل شوې وي.

**غیر مستقیم د ډزو برید:** هغه جګړې یا بریدونه چې د بالواسطه ډزو د وسلو سیستمونه پکې کارول شوي وي، په ګډون د هاوانونو، راکټونو، او نور؛ نورې وسلې پکې شامل نه وي.

**د سړک د غاړې د ماینونو برید:** یوه پېښه چې د سړک د غاړې د ماین په چاودولو سره رامنځته شوې وي.

**پېچلی برید:** هغه جګړه چې د وسلو ګډ سیستمونه پکې کارول شوي وي، لکه بلاواسطه د ډزو برید ورپسې د سړک د غاړې د ماین برید یا بالواسطه برید ورپسې د هاوان برید.

سرچینه: IJC، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/1/2010.

انځور 3.18

د ملي اردو تلفات د ولایت په ترتیب




2010 یادونه: تلفات له 2010/1/4 تر 2010/30/6 پورې راپور ورکړ شوي دي.
سرچینه: NTM-A/CSTC-A، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7/6.

انځور 3.19

د ملي پولیسو تلفات د ولایت په ترتیب




یادونه: تلفات له 2010/1/4 تر 2010/30/6 پورې راپور ورکړ شوي دي.
سرچینه: NTM-A/CSTC-A، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7/6/2010.

په 2009 کې ثبت شوی و. د بېلګې په توګه، په کابل او هلمند کې وروستیو بریدونو هغه مېلمستونونه په نښه کړل چې د نړیوالو ملکیانو لخوا کارول کېدل. برسېره پر دې، یاغیانو هره اونۍ شاوخوا اوه تنه ووژل (زیاتره په جنوبي او جنوب ختیځو سیمو کې چیرته چې مشترک عملیات له فبرورۍ څخه روان دي) – چې دا په 2009 کې د همدې مودې څخه 45% زیاتوالی دی. د کندهار په ښار کې د هدفي وژنو نښه دولتي مامورین، ملایان او قومي مشران ول.[70]

[د ملګرو ملتونو] د عمومي منشي له مخې، د 2010 د ځلورو لومړنیو میاشتو دننه د سرک د غاړې د ماینونو بریدونه 94%تر هغې زیات دي چې په 2009 کې په همدې موده کې ول. د IJC له مخې، 1449 د سرک د غاړې ماینونه د دې درې میاشتنی پر مهال پیژندل شوي او پاک شوي، دا شمیر په تېره درې میاشتنی کې هم دومره و.[71] انځور 3.18 او انځور 3.19 ښیي چې هغه ولایتونه چې د ملي اردو او ملي پولیسو د لوړې کچې تلفات یې لرل په جنوب کې ول، چیرته چې مشترک عملیات روان دي.

## افغان ملي اردو

د جون 20، 2010 سره سم، د ملي اردو د سرتېرو قوت 129885 و – چې د مارچ 20، 2010 راهیسې یکې تر 17000 زیات سرتېري زیات شوي دي. [72] د ایساف له مخې، افغان ملي اردو تر اکتوبر 2011 د سرتېرو د قوت 171600 ته د زیاتولو هدف لري.[73] په دې درې میاشتنی کې د ناټو د روزنې مشن – افغانستان\د ګډې امنیتي قوماندې-افغانستان (NTM-A/CSTC-A) او د دفاع وزارت (DoD) د ملي اردو 25 یونټونه میدان ته وویستل، چې سایز یې د کنډک نه تر لېوا رسېده. په دې یونټونو کې شامل ول د غونډ مرکزونه، د ملاتړ یونټونه، پیاده کنډکونه، یو کماندو کنډک، او اولنې ځلور د ځانګړو ځواکونو ټیمونه.[74]

## د افغان ملي اردو روزنې

د ناټو قوماندانانو په ملي اردو کې د ښو روزل شویو او بې کمېشنه افسرانو د کمې په اړه اندېښنې څرګندې کړې دي. د 2010 د جون په 2 مه نېټه، د NTM-A مرستیال قوماندان دې خبرې ته اشاره وکړه چې د سرتېرو د قوت د زیاتېدو باوجود، د روزل شویو مشرانو سخت کمې دی.[75] NTM-A پلان لري چې په 2010 کې شاوخوا ځلور نیم زره افسران او پنځلس بې کمېشنه افسران وروزي. د دې پلان د برخې په توګه، NTM-A اعلان وکړ چې دا به د هر بنسټیز جنګیالي د روزنې د ټولګې نه د لوړې درجې ریکروټان د بې کمېشنه افسرانو روزنیز کورس ته ولېږي. DoD راپور ورکړې چې 1650 ریکروټانو په دې درې میاشتنی کې روزنه پیل کړې او دا چې په دې پروګرام کې د غځونې نتیجه به دا شي چې شاوخوا 1500 بې کمېشنه افسران به د هرو دولسو میاشتو په دوره کې وروزل شي.[76]

په دې درې میاشتنی کې، NTM-A/CSTC-A چې د افغان ملي اردو 27392 پرسونل په یو شمېر موضوعاتو کې څه نا څه روزنه ترلاسه کړې ده.[77] د هغوی نه چې روزل شوي، 14359 د هغو روزنیزو کورسونو څخه فارغ شوي چې په خپل ټاکل شوي یونټ کې د اینبودلو لپاره تیاریږي، لکه چې په انځور 3.20 کې ښودل شوي. د هغوی نه چې فارغ شوي، 785 افسران ول، او 1244 بې کمېشنه افسران ول.[78] انځور 3.21 ښیي چې څومره زده کوونکي د افغان ملي اردو د روزنیزو بنسونځیو څخه فارغ شوي دي.

لکه چې د سیګار د اپریل 2010 په درې میاشتني راپور کې یې یادونه شوې، افغان ملي اردو لپاره د نوې روزنیز مرکز د جوړولو کار پیل شوی چې د افغانستان دفاعي پوهنتون به یکې وي.[79] دا پوهنتون، چې د ویسټ پواینټ د طرز ملي نظامي اکادمي به یکې شامله وي، به کابل کې د 105 هکتاره ځمکې

باندې موقعیت ولري. تمه کېږي چې دا به د افغان امنیتي ځواکونو او دولتي وزارتونو د اتو ښوونځیو له لارې شاوخوا 7000 زده کوونکیو او فاکولتي غړیو ته خدمت وړاندې کړي. د جون 16، 2010 سره سم، دا ښوونځی 20% بشپړ دی؛ د ایساف د راپور له مخې تمه ده چې دا به په مارچ 2011 کې پرانیستل شي.[80]

انځور 3.20

. ملي اردو د روزني فارغان د یونټ د وظیفي په ترتیب




مرچینه: NTM-A/CSTC-A، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 7/6/2010.

انځور 3.21

د افغانستان د ملي اردو د روزنو فارغان د ښوونځي په ترتیب




a. په راغوند شوي ساحوي مرکز کې، د یونټونو یو ځای کیدل، تجهیزات، او لومړني مشترکي روزني ترسره کوي
b. د بریدمل اکاډمي د خورد ظابطانو افسرانو لپاره دی.
سرچینه: NTM-A/CSTC-A، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 7/6/2010.

**تشکیل: د پرسونل او هغو لازمو تجهیزاتو لیستونه چې د دفاع وزارت او کورنیو چارو وزارت لخوا کارول کېږي چې د عملي د تولو واکمنو څوکیو او مجهزاتو د شیانو جزییات ورکوي، په دې صورت کې د ملي اردو او ملي پولیسو.**

سرچینه: GAO-08-661،GAO "د افغانستان امنیت،" 6/2008، مخ 18.

## په ملي اردو کې ښځې

په دې درې میاشتنۍ کې NTM-A/CSTC-A راپور ورکړی چې 301 ښځې په افغان ملي اردو کې کار کوي (د ټول پرسونل 0.2%) – 166 افسراني، 104 بې کمېشنه افسراني، او 31 د افسرۍ کاندیدانې. ښځو ته داسي وظیفي ورکړل شوي لکه معلوماتي تکنالوژي، روغتیایي علاج، تحقیقات، پوهنه او روزنه، اداره، فامیلي مرسته، امنیت، لوژیستیک، انجینیري، هوانوردي، او مخابرات. NTM-A/CSTC-A راپور ورکړی چې ډېری هغه ښځې چې په ملي اردو کې کار کوي د نظامي خدمت پخوانۍ تجربه لري. د ښځینه افسرانو لپاره د ملي اردو لومړنی روزنیز کورس د 2010 د مې په 1 نیټه پیل شوی و. ښځو لپاره د منصب جوړښت د خورد ضابط نه تر برید جنرال پورې ځي؛ خو، ډېرې ښځې د هغوی د معاش د درجې نه په ټیټه چوکۍ کار کوي، او هیڅ یوه ښځه په تشکیل کې د ډګروال د درجې نه پورته نشته.[81]

## د افغان ملي اردو انفراسټرکچر

په دې درې میاشتنۍ کې د دفاع وزارت راپور ورکړی چې د انفراسټرکچر درې نوې پروژې ورکړل شوي (د 48.2 ملیونه ډالرو په ارزښت)، 50 رواني دي (840.8 ملیونه)، او درې بشپړې شوي (70.5 ملیونه). دا پروژې د دې لپاره جوړې شوي چې د ملي اردو اوږدمهاله استعداد سره مرسته وکړي. په دوی کې شاملې دي د رغونې پروژې او د داسې مستقلو تجهیزاتو ترلاسه کول چې د پوځي ځواکونو د ملاتړ، بیا ځای پر ځای کېدنې، او عملیاتو لپاره ضروري وي. د رغونې په پروژو کې شامل دي بیرکونه، قوماندانۍ، روزنیزې ودانۍ یا سلسلې، اداري ځایونه، ګودامونه او د ذخیرو ودانۍ، او د انتظام اسانتیاوې. یو ځل چې بشپړ شي، نو دا مرکزونه د ملي فعالیت او انتظام (O&M) د قرارداد لاندې دایم ساتل کېږي، په کوم کې چې د داسې تیارۍ روزنې شاملې وي چې په پای کې د فعالیت او انتظام مسوولیت د دفاع وزارت ته وسپاري. د دفاع وزارت یادونه کړې چې د محلي حکومتونو او محلي کاري ځواک ونډه د امنیت د راوستلو او ساتلو د مرکزي چیلنج د حل لپاره مهمه ده.[82]

## د افغان ملي اردو تجهیزات

په دې درې میاشتنۍ کې NTM-A/CSTC-A راپور ورکړی چې د دفاع وزارت افغان افسرانو لپاره د متحده ایالاتو د حکومت د بهرني پوځ د خرڅونو (FMS) په پروګرام کې لومړنۍ ټرېننګ ترسره کړ. په دې ټرېننګ کې دېرشو افسرانو ګډون وکړ، کوم چې هغوی د دې لپاره تیار کړل چې د متحده ایالاتو د دفاعي تجهیزاتو، خدمتونو، او ټرېننګ د اخیستلو لپاره د حکومت-نه-حکومت ته میتود وکاروي.[83]

په دې درې میاشتنۍ کې، NTM-A/CSTC-/A د دفاع د امنیتي همکارۍ د ادارې او د متحده ایالاتو د پوځ د امنیتي مرستي د قوماندې سره کار وکړ چې د میداني پلانونو د اړتیاو د پوره کولو لپاره د وسلو او مهماتي تجهیزاتو رسونه تېزه کړي. انځور 3.22 ښیي چې ملي اردو د 2010 کال د اپریل د 1 نیټې نه د جون تر 23مې نیټې 5025 د متحده ایالاتو جوړې M16A4 ټوپکې او 1452 نورې وسلې په کار اچولې دي. چوکاټ 3.2 ښیي چې 647 موټرې او 902 راډیوګانې په کار اچول شوي وې. دا ټول تجهیزات د موجودو تجهیزاتو ضمیمه وه؛ د ځینو وسلو په ځای نورې وسلې ندي ورکړل شوي. برسېره پر دې، د افغان ملي اردو هوایي ځواک دوه C-27 ترانسپورت هلیکوپترې خپل د هلیکوپترو لیست ته زیاتې کړې دي، چې په دې سره یې ټولې لاندې الوتکې ترلاسه کړې دي:[84]

- پنځه ویشت Mi-17 او نه Mi-35 هلیکوپټرې
- یوه An-26، پنځه An-32، او پنځه C-27 ترانسپورټي
- درې L-39 جیټونه

انځور 3.22

د افغان ملي اردو میدان ته ایستل شوي وسلې




یادونه: دا وسلې له4/1/2010 تر 6/23/2010 پورې د افغانستان ملي اردو ته انتقال شوي وي.

سرچینه: NTM-A/CSTC-A، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7/6/2010.

چوکاټ 3.2

**د ملي اردو مېدان ته ایستل شوي راډیوګانې او ګاډي**

| | |
|---|---|
| **ګادي** | |
| سپک او اوسط تاکتیکي ګاډي | 484 |
| بر زغره وال HMMWVs[الف] | 163 |
| **راډیوګانې** | |
| WHF راډیوګانې[ب] | 661 |
| HF راډیوګانې[ت] | 241 |

الف. په بره زغره والو کې شامل دي M1152، M1151، او M1152 امبولانس موډلونه.
ب. د ډېرې جیګې فریکونسۍ (VHF) په راډیوګانو کې شامل دي مختلف د PRC-1077 او HH7700 راډیویي سیستمونو هیېتونه.
ت. د جیګې فریکونسۍ (HF) په راډیوګانو کې شامل دي مختلف د RT-7000 او PRC-1099 راډیویي سیستمونو هیېتونه.

سرچینه: NTM-A/CSTC-A، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7/6/2010.

## افغان ملي پولیس

د جون 20، 2010 سره سم، د افغان ملي پولیسو د پرسونل ځواک 105873 و – چې تر 6000 زیات پرسونل پکې زیات شوی.[85] د ایساف له مخې د ملي پولیسو هدف دا دی چې تر اکتوبر 2010 پورې 109000 تنه پرسونل او تر اکتوبر 2011 پورې 134000 تنه پرسونل ته ورسیږي.[86]

په افغان ملي پولیسو کې شامل دي د افغانستان د یونیفارم پولیسو (AUP)، د افغانستان سرحدي پولیس (ABP)، او د افغانستان د ملي ملکي نظم پولیس (ANCOP)؛ د جون پر پای پورې له ANCOP پرته دا نور ټول د خپل اخري هدف د قوت نه اوښتي دي. د دې لپاره چې خلک دې پولیسو کې جلبیږو او پکې پاتي کېدو ته وهڅول شي، ایساف د ANCOP پرسونل ته د خطرناکي وظیفي بدل او پکې د شاملېدو بونس ورکوي. برسېره پر دې، ایساف غواړي چې ANCOP نه د پرسونل د تیښتې د کمولو لپاره د ایتلاف سرپرستي او نورې چارې برابرې کړي.[87]

د 2010 د جون په 25مه نېټه سیګار د دفاع وزارت او بهرنیو چارو وزارت چارواکیو ته خبر ورکړ چې غواړي په ملي پولیسو کې د پرسونل د سمبالښت یوه پلټنه ترسره کړي. دا پلټنه اصلاً د دې لپاره جوړه شوې وه چې د افغان امنیتي ځواکونو کتنه وکړي؛ خو د کار ساحه د دې لپاره بدله کړای شوه چې د هغې پلټنې د تکرار مخنیوی وشي چې د حکومت د احتساب د دفتر (GAO) لخوا د ملي اردو په اړه ترسره کېږي. ټاکل شوې ده چې د سیګار د پلټنې د ساحې کار په اګست 2010 کې پیل شي.[88]

## د افغان ملي پولیسو روزنه

په دې درې میاشتنۍ کې، NTM-A/CSTC-A راپور ورکړ چې د ملي پولیسو 11981 زده کوونکیو د روزنیزو پروګرامونو لپاره ځانونه راجستر کړي او دا چې د دغو زده کوونکیو نه 10974 تنه فارغ شوي، لکه چې په انځور 3.23 کې ښودل شوي. دا پروګرامونه ګڼ شمېر موضوعات رانغاړي، په ګډون د بنسټیزې او پرمختللې ګزمې، مخدره موادو ضد چارو، موټر چلونې، تحقیقاتو، د صدمې

مرسته، سرحدي امنیت، او مشرتابه.[89]

د دفاع وزارت د ملي پولیسو د عملي، روزني، او تجهیزاتو لپاره د متحده ایالاتو د هڅو رهبري کوي، او ګن شمېر جلا قراردادونه د دې هڅې مرسته کوي. د بېلګې په توګه، د بهرنیو چارو وزارت یو داسي قرارداد اداره کوي چې ملي پولیسو ته ملکي پولیس روزونکي برابر کړي. خو، د دفاع وزارت راپور ورکړی چې د بهرنیو چارو وزارت په دې پروسه کې ده چې د دې قرارداد سمبالښت د دفاع وزارت ته ولېږدوي. د دې چمتووالي لپاره چې د قرارداد سمبالښت په لاس کې واخلي، د دفاع وزارت یوه پرانیستي مقابله ترسره کوي. هر څو که د دې کچې د یو قرارداد (چې اټکل یې په درېو کلونو کې 1 ملیارد ډالر دی) د ورکولو پروسه عموماً په بشپړېدو کې 12 میاشتې نیسي، خو د دفاع وزارت راپور ورکړی چې دې د دې لاسته راوړني سره ترلې چارې تېزې کړې دي. د 2010 د می په 25مه نېټه، دفاع وزارت د وړاندیزونو لپاره یوه لومړنی غوښتنه ورکړه؛ تر 80 زیاتو شرکتونو د جون په 9مه او 10مه د صنعت په ترلو ورځو حاضري ورکړه. د دفاع وزارت راپور ورکړی چې دې د وړاندیزونو اخري غوښتنه د جون په 16مه ورکړې او تمه لري چې دا قرارداد به د دې کال تر پای ورکړي.[90]

د 2010 د جون په 21مه نېټه، تر 1100 تنو زیات کیډټان په کابل کې د ملي پولیسو د اکادمی نه د شپږو میاشتو د یو روزنیز پروګرام څخه فارغ شول. دا نوي کسان به هغه لومړني کسان وي چې د کورنیو چارو د وزارت د هغې نوې پروسې له مخې به ځای پر ځای کېږي چې افسران د یونټ د غوښتنو او فعالیتي لومړیتوبونو پر بنسټ ټاکي. د NTM-A له مخې، دوه اضافي د شپږو میاشتو د روزني دورې د 2011 لپاره پلان شوي دي.[91]

د متحده ایالاتو بحري ځواکونو او د ایټالیې کارابینري په دې درې میاشتنۍ کې هم دې لپاره شریک کار ته ادامه ورکړه چې د AUP او ANCOP غړي وروزي – چې دا تر زرو تنو زیات ریکروټان، بې کمېشنه افسران، او نور افسران ول. دا روزنه د هرات په ادرسکن کې د افغانستان د ملي روزني

انځور 3.23

د پروګرام په ترتیب د افغان ملي پولیسو د روزني فارغان




سرچینه: NTM-A/CSTC-A، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7/6/2010

په مرکز کې ترسره شوه.[92]

په افغانستان کې د اروپايي ټولنې د پوليسو مشن (EUPOL) چې د جون 6، 2010 سره سم، د دوی د عملي 265 نړيوال او 163 محلي غړي د کورنيو چارو وزارت او افغان ملي پوليسو ته د پوليسو روزنه او د قانون د حاکميت مهارت ښيي. د مارچ 2009 تر جون 2010 پورې، EUPOL شاوخوا 675 د افغان پوليسو روزونکي، 300 د کورنيو چارو د وزارت معاينه کاران (د فساد ضد تحقيقاتو په تخنيکونو کې)، او تر 1000 زيات د افغان پوليسو افسران (په بنسټيزو تحقيقاتو او د جنايتونو د تحقيقاتو په تخنيک کې) روزلي دي. EUPOL د مې 31، 2010 نه تر مې 31، 2011 مودې لپاره 54.6 مليونه يورو بوديجه لري.[93] د 2010 د مې په 18مه، د اروپايي ټولنې شورا د EUPOL مشن د 2013 کال د مې تر 31مې نيټې وغځاوه.[94]

## د ملي پوليسو زده کړه

له مارچ 2009 راهيسې، د ملي پوليسو د زده کړې پروګرام د پوهنې د وزارت د بالغانو د زده کړې نصاب د دې لپاره کاروي چې په خپل پرسونل کې د ټيټ سواد د شرحې ستونزه حل کړي. NTM-A/CSTC-A راپور ورکړی چې د جون 30، 2010 سره سم، د ملي پوليسو 2،889 غړي (په ګډون د 36 افسرانو او 231 بې کمېشنه افسرانو) د دې پروګرام نه فارغ شوي دي. په دې شمېر کې شامل دي 2،497 غړي د AUP، 184 غړي د ABP، 169 ځانګړي پوليس، او 39 تنه غړي د ANCOP. د NTM-A/CSTC-A له مخې، 12806 تنه پرسونل د زده کړې د پروګرام لپاره په اپريل 2010 کې داخل شوي ول، او 12753 په مې 2010 کې؛ خو، زياتره يې د لاربښودنو د هغو 64 ساعتونو څخه اخوا نه وايي چې د بنسټيزې روزنې پر مهال ضروري دي. په اپريل او مې 2010 کې NTM-A/CSTC-A په سرسري توګه د ANCOP د پرسونل ازموينه واخيسته او معلومه يې کړه چې يوازې 6% يې ليک لوست کولای شو. د دې لپاره چې د ليک لوست د اړتيا ته ځواب ووايي، NTM-A/CSTC-A د ANCOP د کنډک او غونډ مرکزونو ته د زده کړې د پروګرام ښوونکي ورکړل.[95]

## په ملي پوليسو کې ښځې

د دفاع وزارت له مخې د جون 2010 د پای سره سم، شاوخوا 1100 ښځې په ملي پوليسو کې کار کوي. لدې امله چې په افغانستان کې يوازې ښځې د نورو ښځو سره په ازادۍ اختلاط کولای شي، نو هغه ښځې چې په ملي پوليسو کې کار کوي يو مهم کولتوري رول لري چې نورې ښځې تالاشي کړي او د هغوی نه استخباراتي معلومات راغونډ کړي. د کورنيو چارو د وزارت هدف دی چې تر 2014 پورې په ملي پوليسو او د کورنيو چارو په وزارت کې 5000 ښځې په کار وګوماري. د دفاع وزارت له مخې، په دې درې مياشتنۍ کې د کورنيو چارو وزارت يو کمپاين ترسره کړ چې هدف يې ملي پوليسو ته د نورو ښځينه کانديدانو راجلبول و.[96]

## د افغان ملي پوليسو انفراسترکچر

په دې درې مياشتنۍ کې، د دفاع وزارت راپور ورکړ چې د انفراسترکچر 15 نوې پروژې ورکړل شوي (د 39.6 مليونه ډالرو د ارزښت)، 250 رواني وې (796 مليونه ډالر)، 9 بشپړې شوې (7.72 مليونه ډالر)، او د 4 کاري ساحه بدله شوې (2.38 مليونه ډالر).[97]

د کورنيو چارو وزات او NTM-A د متحده ايالاتو د پوځ د انجينيرانو د قول اردو سره کار کوي چې په ټول افغانستان کې د پوليسو په حوزو کې د اوسېدو نوي مرکزونه او عارضي ځايونه جوړ کړي. د NTM-A/CSTC-A د يو مطبوعاتي راپور له مخې د ملي پوليسو ځينې پرسونل په داسې غير



د ملي پوليسو غړي د پنجشېر د رخه پوليسو په مرکز کې په يو درې ورځني روزنيز کورس کې ګډون کوي. زده کوونکي په نقشو د کار کولو خپل توان پراخوي، همکاري کوي او مومي، د غرنيو ځايونو ځانګړتياوې پېژني، او د نکتو ترمنځ واټنونه اندازه کوي. (د متحده ايالاتو هوايي ځواک انځور، دويم بريدمن جيسن سميت)

معياري مرکزونو کې ژوند کوي چې تازه هوا، يخچالونه، او تشنابونه نلري.[98]
د NTM-A له مخې، د 2010 د جون په 12مه، يو افغان ساختماني شرکت د کابل په 12مه حوزه کې د پوليسو د يو نوي مرکز لپاره بنياد کېښودل پيل کړل. په دې دوه پوړيزه ودانۍ کې به د اوسېدو او خوړو ځايونه، د استراحت کوټه، او د تشنابونو اسانتياوې موجودې وي.[99]

## د افغان ملي پوليسو تجهيزات

د NTM-A/CSTC-A له مخې د ملي پوليسو د مجهزولو د ستراتيژۍ تمرکز د وسلو، ترانسپورت او مخابراتو په داسې تجهيزاتو دی چې ملي پوليسو سره د نورو يونټونو ميدان ته په لېږلو او د اکتوبر 2011 د هدف په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي. په دې درې مياشتنۍ کې د NTM-A/CSTC-A د هغو وسلو په شمېره کې د زياتوالي راپور ورکړ چې د ملي پوليسو لخوا په ميدان کې پرسونل ته ورکړل شوي؛ دا بدلون د نويو وسلو د ورکولو په اړه د کورنيو چارو د وزارت د لندمهاله وقفې څخه وروسته راغلی. د NTM-A/CSTC-A د کورنيو چارو د وزارت سره کار کوي چې د وسلو د زياتوالي لا زيات احتساب او د کچې بدلون تطبيق او تنفيذ کړي.[100] ملي پوليسو 6،821 وسلې ميدان ته ايستلي، په ګډون د پخواني وارسا تړون د وسلو لکه AK-47، لکه چې په انځور 3.24 کې ښودل شوي.
په دې درې مياشتنۍ کې، د ملي پوليسو مسلسل ترينګ د دې نتيجه شو چې 818 لوړې د لوړ-خوځښت ګڼ هدفي موټرې (HMWVs) ميدان ته وويستلې؛ په دې موټرو کې 91 امبولانسونه ول. NTM-A/CSTC-A راپور ورکړ چې دا ملي پوليسو لپاره د دغه نوعيت اضافي موټرې ترلاسه کوي او تمه لري چې په راتلونکو 7 مياشتو کې به اوسط 250 موټرې هره مياشت ترلاسه کړي.[101] چوکاټ 3.3 ښيي چې ملي پوليسو د مخابراتو تجهيزات هم ترلاسه کړي چې د دې د روزنې، مجهزونې، او دوامدارۍ د مشن ملاتړ کوي.

**د کچې بدلون: په صحنه کې په ستراتيژيکه او فعاليتي کچه، د موادو د يو نظامي عنصر څخه راړول چې د بل د لا جيګ لومړيتوب غوښتنه پوره کړای شي. د کچې د بدلون په پلانونو کې بايد مشخص د بيا حواله کولو پروسيجرونه شامل وي.**

سرچينه: ، "د نظامي اصطلاحاتو سيند،" آنلاين وکتل شو په 7/12/2010.

چوکاټ 3.3

**د ملي پوليسو ميدان ته ايستل شوي راډيوګاني او ګاډي**

| | |
|---|---|
| **ګاډي** | |
| سپک او اوسط تاکتيکي ګاډي | 988 |
| بر زغره وال HMMWV[الف] | 818 |
| **راډيوګاني** | |
| WHF راډيوګاني[ب] | 1,531 |
| HF راډيوګاني[ت] | 119 |

الف. په بره زغره والو کې شامل دي M1152، M1151، او M1152 امبولانس موډلونه.
ب. د ډېرې لوړې فريکونسۍ (VHF) په راډيوګانو کې شامل دي مختلف د PRC-1077 او HH7700 راډيويي سيستمونو هييتونه.
ت. د لوړې فريکونسۍ (HF) په راډيوګانو کې شامل دي مختلف د RT-7000 او PRC-1099 راډيويي سيستمونو هييتونه.

سرچينه: NTM-A/CSTC-A، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7/6/2010.

انځور 3.24

افغان ملي پوليسو ميدان ته ايستل شوي وسلې




ادونه: دا وسلې له4/1/2010 تر 6/23/2010 پورې د افغانستان ملي اردو ته انتقال شوي وي.
سرچينه: NTM-A/CSTC-A، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7/6/2010.

## د ناچاوډېدلو موادو لیرې کول

د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي-پوځي چارو د بیورو دننه د وسلو د لیرې کولو او کمولو د دفتر (PM/WRA) له مخې، له 1993 راهیسې د بهرنیو چارو وزارت په افغانستان کې د روایتي وسلو د له منځه وړلو او ماینونو لیرې کولو د بشري اقدام لپاره 165 ملیونه ډالر ورکړي دي. د بهرنیو چارو وزارت د افغانستان نادولتي موسسو، نړیوالو سازمانونو، او تجارتي شرکتونو ته بودیجي ورکوي چې د ماینونو د پاکولو دوامداره عملیات ترسره کړي، پرېښودل شوې او په خطر کې روایتي وسلې لیرې او کمې کړي، او د افغانانو تخنیکي او د منیجرۍ ظرفیت لوړ کړي.[102]

PM/WRA د خپل د ټولني پر بنسټ د ماینونو د لیرې کولو (CBD) له لارې د مسلسل پرمختګ خبر ورکړی دی. PM/WRA راپور ورکړی چې د CBD د بودیجو تر ټولو مهم هدف د ماینونو د لیرې کولو د پروګرام همکارانه انسجام دی. د بهرنیو چارو وزارت له مخې، PM/WRA په کندهار، هلمند او کونړ کې د CBD پروګرامونو ته بودیجي ورکوي او غواړي چې راتلونکي پروژې د سیمییزو قوماندو او د ولایتي بیا رغونې د ټیمونو د اړتیاو سره برابرې کړي. دا د USAID د انفراسترکچر د دفتر او په افغانستان کې د ماینونو لپاره د اقدام د انسجام د مرکز په نامه موسسې سره هم کار کوي چې د افغان دولت د ماینونو د پاکولو ریاست ته د یو مرکز د جوړولو لپاره بودیجه ورکړي.[103]

## ایتلافي ځواکونه

د مارچ 31، 2010 سره سم، د دفاع وزارت راپور ورکړی چې په افغانستان کې 87000 امریکایي ځواکونه او 46500 نړیوال ایتلافي ځواکونه دي؛ دا تمه لري چې د اګست تر میاشتې به امریکایي ځواکونه 98000 ته ورسي.[104] د دغو شمېرو نه، ایساف راپور ورکړی چې د جون 30، 2010 له مخې دا په افغانستان کې د 45 ملتونو نه 78430 امریکایي او 41315 نړیوال ځواکونه لري.[105] خو، د دفاع وزارت له مخې، د اپریل 2010 سره سم لږ تر لږه 21 ایتلافي شریکوال ملتونه اوس هم په خپلو ځواکونو "ملي محدودیتونه" لري. دا محدودیتونه د دې ځواکونو چلند محدودي یا منع کوي او بنایي د ایساف د قوماندان لخوا د دې ځواکونو په استعمال اغېز وکړي.[106]

د جولای 20، 2010 سره سم د دفاع وزارت په افغانستان او شاوخوا کې د تلپاتې ازادۍ له عملیاتو راهیسې د 1100 امریکایي عسکرو د مړیني راپور ورکړی. د دغه شمېرې نه، 878 په جګړه کې وژل شوي؛ او 222 اضافي عسکر پرته له جګړې پېښو کې مړه شوي. برسېره پر دې، 3811 تنه په جګړه کې ټپیان شوي؛ 3199 اضافي نور کسان ټپیان شوي ول خو د 72 ساعتونو دننه بیرته وظیفې ته په تګ توانېدلي ول.[107]

# د یاغیانو ګواښونه

کانګرس ته په اپریل 2010 کې د خپل راپور په برخه 1230 کې د دفاع وزارت ویلي چې یاغیانو 2009 ځان لپاره د تر ټولو زیات بریالي کال په توګه ګڼلی.[108] د دفاع وزارت په دغه کال کې تر 21000 زیات د دښمن لخوا پیل شوي بریدونه ثبت کړي – دا په هغه شمېره کې 75% زیاتوالی دی چې په 2008 کې ثبت شوي. برسېره پر دې، د سپتمبر 2009 تر مارچ 2010، یو کال مخکې د همدغې مودې په پرتله د ایتلافي ځواکونو خلاف بریدونه 83% زیات شوي، د ملکیانو خلاف 72%، او د افغان امنیتي ځواکونو خلاف 17%.[109]

د دفاع وزارت له مخې، د افغانستان په یاغیانو کې دا درې غټې ډلې شاملې دي: د کویټه شورا طالبان، د ګلبدین حزب اسلامي، او د حقاني شبکه. دا ډلې د مرکزي دولت د ضعیفولو او د بهرنیو ځواکونو افغانستان نه د ایستلو لپاره له یو بل سره همکاري او ارتباط کوي. دوی په جغرافیوي او دیموګرافیکه توګه په ټاکلي منطقو کې عملیات کوي، عمدتاً د پښتنو د اکثریت په سیمو کې او په شمال کې د پښتنو په کوچنیو سیمو کې، لکه چې په انځور 3.25 کې ښودل شوي.[110]

## د کویټې شورا طالبان

د ملا محمد عمر رژیم د سپتمبر 11، 2001 له بریدونه وروسته په افغانستان کې اسامه بن لادن او د هغه القاعده شبکې ته پناه ورکړه.[111] د جنګ د مطالعې د انستیټیوټ (ISW) له مخې، د ملا عمر ډله په 2002 کې د پاکستان کویټې ته لاړه او اوس ورته د کویټې شورا طالبان ویل کېږي. خو د کویټې شورا طالبان خپل ځان د افغانستان اسلامي امارت وایي او ځان د افغانستان مشروع دولت ګڼي.[112] د ایساف د قوماندان له مخې، د کویټې شورا هدف د کندهار د ښار نیول دي، چې د هغوی د فلسفې کور دی.[113]

ISW یادونه کړې چې د افغانستان نږدې ټولو یاغي ډلو ملا عمر سره د وفادارۍ لوړه کړې.[114] د متحده ایالاتو د پوځ او افغانستان د اټکلونو له مخې، په افغانستان کې د طالب جنګیالیو شمېره تر 20000 زیاته ده، څرنګه چې په جون 2010 د کانګرس د تحقیق په خدمت (CRS) کې راپور شوي.[115] انځور 3.25 هغه سیمې ښیي په کومو کې چې د کویټې شورا ته وفادار طالب جنګیالي فعالیتونه کوي.

د 2010 د جون په 10مه د ایساف قوماندان راپور ورکړ چې ایتلافي ځواکونو د تېرو 90 ورځو پر مهال 121 طالب مشران وژلي یا نیولي دي.[116] د CRS راپور یاده کړې چې په دې کال کې ګڼ شمېر مهم طالب مشران نیول شوي یا وژل شوي، په ګډون د فبرورۍ په میاشت کې د ملا عمر د مرستیال او د دوو "پېتو والیانو" او په مارچ کې د ملا عمر د زوم او کویټې شورا د یو بل غړي د نیول کېدو.[117]

## د حقاني شبکه

جلال الدین حقاني، چې 2001 کال نه مخکې د طالبانو په دولت کې د قومونو د چارو وزیر و، د حقاني د تروریستي شبکې بنسټ اېښی دی. سراج الدین (سراج) حقاني، چې د جلال الدین زوی او د حقاني شبکې مشر رهبر دی، د القاعده سره نږدې اړیکې لري. د بهرنیو چارو وزارت له مخې، حقاني په 2008 کې د کابل په یو هوټل د برید د پلان اعتراف کړی چې د یو امریکایي په ګډون شپږ تنه پکې وژل شوي ول، او د همدغه کال په اپریل کې د ولسمشر کرزي د وژلو د پلان هم.[118] د CRS له مخې، د حقاني شبکه په دې وروستیو کې کابل کې د ولسمشر د ماڼۍ سره نږدې په جنوري 2010 کې د یو برید مسوولیت په غاړه لري.[119] د بهرنیو چارو وزارت له مخې، ګومان کېږي چې حقاني په پاکستان کې اوسېږي او د ایتلافي ځواکونو خلاف د پولې پورې غاړه بریدونه پلانوي او ګډون پکې کوي.[120]

د دفاع وزارت د یو مطبوعاتي راپور له مخې، ځوان حقاني د مشرتابه د یو داسې طرز استازیتوب کوي چې د پخواني مشرتابه نه ډېر زیات جارحانه دی او اکثر وخت وحشت د قدرت د ساتلو د واسطې په توګه کاروي. هغه د تښتونو، وژنو، د ښځو ذبح کولو، نابېره وژنو، او ځانمرګیو بریدونو په کارولو سره د حقاني شبکې د روزلو، اثرورسوخ ترلاسه کولو، قوماندې کولو، او رهبري کولو مسوولیت په غاړه لري.[121] په مارچ 2010 کې د بهرنیو چارو وزارت— د یو پروګرام له لارې چې د بهرنیو چارو وزارت د ډیپلوماتیک امنیت د بیورو لخوا اداره کېږي — د داسې معلوماتو لپاره تر 5 ملیونه ډالرو انعام وړاندیز وکړ چې د سراج حقاني په ځای یا نیولو کې مرسته وکړي.[122] د CRS له مخې د متحده ایالاتو پوځ او افغان دولت



اتوماتیک وسلې، راکټ کې لګول شوي ګرېنیډونه، او مخابراتي تجهیزات د موادو د هغې غټې زېرمې برخه دي چې د جون په میاشت کې د افغان او نړیوالو ګډو ځواکونو لخوا د حقاني او طالب یاغیانو څخه نیول شوي. (د ایساف انځور)

انځور 3.25

د یاغیانو د فعالیت سیمې




اټکلونه په افغانستان کې د حقاني شبکې د جنګیالیو شمېره شاوخوا 1000 تنه ښيي. دا جنګیالي زیاتره د خوست شاوخوا ولایتونو کې فعالیت کوي، لکه چې په انځور 3.25 کې ښودل شوي.[123]

په دې دري میاشتنی کې ایساف راپور ورکړ چې ملي پولیسو او ایتلافي ځواکونو په شریکه د حقاني شبکې د سرک د غاړې د ماینونو د جوړوونکیو یو مشر او کڼ شمېر نور یاغیان خوست کې په یوه ودانۍ کې ونیول. دغه مشر د سرک د غاړې د ماینونو د ایښودلو، د وسلو د ترلاسه کولو او ویشلو، او د ایتلافي کاروانونو خلاف د ځانمرګي بریدونو د ترتیبولو مسوول و.[124]

## د ګلبدین حزب اسلامي

د ګلبدین د حزب اسلامي مشري ګلبدین حکمتیار کوي، څوک چې د مجاهدینو د هغو مرکزي مشرانو څخه و چې په افغانستان کې د شوروي د اشغال پر مهال یې د متحده ایالاتو لخوا ملاتړ کېده. د CRS له مخې، د ګلبدین حزب اسلامي په کاپیسا، کونړ، ننګرهار او نورستان کې فعال دی او د القاعده او طالب یاغیانو سره ایتلاف لري.[125] دې راپور ورکړی چې د متحده ایالاتو پوځ او افغان دولت

اټکلونه په افغانستان کې د ګلبدین د حزب اسلامي د جنګیالیو شمېره شاوخوا 1000 تنه ښيي.[126]

د 2010 د مارچ په 22مه، د افغان دولت او د ګلبدین د حزب اسلامي استازیو تصدیق کړه چې دوی مذاکرات کوي، په ګډون د ولسمشر حامد کرزي سره د ملاقاتونو. له 2007 راهیسې، حکمتیار افغان دولت سره د جنګ بندۍ لپاره لېوالتیا ښودلې؛ په ولسي جرګه کې د ولسمشر کرزي ځینې ایتلافیان د حکمتیار د جهادي ګوند پخواني غړي دي. په جنوري 2010 کې حکمتیار ولسمشر کرزي سره د روغې جوړې لپاره شرایط وړاندې کړل په کوم کې چې د متحده ایالاتو له وتلو وروسته د یو بې طرفه انتظامي دولت لخوا ټولټاکنې شاملې وې.[127]

# دولتداري

له 2002 راهیسي، متحده ایالاتو په افغانستان کې د دولتدارۍ او پرمختیا د فعالیتونو لپاره تر 14.74 ملیارده ډالرو زیات اختصاص کړي دي. د متحده ایالاتو د دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره (USAID) او د زراعت وزارت دا بودیجې په یوه برخه کې د دولتدارۍ، د قانون د حاکمیت، او بشري حقونو د پروګرامونو د ملاتړ لپاره کارولي. د بودیجو د پیسو په اړه د جزییاتو لپاره د دې راپور ضمیمه ب وګورئ.

د متحده ایالاتو ولسمشر باراک اوباما او افغان ولسمشر حامد کرزي د 2010 د مې په 12مه نېټه د افغان ادارو د بهترولو په دې اړتیا ټینګار وکړ چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت سره د خپلو خلکو د اړتیاو په پوره کولو کې مرسته وکړي. په تېره موده کې د متحده ایالاتو تقریباً هیڅ بودیجې د افغان دولت له لارې نه ورکول کېدې؛ خو، په راتلونکیو دوو کلونو کې، متحده ایالات اراده لري چې د بیا رغونې تر 50% بودیجې د افغانستان د هغو ادارو له لارې ورکړي چې شفافې او تر احتساب لاندې منل شوې.[128]

## د وروستیو واقعاتو عمومي کتنه

په دې درې میاشتنۍ کې، افغان دولت د افغانستان د سولې او بیاخپلونې پروګرام پیل کړ. د سولې د عالي شورا په مشرۍ دا پروګرام د دې لپاره جوړ شوی چې د سیمییزې او نړیوالې همکارۍ له لارې سولې ته وده ورکړي، د سولې او روغې جوړې لپاره سیاسي او عدالتي شرایط جوړ کړي، او جنګیالي دې ته وهڅوي چې تشدد پرېږدي او د بیا خپلونې او سولې راوستلو په پروسه کې ګډون وکړي. دا پروګرام هدف لري چې په راتلونکیو پنځو کلونو کې په زرګونو پخواني یاغیان بیاراخپل کړي او په ټول افغانستان کې په 220 ولسوالیو کې 4000 ټولنې پیاوړې کړي.[129] د بیاخپلونې دا نوی پروګرام به هغو یاغیانو ته په بدل کې کټې وړاندې کړي چې د وسلې ایښودو ته لېواله وي او د افغانستان اساسي قانون مني. په عموم کې، د بیا خپلونې وړاندیز د ټیټې درجې یاغیانو ته کېږي، اورپکو مشرانو ته نه.[130]

د سفیر ریچرډ سي. هالبروک له مخې، د دفاع وزارت پلان لري چې د قوماندان د بیړني ځواب د پروګرام (CERP) څخه د بیاخپلونې د ابتدایي هڅو د ملاتړ لپاره تر 100 ملیونه ډالرو ولګوي.[131] د نړیوال سوله ساتي ځواک (ایساف) د بیاخپلونې د هڅې مسوول په دې خبره زور ورکړی چې افغانان د افغان دولت څخه تمه لري چې په دولت کې د پام وړ ریفورمونه ترسره کړي. داسې کول به څرګنده کړي چې افغان دولت د افغانانو د ژوند د بهترولو لپاره کار کوي، چې په دې توګه به افغانان د خپل دولت ملاتړ کولو ته وهڅوي.[132]

د جولای 2010 سره سم، افغان دولت د متحده ایالاتو او نړیوالې ټولنې په مرسته د ولسوالۍ او کلیو په کچه د بیاخپلونې په پروګرام تمرکز کوي. په دغه کچه د بیاخپلونې پروګرام خپګانونه ختموي په داسې حال کې چې د ټولو خواوو عزت ساتي. په راتلونکي کې توقع ده چې د بیاخپلونې پروسه به په ولایتي او ملي کچه ترسره شي، په داسې حال کې چې په محلي کچه به هم روانه وي.[133]

"نن، زه ټولو ته بلنه ورکوم چې خپلو عامه دښمنانو سره د جګړې د دايرې څخه خپل نظر اوچت کړو او خپل دې عالي هدف ته پاملرنه وکړو: يو سوله ييز، هوسا، او باثباته افغانستان."

د افغانستان ولسمشر حامد کرزی

سرچينه: افغان دولت، د ولسمشر دفتر، "کابل کنفرانس،" 7/20/2010.




افغان ولسمشر حامد کرزی او د ملګرو ملتونو عمومي منشي بان کي-مون په کابل کنفرانس کې د دولتدارۍ، اقتصادي او ټولنيزې پرمختيا، او امنيت د بهترولو لپاره د افغان دولت نوی عملي پلان ښکاره کوي. (د يوناما انځور)

په دې درې مياشتنی کې افغان دولت دوه غونډې جوړې کړې چې پر بيا رغونه او د ياغيانو په بياخپلونه بحث وکړي: کابل کنفرانس او د سولې ملي مشورتي جرګه.[134]

## د کابل کنفرانس

د جولای په 20مه د کابل په کنفرانس کې افغان دولت خپل د لومړيتوبونو او تطبيقونو پلان وښود — دا يو داسې د عمل پلان دی چې هدف يې د دولتدارۍ، اقتصادي او ټولنيزې پرمختيا او امنيت بهترول دي. دا نوی پلان چې د 2008 د افغانستان د ملي پرمختيا پر ستراتيژۍ جوړ شوی هدف لري چې دولتي اداري قوي او افغانانو لپاره مواقع بهتر کړي. افغان دولت خپل نوي پرمختيايي اهداف د دې لپاره وکارول چې ملي لومړيتوبونه جوړ کړي او نړيواله مرسته د دغو لومړيتوبونو سره سمه کړي.[135]

د دولتدارۍ او قانون د حاکميت لپاره ملي لومړيتوبونه د دولت د احتساب، دموکراتيکو ادارو او پروسو، بشري حقونو، د قانون د حاکميت، او د عامه خدمتونو په رسولو تمرکز کوي. د دې لومړيتوبونو پر بنسټ، افغان دولت داسې ملي پروګرامونه جوړ کړي چې يو شمېر ډېر مهم موضوعات لري، په ګډون د شفافيت، دولت کې په احتساب او کاري ورتيا، مالي او اقتصادي اصلاحات، بشري حقونو او برابرۍ، او سيمييزې دولتدارۍ.[136]

## د سولې جرګه

د 2010 د جون د 2مې نه تر 4مې نېټې، افغان دولت يوه د سولې ملي مشورتي جرګه جوړه کړه تر څو د تشدد د ختمولو او تلپاتې سولې راوستلو لارې بحث کړي. په 1600 ګډونوالو کې ديني عالمان، قومي مشران، د مدني ټولني سازمانونه، او په ايران او پاکستان کې افغان کډوال، او همدارز د دولت د ولايتي شوراګانو او ولسي او مشرانو جرګې استازي ول.[137] هر څو که بياخپلونه په دې جرګه کې بحث شوې وه، خو اورپکي عناصرو او تروريستي شبکو په دې مباحثو کې ګډون نه درلود.[138]



ښځې په کابل کې د سولې په جرګه کې ګډون کوي. په دې درې ورځنۍ جرګه کې 1600 ګډونوال راغونډ شوي ول، په ګډون د 300 ښځو، کومو چې په دې اړه مشورې چمتو او وړاندې کړې چې څرنګه د سولې د پروسې په لور وړاندې تګ وکړای شي. (د یوناما انځور)

د سولې په جرګه کې افغان دولت یو د بیاخپلونې پلان وړاندې کړ چې یاغیان په خپله خوښه وسلې اېښودو ته وهڅوي. دې پلان داسې ګټې وړاندې کړې لکه وظیفې، ښښنه او تحفظ، او د ټولنې په خونديو کولو کې د ګډون موقع.[139]

د سولې د جرګې په پای کې، ګډونوالو یوه د شپاړسو مادو بیانیه ورکړه په کومه کې چې هغوی دغه د ګټو ورکولو د پلان څخه ملاتړ وکړ او د افغان دولت او نړیوالې ټولنې څخه یې غوښتنې وکړې.[140] د دغې بیانیې 8 مادې پر افغان دولت او افغانستان کې پر نړیوالو سرتېرو غږ وکړ چې د لاندې په ګډون دې ستر اقدامات وکړي:[141]

- د افغانستان په محبسونو کې د قیدیانو معلوماتو ته بیا کتنه وکړي او هغه خلک دې خوشې کړي چې د ناسمو معلوماتو او یا ناثابتو تورونو پر بنسټ نیول شوي دي.
- د ملګرو ملتونو د ترویزم د تور لیست نه دې د هغو یاغیانو نومونه وباسې چې اوس د القاعده او یا نورو تروریستي شبکو سره اړیکې نلري.

د جون په 6 مه ولسمشر کرزي د عدلیې د وزیر په مشرۍ یوه کمېټه جوړه کړه تر څو د هغو بندیانو قضیې بیا وګوري چې د یاغي ډلو سره یې تړون درلود. د ولسمشر د دفتر د قانوني مشورو پلاوی د دې کمېټې غړی دی، او په نورو غړیو کې یې شامل دي د سترې محکمې، د سولې او روغې جوړې د خپلواک کمیسیون، او د لوی څارنوال د دفتر استازي.[142] د جولای په 12مه دې کمېټې د 28 هغو بندیانو د خوشې کولو اعلان وکړ چې د کوم غلط کار د کولو کوم واضح ثبوت ورباندې نه و. د عدلیې وزیر دا اعلان هم وکړ چې دا کمېټه 45 نور بندیان هم خوشې کوي.[143]

د جون په 22مه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا موافقه وکړه چې قضیه په قضیه به د ترویزم د تور لیست نه د غړیو نومونه لیرې کړي. د امنیت شورا له مخې د ترویزم په تور لیست کې هغه افراد شاملیږي چې همدا اوس خطره پېښوي.[144] د دې لپاره چې د دې لیست نه لیرې شي، دغه افراد باید د القاعده او نورو یاغي ډلو سره خپلې اړیکې وشلوي، خپلې وسلې په ځمکه کېږدي، او د افغانستان اساسي قانون په بشپړه توګه ومني. هغوی باید د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ته دا هم ثابته کړي چې هغوی په دې معیار برابر دي. د امنیت د شورا ټول 15 غړي باید د نومونو په لیرې کولو موافقه وکړي.[145]

## د فساد پرضد مبارزه

د افغان دولت د نظارت د عالي دفتر (HOO) له مخې اداري فساد د دولت، امنیت او د بشري حقونو د پرمختیا په اړه د عامه ولس د باور په کمولو سره د افغان دولت واک او احتساب کمزوری کوي. HOO اداري فساد په افغانستان کې ګڼ شمېر فاکتورونو ته منسوب کړی دی:

- د شاوخوا پنځویشتو کلونو جګړې
- د دولتي ادارو ختمیدل
- جګړې لپاره د مختلفو سرچینو څخه بې قاعدې مالي مرستې
- د ایتنیکي او قومي ډلو ترمنځ تاوتریخوالی زیاتیدل
- د غیر رسمي او ناجایزو اقتصادي فعالیتونو وده

HOO دا خبره هم یاده کړې چې د مخدره موادو د کاروبار ودې او د نړیوالې مرستې سیلاب د هبواد دننه د اداري فساد مواقع پیدا کړي دي.[146]

په دې درې میاشتنۍ کې، د افغانستان د دیانتدارۍ کتلو اداري (IWA) د اداري فساد د یوې سروې پایلې خپرې کړې، په کومه کې چې دا خبره معلومه شوې چې افغانان له امنیت او بې کارۍ وروسته اداري

فساد په افغانستان کې دريمه تر ټولو ستره ستونزه ګڼي. شاوخوا 75% ځواب ورکوونکيو فکر کاوه چې دا ستونزه د 2009 کال پر مهال لا زياته د پام وړ شوه: 28% بالغانو د يو عامه خدمت د ترلاسه کولو لپاره رشوت ورکړی و. IWA دا خبره هم ښکاره کړه چې 70% افغانانو دولت ته د رشوت په ورکولو سره خدمت ترلاسه کول يو عام کار ګڼلو، خو، 90% ځواب ورکوونکيو ويلي چې په د فساد په فعاليتونو کې په ګډون کولو سره ځانونه ګناهګار احساسوي.[147]

د سروی له مخې، اوسط رشوت چې ځواب ورکوونکيو په 2009 کې ورکړی و 7769 افغانۍ (156 ډالر) و؛ دا رقم په افغانستان کې د اوسط کلني عايد 31% (502 ډالر) ښيي. هغه افغانان چې په کال کې تر 3000 افغانيو (60 ډالرو) کم عايد لري د رشوت نه د زيات اغېزمنو کېدو راپور ورکړ؛ هغوی رشوت ته په افغانستان کې تر ټولو ستره ستونزه وويله.[148]

د IWA سروی وښودله چې د اداري فساد تر ټولو لوړې کچې د لاندې دولتي خدمتونو په تړاو ترسره کېږي:

- د تذکرو او پاسپورتونو لپاره د نوم ثبتول
- د پوليسو خدمتونه
- د محکمو په سيستم کې خدمت

ځواب ورکوونکيو د روغتيا او پوهنې په سکټورونو کې هم د فساد د مخ پر زياتېدونکو کچو خبر ورکړ، چېرته چې د رشوت پيسې زياتې وې.[149]

## د فساد پرضد پروګرامونه

متحده ايالاتو د پاکستان او افغانستان د سيميز ثبات د ستراتيژۍ د برخې په توګه د افغان دولت سره د لاندې دوو مهمو فساد ضد اهدافو په لاسته راوړلو کې د ملګرتيا ژمنه کړې:[150]

- د هغو ادارو چې په دولت نظر ساتلی شي په پیاوړي کولو سره د اداري فساد کمول
- د اداري فساد د کچې په کمولو کې د پرمختګ په اړه د افغان دولت سره ارتباط کول

په مې 2010 کې ولسمشر اوباما او ولسمشر کرزي په يوه ګډه اعلاميه کې بيا په دې خبره ټينګار وکړ چې د فساد پر ضد مبارزه تر ټولو ستر لومړيتوب دی. ولسمشر اوباما ژمنه وکړه چې د متحده ايالاتو د حکومت د قراردادونو پروسيجر به بهتر کړي او د HOO د اختيار د زياتولو لپاره به تخنيکي او مالي مرسته ورته برابر کړي. ولسمشر کرزي د خپلې دويمې دورې د پرانستې ژمنه بيا تکرار کړه چې د اداري فساد په فعاليتونو کې ککړ خلک به محکمې ته راکش کړي. هغه د عدليې په رسمي سکټور کې په دولتي عدالتي ادارو کې د ظرفيت په پياوړي کولو او اداري فساد کمولو سره د ريفورمونو د کولو په اړتيا هم زور راوړ.[151]

د IWA سروی ښيي چې د نړيوالې ټولنې لخوا فساد ضد هڅو تراوسه پورې د افغانانو اعتماد ندی ترلاسه کړی. د دغې سروی له مخې، 43% ځواب ورکوونکيو ته معلومه نه وه چې نړيواله ټولنه د شريفو چارواکيو ملاتړ کوي، او 18% ويلي چې نه يې کوي.[152]

## د نظارت عالي دفتر

د ولسمشر په فرمان په 2008 کې د دې له جوړېدو راهيسې، د نظارت عالي دفتر (HOO) په افغانستان کې د فساد پر ضد مبارزه کې د بين الاداري انسجام مسووليت پر غاړه لري. HOO د دې مسووليت هم په غاړه لري چې د افغان دولت د فساد ضد ستراتيژۍ د تطبيق او په افغانستان کې د اداري پروسيجرونو د ريفورمونو د تطبيق انسجام او نظارت وکړي. د HOO مسوول د افغان ولسمشر لخوا ټاکل کېږي؛ د دفتر مسووليتونه د تګلارې او نظارت او اداري چارو ترمنځ ويشل کېږي.[153]

هر څو که HOO د فساد ضد هڅو په زور د تنفيذ پر ارزښت پوهيږي، خو دې ستونزې سره د دې د مبارزې تمرکز د انسجام، مخنيوي، او د شعور پر بيدارئ دی. د HOO له مخې، د اداري فساد د قضيو شمېر د اداري فساد حد نه انځوروي.[154]

د HOO د اثاثو د راجسترئ رياست ته مسووليت ورکړل شوی چې د دولتي چارواکيو د شخصي اثاثو په ښودلو سره يو د اثاثو د تثبيت ريکارډ جوړ کړي، څرنګه چې د افغانستان د اساسي قانون په 154مه ماده کې راغلي. د اثاثو د تثبيت د رياست له مخې، د ښودل شويو اثاثو تصديق تر ټولو زيات پيچلی کار دی ځکه چې د پيسو ډېرې انتقالېدنې، په ګډون د ځمکو او کورونو د اخيستلو، د غير رسمي لارو له طريقه ترسره کېږي. تحقيق لپاره د متحده اياالاتو مرکزي اداره (FBI)، د مخدره موادو او جرمونو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، او په کابل کې د متحده اياالاتو سفارت د دې هڅو لپاره نړيوال ملاتړ برابروي.[155]

د HOO په اړه د سيګار په پلټنه، چې په دسمبر 2009 کې خپره شوې وه، معلومه کړې چې دا دفتر د خپل ستر مسووليت د ترسره کولو لپاره محدود انتظامي مسووليت لري. دغې پلټنې دا هم معلومه کړه چې افغان دولت داسې قانون جوړونه نده کړې چې HOO ته مناسب واک او د تنفيذ قوت ورکړي.[156] د نورو معلوماتو لپاره، وګورئ د سيګار پلټنه 2-10، "د افغانستان د نظارت عالي دفتر ښه زيات پياوړي واک، خپلواکي، او د مرستندويانو ملاتړ ته ضرورت لري چې يوه اغېزمنه فساد ضد اداره ترې جوړه شي."

## د کنټرول او پلټنې دفتر

د کنټرول او پلټنې دفتر (CAO) په افغانستان کې د پلټنې د تر ټولو سترې ادارې په توګه د افغان دولت د مالي معاملاتو د پلټنې مسووليت پر غاړه لري. CAO په مرکزي او ولايتي دولتونو کې د دولت په ټولو ادارو او همداراز عامه کاروبارونو کې د پلټنې واک لري. دا د هغو بوديجو پلټنې هم ترسره کوي چې افغانستان ته د بهرنيو مرستندويانو لخوا ورکړل شوې وي.[157]

د CAO په اړه د سيګار پلټنې، چې په اپريل 2010 کې خپره شوې، موندلي چې افغان قانون سازئ CAO ته دومره کافي خپلواکي او واک ندی ورکړی چې د پلټنې د يوې خپلواکې او عالي ادارې په توګه کار وکړي. د خپلواکۍ د دې نشتوالي يوه نتيجه د مسووليتونو په ټکر کې راتلل شول، په ځانګړې توګه د CAO او د ماليې د وزارت ترمنځ. برسېره پر دې، سيګار معلومه کړه چې د CAO مشکل محدود ظرفيت دی، په ګډون د مستعدو پلټونکو د نشتوالي.[158] د نورو معلوماتو لپاره وګورئ د سيګار پلټنه 8-10، "د افغانستان د کنټرول او پلټنې دفتر د فعاليت او بوديجې خپلواکۍ، پراخه واک او د پام وړ نړيواله مرسته غواړي چې په اغېزمن ډول د فساد مخه ونيسي او معلوم يې کړي."

## د سپټمبر 2010 ټولټاکنې

د ولسي جرګې ټولټاکنې، چې ټاکل شوې د سپتمبر 2010 په 18مه نېټه ترسره شي، به د طالبانو له غورځېدو وروسته د دې نوعيت دويمې ټولټاکنې وي؛ لومړنۍ ټولټاکنې په 2005 کې شوې وې.[159] د بهرنيو چارو وزارت د دې ټولټاکنو پر مهال امنيت د تر ټولو سترې انديښنې په توګه پېژندلی؛ داسې امنيتي پېښې چې رايه ورکوونکيو ته تهديد پکې شامل دی. ايساف د امنيتي مسلې لپاره د افغان دولت سره له نږدې کار کوي.[160] په اپريل 2010 کې، د ټولټاکنو په تيارئ کې، د افغانستان د ټولټاکنو خپلواک کميسيون د چارو وختونه خپاره کړل. انځور 3.26 هغه چارې ښکاره کوي چې په دې درې مياشتنۍ کې بشپړې شوي. انځور 3.26 په دې درې مياشتنۍ کې بشپړې شوي واقعي ښکاروي.

## د ټولټاکنو مرسته

د بهرنیو چارو وزارت له مخې، د جون 30، 2010 سره سم، د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون اټکل کړی چې د 2010 ټولټاکنې به شاوخوا 120 ملیونه ډالر لګښت ولري.[161] په دې درې میاشتنی کې، د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړ چې د ملګرو ملتونو پرمختیايي پروګرام (UNDP) د 2010 د ټولټاکنو لپاره د تېر کال د ټولټاکنو د بودیجې نه 27 ملیونه ډالر پاتې کړي.[162] په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي راپور ورکړی چې UNDP پلان لري د ټولټاکنو مرسته د افغانستان د انتخابي چاروکیو د اساسي ملاتړ لپاره وکاروي.[163]

متحده ایالاتو USAID ته د ټولټاکنو د ملاتړ لپاره اتیا ملیونه ډالر ورکړي دي.[164] د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړی چې د USAID د ټولټاکنو بودیجې د دوو پروګرامونو ترمنځ ویشل شوي: د انتخابي پروسې د ملاتړ پروګرام او انتخابي سیستمونو لپاره نړیوال بنیاد (IFES).[165] په 2019 کې، IFES د انتخاباتو د شکایتونو د کمیسیون (ECC) سره د ظرفیت په لوړولو کې مرسته کوي.[166]

د بهرنیو چارو وزارت له مخې، د راتلونکیو ټولټاکنو په تیاري کې IEC څرګنده کړې چې دی د USAID او نړیوالو ډلو څخه زده کړې ده. دا پوهه به IEC په دې وتوانوي چې خپل فعالیتونه په لا زیاته خپلواکه توګه ترسره کړي؛ خو، د بهرنیو چارو وزارت یادونه کړې چې دا ګرانه ده چې د IEC ظرفیت پیمانه شي ځکه په دې خبره د پوهېدو کومه طریقه نشته چې نوې IEC به د ټولټاکنو سیاسي فشار ته څرنګه ځواب ووایي.[167]

**د انتخابي پروسې د پروګرام لپاره د USAID مرسته د IEC د ظرفیت جوړولو ته د دې لپاره مرسته ورکوي چې د رایه ورکوونکیو د راجسترۍ او د انتخابي پروسې مشروعیت یقیني کړي.**

**انتخابي سیستمونو لپاره د نړیوال بنیاد د پروګرام هدف په افغان ټولنه کې داسې قوه جوړول دي چې سیاسي او انتخابي پروسې، که هر څومره کوچنۍ وي، پر مخ بوځي او د بدلون ارمانونه په منظم، سوله ییز، او مشروع اقدام کې بدل کړي.**

سرچینې: ، "د انتخابي پروسې لپاره مرسته،" آنلاین وکتل شو په 7/19/2010؛ IFES، "افغانستان مختصر،" آنلاین وکتل شو په 7/19/2010.

انځور 3.26

### د ولسي جرګې د ټاکنو مهال ویش، 2010




سرچینه: د ټاکنو خپلواک کمیسیون، "مهمي نیټې" انلاین وکتل شو 6/20/2010؛ IEC، "د ولسي جرګې د ټاکنو لپاره د نوماندانو د پیل په اړه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مطبوعاتي اعلامیه،" 2010/12/4؛ IEC، "د کاندیدانو معرفي،" 2010/17/5؛ یوناما، "د افغانستان په ختیځ کې د پارلماني ټاکنو لپاره د رايي ورکونکو ثبت کیدل په درز کې روان دی،" 2010/30/6؛ IEC، " د کاندیدانو معرفي: د ملاتړو د لیستونو کره کول،" 2010/22/5؛ IEC، "د ولسي جرګې د ټاکنو لپاره د وروستیو شمیرو او کاندیدانو د لیست اعلانولولو په اړه د IEC مطبوعاتي اعلامیه،" 2010/12/7.

## ټولټاکنو لپاره د IEC تياريانې

د جولای 2010 په 10مه، د تکراري درخواستونو، وټنو، ويستونو، او ECC لخوا د ځينې کسانو د ناوړه ګرځولو وروسته، IEC د ولسي جرګې د 249 چوکيو لپاره د کانديدانو اخري ليست خپور کړ. په دې 2556 کانديدانو کې 2150 تنه سړي او 406 ښځې شاملې دي.[168] د IEC له مخې، د کانديدانو نومول کېدل د سپتمبر 2010 د ټولټاکنو د پروسې اولنی مهم کار و.[169]

IEC د کانديدانو د نومولو د ټولو پروسيجرونو مسووليت پر غاړه لري پرته د کانديدانو د نومونو په وړاندې له چيلنجونو، کوم چې د ECC مسووليت دی. د نومول کېدو له مودې وروسته، IEC د دريو برخو يوه د تصديق پروسه پيل کړه، چې خاکه يې په چوکاټ 3.4 کې ورکړل شوې. IEC هغو کانديدانو ته خبر ورکړ چې د تصديق په پروسيجرونو کې بريالي نه شول او دا يې د ويستل کېدو سبب شو؛ دغه کانديدان خپل چيلنجونه ECC ته وړاندې کولی شي.[170]

IEC د کانديدانو په اخري ليست کې ډېر هغه نومانداني شامل کړل چې په پيل کې ايستل شوي ول. د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړي استازي د کتونکو کمېټو په دې پرېکړه ناهيلي څرګنده کړه چې ډېرو دې کانديدانو ته يې اجازه ورکړه، او وې ويل چې "د شاليد د کتلو پروسې تراوسه پورې د ډاډ وړ نتايج ندي ورکړي."[171]

## د محلي دولت پراخول

د متحده ايالاتو د سفير کارل ايکنبري له مخې، د مۍ 10، 2010 سره سم، په افغانستان کې د متحده ايالاتو د ملکي ماهرانو حضور تر 1000 تنو هم لوړ شوی دی – چې دا د تېر کال په نسبت درې برابره زيات شمېر دی. په دې ملکي پرسونل کې شامل دي ډيپلوماتان، پرمختيايي متخصصين، او زراعتي ماهران. سفير ايکنبري راپور ورکړی چې په کابل کې د متحده ايالاتو سفارت کې د دې لپاره کار شوی چې په افغانستان کې د متحده ايالاتو د ملکي ادارو او قانون نافذونکو اجنټانو ترمنځ انسجام ته پراختيا ورکړي.[172]

د متحده ايالاتو د سفير کارل ايکنبري له مخې، په 2010 کې د متحده ايالاتو حکومت او افغان دولت دواړه د محلي حکومت په پروګرامونو تمرکز کوي. د متحده ايالاتو حکومت د هغو پروګرامونو له

د ملي شورا لپاره ور کانديدان بايد پر لاندې شرطونو پوره وي، چې دا د افغانستان د اساسي قانون او انتخابي قانون لخوا ټاکل شوي:

- د افغانستان د اسلامي جمهوريت تبع به وي
- په کوم جرم به نه وي محکوم شوی، په ګډون د بشريت پر ضد جرمونو
- د کانديدی په ورځ به لږ تر لږه 25 کلن وي
- د رايي ورکولو لپاره به راجستر شوی وي

سرچينه: IEC، "د کانديدانو نومول کېدل،" 5/17/2010.

چوکاټ 3.4

**د IEC د تصديق پروسيجرونه، د 2010 ټولټاکنې**

| قدم | پوره شوي کامونه |
|---|---|
| لاسي تصديق | په کابل کې د IEC د مرکز ټيمونو د ټاپو شمير (لږ تر لږه 67)، د لاسليکونو شمير (لږ تر لږه 1000)، او د ريکارډ بشپړتيا وکتله. ټيمونو د دوکې نښې هم وکتلې، په ګډون د يوې پاڼې په ترتيب سره د لسو نه زياتې د ثبتونې شميرې او يا يو شان ښکاره کيدونکي لاسليکونه او ګوتې. |
| د ډاټابيس تصديق | دې ټولټاکنو کې د نومونو لپاره تر 3 مليونو زيات لاسليکونه او تر دوه لکو زياتې پاڼې داخل کړای شوي وې. IEC د هر درخواست ورکوونکي د 10% پلويانو د تصديق پلټنه وکړه. پلويان د IEC د رايو د راجسترۍ د ريکارډ د ډاټابيس سره کتل شوي ول؛ دا لومړی ځل و چې دا ډاټابيس په دومره لويه کچه وکارول شو. |
| اخري تصديق | IEC هر درخواست د دې لپاره وکوت چې وګوري د کتنې اولنې دوه قدمونه په صحيح توګه ترسره شوي دي. په دې پړاو کې IEC يا خو درخواست ورکوونکی د کانديدی لپاره منظور کړ او يا يې د هغه درخواست د IEC د کمشنرانو پلاوي ته واستاوه. |

سرچينه: IEC، "د کانديدانو نومول کېدل: د پلويانو د ليستونو تصديق،" 5/22/2010.

لارې محلي مرسته ورکوي چې د ولایتي بیا رغونې د ټیمونو (PRTs) او د ولسوالی د ملاتړ د ټیمونو (DSTs) لخوا اداره کېږي، چې دا دواړه ګډې ملکي-نظامي هڅې دي.[173]

"د دې لپاره چې امنیت او ثبات ته پراختیا ورکړي، په مېدان کې زمونږ ملکي-نظامي ټیمونه د کار-لپاره-نغدې پروګرامونه په کار اچوي چې د روزګار مواقع برابر کړي، د کلیو اقتصاد پر مخ بوځي، او د دښمن په مقابل کې یو زړه راکښونکی بدیل وښیي. خو ثبات باید د عجلتونو د دوامدارې پرمختیا سره په توازن وي."

د متحده ایالاتو سفیر
کارل ډبلیو. ایکنبري

## د ولایتي بیا رغونې ټیمونه

د ولایتي بیا رغونې ټیمونه په ولایتونو کې د امنیت د بهترولو، د افغان دولت د اداري د بهترولو، او د بیا رغونې د هڅو د منسجمولو لپاره کار کوي. USAID د ولایتي بیا رغونې د ټیمونو د پروګرام په عمومي کتنه کې دا د کابل نه بهر، په ځانګړې توګه په ناثباته ولایتونو کې، د متحده ایالاتو او نړیوال بهرني کومک د رسولو د اساسي ذریعې په توګه تشریح کوي.[174]

د ایساف له مخې، په افغانستان کې د ولایتي بیا رغونې 27 ټیمونه کار کوي. دیارلس یې د متحده ایالاتو د واک د لاندې دي، په ګډون د ارزګان د ولایتي بیا رغونې د ټیم، کوم چې تر دې مخکې د هالنډ لخوا اداره کېده.[175] د دې لپاره چې د هالنډي پرسونل د وتلو ځای ډک کړي، د پروان د ولایتي بیا رغونې د ټیم نه د متحده ایالاتو پرسونل ارزګان ته لېږدول شوی.[176] په تېر وخت کې، استرالیا د ارزګان د ولایتي بیا رغونې ټیم ته نظامي کومک ورکړی و؛ خو، کله چې هالنډ اعلان وکړ چې د 2010 تر پای به خپل ټول عسکر وباسي، نو استرالیا اعلان وکړ چې دا به په پي ار ټي کې د ټاکلو لپاره اضافي عسکر ونه لېږي.[177]

د 2010 د جولای په 1 نېټه، د پروان د پي ار ټي کنټرول په رسمي توګه د متحده ایالاتو څخه د کوریا جمهوریت ته انتقال کړای شو.[178] نور ملتونه چې د پي ار ټیمونو مسوولیتونه په غاړه لري کاناډا، د چیک جمهوریت، المان، هنګري، ایټالیه، لیتهوانیا، نیوزیلانډ، ناروی، سپین، سویډن، او برتانیه دي.[179]

## د ولسوالیو د ملاتړ ټیمونه

د ایساف له مخې، د ډي ایس ټي د پروګرام یو اساسي هدف د پي ار ټي د هڅو د ولسوالی په کچه مرسته کول دي؛ د ډي ایس ټي د پروګرامونو هدف د ولسوالی په کچه د افغان دولت د ظرفیت جوړول دي.[180] د ایساف په ایډیال ډي ایس ټي کې به شامل وي یوه نظامي ډله او درې ملکیان، یو یو د USAID، د بهرنیو چارو وزارت، د او د زراعت د وزارت څخه. په ډي ایس ټیمونو کې ملکیان د 12 نه تر 18 میاشتو ټاکل کېږي، چې د ولسوالی د کچې چارواکیو سره اړیکې جوړې کړي.[181]

ډي ایس ټیمونه محلي دولتداری لپاره د افغانستان د خپلواک ریاست سره یو ځای کار کوي چې د ولسوالی د خدمت رسولو پروګرام تطبیق کړي، د کوم هدف چې د هېواد د 364 ولسوالیو نه په 80 ولسوالیو کې د دولتي خدمتونو بهترول دي. دا 80 ولسوالی چې د افغانستان په جنوب کې پرې کار کېږي د 2010 د یاغیتوب ضد کمپاین د پاملرنې لپاره دي.[182]

## په عامه اداره کې اصلاحات

متحده ایالاتو خپلې مرستې د دې لپاره په لاره اچولې چې افغان دولت سره د دې د ادارو او سرچینو په جوړولو کې کومک وکړي.[183] دا برخه د دغو ادارو او د هغوی د ظرفیت د لوړولو لپاره د افغان دولت د پرمختګ په اړه معلومات وړاندې کوي.

په دې درې میاشتنی کې د افغانستان د ملکي خدمت کمیسیون په دې باندې کار وکړ چې د افغانستان دولتي چوکی په لا واضح ډول تعریف کړي. دولتي چوکی اوس مشخص تشریحات، د کاري وړتیا معیار، او د معاش او بونس معیار لري؛ نور رسمي پروسیجرونه هم جوړ شوي دي.[184]

## د ولسمشر کابينه

له هغه وخته چې ولسمشر کرزی بيا انتخاب شوی، هغه کابينې لپاره د خپلو نوماندانو د ولسي جرګې څخه د منظورولو په لړ کې د مشکلاتو سره مخ شوی دی.[185] په دې درې مياشتنۍ کې ولسي جرګې د کابينې د اوو اضافي چوکيو ټاکنې تاييد کړې.[186] د بهرنيو چارو وزارت له مخې، د جون 30، 2010 سره سم، د لاندې وزارتونو لپاره مستقلې ټاکنې تراوسه هم ندي ترسره شوي:[187]

- مخابرات او تکنالوژي
- لوړې زده کړې
- عامه روغتيا
- ترانسپورټ
- ښاري پراختيا
- اوبه او انرژي
- د ښځو چارې

جون کې د سولې پر جرګه له بريدونو وروسته، ولسمشر کرزي د کورنيو چارو د وزير او د ملي امنيت د رييس استعفاوې ومنلې.[188] د کورنيو چارو لپاره نوی وزير په وخت وټاکل شو تر څو د 2010 د جولای په 20مه د کابل د کنفرانس لپاره د امنيت انتظام وکړي.[189]

## ملي شورا

د ولسي جرګې غړي د عامه ټولټاکنو له لارې انتخابيږي. د مشرانو د جرګې دوه-دريمه برخه غړي د ولايتي شوراګانو لخوا غوره کيږي، او يو-دريمه د افغان ولسمشر لخوا ټاکل کيږي. لدې امله، په جون کې د کانګرس د تحقيقي خدمت د يو راپور له مخې، د دې احتمال زيات دی چې مشرانو جرګه اکثر د ولسمشر د قانون سازۍ اهداف منظور کړي.[190]

په دې درې مياشتنۍ کې، د بهرنيو چارو وزارت خبر ورکړی چې د ملي شورا قوت د افغان ولسمشر د ځواک په تړاو زيات شوی دی.[191] د بيلګې په توګه، په تېره درې مياشتنۍ کې ولسي جرګې په انتخابي قانون کې د ولسمشر بدلون رد کړ، چې د ولسمشر د دفتر څخه يې د هغوی جلاتوب وښود. (د مشرانو جرګې په داسې حال کې چې په دغه مسله يې کومه رايه ګيرې نه وه کړې د بدل شوي قانون څخه يې دفاع وکړه).[192]

د بهرنيو چارو وزارت خبر ورکړی چې ملي شورا د قوت له زياتېدو سره بيا هم د ضعيف ظرفيت له ستونزې سره مخ ده. دواړه جرګې د کورم (قانون سازۍ لپاره د پوره غړيو د حضور) په پوره کولو کې د مشکل سره مخ وې او د قانون سازۍ رفتار يې ورو دی. د بهرنيو چارو وزارت دا خبر هم ورکړی چې لدې امله چې ملي شورا منظم سياسي ګوندونه نلري، دا د خپلې اجنډا په تنظيمولو کې کوښښ ته اړتيا لري.[193]

**د افغانستان ملي شورا دوه جرګې لري:**

- د مشرانو جرګه، چې د سنا په نامه هم پېژندل کيږي
- ولسي جرګه، چې د پارلمان په نامه هم پېژندل کيږي

سرچينه: CRS، "افغانستان: له طالبانو وروسته دولتداري، امنيت، او د متحده ايالاتو پاليسي،" 6/7/2010، مخ 13.

## د افغانستان د پارليماني مرستې پروګرام

متحده اياالات ملي شورا ته د افغانستان د پارليماني مرستې د پروګرام (APAP) چې د نيو يارک ريسرچ فاونډيشن د ستيټ يونيورستي لخوا USAID سره د يو قرارداد د لاندې تطبيقيږي، له لارې مرسته کوي.[194] د USAID له مخې، د دې پروګرام هدف د ملي شورا د اداري، تخنيکي او سياسي ظرفيت لوړول دي.[195] دا پروګرام د ملي شورا سره مرسته کوي چې د ظرفيت د پراختيا لپاره د پاليسۍ اسناد

جوړ کړي. د بیلګې په توګه، APAP د ملي شورا د عملي سره مرسته کوي چې د پارلیمان په قواعدو کې د ګډو مقاصدو بدلون وکړي:[196]

- چې د ملي شورا د غړیو د چلند د ارزولو لپاره د چلند د معلوملو معیاري پیمانې جوړې کړي
- چې د ملي شورا غړیو ته داسې مواد ورکړي چې د ورکړل شویو وظیفو د کاري وړتیا د ارزولو لپاره لارښودنې برابرې کړي
- چې د نامناسب چلند په وړاندې معیاري غبرګونونه جوړ کړي
- چې عامو خلکو ته دا باور ورکړي چې د هغوی استازي په مسلکي طریقه کار کوي

APAP ملي شورا سره د پارلیمان د نظارت د ستراتیژۍ په جوړولو کې هم مرسته کوي، د کومې مرام چې د نظارت د ترسره کولو لپاره د شورا د عملي لارښودنه کول دي. برسېره پر دې، دا پروګرام د ملي شورا لپاره د بودیجې لارښودنه، تخنیکي مرسته، او د عامه معلوماتو مرسته برابروي، په ګډون د راډیويي نشریاتو، د وېبپاڼې جوړولو، او جنس سره تړلو مسلو ملاتړ.[197]

## د افغان دولت د ظرفیت د پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو مرسته

په 2010 کې، متحده ایالاتو د افغان ادارو او سرچینو سره خپل ارتباط زیات کړی دی، د دې لپاره چې د افغان دولت ظرفیت داسې جوړ کړي چې د افغانانو اړتیاوې پوره کړي.[198] داسې پروګرامونه لکه د کاري وړتیا پر بنسټ د والیانو بودیجه او د افغانستان د ښاروالۍ د پیاوړي کولو پروګرام د همدې ظرفیت د جوړولو لپاره کار کوي.[199]

### د کاري وړتیا پر بنسټ د والیانو بودیجه

لکه چې د سیګار د اپریل په درې میاشتني راپور کې یې تشریح شوي، د کاري وړتیا پر بنسټ د والیانو بودیجه یکې ګډون کوونکیو والیانو ته د هغوی د فعالیتي بودیجې د ورکولو لپاره د ولایتي ادارو د څواک د پراخولو لپاره کار کوي. د USAID له مخې، دا بودیجې نېغ په نېغه والیانو ته نه لیږدول کېږي. د دې په ځای، والیان د بودیجې لارښودنې ورکوي چې پیسې باید چېرته ولګول شي، او د USAID تطبیقوونکي شریکوال دغه پیسې مناسبې ډلې ته ورکوي.[200]

په دې بودیجو سره، والیان کولای شي هغه عامه خدمتونه ورسوي چې ورته اړتیا وي، چې دا کار به د ولایتونو د اوسېدونکیو سره د هغوی اړیکې قوي کړي.[201] په دې درې میاشتنۍ کې، USAID راپور ورکړی چې د ټولو 34 ولایتونو والیانو د کاري وړتیا پر بنسټ د والیانو د بودیجې څخه بودیجې ترلاسه کړې دي. په مارچ 2010 کې د اولنیو پیسو ورکولو راهیسې، ولایتي والیانو د موجودو 2.55 ملیونه ډالرو څخه تقریباً 1.71 ملیونه ډالر لګولي دي – شاوخوا 67%.[202]

### د افغانستان د ښاروالۍ د پیاوړي کولو پروګرام

د USAID له مخې، د افغانستان د ښاروالۍ د پیاوړي کولو د پروګرام په ټول هېواد کې د ښاروالیو د ظرفیت جوړول دي. د دې ښارونو دننه، د دې پروګرام تمرکز د خدمتونو په پراخولو دی، په ګډون د اوبو او برېښنا د سمبالښت، نالیو، خوندي سړکونو، او د ځوانانو د فعالیتونو.[203]

USAID خبر ورکړی چې د 2010 د جون په 10مه، دې پروګرام لپاره نوي قراردادونه د ایساف په سیمییزه قوماندې جنوب او سیمییزه قوماندې ختیځ کې لاسلیک شوي دي. د جون 30 سره سم، USAID راپور ورکړی چې سیمییزې قوماندې محلي دولتدارۍ لپاره د افغانستان د خپلواک ریاست سره د دې لپاره کار کوي چې دا خبره معلومه کړي چې کومې ښاروالۍ باید هدف او پروګرام کله پیل کړای شي.[204]

د جون 30، 2010 سره سم، په سيمييزه قومانده شمال او سيمييزه قومانده لويديځ کې د ښاروالۍ پروګرام په ترلاسه کولو کې دی. د USAID له مخې، د ښاروالۍ د پياوړي کولو نوی پروګرام ژمن دی چې د 33 ولايتونو په مرکزونو کې کار وکړي. کابل ترې مستثنی دی: د کابل ښاروالۍ به خپل پروګرام ولري، کوم چې به د جون 30 سره سم په ترلاسه کېدو کې وي.[205]

د ښاروالۍ د پياوړي کولو پر اصلي قرارداد وخت تېر شوی دی.[206] USAID راپور ورکړی چې د دغه پروګرام د 12 ولسواليو لپاره به ټول پروګرام جوړېدل د 2010 د اګست په 31مه بند شي. اصلي پروګرام يوازې په هغو ښارونو کې فعال و چې په سيمييزه قومانده جنوب او سيمييزه قومانده ختيځ کې ول.[207]

## عدالتي اصلاحات او د قانون حاکميت

د افغانستان په عدلي سيسټم کې د افغانستان د مجازاتو سيسټم او د محکمو سيسټم شامل دي، چې دا دواړه د متحده ايالاتو په ګډون د نړيوالو مرستندويانو څخه مرسته ترلاسه کوي. ولسمشر اوباما سره په خپل ګډ بيان کې ولسمشر کرزي افغانستان کې د رسمي عدلي سيسټم د بهترولو پر اهميت تاکيد وکړ. هغه ژمنه وکړه چې اداري فساد سره د مبارزې او د افغان دولت د پياوړي کولو د ذريعې په توګه به د عدلي سيسټم ظرفيت او ورته لاسرسی زيات کړي.[208]

د بهرنيو چارو وزارت په يو راپور کې چې په دې درې مياشتنی کې خپور شوی ويلي چې متحده ايالاتو په 2010 کې د غير رسمي عدلي سکټور سره هم مرسته زياته کړې ده.[209] د IWA د سروې راپور چې په دې درې مياشتنی کې خپور شوی ښيي چې افغانان په رسمي عدلي سيسټم باندې محدود باور لري. د دې سروې راپور له مخې، اداري فساد 50% کورنی د دې نه منع کړي چې خپلې حقوقي مسلې د رسمي عدلي سيسټم له لارې حل کړي. نتيجتاً، دا کورنی غير رسمي چينلونو ته ورغلي، چې په هغوی کې محلي شوراګانې او ملايان هم شامل دي.[210]

د بې سوادۍ او کورنۍ والي له امله، ډېر افغانان خپل هغه قانوني حقونه نه پېژني چې د هغوی په اساسي قانون کې ورکړل شوي دي.

سرچينه: د سيګار د ارزوني پوښتنې ته د INL ځواب، 7/20/2010.

**شورا:** په يوه ټولنه کې د مشرانو مشورتي غونډه
**ملا:** مذهبي مشر چې ديني او د اسلامي قانون زده کړې يې ترسره کړې وي

سرچينه: IWA، "د اداري فساد په اړه د افغانانو سوچ او تجربې: يوه ملي سروې 2010،" 7/7/2010، مخ 12.

### د محکمې سيسټم

د INL له مخې د افغانستان د محکمې سيسټم د متحده ايالاتو د هغې نه ډېر بدل دی، ځکه چې د دې بنسټ د عامه قانون په ځای پر ملکي قانون دی. د افغانستان اساسي قانون، د کوم بنسټ چې پر ديني مفکوره دی، وايي چې هيڅ سيکولر قانون د اسلامي قانون سره په ټکر کې نشي کېدلای. INL راپور ورکړی چې د افغانستان عدلي سيسټم عموماً مجرم ته د جزا ورکولو په ځای قرباني ته د جريمې ورکولو ته لومړيتوب ورکوي.[211]

برعکس د متحده ايالاتو چې ايالتياو مرکزي محکمې لري، افغانستان يوازې يو د ملي محکمې سيسټم لري. دا درې درجې لري: ابتدايي محکمې، د استيناف محکمې، او ستره محکمه. د INL له مخې، ستره محکمه د محکمو د سيسټم رهبري کوي؛ خو، د "سترې محکمې" اصطلاح په افغانستان کې ډېرې ماناوې لرلای شي:[212]

- لدې امله چې افغانستان يو ملي سيسټم لري، د افغانستان د محکمې د سيسټم دننه ټول قاضيان د قاضي القضات لپاره کار کوي او په دې سبب د سترې محکمې غړي ګڼل کيدای شي. په دې تعريف، کوم چې د بهرنيو چارو وزارت لخوا "د بشري حقونو د چارو په اړه د 2008 د هيواد په راپور" کې کارول شوی، افغانستان د جون 30، 2010 سره سم د سترې محکمې 1531 قاضيان لري.




د ستري محکمې غړي په جون کې د دوامداره قانوني زده کړې لپاره د جلال اباد د محکمې په ودانۍ کې جمع شوي. دا ډول زده کړې د قاضیانو او وکیلانو سره مرسته کوي چې د افغانستان په قانون کې له وروستیو بدلونونو خبر واوسي. (د متحده ایالاتو د پوځ انځور، ریچرډ ډانیلز)

"دې اداري لپاره په افغانستان کې د اداري فساد سره مبارزه او د قانون د حاکمیت ملاتړ لوړ لومړیتوبونه دي، او مونږ به د یو داسې اغېزمن جنایي عدالتي سیستم په جوړولو او دایم ساتلو کې د افغان دولت سره مرستې ته ادامه ورکړو چې افغانانو ته پکې حقونه ورکړل شوي وي."

د متحده ایالاتو لوی څارنوال
ایرک هولډر

سرچینه: د متحده ایالاتو د کابل سفارت، "لوی څارنوال افغانستان ته د متحده ایالاتو او افغانستان د چارواکیو سره لیدلو لپاره افغانستان ته سفر وکړ،" 6/30/2010.

- لدې امله چې د محکمې په یوه قضیه کې بشکیل هره غاړه استیناف ته تللی شي، ستره محکمه دومره کافي قاضیان په کار اچوي چې د سیستم دننه د استیناف په غټه اندازه درخواستونو کار وکړي. په دې تعریف، کوم چې د بهرنیو چارو وزارت لخوا د 2009 د بشري حقونو په راپور کې کارول شوی، د ستري محکمې 77 قاضیان دي، چې په هغوی کې 7 ښځې دي.
- د افغانستان د لوړې درجې ستره محکمه قضیې اوري او په ټول هیواد کې د ټولو قاضیانو د اداري مقام په توګه کار کوي. په دې تعریف، د ستري محکمې 9 قاضیان دي.

په پرتله د هغو نورو هېوادونو چې د سیستمونو بنسټ یې پر ملکي قانون دی، افغانستان په دې کې ناشنا دی چې تحقیقي قاضیان نلري. د دې په ځای دا تحقیقي څارنوالان لري کوم چې د محکمې له نظارت پرته د حاضرولو پیاوړی ځواک لري. د جون 30، 2010 سره سم، د محکمې په سیستم کې 2421 څارنوالان دي، چې د 2009 نه پکې شاوخوا 336 څارنوالان زیات شوي دي. په افغانستان کې شاوخوا 970 دفاعي څارنوالان هم شته، چې د 2009 نه یې په شمېر کې یو-دریمه برخه زیاتوالی راغلی دی.[213]

## د جزایي اجراآتو قانون

د INL له مخې، په 2010 کې د جنایي اجراآتو قانون (CPC) د بهتری لپاره هیڅ تګلارې ندي جوړې شوې. هر څو که ټاکل شوې وه چې په 2009 کې به د دې بیا کتنه کېږي، خو د تازه CPC خپرول د دې لپاره ځنډول شوي تر څو د نړیوالې ټولنې ماهران یې وګوري او پر مسوده یې تبصرې وکړي. INL راپور ورکړی چې د دې خپراوي د ځنډېدو یو لامل دا هم دی چې د فساد ضد قوانین د لوړو لومړیتوبونو څخه شول. تراوسه دا څرګنده نده چې د عدلیې وزارت به کله دا تازه کړي؛ خو، وزیر اوس مهال د CPC مسوده ګوري.[214]

## د متحده ایالاتو لخوا د عدلي سکټور د ملاتړ پروګرام

JSSP په 2005 کې جوړ شوی او تمرکز یې پر دې دی چې د افغانستان په جنایي عدلي سیستم کې د ادارو ظرفیت پراخ او پیاوړی کړي. دا پروګرام د دفاعي څارنوالانو او د جنایي عدلي سیستم د نورو خلکو ترمنځ د انسجام د پیاوړي کولو مرسته هم کوي.[215]

د جون 30، 2010 سره سم، د JSSP 77 وکیلان په افغانستان کې کار کوي – 38 افغانان او 39 امریکایان. د INL، کومه چې دې پروګرام ته بودیجه ورکوي، له مخې JSSP په دې درې میاشتنی کې یو نوی هدف امر ترلاسه کړی. د دې هدف امر د بودیجې سره، INL پلان لري چې د 2010 تر منې پورې 81 وکیلان زیات کړي – 55 افغانان او 26 امریکایان.[216]

په جون 2010 کې، JSSP په لوګر ولایت کې یو ولایتي عدلي کنفرانس جوړ کړ، دا د هغو کنفرانسونو د لړۍ څخه یو و چې د کابل د عدلي سیستم لوړې څېرې پکې د ولایتي عدلي مشرانو سره د دې لپاره کار کوي چې د دغه ولایت د عدلي سیستم اړتیاوې وپېژني او لومړیتوب ورکړي.[217] د عدلي سیستم شاوخوا 75 غړیو د لوګر په کنفرانس کې ګډون وکړ.[218] INL راپور ورکړی چې دوی دا ولایتي کنفرانسونه په هغو ولایتونو کې جوړوي چیرته چې دوی مستقل حضور نلري.[219]

د متحده ایالاتو د مجازاتو د ملاتړ پروګرام

**(CSSP) د متحده ایالاتو هغه اساسي پروګرام دی چې د افغانستان د مجازاتو د سیستم سره مرسته کوي. CSSP د INL لخوا اداره کېږي او دا نبغ په نېغه د افغانستان د زندانونو د مرکزي ریاست سره کار کوي چې د زندانونو په سیستم کې د ژوند او کار معیارونه بهتر کړي.**

سرچینه: INL، "د افغانستان د پروګرام عمومي کتنه: CSSP،" آنلاین وکتل شو په 7/7/2010.

## د محابسو او د مجازاتو په سیستم کې اصلاحات

ولسمشر کرزي سره په خپل ګډ بیان کې، ولسمشر اوباما د متحده ایالاتو دا ژمنتیا بیا تایید کړه چې د متحده ایالاتو تر انتظام لاندې بندیخانې به د افغان دولت واک ته لېږدول پیل کړي. لومړنی انتقال، په پروان کې، د جنورې 2011 لپاره ټاکل شوی. د دې ګډ بیان له مخې، د افغانستان واک ته د بندیخانو بریالی انتقال به د ولسمشر کرزي د افتتاحي وینا د هغې ژمنې په پوره کولو کې مهمه وي چې ویلي یې ول د بندیخانو بشپړ مسوولیت به ترلاسه کړي.[220]

د جون 30، 2010 سره سم، په افغانستان کې ټول 17169 بندیان ول، په ګډون د هغو 15902 افرادو چې په ولایتي زندانونو کې ول (12236 محکوم قیدیان او 3639 بندیان)، او 1267 بندیان د ولسوالیو په بندیخانو کې.[221] د INL له مخې، د افغانستان د محکمو په سیستم کې په ژمنه خوشې کول نشته؛ نتیجتاً، په زندانونو کې د خلک بیخي زیات شوي دي.[222]

په افغانستان کې د مجازاتو سیستم د دوه ډوله بندیخانو نه جوړ دی: بندیخانې او زندانونه. د کورنیو چارو د وزارت بندیخانې د افغان ملي پولیسو لخوا اداره کېږي. په جنایتونو تورن کسان لومړی د کورنیو چارو د وزارت په بندیخانو کې ساتل کېږي. دغه بندیان بیا د عدلیې د وزارت بندیخانو ته لېږدول کېږي چیرته چې هغوی د محاکمې لپاره انتظار باسي. که محکوم شول، نو دغه بندیان بیا د اوږدمهاله قید لپاره ولایتي زندان ته انتقالېږي؛ زندانونه هم د عدلیې د وزارت لخوا اداره کېږي.[223]

د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون (AIHRC) له مخې، ځیني وداني چې د افغانانو د بندولو او قیدولو لپاره کارول کېږي د زندانونو په توګه نه وې جوړې شوې. دې معلومه کړې چې په اوو ولایتونو کې هیڅ زندانونه یا بندیخانې بیخي ندي جوړې شوې؛ خو د دې په ځای، ولایتي ادارو وداني په کرایه اخیستي چې د دې کار لپاره یې کاروي. د زندانونو او بندیخانو لوی ریاست پلان لري چې هر کال نوي زندانونه او بندیخانې جوړې کړي، دا د دې لپاره چې د هغو عادي ودانیو شمېر کم کړي چې د دې هدف لپاره کارول کېږي.[224]

### د مجازاتو د سیستم لپاره مرسته

د متحده ایالاتو د مجازاتو د سیستم د ملاتړ د پروګرام (CSSP) له لارې د متحده ایالاتو پر ملاتړ برسېره، د افغانستان د مجازاتو د سیستم لپاره نړیواله مرسته د برتانیې، کاناډا، ایټالیې، اروپایي اتحادیې،

ملګرو ملتونو او د سره صلیب د نړیوالې کمیټې لخوا برابرېږي.[225] د نړیوالې مرستې مشخصې هڅې په دې برخه کې ښکاره کړای شوې دي.

د INL له مخې، برتانیه د ملي امنیت د ریاست په مرکزونو کې د بندیخانو چارواکیو ته ټرېننګ ورکوي.[226] په 2008 کې دې د هلمند د CDP سره په شریکه کار وکړ چې د لښکرګاه د زندان کنټرول د یاغي زندانیانو څخه بیرته ترلاسه کړي. برتانیې د لښکرګاه د زندان د تجدید لپاره هم بودیجه ورکړې، کوم چې په اکتوبر 2009 کې بشپړ شو.[227]

کاناډا د کندهار د سرپوزه زندان د تجدیدولو لپاره مرسته ورکړې او د زندان د عملې لپاره یې د ټرېننګ مواقع برابر کړي. برسېره پر دې، کاناډا د CPD د کابل مرکز ترمیم او تزیین کړی دی.[228]

ایټالیې د افغانستان د مجازاتو سیستم سره په هرات کې د ښځو د نوي زندان د جوړولو لپاره د بودیجې او ګردېز کې د بندیخانې د کوټو په جوړولو مرسته کړې. ایټالیې په کابل کې د ځوانانو د اصلاح د مرکز او د ښځینه زندان او بندیخانې د جوړولو لپاره هم بودیجه ورکړې.[229]



افغان ښځې د هرات په بندیخانه کې والیبال کوي. دغه بندیخانه تر 110 بندیانو او د هغوی د ماشومانو د ساتلو ظرفیت لري. (د یوناما انځور)

## ولایتي زندانونه

د 12263 محکومو قیدیانو نه چې په ولایتي زندانونو کې دي 11816 سړي او 417 ښځې دي. د جولای 10، 2010 سره سم، په کابل او هرات کې ولایتي زندانیانو تر ټولو زیات محکوم قیدیان لرل، لکه چې په انځور 3.27 کې ښودل شوي.[230]

په دې درې میاشتنۍ کې، CSSP د افغانستان د ثبتونو عملې ته لارښودنه وکړه او مرسته یې ورسره وکړه چې د پول چرخي او په کابل کې د ښځینه بندیخانې د زندانیانو دوسیې بیا ترتیب کړي. لدې بیا ترتیبوونې وړاندې، د زندانیانو دوسیې په زندانونو کې هر ځای ساتل کېدلې، د دوسیو د ساتلو کوم معیاري انتظام نه و. اوس په پول چرخي کې ټولې دوسیې په یو مرکزي ځای کې اېښودل کېږي، په دې توګه د روزل شوې عملې لپاره اسانېږي چې دا دوسیې په سمه توګه وساتي. دې سره دا خبره یقیني کېږي چې دا زندان اوس د ژمنو امرونه لري، د خوشې کېدو نېټې تصدیقوي، او زندانونه په دې توانوي چې د زندانیانو نورو زندانونو ته د انتقال سره سم د هغوی دوسیې هم هلته ولېږي.[231] د افغانستان په زندانونو او بندیخانو کې بندیانو سره د چلند په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د راپور په دې برخه کې د "بشري حقونه" بحث وګورئ.

انځور 3.27

په ولایتي زندانونو کې محکوم قیدیان، له جون 30، 2010 سره سم




سرچینه: INL، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010/10/7.

## د ولسوالۍ بندیخانې

د افغانستان د قانون له مخې په هره ولسوالۍ کې باید د پولیسو یوه بندیخانه وي، د کومې انتظام چې د کورنیو چارو د وزارت د لاندې د افغان ملي پولیسو په لاس کې وي. د INL له مخې، بندیان باید د پولیسو په بند کې یواځې تر 72 ساعتو پورې وي تر څو چې پولیسو د تورن د جرم په اړه څېړنه وکړي. که جرم معلوم شو، نو د بندیانو قضیې د لوی څارنوال دفتر ته د محاکمې لپاره ورکول کېږي، او بندیان د عدلیې وزارت د ولسوالۍ بندیخانې ته لېږدول کېږي.[232]

د افغانستان په قانون کې، بندیان باید د عدلیې وزارت د ولسوالۍ په بندیخانه کې یواځې تر 15 ورځو پاتې شي، هر څو که د 15 نورو ورځو غوښتنه کېدای شي. د INL له مخې، په دغه موده کې د لوی څارنوال دفتر د قضیې څېړنه کوي.[233]

د زندانونو د سیستم د بهترولو لپاره د متحده ایالاتو د مرستې تمرکز د عدلیې وزارت پر بندیخانو دی ځکه چې د زندانیانو اکثریت هلته دی او خلک پکې د کورنیو چارو د وزارت د پولیسو د بندیخانو نه زیات وي. په دې درې میاشتنۍ کې، INL راپور ورکړ چې د جون 2010 نه مخکې هیڅ سازمان د

پولیسو سره کار ندی کړی چې بندیخانې بهترې کړي. په راتلونکي کال کې INL پلان لري چې د پولیسو د بندیخانو د شرایطو ارزونه وکړي.[234]

انځور 3.28 د ټول هېواد د ولسوالیو په بندیخانو کې د بندیانو تقسیم ښیي. چیرته چې بندیخانې موجودې نه وي (لکه چې د 34 ولایتونو نه په 7 کې ده)، نو بیا بندیان عموماً په ولایتي زندانونو کې د محکومو قیدیانو سره ساتل کېږي.[235] انځور 3.29 د هغو بندیانو اندازه ښیي چې د مجرمانو سره په هغو ولایتونو کې دي چې په زندانونو کې یې د قیدیانو تر ټولو لوړه شمېره ده.

## بشري حقوق

افغانستان اوس هم د بشري حقونو په برخه کې له ننګونو سره مخ دی. د بې ځایه کېدنې د مسلو لپاره د حل لارو له موندلو برسېره، افغانان د جنسي برابرۍ او مذهبي ازادۍ د مسلو سره هم لاس او ګرېوان دي.[236] افغان دولت زندانیانو سره د چلند په برخه کې د نړیوالو معیارونو د پوره کولو سره هم د مشکل سره مخ دی.[237] دا برخه افغانستان کې د بشري حقونو د مسلو د حالت په اړه یوه عمومي کتنه وړاندې کوي.

### د مجازاتو په سیستم کې د زندانیانو سره چلند

په دې درې میاشتنۍ کې INL راپور ورکړی چې د افغانستان د زندانونو شرایط بهترېږي؛ خو، بیا هم د خرابو شرایطو په اړه ډېر راپورونه ول. د بېلګې په توګه، د بهرنیو چارو وزارت د مې 2010 په یو راپور کې ویلي چې د افغانستان د مجازاتو سیستم اوس هم بندیان د هغوی د بند د مودې له تېرېدو وروسته هم په بند کې ساتي. متحده ایالات د AIHRC سره کار کوي چې دا بندیان وپېژني او خوشې یې کړي.[238]

AIHRC په جون 2010 کې په یو راپور کې ویلي چې د افغانستان د زندان او بندیخانو ودانۍ د هغو معیارونو سره برابر ندي چې د اروپایي کمېټې لخوا یې د تشدد یا غیر انساني یا تحقیري چلند یا جزا مخنیوي کې غوښتنه کېږي، دغه قانون د زندانونو لپاره نړیوال معیارونه ټاکي. دغه کمېټه وایي چې د 5.5 متر مربع د قید کوټه د یو تن د لنډ مهاله بند لپاره په ګرانه د منلو وړ ده — او د اوږدمهاله بند لپاره نامناسب ده.[239]

د دغې کمېټې د مشورو باوجود د افغانستان د زندانونو او بندیخانو قانون د یو تن د بند لپاره د ځای مشخصه اندازه نه ښیي. دغه قانون یواځې دا خبره په واضح ډول کوي چې د عدلیې وزارت دې داسې اقدامات وکړي چې دا خبره یقیني کړي چې بندیان او محکوم قیدیان "کافي" ځای ولري.[240] AIHRC معلومه کړې چې د زندانیانو لپاره موجود ځای د هغو بندیانو او قیدیانو لپاره ناکافي دی چې په سیستم کې موجود دي.[241] لکه چې په انځور 3.30 کې ښودل شوي، ډېر ولایتي زندانونه د دې کم نه کم معیار په پوره کولو کې پاتې راغلي. په حقیقت کې، په ښودل شویو کې اوه ولایتي زندانونه داسې دي چې د یو تن لپاره ښودل شوي ځای کې یې پنځه یا زیات کسان راغونډ کړي دي.

د بندیانو د دې زیاتوالي او جمع والي له امله، ډېر زندانونه بندیان د محکومو قیدیانو نه نشي جلا کولی. د 34 نه په 24 ولایتونو کې، ځوان بندي زندانیان (د 18 نه تر 25 عمر لرونکي) د مشرانو قیدیانو نه ندي جلا شوي.[242] د AIHRC له مخې، سرې بندیان په ټولو ولایتونو کې د ښځینه بندیانو نه تر ډېره حده جلا ساتل شوي. چیرته چې ښځې جلا بندیخانې نلري، نو هغوی د سړو نه جلا بند کوټې لري. خو د کابل په زندانونو کې، د AIHRC له مخې، ځینې وختونه نارینه ساتونکي د ښځینه بندیانو د څارنې لپاره کارول کېږي.[243]

انځور 3.28

د ولسوالیو په بندیخانو کې بندیان، له 30 جون 2010 سره سم




یادونې: کابل د ولسوالیو بندیخانې نلري؛ دا ښځینه او نارینه ولایتي بندیخانې لري. له 2010/10/7 نیټې سره سم، د کابل په ښځینه زندان او بندیخانه کې 143 ښځې وي 104- محکوم شوي او 39 بندیانې. د کابل په بندیخانه کې 409 نارینه دي، چې ټول یې بندیان دي. په دې سربېره، 55 نارینه بندیان د مخدره مواد و ضد عدالتي مرکز کې ساتل کېدل.

سرچینه: INL، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010/10/7.

انځور 3.29

په ټاکل شویو ولایتي زندانونو کې بندیان، له جون 30، 2010 سره سم (سلنه)




سرچینه: INL، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010/10/7.

د مى 2010 سره سم، متحده ایالات د داسي يو پلان د تطبيقولو په پړاوونو کي و چي داسي کوچنۍ بوديجې ورکړي چي په زندانونو کي ښځو او ماشومانو سره مرسته وکړي. تمه کېږي چي دا بوديجې به دې زندانيانو ته د مرستي د يو جامع پلان د تطبيقولو لپاره وکارول شي. په دې پلان کي به د مجازاتو د هغو افسرانو (ښځينه او نارينه) لپاره روزنه او مرسته شامله وي چي د ښځينه زندانيانو او د هغوی د ماشومانو د چارو او قضيو مسووليت پر غاړه لري.[244]

AIHRC د تخنيکي او لوژيستيکي مشکلاتو او بنديخانو ته د لاسرسي د ستونزو له امله په دې ندی توانېدلی چي د افغانستان د ټولو زندانونو او بنديخانو سيستماتيکه کتنه ترسره کړي. AIHRC ته په هره کتنه کي د معلوماتو د ورکېدو په اړه معلومه شوې، په ځانګړې توګه د ولسواليو په بنديخانو کي.[245]

## کډوال او ستنېدونکي

د 20م جولای په کابل کنفرانس کي ولسمشر کرزي پر افغان دولت او نړيواله ټولنه غږ وکړ چي افغان کډوالو سره د هغوی په "داوطلبانه، خوندي، او تدريجي ستنېدنه" کي مرسته وکړي. په دې درې مياشتنۍ کي، کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنرۍ (UNHCR) ويلي چي د 2010 له پيل راهيسي، دې د شاوخوا 85040 افغانانو سره وطن ته په ستنېدو کي مرسته کړې.[246] انځور 3.31 ګاونډيو هېوادونو نه د راستنېدونکو شمېره ښيي. راستنېدونکو سره په مرکو کي څرګنده شوې چي زياتره يې په ايران او پاکستان کي د چاراکيو لخوا ځورول شوي، او دا چي اقتصادي شرايط په دواړو هېوادونو کي بدتر شوي.[247]

انځور 3.31

### بيرته راستانه شوي افغانان، 2010




يادونه: UNHCR راپور ورکړ چي 32 نور کسان له روسيي فدراسيون او هند څخه خپل وطن ته ستانه شول.
سرچينه: UNHCR، "افغانستان ته په خپله خوښه راستنيدل،" 2010/14/7.

هر څو که ډېر افغان کډوال راستانه شوي، خو د جولای 20، 2010 سره سم UNHCR اټکل کړی چي شاوخوا 1.7 مليونه اوس هم په پاکستان کي، او تر 1.0 مليونه زيات په ايران کي دي. په ايران کي شاوخوا 97% کډوال په ښاري او يا نيم ښاري سيمو کي ژوند کوي. د کډوالو شمېره په سيمييز انفراسټرکچر اغېز کوي، په ګډون د صحي روغتيا او پوهنيزو سيستمونو.[248] د بهرنيو چارو وزارت له مخي، 2010 لپاره د UNHCR کار به راستنېدونکو لپاره د اوبو او سرپناه خدمتونه بهتر کړي. د راستنولو پروګرامونه د ټولني پر بنسټ داسي پروګرامونو باندي تمرکز کوي چي د ټولنو او نويو راستنېدونکو ترمنځ همکاری ته وده ورکړي، او د سرچينو په سر شخړه کمه کړي.[249]

د مالي کال 2010 لپاره، متحده ایالاتو راستنېدونکو لپاره د UNHCR د راستنولو د پروګرام او نورو نادولتي موسسو سره د مرستي لپاره د 37.5 مليونه ډالرو ژمنه کړې. متحده ایالات افغان کډوالو او راستنېدونکو سره د نورو اضافي نړيوالو سازمانونو، لکه د خوراک نړيوال پروګرام، له لارې هم اضافي مرسته کوي. متحده ایالات په افغانستان کي د پروګرامونو له لارې هم افغان راستنېدونکو سره مرسته کوي.[250]

انځور 3.30

## په منتخبو ولايتي زندانونو کې د زندانيانو ډيروالی، 2010: په 5.5 متره مربع ځای کې د زندانيانو شمير




يادونه: شميرې اوسط دي. د يو تن لپاره لږ تر لږه د منلو وړ ځای (5.5 متره مربع) د تشدد او غير انساني يا ناوړه چلند يا سزا د مخنيوي لپاره د اروپايي کميټي لخوا ټاکل شوی دی.
سرچينه: AIHRC، "په افغانستان کې د زندانونو او توقيف ځايونو وضعيت،" 2010/27/6، مخونه 8-7.

# په افغانستان کې د لږه کیو اواز

د افغانستان ډېر لږه کي اوس هم په خپل وطن کې د تهدید سره مخ دي. دا ښکارونه د دې درې میاشتنۍ لپاره په افغانستان کې د جنسي برابرۍ او مذهبي ازادۍ یو څرګ وړاندې کوي. دا د دې ډلو د سیاسي نمایندګۍ معاینه هم کوي.

## د جنس (جنډر) له نظره مساوات

د بهرنیو چارو وزارت له مخې، د افغان ښځو ژوند په څینو برخو کې ښه کېږي: انجونې زیات تعلیمي مواقع لري، او زیات روغتیایي مرکزونه ښځینه روغتیایي کارکوونکي په کار ګوماري چې د ښځو سره مکالمه وکړای شي. خو د بهرنیو چارو وزارت بې شکه په دې هم تاکید کوي چې داسې ډېر کار لا کول پاتې دي چې ښځو سره د سیاسي، اقتصادي، او ټولنیز قوت په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.[251] د متحده ایالاتو پروګرامونه ښځو ته په ټولو سکټورونو کې توانمندي ورکوي، په کوم کې چې په دې مهمو برخو کې د هغوی پراختیا شامله ده:[252]

- اقتصادي مواقع (په ځانګړي ډول په زراعتي سکټور کې)
- عدلي خدمتونه
- روغتیایي خدمتونه او زده کړې
- د سیاسي ګډون مواقع

متحده ایالات د کوچنیو بودیجو یو پروګرام هم اداره کوي چې هدف یې په مدني ټولنه کې د ښځو د رول پیاوړي کول دي. د مۍ 2010 سره سم، دې بودیجو د هغو ښځینه ډلو مرسته کوله چې د ښځو د حقونو د قانون سازۍ د تصویب او تنفیذ لپاره یې کار کاوه، په ګډون د پر ښځو د تشدد د ختمولو قانون. د دې بودیجو تمرکز به همدارا ز د داسې محلي دفاعي څارنوالانو، وکیلانو، او د قانون تنفیذوونکو افسرانو چې په ښځو د تشدد خلاف خصوصي ټرینګ لري په ورکولو سره د عدلي سیستم دننه د ښځو قوي کول وي. متحده ایالات همدارا ز په کابل، فاریاب، او بادغیس کې د ښځو پناه ځایونو ته هم بودیجې ورکوي.[253]

لکه چې د دې برخې په پیل کې پرې بحث شوی، افغان دولت او نړیواله ټولنه په 2010 کې پر بیاخپلونه تاکید کوي. د دې لپاره چې د بیاخپلونې د شرایطو سره برابر شي، پخواني یاغیان باید اساسي قانون ومني. دې درې میاشتنۍ کې سفیر هالبروک په یوه بیان کې په دې خبره تاکید وکړ چې یاغیان باید اساسي قانون بشپړ ومني، په ځانګړې توګه د بشري حقونو او د ښځو د برابرۍ تحفظ. لکه چې هالبروک ویلي، "په دې اخري نکته زمونږ دریځ واضح دی. د افغانانو په مشرۍ د سولې هڅې باید د هغه پرمختګ د شاته بوتللو ذریعه نشي چې افغان ښځو او انجونو له 2001 وروسته کړی دی."[254]

د 2003 نه تر 2010 کاله، کانګرس د USAID او بهرنیو چارو د هغو پروګرامونو لپاره 627 ملیونه ډالر ورکړي چې د افغان ښځو او انجونو سره مرسته وکړي. د بهرنیو چارو وزارت له مخې، دا بودیجې په دې خاطر او فکر بېلې کړای شوې وې چې د جنسي برابرۍ مسلو ته له زیاتې پاملرنې پرته به د افغانستان دا توان چې پراخه اقتصادي وده او دموکراتیکه پرمختیا ترلاسه کړي "په تېزۍ سره کمه شي." په 2010 کې، کانګرس د ښځو او انجونو لپاره 175 میلونه ډالر اضافي ورکړل.[255]

په دې درې میاشتنۍ کې سیګار د دغو جلا شویو بودیجو په اړه یوه پلټنه خپره کړه کومې چې معلومه کړې چې USAID او د بهرنیو چارو وزارت په افغانستان کې د جنسي برابرۍ په تړاو پروګرامونو د انسجام لپاره کار کړی؛ خو، د بهرنیو چارو وزارت د جلا شوي بودیجې د تاکلو یا راپور کولو لپاره لارښودنې یا معقولیتونه نه ول جوړ کړي. برسېره پر دې، د بهرنیو چارو وزارت او USAID د متحده ایالاتو د بودیجو پروګرامونه د افغانستان د ښځو لپاره د ملي اقدام د پلان د اهدافو او لایحو سره ندي وصل کړي – دغه تړون د دې لپاره مهم دی چې معلوم کړای شي د متحده ایالاتو بودیجې څرنګه د افغان ښځو او انجونو ښودل شوې اړتیاوې پوره کولای شي.[256]

## مذهبي ازادي

شاوخوا 99% افغانان ځانونه مسلمانان ګڼي – 80% سني او 19% شیعه. په پاتې 1% کې شامل دي د 500 نه تر 8000 عیسویان، شاوخوا 300 سکهان او هندوان، شاوخوا 400 بهاییان، او 1 تن چې ځان د یهودي په توګه معرفي کوي. افغانستان مسیحي یا یهودي ښوونځې نلري.[257] د بهرنیو چارو وزارت له مخې، غیر مسلمانانو لپاره مذهبي ازادي د یوې مبارزې په توګه پاتې ده، ځکه چې اوس هم د تبعیض او تهدید سره مخ دي.[258]

په دې درې میاشتنۍ کې د بهرنیو چارو وزارت خبر ورکړی چې هر څو که د افغانستان جنایي اجراآتو قانون د مذهب بدلول د جرم په توګه نه تعریفوي او د افغانستان اساسي قانون یو افغان ته د هغه جرم لپاره د جزا ورکولو څخه ممانعت کوي چې په جنایي اجراآتو قانون کې نه وي تعریف شوي، خو بیا هم دوه افغانان د مذهب د بدلولو په تور ونیول شول. خو د پینل کوډ اوله ماده وایي چې د حدودو جرمونو ته به د مذهبي قانون له مخې جزا ورکول کېږي. د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړی چې د دې مذهبي قانون د څینو تشریحاتو د لاندې د اسلام د پرېښودلو جزا مرګ دی.[259]

برسېره پر دې، د اقتصاد وزارت (کومه چې په افغانستان کې

چوکاټ 3.5

**د اقليتي او ښځينه نوماندانو د هڅولو لپاره د IEC اقدامات، 2010**

| مرستيال سازمان | فعاليت |
|---|---|
| د ښځو چارو وزارت | IEC د دې وزارت سره ډېر د لوړې کچې ملاقاتونه او تليفوني کنفرانسونه وکړل چې د ښځينه کانديدانو د ټيټې شمېرې مسله حل کړي. دې وزارت په خپلو ولايتي شبکو کې کار وکړ چې احتمالي ښځينه کانديداني وپېژني او تماس ورسره ونيسي. |
| د علماو عالي شورا، شوراګانې، او د حج وزارت | IEC د دې سازمانونو د استازيو سره وليدل، چې دوی بيا په هغو ولايتونو کې خپلو محلي ځانګو ته د نوماندۍ پيغامونه ولېږل چيرته چې د کانديدانو شمېره ټيټه وه. |
| د فرهنګ او اطلاعاتو وزارت | IEC هره ورځ په ولايتي دفترونو کې د دې وزارت د چارواکيو او غړيو سره په تماس کې و. IEC د افغانستان د ښځو د شبکې او د مدني ټولنې د ډلو سره هم په تماس کې و چې د خپلو محلي شبکو له لارې د احتمالي ښځينه نوماندانو سره تماس ونيسي. |
| د کوچيانو شورا | IEC د کوچيانو د شورا د استازيو سره ډېرې غونډې وکړې چې د کوچي کانديدانو د ټيټې شمېرې مسله حل کړي. دې استازيو ولايتي شوراګانې د دې لپاره وکارولې چې له کوچي نوماندانو سره تماس ونيسي او شوراګانې تحريک کړي چې کانديدان ونوموي. برسېره پر دې، IEC د ملي شورا د اوسنيو کوچي غړيو سره په تماس کې و چې کوچيانو څخه د ښځو د زيات ګډون لپاره اسانتيا برابره کړي. |
| د افغانستان د ځوانانو ټولنه | IEC له نږدې څخه د دې ټولنې سره په تماس کې و، کوم چې ګومان کېږي په هېواد کې په ټيټه کچه تر ټولو پياوړی ملاتړ لري. د دوی د مرستې نتيجه دا شوه چې د هغو ولايتونو څخه ډېرو ښځو نوماندانو درخواستونه ورکړل چيرته چې د هغوی استازيتوب کم و. |
| مطبوعاتي سازمانونه | له اپريل 13 نه تر مې 4، 2010 پورې هره ورځ دوه راډيويي او دوه تلويزيوني اعلانونه د څلورو تلويزيونونو او شپږو راډيويي چينلونو له لارې جوړېدل او نشرېدل. |

سرچينه: IEC، "د کانديدانو نومول کېدل: ښځينه نوماندانې،" 5/17/2010.

نادولتي سازمانونو ته اجازه ورکوي) دوه مسيحي سازمانونه وروسته له هغې لغوه کړل چې يوې افغاني رسنۍ د خلکو خپل مذهب ته په اړولو تورن کړل. که روانه څېړنه د دې سازمانونو ګناه ثابته کړي، نو هغوی به قانون نافذونکو ادارو ته سپارل کېږي. دغو سازمانونو د کوم غلط کار کولو نه انکار کړی دی او د بهرنيو چارو وزارت راپور ورکړی چې دغه سازمانونه د افغان دولت سره همکاري کوي.[260]

د بهرنيو چارو وزارت له مخې، په تېر کال کې افغان دولت د مذهبي ازادۍ د بهترولو لپاره لږ کار کړی دی. د بهرنيو چارو وزارت د دولت د دې نافعاليت لاملونه د شوروي د قبضې، خپلمنځي جګړې، د طالبانو د واک پاتې اثرات، د بهرنيانو او خارجيانو په اړه شک، او ضعيفې دموکراتيکي اداري په ګوته کړي.[261]

## سياسي نمايندګي

د 2010 د ټولټاکنو د نومول کېدو د پروسې په پيل کې، د لږه کيو او ښځينه و ګډون تر هغې لږ و چې IEC يې تمه کوله. په ځانګړې توګه په مرکزي جيګو سيمو، او په جنوب او جنوب ختيځ کې هم د دوی نماينده ګي کمه وه. د دې په ځواب کې IEC يو کمپاين پيل کړ چې خلک ګډون ته وهڅوي. د ولسي جرګې په اړه د عمومي معلوماتو خلور معلوماتپاڼې د IEC ټولو ولايتي دفترونو ته ورکړل شوې چې په ولايتي مرکزونو او نږدې ولسواليو کې يې وويشي.[262] د نورو افغان سازمانونو سره اضافي جوړ شوي پروګرامونه په چوکاټ 3.5 کې ليست شوي دي.

د بهرنيو چارو وزارت له مخې، ملي شورا لپاره د متحده ايالاتو په مرسته کې شامل دي د لږه کيو او محرومو استازيو لپاره مشخص پروګرامونه، په ځانګړې توګه د ښځو او کوچيانو لږه کيو لپاره. د متحده ايالاتو د پروګرام هدف دا دی چې دا ټولنې ډلې په هغو ټولو پرمختيايي چارو کې شاملې شي چې د ملي شورا لخوا تنظيمېږي. په مې 2010 کې د بهرنيو چارو وزارت يو راپور وويلې چې ښځې په ملي شورا کې په تسلسل سره خپل مخ پر زياتېدا ګډون ښيي.[263]

د IWA د سروې چې په دې درې مياشتنۍ کې خپره شوې له مخې، په 2009 کې 31% افغانانو د مفسدو دولتي چارواکيو سره د اړيکو د جوړولو لپاره په شريک ايتنيکي وراثت اتکا کړې ده — دا د هغو 14% افغانانو نه زياتوالی راغلی چې همدا تاکتيک يې په 2007 کې کارولی و. د دغې سروې له مخې، د ملکي ماموريتو 46% ځواب ويونکو ګومان کاوه چې ايتنيکي ملګرتيا د رشوت په راکړه ورکړه کې غالبه وه.[264]

# اقتصادي او ټولنيزه پرمختيا

په دې درې مياشتنۍ کې، د افغانستان اقتصادي شرايط بيا هم زياتره ښه شوي دي، په ګډون د اساسي کورني توليد (GDP) د کلکې ودې او د ګرانۍ د نرمې شرحې.[265] دا شرايط په يو ريکارډ جوړوونکي کال (2009/10) پسې راغلل په کوم کې چې اقتصاد (پرته له اپيمو) اټکلاً 22.5% وده کړې، دا د پيسو د نړيوالې بوديجې (IMF) د تر ټولو تازه احصاييو له مخې.[266] نړيوال بانک دا خبره ياده کړه چې دا تر ټولو لوړ کلنۍ د ودې نرخ دی چې د بيا رغونې له پيل کيدلو راهيسې ليدل شوې دی؛ تير کال ريکارډ زراعتي محصولات د دې ودې لپاره ستر محرک وه.[267]

خو په عمومي اقتصاد کې وده بې توازنه پاتې ده. د نړيوال بانک تحليلونه ښيي چې د وارداتو او نړيوالو مرستندويانو د مرستې په پرتله قانوني صادرات اوس هم کم دي.[268] په اصل کې، د افغانستان د احصاييو د مرکزي دفتر څخه د 2009\10 د اولنيو نهو مياشتو معلومات وايي چې د ټولو صادراتو (په ګډون د وچو ميوو او قالينو) ارزښت ښايي د تير کال په نسبت تر 40% غورځيدلې وي.[269] د نړيوالو مرستندويانو لخوا د پيسو بهير درې برابره تر هغې زيات شوی څومره چې په صادراتو کې کمبود راغلی.[270]

**بې توازنه وده: نړيوال بانک راپور ورکړی چې د مرستندويانو مرسته دا مهال د افغانستان د GDP شاوخوا 45% جوړوي او قانوني صادرات يې 5%.**

سرچينه: نړيوال بانک، "د نړيوال بانک د جنوبي اسيا اقتصادي حال 2010،" 6/6/2010، مخ 57.



يو افغان سوداګر خپلې افغاني قالينې ښکاروي. د کورنيو صنعتونو له نړيوالو صنعتونو سره نښلول په افغانستان کې د ثبات د ستراتيژۍ لپاره د متحده ايالاتو اصلي موخه ده. (ايساف "ولې افغانستان اهميت لري" د انځورونو سيالي، د اليدا باټا لخوا ورکړ شوي)

د 20م جولای په کابل کنفرانس کې، افغان دولت په راتلونکيو دريو کلونو کې د اقتصادي ودې او پرمختيا د تېزولو لپاره د خپلو لومړيتوبونو يو تفصيلي پلان وړاندې کړ. دې پلان هغه مهم رول پېژندلی دی چې د افغانستان معدني او هايدروکاربن سرچينې يې د ودې او عايداتو پيدا کولو د يو انجن په توګه ترسره کولای شي. د کابل د پروسې د برخې په توګه، افغان دولت د دې خبرې ارزښت هم وپېژاند چې د ودې د راوستلو لپاره د خصوصي سکټور پر پانګونه محدوديتونه لېرې کول ضروري دي. افغان دولت په يو شمېر لومړيتوبونو تاکيد وکړ، چې دا لاندې پکې شامل دي:[271]

- د افغانستان د معدني سرچينو د جوړولو لپاره د غټې کچې د چاپېريال دوست انفراسټرکچر پروژې
- يو د ملي انرژۍ د اکمال پروګرام چې د کورنۍ او وارد شوې انرژۍ مخ پر زياتېدونکی طلب پوره کړي
- د غټې کچې د اوبه خور پروژې، او همدراز د اوبو سمبالښت، د ځمکې سمبالښت، او د کليوالي انرژۍ د پرمختيا پروژې
- په ټول هيواد کې د سړکونو د جوړولو او انتظام يو پروګرام چې کروندګر د بازارونو سره په بهتره توګه وصل کړي
- يو پروګرام چې په بازار کې د طلب مهارتونو په پېژندلو او خصوصي سکټور سره د ملګرتيا کولو چې د ليک لوست، تخنيکي او مهارتي زده کړې په وړاندې کولو سره د افغان ځوانانو او ځوانو بالغانو لپاره د روزګار مواقع زيات کړي

## غټ ځرګندوونکي

دا برخه افغانستان کې دې درې مياشتنۍ کې د ودې، ګرانۍ، او بدلون د شرحې په اړه جزييات وړاندې کوي.

### د GDP\ اقتصادي وده

نړيوال بانک اټکل کړی چې د موجوده لمريز کال (مارچ 20، -2010مارچ 21، 2011) لپاره به افغانستان د GDP مثبته وده دوام وکړي؛ دا شاوخوا %8 کلنۍ عايد لري.[272] خو، د انديښنې په يوه يادونه کې نړيوال بانک اټکل کړی چې تېر کال د افغانستان صنعتي وده د هغې نه تېر کال په نسبت شاته پاتې وه. د دې اساسي دليل د افغانستان د توليد او رغونې په سکټورونو کې د ودې نسبتاً ټيټه شرحه وه.[273] د توليد او رغونې په سکټورونو کې د ودې په شرحه کې ټيټوالی د دولت د بنسټيزې بوديجې د کم لګښت سره يو ځای راغی، کوم چې په 2009\10 کې يواځې %40 ته رسېدلی و.[274] دا تېر کال افغانستان کې د نېغ په نېغه بهرنۍ پانګونې د کموالي سره هم يو ځای راغی. د اکانومسټ انټيلجنس يونټ له مخې، د ډېرو کلونو د پرله پسې ودې وروسته په افغانستان کې نېغ په نېغه بهرنۍ مرسته تېر کال %40 وغورځېدله.[275] په يوه مثبته لاره، د افغانستان د معادنو سکټور په تېرو دوو کلونو کې %30 وده کړې او تمه ده چې دا وده به په دې کال کې هم ادامه وکړي.[276]

دې درې مياشتنۍ کې ريفورم سره تړلې يوه پرمختيا کې، IMF او افغان دولت د کريډټ د غځول شوې اسانتيا د لاندې د دريو کلونو انتظام دريو مياشتو (د 2010 د سپتمبر تر 25مې پورې) په غځولو موافقه وکړه.[277] د IMF دا پروګرام افغانستان ته 120 مليونه ډالر د ټيټې بيې قرضې په دې شرط ورکوي چې مهم اقتصادي او جوړښتي ريفورمونه به تطبيقوي.[278] د IMF له مخې، د قرضې د دې پروګرام يو غټ اوږدمهاله مقصد افغانستان سره په دې کې مرسته کول دي چې د زياتو کورنيو عوايدو د راغونډولو ظرفيت جوړ کړي تر څو پر بهرنۍ مرسته خپله اتکا کمه کړای شي.[279]

په هغه خط کې چې د قرضې د دې غځولو غوښتنه يې پکې کړې، چاروکيو ويلي چې افغان دولت تمه لري چې د IMF د پروګرام د لاندې غوښتل شوي زياتره جوړښتي ريفورمونه د 2010 د جولای تر نيمايي بشپړ کړي، پرته د دې دوو:

- د رياست د ملکيت د تيلو د شرکت جامع مالي کتنه
- د سرحدونو د کنټرول لپاره د يو نوي تجارتي موډل تطبيق

چاروکيو يادونه کړې چې د دې دوو ريفورمونو تطبيق ماهرانو سره د ملاقاتونو ته د وروسته والي، تخنيکي مشکلاتو، او ورسره د ټرليو مسلو د پيچلتيا له امله ځنډول شوی دی. دې خط د افغان دولت لخوا ژمنه کړې چې دغه دوه مهم ريفورمونه به IMF سره په مذاکره شويو انتظاماتو کې شامل کړي.[280]

## ګراني

په اپريل 2010 کې، نړيوال بانک راپور ورکړ چې کله اخري معلومات په لاس کې راشي، نو دا ښايي وښيي چې افغانستان تېر کال شاوخوا – %-12 په ګرانۍ کې کموالی ليدلی.[281] په ګرانۍ کې د دې کمۍ عمده عامل د خوړو په بيو کې کموالی دی، کوم چې د هغو شيانو او خدمتونو 28% جوړوي چې د صارفينو د بيې فهرست ترې جوړ دی.[282] نړيوال بانک راپور ورکړی چې په بيو کې کموالی داسې ښکاري چې په دسمبر 2009 کې دريدلی او دا چې د خوړو بيې بيا زياتيږي.[283] د نړيوال بانک تحليل کوونکيو پيشنګويي کړې چې د ګرانۍ اوسط به په 2010\11 کې نسبتاً يو څه زيات 5% وي.[284]

## د بدلون بيه

د هغو معلوماتو له مخې چې د افغانستان بانک لخوا نړيوال بانک ته ورکړل شوي، افغانۍ د متحده اياالتو د ډالر خلاف په 2009 کې 3% (په عادي توګه) کې وخته خو وروسته بيا خپل ځای ته راغله.[285] نړيوال بانک راپور ورکړی چې افغانۍ تېر کال د نورو غټو تجارتي شريکوالو د اسعارو خلاف هم جيګه شوې وه او ارزښت يې ښه شوی ښکاري.[286] دا پرمختيا مهمه ده ځکه چې اکانومسټ انټيلجنس يونټ له مخې يوه د بيخې زيات ارزښت پيسه د صادراتو په زياتو ګرانولو او د وارداتو د کچې په زياتولو سره په کورنيو صنعتونو منفي اغېز کولای شي.[287]

## بانکداري

د نړيوال بانک له مخې، د افغانستان بانکي سکټور وده کوي او پيسې د قرضو نه په تېزۍ مخکې کېږي. د افغان دولت رسمي احصايې په دې سکټور کې کمزوري ټيټه ښيي ځکه چې په کاري وړتيا نه لرونکو قرضو کې د مارچ 2006 نه تر دسمبر 2009 کمي ادامه وکړه. خو په اپريل 2010 کې د نړيوال بانک تحليل کوونکيو د قرضو د درجه بندۍ د معيارونو په اړه د انديښنو، د نګرانۍ د ظرفيت د نشتوالي، او د شفافيت د عمومي نشتوالي له امله د افغان بانکونو د ښه والي د جاج په اړه د رسمي احصاييو په استعمال کې د احتياط غوښتنه وکړه.[288]

په دې درې مياشتنۍ کې، هيواد څخه په غټه اندازه د نغدو پيسو د وتلو په اړه د انديښنو په ځواب کې د ماليې وزير په عامه توګه د حوالې د بانکدارۍ د سيستم په اړه د يوې نړيوالې څېړنې غوښتنه وکړه.[289] تر دې وړاندې، په اپريل 2010 کې، د دفاع وزارت کانګرس ته راپور ورکړی و چې يو ګډ افغان-امريکايي ټيم په اوو داسې حواله والاو چاپه لګولې وه کوم چې ياغيانو ته د پيسو لېږدولو په کاروبار کې بوخت ول.[290] دغه راپور يادونه کړې چې د دې چاپو په نتيجه کې متحده اياالتو ګڼ شمېر ناقانونه پيسې لېږدوونکي شبکې وپېژندلې چې د ياغيانو د ډلو، د مخدره موادو د کاروباريانو، او فاسدو دولتي چاروکيو سره يې نبغ په نبغه اړيکې لرلې. په يوه اړونده هڅه کې، په جنوري 2010 کې په

د 2010 د جولای په 22 مه، د متحده اياالتو حکومت يوه موافقه لاسليک کړه چې په افغانستان د متحده اياالتو پور (180مليونه ډالر) يې 100% لغوه کړ. افغانستان ته د متحده اياالتو سفير يادونه کړې چې د پور پرېښودل مهم دي ځکه چې دا افغان دولت سره مرسته کوي چې خپلې زياتې سرچينې په هغو پروګرامونو ولګوي چې د افغانانو سره مرسته کوي.

سرچينه: د بهرنيو چارو وزات/په کابل کې د متحده اياالتو سفارت، خبري اعلاميه، "متحده اياالت، افغانستان د پور د پرېښودلو موافقه لاسليک کړه،" 7/22/2010.

**حواله:** افغانستان يو پراخ، غير رسمي مالي سيستم لري چې د حواله په نامه پېژندل کېږي، د کوم بنسټ چې د پيسو د لېږدوونکو په يوه شبکه دی چې حواله داران ورته ويل کېږي. په 2003 کې د نړيوال بانک د يوې څېړنې له مخې، له پېريو راهيسې، د حوالي تجارت کوونکيو ګڼ شمېر مالي خدمتونه برابر کړي دي په ګډون د پيسو خارج ته لېږلو، د پيسو د بدلولو، او کوچنيو مالي تجارتونو. په داسې حال کې چې د پيسو بانکي لېږدوني يوه د ثبوت ښه پرېږدي، د حوالي لېږدوني په مجهوله توګه د پيسو لېږونکي د پېژندګلوي او يا د پيسو د سرچينې له څرګندولو پرته کېدای شي.

سرچينې: : نړيوال بانک، "د کابل د پيسو بدلولو تجاران: افغانستان کې د حواله سيستم يوه څېړنه،" 6/2003، مخونه 8-1؛ د دفاع وزارت، "په افغانستان کې د امنيت او ثبات په لوري پرمختګ،" 4/2010، مخ 21.

کابل کې د پيسو بدلوونکيو د يو شرکت د دريو څانګو تالاشي واخيستل شوه.[291]

## مالي دوامداري

د افغان دولت د مالي دوامدارۍ بهترول د افغانستان او پاکستان د سيمييز ثبات د ستراتيژۍ او د کابل کنفرانس د ګډونوالو لپاره د اقتصادي پرمختيا مهم هدف دی.[292]

### د عايد راټولول

له 2006 راهيسې، افغان دولت د کورني عايد د راغونډولو د اندازې په زياتولو کې پرمختګ کړی دی. انځور 3.32 په افغانيو او ډالرو کې د 2006\7 نه تر 2009\10 پورې د افغان دولت د عايد راغونډولو يو ابتدايي، نارسمي اټکل وړاندې کوي.

په دې درې مياشتنۍ کې نړيوال بانک او نړيوالې پرمختيا لپاره د برتانيې محکمې د افغان دولت د 2010 د عامه لګښت يوه کتنه خپره کړه. هغوی معلومه کړه چې هر څو که افغان دولت د عايد راغونډول زيات کړي، خو مالي دوامداري بيا هم يو چيلنج پاتې دی.[293]

د نړيوال بانک د جنوبي اسيا د اقتصادي حال په اړه د تر ټولو اخري راپور له مخې، په 2009\10 کې د افغان دولت د عايد راغونډول د تېر کال په نسبت 53% زيات شوي دي.[294] خو په عين حال کې د نړيوال بانک د عامه لګښت کتنې معلومه کړې چې عامه لګښتونه – په ځانګړې توګه د امنيتي ځواکونو – اوس هم جيګ او د عايداتو نه زيات دي.[295] چوکاټ 3.6 د 2008\9 نه تر 2023\24 پورې د افغان ملي اردو او افغان ملي پوليسو د لګښتونو (په ملياردونو ډالرو او د کورني عايداتو د سلنې په توګه)

انځور 3.32

د کورنيو عوايدو د راغونډولو اټکل، 2006/2007 تر 2009/2010
(په مليارډونو افغانيو، ډالر په مليارډونو)




يادونه: شميرنې لومړنۍ اټکلونه دي.
45 افغانۍ = 1 ډالر
الف. حساب شوي شمير، له 4/10/2010 سره سم.
سرچينه: د ماليې وزارت؛ د افغانستان بانک.

چوکات 3.6

| د ANSF حساب شوي لګښتونه، 2008/09–2023/24 | 2008/09[الف] | 2013/14 | 2018/19 | 2023/24 |
|---|---|---|---|---|
| **د امنيتي ځواک په ترتيب لګښتونه** (په مليارډونو) | | | | |
| ملي اردو[ب] | $3.2 | $3.8 | $5.0 | $6.5 |
| ملي پوليس[ت] | $1.5 | $1.7 | $2.1 | $2.7 |
| **ټول** | **$4.7** | **$5.5** | **$7.1** | **$9.2** |
| **د عايد په نسبت لګښتونه** (سلنه) | | | | |
| د ANSF لګښتونه د افغان دولت د حساب شوي کورني عايداتو د برخې په توګه | 449% | 270% | 195% | 154% |

يادوني: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي. د فعاليت او پانګوني لګښتونه پکې شامل دي.
الف. اټکل شوی اصلي حساب.
ب. د نړيوال بانک د بشري ځواک د کچې فرضيې: د ملي اردو ځواک تر 2012/13 پورې 240000 ته لوړېږي؛ د ملي پوليسو ځواک تر 2013/14 پورې 160000 ته لوړېږي. دا د ځواکونو د هغې کچې څخه مختلف دي چې د جنوري 2010 په لندن کنفرانس کې پرې موافقه شوې وه، کوم چې تر اکتوبر 2011 پورې د ملي اردو لپاره 171600 او د ملي پوليسو لپاره 134000 ول.
ت. کوچنۍ اقتصادي فرضيې: د افغانستان د اوږدمهاله GDP ودې شرحه کلنۍ اوسط 6% دی؛ ګراني به په 2012/13 او هاخوا کې 3% زياتېږي؛ د افغان دولت کورنی عايد تر 2028/29 پورې د GDP 13% ته لوړېږي.
سرچينې: نړيوال بانک\DfID، "د افغانستان د عامه لګښت کتنه 2010: د امنيت سکټور" مخونه 24-23؛ د دفاع وزارت، "په افغانستان کې د امنيت او ثبات په لوري پرمختګ،" 4/2010، مخونه 104, 115.

حساب بنيي. د دې حسابونو له مخې، د اټکل شوي راتلونکي لپاره به يوازې د امنيتي ځواکونو کلني لګښتونه به د ټول راغونډ شوي کلني لګښت څخه زيات وي.[296] نړيوال بانک دې نتيجې ته رسيدلی چې که افغانستان غواړي چې د ملي اردو او ملي پوليسو ځواک په هغه توګه قايم وساتي چې د عامه لګښت په کتنه کې مشخص شوي نو دا به د يو څه وخت لپاره په دوامداره توګه بهرنی مرستې ته اړتيا ولري.[297]

د نړيوال بانک د عامه لګښت د کتنې سره سم، د ښوونکيو او نور تعليمي پرسونل معاشونه د افغان دولت د فعاليتي بوديجې دويم تر ټولو ستر جزو دی.[298] د کتنې نتيجه اخيستې چې د پوهنې لګښتونه بايد 180% زيات شي تر څو د زرکلنۍ پرمختيا هغه هدف ترلاسه شي چې تر 2020 پورې ټول خلک په ابتدايي ښوونځي کې ګډون ولري.[299]

**نړيوال بانک په افغانستان کې مالي دوامداري د هغې نکتې په توګه تعريفوي په کومه چې افغان دولت دومره کافي عايد راغونډ کړي چې خپل فعاليتي لګښتونه پوره کړي. د 2003/04 نه تر 2008/09 پورې، د دولتي مامورينو معاشونو او تنخواګانو د افغان دولت د فعاليتي لګښتونو 66% مصرف کړي. د نړيوال بانک له مخې، د افغان دولت لپاره تر 500000 زيات خلک کار کوي؛ تر 80% زيات يا د امنيتي ځواکونو غړي او يا ښوونکي دي.**

سرچينه: نړيوال بانک\DfID، "د افغانستان د عامه لګښت کتنه 2010: د عامه لګښت تګلار او مالي دوامداري،" مخونه 2, 9.

## ظرفيت جوړول

په لندن او کابل کنفرانسونو کې نړيوالو مرستندويانو د افغان دولت د دې ژمنتيا هرکلی وکړ چې د خپلو چارو لا زيات مالي مسووليت په لاس کې واخلي.[300] مرستندويانو اصولاً د افغان دولت دا غوښتنه ومنله چې د ريفورمونو د ترسره کولو او اداري فساد د کمولو لپاره ضروري ده چې نوری پرمختيايي بوديجې د افغانستان د مرکزي دولت له لارې ورکړل شي.[301] په دې درې مياشتنۍ کې افغان دولت د ګډ انسجام او نګرانۍ پلاوي او کابل کنفرانس ته د افغانستان په مشرۍ د پرمختيا د اجنډا وړانديزونه ورکړل او غوښتنه يې وکړه چې مرستندويان دې خپلې مرستې د دې پروګرامونو سره سمې کړي.[302]

نړيوال بانک يادونه کړې چې هر څو که افغان دولت د عامه مالي سمبالښت په ريفورمونو کې پرمختګ کړی دی، خو دا بيا هم د عامه لګښتونو د اداره کولو په ظرفيت کې د پام وړ خلا لري.[303] د بېلګې په توګه، د نړيوال بانک د عامه لګښتونو کتنې راپور ورکړ چې افغان دولت په 10\2009 کې د يوازې شاوخوا 40% بنسټيزې پرمختيايي بوديجې په مصرفولو توانېدلی و.[304] دا له 6\2005 راهيسې د بنسټيزې پرمختيايي د بوديجې د پلي کولو تر ټولو کمه شرحه ده.[305]

انځور 3.33 د بنسټيزې پرمختيايي بوديجې د لګښتونو رجحانات ښيي، کوم چې د 2005\6 او 2007\8 ترمنځ بهتر شوي و، او په 2008\9 کې يې بدتر کېدل پيل شول. نړيوال بانک د افغان دولت د بوديجې د پلي کولو په شرحه کې د ټيټوالي لامل يو شمېر فاکتورونه ښيي، په ګډون د اړوندو وزارتونو د جذبولو د ظرفيت د نشتوالي، د مالي چارو د رانېږدې کولو په تړاو تخنيکي مشکلاتو، او د پروګرام د بوديجو په اړه ناواضح تګلارې.[306]

**د بوديجې د پلي کولو شرحه:** د نړيوال بانک لخوا د کال تر منځ د اصلي لګښتونو د شرحې د منظورې شوې بوديجې په توګه تعريف شوې.

سرچينه: نړيوال بانک\DfID، "د افغانستان د عامه لګښت کتنه 2010: د عامه لګښت تګلارې او مالي دوامدارې،" مخ 11.

## اساسي خدمتونه

د نړيوال بانک د عامه لګښت د کتنې تمرکز پوهنې لپاره د نړيوالو مرستندويانو پر بوديجه د افغانستان پر اتکا او دې اړتيا و چې د پوهنې د وزارت د ظرفيت پياوړې کولو ته دې ادامه ورکړای شي. په جون کې، د متحده ايالاتو د جيالوژۍ سروې (USGS) د کابل باسين د اوبو په اړه يو راپور خپور کړ، چې د افغانستان د اوبو د سرچينو د سمبالښت او تحفظ د بهترولو پر ضرورت يې زور راوړی. د اسيايي پرمختيايي بانک اعلان وکړ چې د بيا رغونې او اقتصادي پرمختيا د اساسي کار د مرستې لپاره به دا بوديجې ورکړي (په 2011\12 کې د 386 مليونه ډالرو نه تر 548 مليونه ډالرو). د اوبه خور او انرژۍ د پروژو پر مرستې برسېره، اضافي بوديجې د دې لپاره دي چې افغانستان سره د حلقه يي سرک د جوړولو په اضافي لګښتونو کې مرسته وکړي.[307]

## انرژي

په دې درې مياشتنۍ کې، د انرژي او اوبو وزير رسنيو ته وويل چې اټکل 70% افغانان اوس هم د باور وړ برېښنا ته لاسرسی نلري، او دا چې دا هېواد اوس هم د خپلو اړتياو د پوره کولو لپاره پر وارد شوې برېښنا اتکا لري، لکه چې په انځور 3.34 کې ښودل شوې.[308] د ANDS دا اهداف چې د 2010 تر پای 65% ښاري کورنيو او 25% کليوالو کورنيو ته برېښنا ورسوي واضحه ده چې نشي ترلاسه کېدای.[309]

انځور 3.33

اساسي پرمختيايي بوديجه:د پلي کولو کچې، 2005/06 تر 2009/10(سلنه)




يادونه: د کال د منځ د کتنې سره اړوند دی.
سرچينه: نړيوال بانک/DfID، "د عامه لګښتونو تګلاره او مالي دوامداری،" د افغانستان د عامه لګښتونو د کتنې لپاره 2 کارې مقالې 2010، 2010/31/3.

لکه چې د انرژي سکټور په اړه د سيګار په پلټنه کې يې راپور ورکړل شوی، د متحده ايالاتو حکومت د جنوري 2010 سره سم د افغانستان د انرژي سکټور د نوي کولو لپاره 732 مليونه ډالر مصرف کړي دي.[310] د دې پرمختګ باوجود، ډېرې ننګونې موجودې دي. د نورو موندنو تر څنګ، دې پلټنې نتيجه اخيستې وه چې د افغانستان د دې ظرفيت نشتوالی چې کافي عوايد راغونډ کړي د دې توان د محدودولو يو غټ فاکتور دی چې دا په خپلواکه توګه کار وکړي، چې خپل د برېښنا سيستم پراخ کړي، او بااستعداده مامورين په کار وګوماري.[311]

د امنيت چاپيريال يو بل فاکتور دی چې په هېواد کې دننه د توليد شوي انرژۍ اکمالول محدودوي. لکه چې د سيګار د جنوري 2010 په درې مياشتني راپور کې يې يادونه شوې، په سپتمبر 2008 کې په هلمند کې د کجکي بند لپاره د يو نوي تورباين وړلو په دغه سيمه کې د ياغيانو د فعاليت او سرک د غاړې د ماينونو له امله د ايساف او افغان امنيتي ځواکونو 4000 تنو ځواک ته اړتيا لرله.[312] په تېره درې مياشتنۍ کې د کجکي د دريم تورباين د نصبولو کار د مسلسلو امنيتي ننګونو له امله د نامعلوم وخت لپاره وځنډول شو.[313] په دغه بند کې دوه زاړه، خو ترميم شوي تورباينونه فعال دي او برېښنا ورکوي.[314] خو په دې درې مياشتنۍ کې ناټو خبر ورکړ چې طالبانو يو داسې جوړښت الوځولی دی چې د کجکي بند د برېښنا رسولو د ځيني لاينونو ملاتړ يې کاوه، چې له امله يې د هلمند په ځينو برخو برېښنا قطع شوه؛ طالبانو په پيل کې انکار وکړ چې دولتي انجينيران هلته د تخريب شوي ځای د ترميم لپاره ورتګ ته پرېږدي.[315] وروسته مذاکراتو د دولتي انجينيرانو لپاره ممکنه وکړه چې د برېښنا لاينونه ترميم کړي.[316]

په دې درې مياشتنۍ کې د متحده ايالاتو حکومت په رسمي توګه کابل کې د 105 ميګا واټه تره خېل پاور پلانټ افغان دولت ته وسپارلو.[317] نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو د ادارې (USAID) له مخې، د دې پاور پلانټ لومړنی شپږ بلاکونه په اګست 2009 کې پر کار اچول شوي ول، او پلانټ په بشپړ ډول د 2010 د مې په 31مه فعال شو.[318] دې ادارې راپور ورکړ چې د تره خېلو پلانټ داسې نصب ظرفيت لري چې د کابل 600000 هغو اوسېدونکو ته برېښنا ورکړي کوم چې د شمال

انځور 3.34

په کور دننه توليد شوي او وارده شوي برېښنا، 2006 - مې 2010 (سلنه)




يادونه: شيمرې په ګردي کولو اغيزمنې شوي.
a. شميرې له جنوري تر مې.
سرچينه: USAID، د افغانستان د انرژۍ د معلوماتو مرکز (AEIC)، "د برېښنا توليد او د اکمالولو احصايې،" آنلاين وکتل شو په 7/10/2010.

ختيځ پاور سيسټم سره وصل دي.[319] د متحده ايالاتو د سفير کارل ايکنبري له مخې، متحده ايالاتو د دې پروژې د مرستې لپاره 300 مليونه ډالر ورکړي او د دې د انتظام ساتلو لپاره به د ظرفيت د جوړولو د پروګرامونو سره مرستې ورکولو ته هم ادامه ورکړي.[320]

## پوهنه

د عامه لګښت په اړه د نړيوال بانک وروستۍ کتنې يادونه کړې چې افغان دولت د پوهنيزو سرچينو لپاره پر نړيوالو مرستندويانو ډېر زيات متکي دی. د دې کتنې له مخې، د افغانستان شاوخوا 60% اوسني پوهنيز لګښتونه د بهرنۍ بوديجې څخه ورکول کېږي؛ نو لدې امله د دې لګښتونو زياتره برخه د نړيوالو مرستندويانو لخوا ورکول کېږي.[321]

د نړيوال بانک کتنې يادونه کړې چې حق الزحمې او معاشونه (په اساسي توګه د ښوونکيو) د پوهنې د وزارت د فعاليتي لګښتونو تر 90% وړي.[322] معاشونه عموماً نغد د شاهدانو په مخکې ورکول کېږي، او د ترلاسه کوونکيو نه غوښتل کېږي چې په رسيد لاسليک وکړي.[323] خو دې کتنې يادونه وکړې چې ښوونکيو ته په نغدو پيسو د معاشونو ورکول دا سيستم د ناسم استعمال لکه پيسو غلا کولو او "ناموجودو" مامورينو په وړاندې کمزوری کوي. دا په ځانګړې ډول په لېرې پرتو سيمو کې صدق کوي، چېرته چې يو تن ښايي د دې لپاره وټاکل شي چې د ټولو ښوونکيو د معاشونو د ورکولو لپاره ټولې نغدې پيسې ترلاسه کړي. دې کتنې ياده کړې چې په 2008\9 کې د پوهنې وزارت د ښوونکيو د راجسترۍ د پروسې پر مهال 5000 تنه معاش اخيستونکي مامورين (چې نومونه يې ول خو خلک نه ول) معلوم کړل او هغوی يې د معاشونو د رسمي فهرست نه لېرې کړل.[324] نتيجتاً، د دغې کتنې له مخې، د کورنيو چارو وزارت د فساد د کمولو لپاره غواړي چې ښوونکيو ته معاشونه د بانکونو له لارې ورکړي.[325]

د عامه لګښت کتنې دا راپور هم ورکړ چې د ظرفيت چيلنجونو د پوهنې وزارت په 2008\9 کې د دې نه منع کړ چې د بنسټيزې پرمختيايي بوديجې تر 38% زياته مصرف کړي.[326] يو لامل يې دا دی چې د پوهنې وزارت او د ماليې وزارت د دې لپاره چمتووالی نلري چې د پوهنې بوديجې په ولايتونو



افغاني انجونې په ټولګي کې حاضرې ورکوي. د انجونو او پېغلو لپاره زده کړې ته د لاسرسي زياتول د افغان دولت او نړيوالې ټولنې لومړيتوب دی. (د ايساف انځور)

کې په وخت مصرف کړي. دا ځنډوني لدې امله راځي چې د بوديجو زياتره کار په تدريجي توګه ترسره کېږي.[327] يو بل مثال يې د هغو فورمو په شمېره کې زياتوالى دى چې د پوهنې وزارت د بوديجې رياست يې بايد ولايتونو کې د پوهنې د بوديجو د مصرفولو لپاره ډک کړي.[328] د دې کتنې له مخې د 2007\8 نه راپدېخوا د دې ضروري فورمو شمېر د 185 نه تر شاوخوا 1480 رسېدلى دى. د کتنې له مخې دا زياتوالى د پام وړ دى ځکه چې د فعاليتي بوديجې 78% د ولايتونو لپاره ټاکل کېږي.[329]

په دې درې مياشتنۍ کې د USAID د عمومي پلټونکى دفتر د USAID د 105 مليونه ډالرو د يو ځلور کلن رغونيز پروګرام پلټنه خپره کړه د کوم له لارې چې په ټول افغانستان کې 776 روغتيايي کلينکونه او ښوونځي جوړ شوي دي.[330] په هغو ځايونو کې چې دا ودانۍ پکې دي د خطرناکو امنيتي شرايطو له امله، پلټونکو ته د 30 ښوونځيو په ځاى د کتلو يوه نمونه ورکړاى شوې وه.[331] پلټونکي په دې نتيجه ورسېدل چې دغه ښوونځي د خپل ټاکلي هدف لپاره کارول کېدل، پرته د يو ښوونځي له ودانۍ چې د پوهنې د وزارت لخوا کارول کېده.[332] په دغو ښوونځيو کې د 1385 ښوونکيو عمله وه چې 57744 زده کوونکيو ته يې درس ورکاوه.[333] ښېشکه چې پلټونکو په دې ښوونځيو کې ډېر ننګوونکي شرايط وليدل:[334]

- 21 ښوونځيو برېښنا نه لرله (17 يې په داسې ځايونو کې ول چې برېښنا پکې نشته)
- په 14 ښوونځيو کې اوبه يا کافي اوبه نه وې
- په 12 ښوونځيو کې تشنابونه نه ول
- په 18 ښوونځيو کې مناسب فرنيچر نه و

دغې پلټنې د دې چيلنجونو لامل دوه غټ فاکتورونه دا وښودل – د ودانيو جوړولو د نړيوال کوډ نه تعقيبول او د فعاليتي بوديجو نشتوالى.[335]

په دې درې مياشتنۍ کې د ملګرو عمومي منشي راپور ورکړ چې د ښوونځيو خلاف بريدونه اوس هم په ټول افغانستان کې په زياتېدو دي. هغه وويل چې د دې بريدونو څخه غټه برخه يې د دولت ضد ډلو لخوا ترسره کېږي؛ په بريدونو کې شامل دي د ښوونکيو او شاګردانو تهديدول؛ تښتونې، وهنې، او د ښوونځي د عملې وژل؛ سوځول؛ په ښوونځيو کې چاودېدونکي مواد اېښودل.[336]

## روغتيايي خدمتونه

د ښوونځيو په اړه د USAID د عمومي پلټونکى د دفتر پلټنې د روغتيايي خدمتونو يادونه هم کړې.[337] پلټونکو د 20 کلينکونو د نماينده نمونو څخه وليدل. هغوى نتيجه واخيستله چې زياتره ودانۍ د خپلو هدف مقصدونو لپاره کارول کېدلې.[338] دغو 20 روغتيايي کلينکونو 109 تنه کلينکي عمله درلوده او شاوخوا 39500 مريضانو ته يې علاج ورکاوه.[339] خو پلټونکو ډېر نامطمين شرايط وليدل، په ګډون د ناکافي اوبه رسوني سيستم، مجهزاتو، او اوبو او د پرسونل د کموالي هم. پلټونکو دا معلومه نکړاى شوه چې دا ځينې خرابۍ د خراب تعمير له امله وې او که نه افغان دولت لخوا د انتظام او مرستې د نشتوالي له امله.[340]

## اوبه او د ګنده اوبو د لېږد سيستم

په دې درې مياشتنۍ کې، USGS کابل باسين کې د اوبو د سرچينو په اړه يو راپور خپور کړ.[341] په متحده ايالاتو کې د افغانستان د سفير له مخې، د کابل په ښار کې بهېدونکي اوبه رواېتاً د پخوانيو سرچينو څخه راپيدا کېږي.[342] USGS يادونه کړې چې د ابادۍ زياتوالي او وچکالۍ د کابل د اوبو په اکمالاتو نوى زور راوړى دى، چې له امله يې ډېر کوهيان ککړ شوي، وچ شوي، او له کاره لويدلي.[343] د USGS له مخې، د کابل ښاروالۍ د ضياع د يا د ضايع شويو اوبو د پاکولو پلانټ نه لري. خو په کم نفوس لرونکيو سيمو کې د اوبو کيفيت نسبتاً ښه دى.[344]

په افغانستان کې د پاکو اوبو د سرچينو د اړتيا د پوره کولو لپاره، متحده ايالاتو د جون 2004 او جون 2011 ترمنځ د اوبو او لښتيو د 912 کوچنيو او اوسط سايز پروژو لپاره بوديجې ورکړې دي. د متحده ايالاتو د مرکزي قوماندې (CENTCOM) له مخې، د دې پروژو ټول اټکل لګښت 28 مليونه ډالر و، او د اوسط پروژې لګښت يکې 14490 ډالر و. د پاکو اوبو او لښتيو د دې پروژو په نمونو کې شاملې وې د اوبو کوهيان، د اوبو حوضونه، عفوني سيسټمونه، د کوچني سايز د اوبه خور پروژې، او عامه تشنابونه.[345]



يو سيمييز مشر اشاره کوي چې د کلي يو کوهی وچ دی. د پروان د بريکوپ د ستنېدونکيو افغانانو د کلي د 50 کوهيانو نه يوائې 4 کار کوي. (د متحده ايالاتو د ځواکونو انځور، کيلي جی. سټيوارټ)

## صنعت او د طبعي سرچينو پرمختيا

په دې درې مياشتنی کې، افغانستان د غلې د بل پراخ فصل د اخيستو په لور روان و، او افغان دولت په کابل کنفرانس کې د اوبو د نورو پرمختيايي پروژو لپاره وړانديزونه وړکړل. د افغانستان د معدني سرچينو احتمالي ارزښت هغه وخت نوی پام ترلاسه کړ چې د متحده ايالاتو د دفاع وزارت د دې سرچينو د احتمالي ارزښت د اټکل په اړه يو نوی راپور خپور کړ. د خصوصي کاروبارونو نړيوال مرکز (CIPE) په افغانستان کې د وړو کاروبارونو د څښتنانو په اړه يوه نوې سروی خپره کړه چې تمرکز يې راتلونکي لپاره د هغوی په پلانونو و، په ګډون د دې هيلې چې د افغان دولت د قراردادونو پروسه به شفافه او د لاسرسي وړ شي.

## زراعت

د کرهنې د پرمختګ تېزول د افغانستان د ثبات لپاره د متحده ايالاتو د ستراتيژۍ او د کابل کنفراسن د ګډونولو تر ټولو لوړ لومړيتوب دی.[346] د GAO له مخې، د متحده ايالاتو حکومت د 2002 راهيسې په افغانستان کې د زراعتي پروګرامونو لپاره شاوخوا 1.4 مليارد ډالر ورکړي دي.[347]

د متحده ايالاتو د بهرني زراعتي خدمت (FAS) له مخې، افغانستان د ښو فصلونو د دويم پرله پسې بريالي موسم په لور روان دی. FAS راپور ورکړی چې د 2009 په مني کې بارانونه کافي ول، چې د غنمو فصلونه يې په دې وتوانول چې د ژمي د سختو مياشتو له رارسېدو ښه ځای ونيسي. په ژمي او پسرلي کې يو څه کم ښه موسمي شرايط موجود ول. په دې کمو ښو موسمي شرايطو کې شامل ول په مسلسل ډول د واورې کمه راغونډېدنه، کوم چې د اوبه خور د فصلونو د اوبه کولو اساسي سرچينه ده، او د زياتو ټيټو ځمکو په غنم کرونکو سيمو کې تر نورمال زيات لوړ ټمپريچرونه. دا خبره د يادولو ده چې FAS په مې کې پيشنګويي وکړه چې افغانستان به په 2010 کې شاوخوا 3.7 مليونه ټنه غنم توليد کړي، کوم چې د اوسط نه 18% زيات دي.[348]

په دې وروستيو کې د فصلونو د بهترۍ باوجود، په اپريل 2010 کې نړيوال بانک راپور ورکړ چې افغانستان اوس هم په کال کې شاوخوا د شپږو نه يوه برخه غله واردوي تر څو په هېواد دننه د غلې د مصرف اړتياوې پوره کړي.[349]

د USAID د عمومي پلټونکی دفتر په دې وروستيو کې د USAID د زيات شوي توليدي زراعت لپاره د افغانستان واوچرونه (AVIPA) د پروګرام يوه پلټنه ترسره کړه، کوم چې د افغانستان د غنمو د فصل په بهترۍ کې د مرستې لپاره عصري تخمونه او سرې ورکوي. برسېره پر دې، دغه پروګرام په هلمند او کندهار کې د زراعت د ثبات سره تړليو فعاليتونو ته بوديجې ورکړي، په ګډون کار لپاره د نغدي پروګرامونو، داسې لکه د اوبه خور د ويالو د پاکولو؛ د کرنې د کوچنيو سامانونو لپاره بوديجې ورکولو؛ او د زيات ارزښت د بديلو فصلونو لپاره د بوټو او تخمونو ورکولو.[350]

د دسمبر 31، 2009 سره سم، د دې پروګرام ټوله بوديجه شاوخوا 185.2 مليونه ډالر وه. د USAID د عمومي پلټونکی دفتر ويلي چې دا پروګرام 296،920 افغان کروندګرو ته د تخمونو او

**له 2004 راهيسې، USGS د افغانستان د جيولوجيکل سروې او د انرژۍ او اوبو د وزارت سره د دې لپاره کار کوي چې په کابل سيند کې په راتلونکي کې د اوبو د موجوديت مسله حل کړي. د دې لپاره چې د دې مهمې سرچينې د انتظام لپاره يو ساينسي بنسټ برابر کړي، USGS په سيمه کې د ځمکې او سطحې د اوبو په اړه د معلوماتو يو ډاټابيس جوړ کړی دی. USAID د دې هڅې لپاره بوديجه ورکوي.**

سرچينه: ، "د افغانستان په کابل سيند کې د اوبو موجوديت، افغانستان،" حقيقت پاڼه 2010-3037، 5/2010، مخ 1.

سرېِ په ويشلو سره خپلو پلان کړو اهدافو ته رسېدلی دی او د غنمو د فصلونو په زياتولو کې يې مرسته کړې ده. خو، دې پلټنې دا هم ويلي چې په دې کار کې د دې پروګرام دقيق رول معلومول امکان نلري ځکه چې ځينې راپور شوې پايلې د باور وړ نه وې. دې دا خبره هم ياده کړې چې په هلمند او کندهار کې د زراعت د ثبات پروګرام د امنيتي چيلنجونو له امله په بشپړه توګه تطبيق کړای شوی ندی.[351]

## ظرفيت جوړول

د جون 30، 2010 سره سم، متحده اياالتو په افغانستان کې نهه د زراعتي کاروبار د پرمختيا ټيمونه (ADTs) لرل تر څو د دغه هېواد د زراعتي سکټور په پياوړي کولو کې د مرستې لپاره تخنيکي مرسته برابره کړي، لکه چې په چوکاټ 3.7 کې ښودل شوې ده. دا ټيمونه د نيشنل ګارډ يونټونه دي چې د څارويو د توليداتو، د باغونو د زراعت، اوبه خور، د خوړو د ذخيره کولو، او تقسيم کروندګر او ماهران پکې شامل دي. دوی افغان کروندګرو، ولايتي رياستونو، او پوهنتونو ته مشورې او ټرېننګ ورکوي، او دوی په افغانستان کې خپل خلک روزي چې خلکو ته د عصري کروندې ميتودونه وښيي.[352]

د CENTCOM له مخې، دې ټيمونو د زراعت د پرمختګ په وړاندې دا يو شمېر خنډونه پېژندلي دي:[353]

- د ترجمانانو د کافي زراعتي لغاتو نه پيژندل
- پر غنمو د کروندګرو اتکا، هر څو که نور فصلونه په دغو غرنيو سيمو کې ښايي زيات ښه وي
- د اوبه خور د کافي پروژو نشتوالی

**په دې درې مياشتنۍ کې، USAID د 100 مليونه ډالرو يوه د زراعتي پرمختيا بوديجه اعلان کړه، کومه چې به افغان کروندګرو ته کريډټ ورکوي چې سامانونه، تخم او هغه نور مواد واخلي چې د زراعتي توليد د پراخولو لپاره ضروري وي.**

سرچينه: د بهرنيو چارو وزارت/د متحده اياالتو د کابل سفارت، خبري اعلاميه، "افغان کروندګر د نوې 100 مليونه ډالرو د زراعتي پرمختيا د بوديجې له الرې نور کريډټ ته السرسی ترالسه کړ،" 7/21/2010.



افغان کروندګر په فصلونو د اچولو لپاره خزنده وژونکي دوايي جوړوي. (د USAID انځور)

چوکاټ 3.7

**په کار کې لګيا د زراعتي تجارت د پرمختيا ټيمونه، د جون 30، 2010 سره سم**

| يونټ | ايالت | موقعيت |
|---|---|---|
| TX ADT #3 | ټکساس | غزني |
| IN ADT #2 | انډيانا | خوست |
| CA ADT #1 | کاليفورنيا | کنړ |
| SC ADT #1 | جنوبي کاروليينا | لوګر |
| MO ADT #3 | ميسوري | ننګرهار |
| OK ADT #1 | اوکلاهوما | پکتيا |
| KY ADT #2 | کينټکي | پروان |
| KS ADT#2 | کنساس | لغمان |
| AR ADT #1 | ارکنساس | زابل |

سرچينه: CENTCOM، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7/6/2010.

- د داسې کاروبار نشتوالی چې د زراعتي صنعت مرسته وکړي، داسې لکه د يو څه وخت لپاره د سامانونو ورکول
- په افغان دولت کې اداري فساد

## اوبه خور

په متحده ايالاتو کې د افغانستان د سفير له مخې، په افغانستان کې د زراعتي پرمختيا د راتلونکي لپاره د اوبو د سرچينو بهتر سمبالښت مهم دی. که ټول کال کافي اوبه موجودې وای، نو زيات امکان و چې کروندګرو انار او نور داسې ارزښتناک فصلونه کرلی چې زيات سخت اوبه خور غواړي. د USGS د چارواکيو له مخې، د افغانستان ځيني سيمې د ځمکې نه لاندې اوبه لرونکيو سرچينو کې نسبتاً غني دي؛ خو، دا سرچيني ښايي لرغوني چيني وي چې د ځمکې لاندې ډېرې ژورې وي، او د هغوی دوامداري نور جاج ته اړتيا لري. چارواکيو يادونه کړې چې د افغانستان د اوبو د سرچينو د پراختيا په وړاندې تر ټولو ستر چيلنج د داسې مهارتونو او تخنيکي ظرفيت نشتوالی دی چې دا سرچيني په اغېزمنه توګه تنظيم کړي. لدې امله USGS د افغانستان د جيالوژۍ سروې (AGS) او د اوبو او انرژۍ د وزارت سره کار کوي چې دغه ظرفيت ته پرمختيا ورکړي. د اوبو د سرچينو د ارزښت په منلو سره، د غتي کچې د اوبو د سرچينو د پرمختيا د پروژو پلانونه د کابل په کنفرانس کې وړاندې کړای شول.[354]

د افغانستان د سفير له مخې، افغان دولت د اوبو د حقونو او مسووليتونو د تعريفولو لپاره کار کوي تر څو د سيندونو د اوبو د سرچينو د پرمختيا لپاره د کار بنسټ کېږدي. هغه يادونه وکړه چې د



د کرهنې د وزارت يو تخنيکي مشاور اپريل کې د فراه کرهنې د رياست د يوې ګلخانې څخه ليدنه کوي، چېرته چې کروندګرو ته (موقع ورکول کېږي چې نوې او مختلف زراعتي تخنيکونه وګوري. (د متحده ايالاتو هوايي ځواک انځور، ريلان کې البرايت

افغانستان زیاتره سیندونه ګاونډيو هېوادونو ته وربهېږي چې دغه هم اوبه کاروي؛ لدې امله دا مهمه ده چې د نورو هېوادونو د پولو سره نږدې د نويو بندونو او نورو اوبو سره اړوند انفراستركچر له جوړولو وړاندې د سيمييزې همكارۍ لپاره يوه لايحه جوړه كړای شي. د USGS چاراواكيو ياده كړې چې د افغانستان د ګاونډيو هېوادونو يو تن د افغانستان د يو تن په پرتله شاوخوا دوه برابره اوبه كاروي.[355]

## معدنونه

په دې درې مياشتنۍ كې، په افغانستان كې د كاروبار او ثبات د فعاليتونو لپاره د دفاع وزارت هدف ځواك (TFBSO) د افغانستان د معدني دولت په اړه يو تازه راپور خپور كړ. دې كې د تازه راغونډو شويو معلوماتو پر بنسټ د دې سرچينو د احتمالي اقتصادي ارزښت په اړه نوي اټكلونه شامل ول. هدف يې د لوړ كچ، د تصديق وړ داسې معلومات وركول و چې د خصوصي سكټور د پانګونې د معيارونو سره برابر وي. د معدنونو وزارت دغه نوي معلومات د 2010 د جون په 25مه لندن كې په افغانستان كې د معدني سكټور د مواقعو په اړه په لومړنۍ نړيواله غونډه كې وړاندې كړل.[356]

لكه چې سيګار يې د جنوري 2010 په درې مياشتني راپور كې يادونه كړې وه، USGS د لومړي ځل لپاره د افغانستان د معدني سرچينو په اړه يوه ارزونه په 2007 كې خپره كړې وه.[357] دغه معلومات په دريم كلني امريكا-افغان د تجارت د برابرۍ په كنفرانس كې وړاندې شوي ول، كوم چې په نومبر 2007 كې د افغان-امريكن چيمبر اف كامرس لخوا په واشنګټن ډي. سي. كې انتظام شوی و.[358] د USGS له مخې د دې ابتدايي راپور بنسټ پر هغو سروې ګانو و چې د 1950 او 1985 ترمنځ ترسره شوې وې. دغه معلومات د 1990مو پر مهال له افغان چاراواكيو پټ ول او په 2001 كې افغان دولت ته بېرته وركړل شوي ول. نتيجتاً، دا د USGS لخوا د AGS او د معدنونو د وزارت په ملګرتيا د نور تحقيق د بنسټ په توګه وكارول شول.[359] د 2005 نه تر مارچ 31، 2009 پورې USGS د افغانستان د جيولوژۍ د سروې ګانو په اړه شاوخوا 189 راپورونه جوړ كړي، په كومو كې چې د سكرو، تېلو، طبعي ګاز، اوبو او نورو سرچينو ارزوني شاملې دي.[360] د دې سروې ګانو لپاره سرچينې USAID وركړې.

د 2009 په خزان كې، TFBSO د USGS سره ملګرتيا وكړه چې د افغانستان معدني سرچينې نورې هم راوسپړي؛ د ځايونو د پراخو كتنو څخه وروسته، ټيمونو د علاقمندۍ وړ ترجيحي سيمو يو ليست جوړ كړ. چوكاټ 3.8 د TFBSO په حساب د افغانستان د معدنونو احتمالي سرچينې او د هغوی احتمالي ارزښت ښيي. لكه چې سيګار په تېرو درې مياشتنيو راپورونو كې يادونه كړې، د نړيوال بانك او نورو سازمانونو ماهران په دې خبره موافقه كوي چې د افغانستان د معدني سرچينو پرمختيا افغان دولت لپاره د دوامداره، اوږدمهاله عايد د ودې تر ټولو ښه موقع برابروي.[361]

TFBSO خپله د نمونو څخه پراخه كړې چې نه يوازې د متحده ايالاتو د حكومت ماهران بلكې د AGS عمله او صنعتي جيالوجيستان هم پكې شامل كړي. د جولای 14، 2010 سره سم، تر 700 زياتې نمونې راغونډې كړای شوي او د USGS لابراتوار ته د تحليل لپاره وركړل شوي. د وركړل شويو نمونو څخه پر 500 د ځمكې د كيميا د معايني كار بشپړ شوی دی، او نتيجې يې كتل كېږي او تحليل كېږي چې د دغو خزانو د كچې، ډول او ارزښت په اړه زيات پوهاوی ترلاسه كړای شي.[362] انځور 3.35 هغه 11 ولايتونه ښيي چې TFBSO كتلي او نمونې يې ترې راغونډې كړي او د ځايونو مشاهدې يې كړې دي.

د TFSBO او USGS له مخې، هر چېرته چې يې امكان درلود افغان انجينيران او جيالوجيستان په دې هڅو كې شامل كړای شوي دي، تر څو د ارزوني د كار لپاره په هېواد كې دننه ظرفيت جوړ كړای شي. برسېره پر دې، TFBSO او USGS د AGS د معلوماتي تكنالوژۍ او د معلوماتو د ذخيره كولو او تحليل استعدادونه ارزولي، او دغې ادارې ته يې يو وړانديز وركړی چې خپل تخنيكي سيستمونه پياوړي كړي.[363]

**د USGS د چاراواكيو له مخې، له 1950 نه تر 1980، په افغانستان كې د بهير شاوخوا 165 مقياسونو فعاليت كاوه، چې د اوبو د جريان او بهير كچې يې پيمانه كولې. د جګړې د كلونو پر مهال دا مقياسونه له كاره ولويدل. USGS هغه تاريخي معلومات تحليل كړي او هغه يې انلاين اچولي چې دې مقياسونو راغونډ كړي دي، او د انرژۍ او اوبو وزارت په دې وروستيو كې دا مقياسونه د اوبو د سمبالښت د پلان جوړولو د يوې سرچينې په توګه بيا فعال كړي دي.**

سرچينه: USGS، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 6/24/2010.

TFBSO د صنعتي ماهرانو، AGS، او USGS سره د دې لپاره کار کوي چې ټول معلومات د احتمالي پانګه اچوونکيو ته پريزنټيشن لپاره په دوسيو کې راغونډ کړي. په دې کې شامل دي د شورويانو د وخت د ځايونو د هغو راپورونو او نقشو په ارشيف کې اچول او ژباړل چې د ډېرو دغو سيمو په اړه ارزښتناک جيوکيميکل او جيولوجيکل معلومات ورکوي. دا معلومات د استعمال لپاره د داسې عصري جيوسپاشيال او الاتو سره يو ځای کيږي کوم چې نن سبا د راسپړنې او پرمختيا د فعاليتونو لپاره ضروري دي. برسېره پر دې، TFBSO د داسې نړيوالو شرکتونو معلومول او ورسره تماس نيول پيل کړی دی چې د افغانستان د معدنونو د سکټور د پرمختيا سره علاقمندي لري.[364]

## د انرژۍ د نورو سرچينو پرمختيا

انځور 3.35

### په 11 ولاياتو کې احتمالي سرچينې




يادونه: احتمالي سرچينې د TFBSO د ليدنو په مهال پېژندل شوي دي.
سرچينه: د دفاع وزارت/TFBSO، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010/14/7.

چوکاټ 3.8

**معدني سرچينې (له سون نه پرته): اټکل شوي احتمالي ارزښت، دسمبر 2009**

| معدنونه (له سون نه پرته): | مقدار (ټنه) | ارزښت (په مليارډونو ډالرو) |
|---|---|---|
| اوسپنه | 1,490,944,000 | 420.85 |
| مس | 40,895,800 | 274.00 |
| نيوبيم | 3,500,000 | 81.20 |
| کوبالټ | 600,000 | 50.82 |
| سره زر | 685 | 25.00 |
| موليبډينم | 724,010 | 23.89 |
| نادر ځمکني توکي | 1,400,000 | 7.41 |
| اسبتوس | 13,365,563 | 6.32 |
| سلور | 9,067 | 5.34 |
| پټاس | 27,513,690 | 5.09 |
| المونيم | 2,290,175 | 4.43 |
| ګرافيت | 1,055,223 | 0.67 |
| لاجورد | 1,300 | 0.65 |
| فلورايټ | 8,791,000 | 0.64 |
| فاسفورس | 6,200,000 | 0.58 |
| سکه او زينک | 243,900 | 0.55 |
| سيماب | 32,234 | 0.50 |
| سترانتيوم | 329,100 | 0.41 |
| ګوګړ | 6,450,000 | 0.23 |
| ټالک | 1,250,000 | 0.16 |
| مقناطيس | 31,200 | 0.16 |
| چيني خاوره | — | 0.05 |
| **ټول اټکلي ارزښت** | | **908.95** |

يادونه: — = موجودي ندې.
سرچينه: ، TFBSO، "د افغانستان اقتصادي خپلواکي: يو مستعد ملت جوړول"، 6/14/2010، مخ 5.

د دې لپاره چې د تېلو او ګاز د موجوده انفراسټرکچر حالت وارزوي، TFBSO او USGS شبرغان (جوزجان ولايت)، مزار شريف (بلخ ولايت)، کندز (کندز ولايت)، او هرات (هرات ولايت) ته کاري ډلې لېږلې دي. د TFBSO/USGS ټيم د لړزاندو څپو د امکان يوه مطالعه هم ترسره کړې ده څو معلومه کړي چې ايا د شبرغان نه کندز ته د دوه اړخيزه لړزانده څپو سروې ګانې کېدلای شي که نه. داسې سروې ګانې د ځمکې د سطحې لاندې هغه جوړښتونه پېژني چې لاندې ترې تېل او ګاز وي، او د راکنسټلو د کوهيانو د نمونو لپاره ښه ځايونه هم. چوکاټ 3.9 د تېلو او ګاز د احتمالي سرچينو په اړه د USGS اټکلونه او د دغو سرچينو د احتمالي ارزښت په اړه د USGS احتمالي حساب وړاندې کوي.[365]

TFBSO د معدنونو د وزارت سره د پوهاوي يو يادداښت لاسليک کړی دی چې د افغانستان د تېلو په موجودو کوهيانو کې د توليد د بيا پېل کولو د کار د سر اينبودلو لپاره د مفکورې د ثبوت د پروژې مرسته وکړي. د تېلو د توليدي کوهيانو د کار بيا پيلونه به د نورو ګټو تر څنګ د تېلو او ګاز د توليد او ويش لپاره د دغه هېواد ظرفيت څرګند کړي، د پانګه اچوونکو علاقمندي به پياوړې کړي، او د افغانستان لومړی پروګرام به پراخ کړي چې د پطروليمو نه جوړ شوي توليدات لکه قير او د سون توکي پکې شامل کړي.[366]

د دې لپاره چې د نور انرژي توليدوونکي انفراسټرکچر د ظرفيت په جوړولو کې مرسته وشي، TFBSO د کليو د بيا جوړوني او پراختيا د وزارت سره هم ملګرتيا کړې چې په افغانستان کې د مايکرو هايډرو پاور احتمالي ځايونه وارزوي. د TFBSO له مخې، د جولای 14، 2010 سره سم، د اټکل شويو 15 نه تر 30 ځايونو څخه د 2 ځايونو څخه ليدنې ترسره شوي دي.[367]

## د خصوصي سکتور پرمختګ

د 2010 د مې په 6مه، دموکراسۍ لپاره ملي مرستې، د خصوصي کاروبارونو مرکز (CIPE)، او چارټي ريسرچ د افغانستان په شپږو تر ټولو غټو ښارونو کې د دغه هېواد د کوچنيو او اوسط کچې د کاروبارونو په اړه يوه سروې خپره کړه. د هغو کاروبارونو څخه چې سروې يې شوې، 92% پکې په کال کې د 10000 ډالرو نه کم ګټلي ول. زياتره پکې يا د يو تن کاروبارونه او يا د فاميل د ملکيت تجارتونه ول.[368]

دې سروې معلومه کړې چې په عموم کې هغه کاروبارونه چې سروې يې شوې وه په خپلو محلي ټولنو کې د اقتصادي شرايطو په اړه مثبت ول. د دې کاروبارونو نه زياترو د نورو کاروبارونو، بهرنيو بازارونو، يا بهرنيو شرکتونو په ځای نېغ په نېغه افغان صارفينو ته خدمتونه وړاندې کول. درې-څلورمه برخه د هغوی نه چې رايې يې ورکړې وې تمه لرله چې خرڅونې، د کارکوونکو شمېره، او بچت ګټه

چوکاټ 3.9

| معدني سرچينې (سون): د احتمالي اوسني ارزښت اټکلونه | | | |
|---|---|---|---|
| سرچينه | اساسي موقعيت | کميت | احتمالي ارزښت (ملياردونه) |
| خام تيل | افغان-تاجک باسين | 1596 مليارده بيلره | 123.2 مليارده ډالر (د يوه بيلر بيه 77.19 ډالره) |
| طبعي ګاز | د آمو درياب باسين | 15687 مليارده فت مکعب | 56.3 مليارده ډالر (د يوه MMbtu بيه 3.59 ډالره) |
| طبعي ګاز مايع | د آمو درياب باسين | 562 مليونه بيلره | 43.4 مليارده ډالر (د يوه بيلر بيه 77.19 ډالره) |
| **ټول** | | | **$222.9** |

سرچينه: TFBSO، "د افغانستان اقتصادي خپلواکي: يو مستعد ملت جوړول،" 6/14/2010، مخ 6.

**د CIPE سروې معلومه کړې چې کاروبارونو د افغان دولت د قراردادونو په ورکولو کې د شفافيت او پاکوالي نشتوالی ګڼي، خو په 10 کې 6 هيله ښوده چې دولت به په راتلونکي کال کې زيات شفاف وي.**

سرچينه: دموکراسي لپاره ملي ورکړه، CIPE، چارني ريسرچ، "د اقتصاد، دولت، او سوداګرۍ د سازمانونو په اړه د افغان سوداګرۍ رويې،" مخ 7.

به يې د راتلونکو شپږو مياشتو پر مهال زياته شي. په سروې شويو هرو لسو کاروبارونو کې شپږو پلان درلود چې په دغه موده کې نور خلک په کار وګوماري؛ په لسو کې څلورو پلان درلود چې د دفتر عامه سامانونه به واخلي.[369]

دغې سروې ښودلې چې کاروبارونه اوس هم د مالي چارو لپاره د پورونو په ځای اساساً په ګټو او شخصي سپما اتکا کوي. يواځې 7% ځواب ورکوونکيو ويل چې د شخصي خلکو نه يې پورونه ترلاسه کړي؛ 6% وويل چې پورونه يې د بانکونو نه ترلاسه کړي. د سروې نتيجو په مالي سيسټم کې د ودې مواقعو ته اشاره کړې ده. د سروې شويو کاروبارونو درې برخو د سامانونو او خدمتونو د اخيستلو لپاره په نغدو پيسو اتکا کړې؛ په شپږو کې يواځې يو تن د سامانونو د اخيستلو لپاره پر بانکي انتقال اتکا کړې وه.[370]

د هغو سروې ګانو سره يو شان چې د سيګار په تېرو درې مياشتنيو راپورونو کې تشريح شوې، CIPE ته معلومه شوې چې اداري فساد پر خصوصي سکټور درونډ بوج دی. د پوښتل شويو کاروبارونو تر نيمو زياتو وويل چې د کار کولو لپاره يې رشوت، غير رسمي فيسونه، او يا ډالۍ ورکړې دي: 41% ويلي چې محلي دولتي چارواکيو ته يې پيسې ورکړې؛ 28% د ګمرکونو چارواکيو ته، او 26% د ملي دولت چارواکيو ته؛ نورو د سرک پوليسو او ټيکس غونډوونکو ته. دې کاروبارونو د افغان دولت لخوا د قراردادونو په کار کې د شفافيت نشتوالی هم د يوې اندېښنې په توګه ياد کړی. په ځانګړې توګه ډېرو کاروبارونو ويلي چې دولتي چارواکي د قراردادونو په ورکولو کې د خپلوانو او دوستانو طرفداري کوي او پروسه يې شفافه نده.[371]

د سوداګرۍ سره تړلې يوه مهمه پرمختيا کې، د بهرنيو چارو وزارت اعلان کړی چې د افغانستان او پاکستان دولتونه د 2010 د جولای په 18مه د ترانزيتي تجارت يوې موافقې ته رسېدلي دي. دا موافقه به د افغانستان د ټرکونو لپاره اسانه کړي چې توليدات د پاکستان له لارې د هند پولې ته ورسوي.[372]

# په افغانستان کې د مخابراتي رسنيو تېزه وده

له 2002 راهيسې نشراتي رسنۍ په افغانستان کې په تېزۍ سره پراخې شوې دي. په 2002 کې يواځې يو ملي، دولتي راډيو نشراتي سيسټم د اټکلاً دوه نه تر دريو محلي ايف ايم راډيو سټيشنونو سره و. د بهرنيو چارو وزارت له مخې، د جولای 2010 سره سم، نږدې په ټولو ولايتونو کې شاوخوا 300 راډيو سټيشنونه او بيا نشروونکي سيسټمونه کار کوي. په ورته توګه، په 2002 کې يواځې يو تلويزيوني سټيشن په افغانستان کې کار کاوه، خو، د بهرنيو چارو وزارت له مخې، د جولای 2010 سره سم، شاوخوا يو درځن شخصي شبکې او يوه دولتي تلويزيوني شبکه په ټولو غټو ښارونو کې خپرونې کوي.[373]

په افغانستان کې د راډيو او تلويزيون سيټونو ملکيت د اسمان سره لګېدلی دی. د نشراتي پلاوي د مسوولينو د 2009 د يوې سروې له مخې، 83% افغانان په کور کې راډيو لري، او 39% تلويزيون لري. اسيا فاونډيشن راپور ورکړی چې 80%هغه افغانان چې په ښارونو کې اوسېږي تلويزيون لري په پرتله د هغو 30% افغانانو چې په زياتو کليوالو سيمو کې ژوند کوي. د USAID له مخې، په افغانستان کې د يو اوسط راډيو لګښت 8 ډالره دی؛ د يو تلويزيون سيټ اوسط بيه په افغانستان کې شاوخوا 100 ډالره ده.[374]

د بهرنيو چارو وزارت له مخې، غټ ملي راډيو سټيشنونه هره ورځ د 2 نه تر 18 ساعته پروګرامونه خپروي؛ زياتره واړه سټيشنونه هره ورځ د يو څو ساعتونو لپاره خپرونې کوي. په ورته توګه، غټ تلويزيوني سټيشنونه هره ورځ د 8 نه تر 18 ساعته خپرونې کوي په داسې حال کې چې واړه سټيشنونه هره ورځ يو څو ساعته خپرونې کوي.[375] خو، د افغانستان د طلوع تلويزيوني شبکې په دې وروستيو کې د هېواد لومړنی 24 ساعته خبري چينل پيل کړ. د USAID له مخې، د راډيو او تلويزيون زياتره پروګرامونه په محلي توګه جوړېږي، پرته له فيلمونو او سريالونو، کوم چې زياتره د هند، دوبۍ، ترکي، او پاکستان نه واردېږي.[376]

د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ د وزارت له مخې، د افغانستان د تليفوني مخابراتو سکټور هم له 2002 راهيسې په تېزۍ سره وده کړې ده. چوکاټ 3.10 د مارچ 2010 سره سم په افغانستان کې د تليفون د ګډونوالو اټکل شمېره ښيي. دا چوکاټ ښيي چې ګرځنده تليفونونه ډېر زيات دي. په اصل کې، د مخابراتو وزارت اټکل کوي چې شاوخوا 80% افغانان ګرځنده تليفون ته لاسرسی لري.[377] د مخابراتو وزارت




د تليفوني شرکتونو ټاورونه د کابل د "ټي وي غره" د پاسه لوړ دي. (د يوناما انځور)

دا يادونه هم کوي چې په افغانستان کې څلورو GSM خدمت وړاندې کوونکيو او يو د CDMA\ټاکلې شبکې وړاندې کوونکي په شريکه د تليفوني مخابراتو په سکټور کې د 1.5 مليارد نه زيات ډالرو پانګونه کړې ده.[378] په 2002\3 کې د متحده ايالاتو د سوداګرۍ او پرمختيا ادارې (USTDA) د يو داسې مشاور لپاره بوديجه برابر کړه کوم چې افغان دولت ته د اضافي ګرځنده تليفونونو چلوونکيو شرکتونو ته د جوازونو د ورکولو مشوره ورکړه، چې دې کار د خصوصي سکټور د پانګونې په راجلبولو کې مرسته وکړه.[379] USTDA د تخنيکي مرستې د يو پروګرام لپاره هم بوديجه ورکړه کوم چې د افغانستان د تليفوني مخابراتو د مقام سره مرسته وکړه چې په کليوالو او هغو سيمو کې چې خدمت ورته نه وي رسېدلی کې د تليفوني مخابراتو تکنالوژۍ ته لاسرسی بهتر کړي.[380] د مخابراتو د وزارت له مخې، د موبايل شرکتونو ترمنځ مسابقې د تليفونونو په مياشتني بلونو کې د کمي نتيجه ورکړې، په 2002 کې د شاوخوا 54 ډالرو نه په 2008 کې شاوخوا 5.60 ډالرو ته.[381]

چوکاټ 3.10

| د تليفوني مخابراتو احصايې، د مارچ 2010 سره سم | |
|---|---|
| د جي ايس ايم ګډون کوونکي (وايرليس) | 13,304,533 |
| د سي ډي ايم ای ګډون کوونکي (وايرليس) | 83,809 |
| ځمکني لاينونه | 56,357 |

سرچينه: افغان دولت، د مخابراتو وزارت، د تليفوني مخابراتو احصايې، www.mcit.gov.af، آنلاين وکتل شو په 7/8/2010.

# د مخدره موادو پرضد مبارزه

له 2002 راهیسي، د متحده ایالاتو حکومت په افغانستان کي د مخدره موادو ضد هڅو لپاره نږدې 4.24 ملیارده ډالر اختصاص کړي دي.[382] د فبروري 2010 نه مخکي د متحده ایالاتو د مخدره موادو ضد هڅو اساسي تمرکز د کوکنارو پر اړولو و. خو، د کوکنارو اړولو د مخدره موادو د سیمییز کاروبار په سایز لږ تر لږه اغېز کاوه او دي د مخدره موادو د کارکوونکیو په ځای کروندګر په نښه کول.[383] د دې لپاره چي د زړي ستراتیژی غلطی حل شي، متحده ایالاتو په تېره درې میاشتنی کي نوې د مخدره موادو ضد ستراتیژي اعلان کړه، د کومي مرکزي تمرکز چي د نشه یي موادو او دوی کي د استعمالېدونکو کیمیاوي موادو په کمولو، د مخدره موادو د کاروبار په درولو، د ظرفیت په لوړولو، او د مخدره موادو د غټو کاروباریانو په نیولو دی.[384]

په دې درې میاشتنی کي د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د دې نوې ستراتیژی تطبیق پیل کړ، کوم چي دوه مشخص اهداف او مقاصد ږدي چي باید هغه خامخا ترلاسه کړای شي. لومړنی هدف د هغي مرستي چي یاغیان یې د مخدره موادو د کاروبار څخه ترلاسه کوي په بیخي کمولو سره د مخدره موادو او یاغیانو ترون کمول دي. د دې هدف لپاره، دا ستراتیژی اته مقاصد پېژني:[385]

- د مخدره موادو-یاغیانو-اداري فساد ترون په نښه کول او ختمول
- د مخدره موادو د مخنیوي لپاره د لا زیات مستعد، تر احتساب لاندې، اغیزمن او پر ځان متکي افغان امنیتي ځواکونه جوړول
- د مخدره موادو ضد فعالیتونه په بشپړه توګه د ملکي-نظامي پلان په جوړولو کي مربوطول
- د هغو مقاصدو سره سم چي په د ملي او ولایتي پرمختیا په ستراتیژیو کي ټاکل شوي د اپیمو په ځای د زراعتي پرمختیا او جایز بدیلونو پراخول
- د افغانستان د اسلامي او جمهوري دولت لخوا د مخدره موادو د طلب د کمولو او علاج د پروګرامونو مرسته زیاتول
- په ولایتي کچه د مخدره موادو د کاروبار د کمولو د هڅو مرسته
- د مخدره موادو ضد ستراتیژیکو مخابراتو بهترول
- د نړیوالو سازمانونو او په سیمه کي د افغانستان د ګاونډیانو سره کار کول چي د یاغیانو-مخدره موادو شبکه په نښه کړي او د هغوی خوندي ځایونه له منځه یوسي.

دویم هدف د مخدره موادو سره تړلی اداري فساد کمول دي، ځکه چي دغه فساد افغان دولت سره د افغانانو مرسته کموي. دا هدف دا درې مقاصد لري:[386]

- د دولتداری د عمومي ستراتیژی د لوړولو لپاره اداري ظرفیت لوړول
- د مخدره موادو غټ کاروباریان معلومول او محاکمه کول
- د قانون د تنفیذ، عدالت، او هدفي مالي پیمانو د مجازاتو د پرمختیا د پروګرامونو سره یو ځای کول.

دا برخه هغه پرمختګونه ښکاروي چې د مخدره موادو سره د مبارزې د ستراتیژۍ په ملاتړ کې په دې درې میاشتنۍ کې شوي دي.

## د کوکنارو کر او د اپیمو تولید

په فبروري 2010 کې د ملګرو ملتونو د مخدره موادو او جرمونو دفتر (UNODC) راپور ورکړی چې تمه ده په افغانستان کې به د کوکنارو کر په ثبات پاتې شي. خو په دې درې میاشتنۍ کې راپورونه ښیي چې ظاهراً کوم مرض د کوکنارو کر سخت خراب کړی دی – چې په اغېزمنه توګه یې د اپیمو تولید کم کړی دی.[387] د UNODC د 2010 په نړۍ کې د مخدره موادو د راپور له مخې، هر څو که د اپیمو په تولید کې کمې ته هرکلی ویل کېږي، خو د اپیمو دومره ذخیره شته چې د استعمالوونکیو لپاره به د دوو کلونو لپاره کافي وي.[388]

د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د جون 2010 د راپور له مخې، د اپیمو په تولید کې کموالی په بیو کې د زیاتوالي سبب کېدلای شي.[389] د اپیمو د بیو لوړېدل کېدلای شي چې د کوکنارو کر ته زمینه برابره کړي، لکه چې په می 2010 کې یې د UNDOC د ویاند لخوا یادونه شوې.[390] د مخدره موادو په وړاندې د مبارزې وزارت، UNDOC، او د دوی شریکوال یوه سروې ترسره کوي چې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي له مخې دا وضعیت وارزوي.[391]

د مخدره موادو په وړاندې د مبارزې د وزارت او UNDOC له مخې، د می 2009 نه تر می 2010 د وچ او تازه اپیمو په بیو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. په مشخصه توګه، د فارم د دروازې د وچو اپیمو بیه تر 71% لوړه شوې او د تازه اپیمو 104%. د سوداګر بیه د وچو اپیمو تر 72% او د تازه اپیمو تر 92%.[392] خو، دا ویل له وخته مخکې دي چې د اپیمو په بیه کې دا لوړوالی به د هغه مرض له امله وي چې د کوکنارو فصلونه یې اغېزمن کړي دي.

## د نشه یي توکو د قاچاق سره مبارزه

د هغو مقاصدو په ملاتړ کې چې د مخدره موادو ضد نوې ستراتیژۍ کې وړاندې شوي، د دې راپور په موده کې د هڅو اساسي تمرکز د نشو د مخنیوي پر عملیاتو، د مخدره موادو په طلب کې پر کمې، نړیواله همکارۍ، او پر ظرفیت او بدیلې پرمختیا و. راتلونکې ضمني برخې د دې هڅو په اړه جزییات ورکوي.

### د نشو د مخنیوی عملیات

لکه چې د سیګار د اپریل 2010 په درې میاشتني راپور کې یې یادونه شوې، د نشو مخنیوي ته د متحده ایالاتو په نوې مخدره موادو ضد ستراتیژۍ کې مرکزي پاملرنه شوې ده. په ستراتیژۍ کې د دې بدلون د ملاتړ لپاره، د دفاع وزارت راپور ورکړی چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) او نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (ISAF) په دې درې میاشتنۍ کې د نشو د مخنیوي په لړ کې یو شمېر عملیات ترسره کړي. په دې عملیاتو کې شامل دي شریکې ګزمې، د ګیرې او لټون پروسیجرونه، او د نظارت فعالیتونه. د دې عملیاتو په نتیجه کې 70 تنه شکمن کسان نیول او د مخدره موادو او مخدره موادو سره اړوندو موادو غټې ذخیرې نیول شوې وې.[393] انځور 3.36 د ډول، اندازې، او موقعیت په ترتیب په څلورو ولایتونو کې نیول شوي مخدره مواد ښیي.

د دې ګډو عملیاتو د مرستې لپاره، متحده ایالاتو د ترانسپورټ، استخباراتو، هوایي کومک، او عاجل غبرګون خدمتونه برابر کړي ول. د دفاع وزارت له مخې، د متحده ایالاتو د مخدره موادو د تنفیذ اداری

(DEA) د افغانستان د مخدره موادو ضد پولیسو (CNPA) د متخصصو یونټونو روزنه کړې، او استخباراتي ټولني په ستراتیژیکو، فعالیتي، او تاکتیکي کچو قانون نافذوونکو ادارو او پوځ سره د هدف نیولو او تحلیل مرسته کړې.[394]

په یوه بله هڅه کې، DEA، د متحده ایالاتو بحري ځواکونو، او د افغانستان د مخدره موادو ضد پولیسو د 2010 د مې په 18مه د نشو د مخنیوي عملیات ترسره کړل چې د لوړ هدف د ګرفتاریو او د مخدره موادو د غټو ذخیرو د نیول کېدو نتیجه یې ورکړه.[395] د متحده ایالاتو د بحري ځواکونو له مخې د عملیاتو د لټون او نیولو برخه په بشپړه توګه د افغانستان د مخدره موادو ضد پولیسو لخوا ترسره شوې وه.[396]

په دې درې میاشتنی کې، د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د راپور له مخې، د افغانستان د مخدره موادو ضد پولیسو د لومړي ځل لپاره د نشو د مخنیوي په اړه د قانون نافذوونکو په یوه نړیواله غونډه

انځور 3.36

د افغان او ایتلافي ځواکونو لخوا نیول شوي مخدره مواد
د 33 مخدره موادو ضد عملیاتو پایلې، اپریل-جون 2010




یادونه: دا معلومات د مخدره موادو جلا جلا نیول ښیي چې د ایساف په خبري اعلامیو کې راغلي دي.
سرچینې: ایساف، خبري اعلامیې، 4/9–6/27/2010، انلاین وکتل شو 7/7/2010.



د ایساف ځواکونه تیاری نیسي چې تر 7700 کیلوګرامه زیات هغه ناقانونه مخدره مواد وسوځوي چې جون کې هلمند کې په یوه چاپه کې نیول شوي. د نشو مخنیوی د متحده ایالاتو د نوي مخدره موادو ضد ستراتیژۍ مرکزي نکته ده. (د ایساف انځور)

کې هم انسجام وکړ. د دې غونډې هدف د سیمییز انسجام پراخول او په راتلونکي کې د نشو د مخنیوي د عملیاتو مرسته کول وو. دا هڅې د "افغاني کولو" پروسې ته وده ورکوي، چې دا د افغانستان او پاکستان د سیمییز ثبات د ستراتیژۍ مرکزي موضوع ده.[397]

د دې لپاره چې د نشو د مخنیوي هڅې بهترې کړای شي، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د مخدره موادو ضد قانون نافذوونکو د متحده ایالاتو او افغانستان ادارو ته د ټریننګ، انفراسټرکچر او سامانونو د مرستې ورکولو ته ادامه ورکړه. د DEA په غوښتنه، د دفاع وزارت د افغانستان د مخدره موادو ضد پولیسو د نشو د مخنیوي د ملي یونټ 280 تنو اضافي پرسونل ته ټریننګ ورکړ، کوم چې اوس د 500 افسرانو نه جوړ دی. د دفاع وزارت له مخې، د نشو د مخنیوي د مرستې لپاره د تطبیق پلانونه به په بین الاداري کچه د هڅو د یووالي په پیدا کولو کې مرسته وکړي.[398]

## د تقاضا کمیدل

په جون 2010 کې د UNDOC لخوا د مخدره موادو د استعمال په اړه د تر ټولو وروستۍ سروې له مخې، شاوخوا یو ملیون افغانان په نشو روږدي دي. په ملي کچه، د مخدره موادو علاج اوس هم نامناسب ګڼل کېږي – په ټول هېواد کې د علاج یواځې 40 مرکزونه فعالیت کوي. د UNDOC او INL له مخې، دا مرکزونه په شریکه یواځې د 10216 نشه یانو د علاج ظرفیت لري.[399]

وروستیو راپورونو په افغان ملي پولیسو کې د نشو د مخ په زیاتېدونکي استعمال مسله واضحه کړې ده. د ناټو د روزنې د مشن – افغانستان (NTM-A) له مخې، د نشو د داسې استعمال د حد د ارزولو لپاره، د کورنیو چارو وزارت او د افغانستان د ګډ امنیت د انتقال قوماندې د جنوري 1، 2009 نه تر می 31، 2010 پورې په 136000 پولیس افسرانو د نشو د استعمال معاینه ترسره کړه. د هغوی نه چې معاینه شوي ول، 10880 تنو کې د یوې یا بلې بڼې د ناقانونه موادو استعمال ثابت شو؛ (tetrahydro-cannabinol (THC، په چرسو کې چې کوم فعال مواد وي، هغه یکې تر ټولو زیات و. د نشه یي توکیو د استعمال د دې معاینو د نتیجو په پایله کې، د کورنیو چارو د وزارت مامورین د نشه یي توکیو او شرابو لپاره یوه نوې تګلاره ترتیب کړه کومه چې د پولیسو د ټولو ځواکونو لپاره د

نشه يي توکيو کلنی معاينه لازموي. د NTM-A له مخې، د کورنيو چارو د وزارت حقوقي رياست د دې تکلارې د مسودې کتنه کوي.[400]

د NTM-A له مخې، د کورنيو چارو وزارت هغو افسرانو ته د نشه يي موادو د علاج خدمتونه هم برابروي کوم چې په نشو روږدي وي. په دسمبر 2009 کې د کورنيو چارو وزارت د کابل په لويديځ کې يوه ودانۍ د نشه يي موادو د علاج په مرکز بدل کړ کوم چې د 126 مريضانو د ځای او علاج ظرفيت لري. د دې لپاره چې په نشو روږدي کېدو مخه ونيسي، د پوليسو د ګډې روزنې مشورتي ډله يو د نشو ضد پروګرام ته بيا کتنه کوي؛ د NTM-A له مخې، دغه پروګرام به د بنسټيزې روزنې له لارې تطبيقېږي.[401]

نړيواله ټولنه او افغان دولت د نشو د طلب د ستونځې سره په يو شمېر طريقو مبارزه کوي، په ګډون د روزنيزو پروګرامونو او سيمييزو او نړيوالو پروژو. د بېلګې په توګه، ملګري ملتونه د روزنيزو پروګرامونو د يوې لړۍ سره مرسته کوي چې محلي خلکو ته به د مخدره موادو د زيان رسوونکو اغېزو په اړه زده کړه ورکړي، په ګډون د HIV د مرض د خطرې. په روزنيزو پروګرامونو کې به د نورو موضوعاتو تر څنګ خلکو سره تماس، د ستنې د سيرنج پروګرام، او د خوراک د زياتولو سمبالښت شامل وي.[402]

په اپريل 2010 کې UNODC يو لاسوند خپور کړ په کوم کې چې د هغو 20 فعالو پروژو خاکه وړاندې شوې چې په افغانستان کې د مخدره موادو ضد هڅو مرسته کوي؛ د هغوی ارزښت شاوخوا 82 مليونه ډالر دی. بوديجې ورته له تر 10 زياتو هېوادونو لخوا برابرېږي، په ګډون د متحده اياالاتو، او نړيوالو سازمانونو هم. د 20 نه اته پروژې د مخدره موادو د طلب د کمولو د پروګرامونو مرسته کوي.[403] چوکاټ 3.11 دغه اته د مخدره موادو د طلب د کمولو پروژې او د هغوی بوديجې پېژني.

چوکاټ 3.11

| **د مخدره موادو د غوښتنې د کمولو سيمييزې او نړيوالې پروژې** | |
|---|---|
| **سيمييزه پروژې** | **بوديجه (په مليونونو ډالرو)** |
| په افغانستان کې د مخدره موادو د غوښتنې د کمولو لپاره د ظرفيت جوړول | $2.9 |
| د مخدره موادو د غوښتنې د کمولو د معلوماتو، مشورې، او د ټريننګ ټولنې چې د پاکستان په بلوچستان او پښتونخوا کې د افغان کډوالو په کمپونو کې د خدمت لپاره اوسيږي | $0.9 |
| په افغانستان کې د ښځينه پيچکارۍ کاروونکو او ښځينه بنديانو لپاره د HIV/AIDS مخنيوی، علاج او پاملرنه | $1.1 |
| په افغانستان کې د اپيمو د استعمال په اړه سروی او د مخدره موادو د استعمال په اړه يو معلوماتي سيستم جوړول | $0.3 |
| د ايران او پاکستان په افغان کډوالو او افغان ته ستنيدونکو کې د نشه يي توکيو د کاروونکيو د HIV د مخنيوي او علاج د جامع خدمتونو د برابرولو لپاره ضمني سيمييزه پروژه | $1.9 |
| **نړيوالی پروژې** | |
| د نشه يي توکيو د استعمال او HIV/AIDS مخنيوی | $0.2 |
| د جامع علاج د اقدام لپاره شراکت (PACT) – د نشه يانو او د هغې د روغتيايي پايلو علاج کول\|په دوهم پړاو کې د HIV/AIDS د مخنيوي لپاره د OFID/UNODC ګډ پروګرام | $0.9 |
| د پاريس د تړون اقدام – د افغانستان د مخدره موادو د قاچاق او استعمال د مخنيوي لپاره شراکت | $0.2 |
| **ټول** | **$8.4** |

سرچينه: UNODC، "د افغانستان کې پروګرام،" 4/2010، مخ 5.

## نړیواله همکاري

د مخدره موادو د کنټرول د نړیوال پلاوي (INCB) د رییس له مخې د افغانستان دا ناتوانمندي چې خپلې پولې کنټرول کړي د مخدره موادو د نړیوال قاچاق د ستونځې سبب شوی کوم چې په ګرده نړۍ کې هېوادونه اغېزمن کړي دي.[404] نړیوالې ټولنې ته د دې اړتیا په تاکید کولو سره چې د دې مسلې د حل لپاره په شریکه کار وکړي، د مخدره موادو په اړه د ملګرو ملتونو د 2010 نړیوال راپور ویلي چې نړیواله ټولنه دې ته اړتیا لري چې د مخدره موادو د اکمال او طلب د کمولو پروګرامونه په خپلو هڅو کې شامل کړي او ملي هڅې د نړیوالو ستراتیژیو سره مربوطې کړي.[405]

په جون 2010 کې INCB یوه مباحثه جوړه کړه چې سرلیک یې و "په افغانستان کې د مخدره موادو تولید: د نړیوالې ټولنې لپاره یوه ننګونه." په دې مباحثه کې د INCB رییس ګډونوالو ته درخواست وکړ چې "د هغو اقداماتو د اغېزمنتیا او دوامداری پراخولو ته ادامه ورکړي چې د کوکنارو د کر د له منځه وړلو لپاره او دې خبرې یقیني کولو لپاره دي چې د کروندګرو هغو ټولنو ته چې د ناقانونه فصلونو په کرلو کې ښکېل دي لپاره دوامداره او قانوني ژوندچاري برابر کړي."[406] برسېره پر دې، INCB په افغانستان کې د مخدره موادو د تولید د ختمولو لپاره پرمختیا او د قانون تنفیذ د دوو تر ټولو زیاتو قوي آلو په توګه پېژندلي دي. INCB د دوه طرفه او ګڼ طرفه اقتصادي پرمختیا ادارو پر دې ارزښت زور راوړ چې افغانستان سره د یو اقتصادي قوت بنسټ په جوړولو کې مرسته وکړي. دا هڅې به هغو افغان کروندګرو سره چې د کوکنارو کر یې پریښی دی د غربت او تشدد د سوچ په کنټرول کې مرسته وکړي.[407]

INCB په دې خبره زور راوړ چې نړیواله ټولنه دې ته اړتیا لري چې د مخدره موادو قاچاقیان د دولت ضد ډلو سره د کاروبار کولو نه منع کولو کې مرسته وکړي ځکه چې دا بې ثباتي پیدا کوي. د INCB له مخې د دې هڅې په بریالیتوب کې د نړیوالې ټولنې همکاري یو مهم عنصر دی.[408]

## پرمختیایي بدیل پروګرامونه

د سیګار د اپریل 2010 درې میاشتني راپور یادونه کړې وه چې د متحده ایالاتو د ثبات ستراتیژۍ په زراعت باندې د بیا رغونې د اصلي لومړیتوب په توګه تاکید کوي. د بهرنیو چارو د وزارت له مخې، زراعت د جایزو روزګارونو د پیدا کولو تر ټولو تېزه لاره ده، کومه چې په بدل کې د بودیجو هغه بهیر کموي چې د کوکنارو کر یې باغیانو ته برابروي.[409] د سفیر ریچرډ سي. هالبروک له مخې، د متحده ایالاتو حکومت د زراعت وزارت او نړیوالې ټولنې لپاره د متحده ایالاتو د اداری (USAID) څخه نږدې 100 زرعي ماهران په افغانستان کې ځای پر ځای کړي دي. هغوی د نږدې همکارۍ په توګه د افغان دولت د چارواکیو سره کار کوي چې د لوړ ارزښت د فصلونو، لکه ختکي، انګور، منې، او انار، په صادرولو کې په سیمه کې د رهبرۍ پخوانی حیثیت بیرته ترلاسه کړي.[410]

د ملګرو ملتونو د یو اعلان له مخې، UNODC او د خوړو نړیوال پروګرام شراکت کړی چې په لویدیځ افغانستان کې د هیروینو تولید له منځه یوسي. دا پروګرام د دې لپاره جوړ شوی چې د هرات په کوشان ولسوالۍ کې د اوبه خور یو کانال بیا جوړ کړي.[411] کوشان د کوکنارو نه تقریباً پاکه ګڼل شوې، خو د مخدره موادو قاچاق اوس هم یوه غټه مسله ده. هغه کلیوال چې په ولسوالۍ کې کار نشي پیدا کولای فراه او هلمند ته سفر کوي چې کوکنار وکړي – هغوی ته د ورځې شاوخوا 500 افغانۍ (11 ډالر) ورکول کیږي. د دې لپاره چې کلیوال خلک د دې نه منع کړي چې د کوکنارو ولسوالیو ته د پیسو ګټلو لپاره لاړ شي، د ملګرو ملتونو پروګرام کلیوالو ته پیسې ورکوي چې د اوبه خور کانال پاک کړي، کوم چې په تېرو څو کلونو کې د وچکالۍ او ځنګلونو د وهلو له امله د شګې نه ډک شوی دی. دا کانال به د قانوني فصلونو د کرلو لپاره د ژوند د یوې سرچینې په توګه کار وکړي.[412]



یو افغان سړی په محلي بازار کې ډول ډول خربوزې او هندوانې خرڅوي. نږدې 100 تنه د متحده ایالاتو زراعتي متخصصین د دې لپاره کار کوي چې د کوکنارو په ځای د قانوني بدیلونو په جوړولو کې مرسته وکړي، په ګډون د لوړې ګټې د فصلونو، لکه مېوې. (انځور په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت)

## د وړتیاوو لوړول

په دې درې میاشتنۍ کې، متحده ایالاتو او نړیوالې ټولنې د افغان دولت د ظرفیت د لوړولو د چارو سره مرسته وکړه تر څو په یو شمېر طریقو باندې د مخدره موادو د کاروبار مخه ونیسي. په دې مرستو کې شامل ول د مخدره موادو ضد مرکزونو غځونه او د مخدره موادو ضد پولیسو د یونټونو پراختیا.

### د امریکا د متحده ایالاتو هڅې

په دې درې میاشتنۍ کې، متحده ایالاتو په کابل کې د مخدره موادو ضد پولیسو د نوې قوماندانۍ د جوړولو لپاره 12.9 ملیونه ډالر مرسته ورکړه؛ په دې رقم کې به هر کال تر 3.9 ملیونه ډالرو زیاتوالی کولی شي. د بهرنیو چارو د وزارت له مخې، دا مرکز د مخدره موادو ضد پولیس په دې توانوي چې د مخدره موادو ټولو غټو فعالیتونو ته مرکزیت ورکړي، کوم چې باید د دې د ټولو یونټونو ترمنځ انسجام بهتر کړي.[413]

د 2010 د مې په 13مه، یوه غونډه د دې لپاره جوړه شوې وه چې د نشو د مخنیوي د هوایي یونټ (AIU) کار وپېژندل شي. AIU یو د مخدره موادو ضد هوایي یونټ دی چې د متحده ایالاتو د پوځ لخوا یې روزنه کېږي او چې کوم د ځمکنیو یونټونو سره د Mi-17 هلیکوپټرو له لارې مرسته کوي. د متحده ایالاتو د هوایي ځواک له مخې، د AIU کارکوونکي چې یوازې پکې افغانان شامل دي د کورنیو چارو د وزارت، د ملي پولیسو، او په افغانستان کې د نورو مخدره موادو ضد ځواکونو د

مرستي لپاره وخت په وخت ترينګونه او فعاليتي مشنونه ترسره کوي.[414] په تېرو 12 مياشتو کي AIU لاندې لاسته راوړني لرلي دي:

- د 2010\11 تشکيل تطبيقول، چي د AIU دننه يې مهمه وده راوستي ده
- د نويو سامانونو، موټرو، او دريشيانو چې د برتانيې د حکومت لخوا ورکړل شوي، ورکول او کارول.

د متحده ايالاتو د هوايي ځواک له مخي، دا پرمختګونه AIU توانوي چي د ملي پوليسو او کورنيو چارو د وزارت لپاره لا زياته پياوړې مرسته برابره کړي.[415]

### نړيوالي هڅې

کډوالی لپاره د نړيوالي اداري (IOM) له مخې، اروپايي ټولني او فرانسي په کابل کي د مخدره موادو ضد روزنيزې اکادمی د غځوني لپاره بوديجې ورکړي. دې اضافي د دغه مرکز تر دوه برابره هم زيات کړې، د 200 زده کوونکيو نه 440 ته. دا اکادمي د مخدره موادو ضد پوليسو ته روزنه ورکوي، کوم ته چي هدف ورکړل شوی چي د ناقانونه نشه يي موادو توليد، قاچاق او استعمال له منځه يوسي.[416]

په جون 2010 کې، د ملګرو ملتونو عمومي منشي راپور ورکړ چي په دې اکادمی کي يو د روزونکي د روزني پروګرام بشپړ شوی دی. نتيجتاً، افغانانو د راتلونکي روزني کنټرول په لاس کي واخيست، او مخدره موادو سره د مبارزې وزارت نړيوالي ټولني ته خپل لومړنی تفصيل وړاندې کړ – چي دا کار به د معمول سره سم بيا بيا ترسره کېږي.[417]

## ننګوني

لکه چي د سيګار د اپريل 2010 په درې مياشتني راپور کي يي يادونه شوي، د مخدره موادو ضد نوي ستراتيژي غواړي چي د عايداتو هغه بهير له منځه يوسي چي د مخدره موادو کاروبار يي د طالبانو او د هغوی د ايتلافيانو لپاره پيدا کوي. د INL له مخې، د مخدره موادو کاروبار جايزه اقتصادي پرمختيا کمزوري کوي، دولتي مشروعيت له منځه وړي، او په افغانستان او ټوله سيمه کي د ثبات او امنيت لپاره خطر پيدا کوي.[418]

د دې لپاره چي د مخدره موادو او ياغيانو خپلوي ختمه کړای شي، د ګډ بين الاداري هدف ځواک –تعلق ته په دې درې مياشتنی کي پراختيا ورکړای شوې چي د پوځ او قانون نافذوونکو ادارو لپاره لا زياته مرسته برابره کړي. د دفاع وزارت له مخي، دا پراختيا به د عملياتو رفتار تېز کړي. برسېره پر دې، د دفاع وزارت راپور ورکړی چي د مخدره موادو ضد پوليسو د پرمختيا يونټ 24 مهم وړانديزونه جوړ کړي دي چي د دې ظرفيت لوړ کړای شي. د دغو وړانديزونو ته څلورو ته لومړيتوب ورکړای شوی دی، او د تطبيق پلانونه يي تر کار لاندې دي.[419]

# په افغانستان کې په نشو روږدېدنه

د 2010 د جون په 21مه، UNODC، مخدره موادو سره د مبارزې وزارت، او د عامې روغتيا وزارت په افغانستان کې په نشو د روږدېدنې په اړه د خپلې اولسمې ملي سروی پايلې خپرې کړې، کومه چې د نشو د 2614 استعمالوونکيو او 2614 مهمو مخبرانو سره ترسره کړای شوې وه. تقريباً يو مليون افغانان د نشو استعمال کوي – اندازتاً 8% د ابادۍ عمرونه د 15 نه تر 64 دی. دا شمېر په نړۍ کې د نشو د کاروونکو د ابادۍ د اوسط دوه برابره دی، او هغوی چې سروی پرې شوې نشه يي توکيو ته د يوې بدترې ستونځې په توګه ګوري. په اصل کې دغې سروی ځرګنده کړې چې 50% نشې کاروونکې په شمالي او جنوبي سيمو کې اپيم خپلو ماشومانو ته ورکوي. د سروی له مخې، دا عمل ځوان نسل په اغېزمنه توګه په نشو اخته کوي.[420] په افغانستان کې په نشو د اخته کېدو د مخ په زياتېدونکې ستونځې په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره وګورئ د سيګار د اپريل 2010 درې مياشتنی راپور.

## د نشو استعمال

د UNODC، مخدره موادو سره د مبارزې وزارت، او د عامې روغتيا وزارت د مختلفو عمرونو په افغان سړو، ښځو او ماشومانو کې د نشه يي توکيو د استعمال سروی کړې ده. دا سروی ښيي چې د اپيمو استعمال د عمر او جنس په هره کټګورۍ کې ترسره کېږي.[421] هغه مواد چې د هر عمر او جنس په کټګورۍ کې زيات کارول شوي په چوکاټ 3.12 کې ښودل شوي دي.

چوکاټ 3.12

**د عمر او جنس په نسبت، په عامه توګه کارول کېدونکي مواد**

| د عمر او جنس کټګوري | مواد د استعمال په ترتيب |
|---|---|
| سړي (عمر 26 او پورته) | بنګ، ترياک، او هيروين |
| ښځې (عمر 26 او پورته) | اپيم، احساس نشه کوونکي، او درد وژونکي |
| سړي (عمرونه 16-25) | بنګ، ترياک، او هيروين |
| ښځې (عمرونه 16-25) | اپيم، بنګ، او هيروين |
| نابالغ (عمرونه 10-15) | بنګ، ترياک، او هيروين |
| ماشومان (تر 10 کالو کښته) | اپيم، احساس وژونکي، او بنګ |

سرچينه: UNODC، "په افغانستان کې د مخدره توکيو استعمال: 2009 سروی، عمومي لنډيز،" 6/21/2010، مخ 6.

د سروی له مخې، د نشه يي توکيو يو عامه افغان سړی يو د دريو ماشومانو 28 کلن پلار دی چې د خپلې مېرمن سره نه اوسېږي. هغه د خپل پلرني فاميل سره ژوند کوي، احتمال لري چې روزګار نلري، لږې يا هيڅ زده کړې نلري، او غريب دی. يوه عامه ښځينه نشه کوونکې کونډه يا طلاقه ښځه ده، لږې يا هيڅ زده کړې نلري، او احتمال لري چې روزګار نلري.[422]

## روغتيايي خطرې

کله چې نشه يان د نشه يي توکيو د اخيستلو توان نلري، نو هغوی د خپل عادت د پوره کولو لپاره د نشې په بدل کې جنسي اختلاط کوي. د دې موضوع د بحث کولو په اړه د کولتوري ممانعتونو له امله، لکه چې د UNODC لخوا يې يادونه شوې، يواځې 6% ځواب ورکوونکيو ومنله چې نشو لپاره د پيسو د برابرولو لپاره يې جنسي عمل کړی دی. د سروی ځواب ورکوونکيو وويل چې د جنسي عمل لپاره يې پوکنی هيڅکله يا چرته کله کارولې. د هغوی نه چې سروی يې شوې، په 3% کې HIV ثابت شوی؛ خو، د هغوی نه چې پکې ثابت شو، او نور هغه هم چې د HIV په اړه يې اورېدلي ول، دا ورته معلومه نه وه چې دا ځرنګه خورېږي او څنګه يې نورو ته د انتقال مخه ونيول شي.[423]

د نشو پيچکاری وهل د HIV/AIDS او نورو په وينه کې پيښېدونکو مرضونو لپاره لاره اسانوي. د سروی له مخې، شاوخوا 87% په رګ کې ستنې وهونکو نشه يانو وويل چې سرينجونه يې پرته په مناسب ډول يا بيخي له پاکولو پرته د نورو ډېرو خلکو سره شريک کړي دي.[424]

## د نشو علاج

UNODC راپور ورکړی چې د افغانستان د 34 نه 21 ولايتونه د نشه يانو د علاج مرکزونه لري – چې زياتره يې د استوګنځي او يا د کور علاجونه دي. د سروی له مخې، د علاج د دې ښو اساسي تمرکز د نشې نه په ايستلو، د اوسېدو د ځای په علاج، او له علاج وروسته پاملرنه وي، کومه چې محدوده ده. شاوخوا 11% له ځواب ورکوونکيو وويل چې علاج يې ترلاسه کړی؛ 90% علاج لپاره د خپلې اړتيا ځرګندونه وکړه. UNDOC، مخدره موادو سره د مبارزې وزارت، او د روغتيا وزارت د يو شمېر لاسرسي وړ خدمتونو او مرکزونو د جوړولو په اړتيا تاکيد وکړ، په ځانګړې توګه هغه چې هدف يې تولنې سره ارتباط، تحريکي مرکې، او د علاج څمتووالی وي.[425] د سروی پايلې ښيي چې د نشو استعمال مخ پر زياتېدو دی، او اوسنې د علاج خدمتونه کافي ندي.[426]

د انجونو زده کړې

د افغانستان د ښوونځي انجونې د فراه ولايت په ديزک کې د افغان ملي اردو د يو سرتېري څخه د ښوونځي اکمالات ترلاسه کوي. په ټول هېواد کې ډېر ښوونځي په عارضي جوړښتونو اتکا کوي. (د متحده اياالاتو د هوايي ځواک انځور، نکولاس پيلچ)

# 4 د نورو ادارو نظارت



# د نورو ادارو نظارت

په هره درې میاشتنۍ کې سیګار د نورو ادارو څخه د هغوی د نظارت د بشپړو شویو او روانو فعالیتونو د تازه حال غوښتنه کوي. دا ادارې په افغانستان کې د نظارت فعالیتونه سر ته رسوي او نتیجه یې سیګار ته ورکوي:

- د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر (DoD OIG)
- د بهرنیو چارو وزارت د عمومي پلټونکی دفتر (DoS OIG)
- د دولت د احتساب دفتر (GAO)
- د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره (USAAA)
- د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره د عمومي پلټونکی دفتر (USAID OIG)

هغه معلومات چې د پورته ذکر شویو ادارو څخه لاس ته راغلي په هماغه ډول په دې راپور کې ذکر شویدي خو ددی لپاره چې دهرې برخې سره توافق وکړي نو ځینې تغییرات پکې راوړل شوي دي: مخففات او لنډوني د بشپړو نومونو په ځای کارول شوی دی؛ معیاري لیکدود او املا او انشا کارول شوي؛ او د لومړی شخص پر ځای دریم شخص بیارغونې کارول شوي دي.

## د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه

چوکاټ 4.1 د نظارت د هغو 12 پروژو لیست وړاندې کوي چې د هغې بیا رغونې یا امنیت سره تړلې دي چې پکې ګډون کوونکیو ادارو ویلي چې په دې درې میاشتنۍ کې بشپړ شوي دي. په دې برخه کې هغه ټول وضاحتونه شامل دي چې دې ادارو ورکړي دي.

### د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر

د افغانستان په وانت کلي کې د جګړې بیا څېړنه
(راپور H10L111565072، خپور شوي په جون 22، 2010)

د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر د وانت د جګړې په اړه د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندې د قوماندان جنرال ډیوډ پیټریاس په لارښودنه د متحده ایالاتو د بحري ځواکونو د ډګر جنرال ریچرډ ناټونسکي لخوا د ترسره شوي بیا څېړنې کتنه کړې. د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر په دې نتیجه رسېدلې چې دې بیا څېړنې په کافي توګه وانت کې د جګړې حقایق ثابت کړي دي او د هغو کسانو په پېژندلو سره یې په معقوله توګه د احتساب غوښتنه کړې د چا کړنو یا ناکړنو ته چې د هغوی د وظیفې په ترسره کولو کې ناکامي ویل کېدای شي. دا په دې نتیجه رسېدلې چې د کمپنۍ، کنډک او غونډ قوماندانان د پاملرنې نه کولو یا استعداد نه لرلو له امله د خپلو وظیفو په ترسره کولو کې ناکام ول خو معلومه کړې یې ده چې د دویژن عملې په دې معامله کې خپل پوره پاملرنه کړې ده.

چوکاټ 4.1

**د متحده ایالاتو د نورو ادارو لخوا په دې وروستیو کې د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه، د جون 30، 2010 سره سم**

| اداره | د راپور شمیر | د خپریدلو نیټه | د پروژې سرلیک |
|---|---|---|---|
| DoD OIG | H10L111565072 | 6/22/2010 | د افغانستان په وانت کلي کې د جګړې بیا ځیرنه |
| DoD OIG | D-2010-062 | 5/24/2010 | د هغو بودیجو کنټرولونه چې د افغانستان او عراق د مرستې لپاره اختصاص شوي او د بهرني پوځ د خرڅونو د شبکې له لارې ورکړل شوي |
| GAO | GAO-10-829T | 6/29/2010 | د جنګیدونکي ملاتړ: د دې د بهترۍ لپاره د کولتوري بدلون اړتیا ده چې څرنګه د دفاع وزارت د فعالیتي قرارداد مرسته پلان او انتظام کوي |
| GAO | GAO-10-842T | 6/25/2010 | د جنګیدونکي ملاتړ: افغانستان ته د اکمالاتو او مجهزاتو د ویش په لړ کې د دفاع وزارت د پرمختګ او ننګونو په اړه ابتدايي مشاهدات |
| GAO | GAO-10-655R | 6/15/2010 | د افغانستان امنیت: په افغانستان کې د متحده ایالاتو د هڅو لپاره ستراتیژیکه لایحه |
| GAO | GAO-10-613R | 5/5/2010 | د افغانستان امنیتي چاپیریال |
| GAO | GAO-10-465 | 4/16/2010 | نظامي ټرینګ: د جګړې د مهارتونو د هغه ټرینګ د تسلسل د نورې بهترۍ لپاره د اقداماتو اړتیا ده چې د پوځ او سمندرې پوځ د ملاتړ ځواکونو ته ورکول کیږي |
| GAO | GAO-10-357 | 4/12/2010 | د احتمالي پیښې له پاره قرار داد کول: د هغو قراردادیانو په سمبالښت کې بهترونو ته اړتیا ده چې په عراق او افغانستان کې د قرارداد او بودیجې د ادارې مرسته کوي |
| USAAA | A-2010-0088-ALL | 4/14/2010 | په افغانستان کې د شانک د پوځي اډې لپاره د بې حسابه تیلو د غوښتنو د ځیرلو لپاره د موافقه شویو پروسیجرونو تصدیق |
| USAID OIG | 5-306-10-002-O | 6/24/2010 | د USAID\افغانستان د هغو ښوونځیو او روغتیايي کلینکونو د ودانیو کتنه چې د ښوونځیو او کلینکونو د رغوني او نوي کولو د پروګرام لاندې جوړ شوي |
| USAID OIG | 5-306-10-009-P | 5/21/2010 | په USAID \افغانستان کې د شخصي امنیتي قراردادیانو د څارنې پلټنه |
| USAID OIG | 5-306-10-008-P | 4/20/2010 | د زیات شوي زراعتي تولید لپاره د واوچرونو (AVIPA) د پروګرام په اړه د USAID\افغانستان د نظارت پلټنه |

یادونه: MERO = د منځنی ختیځ منطقوي دفتر. سرچیني: د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 7/6/2010؛ DoS OIG-MERO، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 7/6/2010؛ GAO، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 7/8/2010؛ USAAA، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 7/7/2010؛ USAID OIG، د سیګارد معلوماتو پوښتني ته ځواب، 7/6/2010؛

### د هغو بودیجو کنټرولونه چې د افغانستان او عراق د مرستې لپاره اختصاص شوي او د بهرني پوځ د خرڅونو د شبکې له لارې ورکړل شوي

(راپور لمبر D2010-062، خپور شوي په مې 24، 2010)

د دفاعي امنیت د همکارۍ اداره (DSCA) دا خبره یقیني کوي چې هغه بودیجې چې د افغانستان او عراق د مرستې لپاره اختصاص شوي او د دې د نظارت لاندې ورکړل شوي د خپل اصلي هدف لپاره کارول شوي او د دفاع وزارت د جګړې د لګښت په راپور کې په سم ډول راپور شوي. خو، د دې خبرې د یقیني کولو لپاره بهتروني ضروري دي چې د دې اختصاص شویو بودیجو اغېزمن سمبالښت وشي. په مشخصه توګه، 6 ملیونه ډالر بیرته د دفاع وزارت یا نظامي ادارو ته د بودیجو د لغوه کېدو له نیتې مخکې نه ول ستانه شوي او په سم ډول بې حساب نه و شوی. برسېره پر دې، 31.6 ملیونه ډالره د عراق د ګړ ملي امنیتي انتقال قوماندې ته مخکې له هغې نه ول ستانه شوي چې وخت پرې تېر شو. همدارز، DSCA د هغو اضافي لږ تر لږه 25.7 ملیونه وخت تېر او ناڭول شویو ډالرو د سم استعمال په اړه چې د FMS اعتبار په بودیجه کې پراته دي یوې بشپړې کتنې او معلومونې ته اړتیا لري.

## د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره

### په افغانستان کې د شانک د پوځي اډې لپاره د بې حسابه تیلو د غوښتنو د ځیرلو لپاره د موافقه شویو پروسیجرونو تصدیق

(راپور لمبر A-2010-0088-ALL، خپور شوي په اپریل 14، 2010)

په دې راپور باندې په تحفظي توګه یواځې د رسمي استعمال لپاره د قانون نافذونکو ادارو لپاره حساس ټاپه لګول شوې. د افغانستان په باګرام هوايي اډه کې د قرارداد د فساد نړیوال هدف ځواک د دې تصدیق

د کتنې غوښتنه کړې وه. پلټونکو د بې حسابه تېلو د ابتدایي د غوښتنو د تېلو د رسولو د هغو ریکارډونو سره وکتله چې د شانک د زیاتو تېلو په ټانک کې د 1 دسمبر 2009 نه تر 18 فبروري 2010 په موده کې ساتل شوي ول. دا کتنې د دې لپاره ترسره شوې وې چې د تېلو د احتمالي دوکه غوښتنو شمېر او د هغې په نتیجه کې د تاوان شویو تېلو اندازه معلومه کړای شي.

## د نړیوالې پرمختیا لپاره متحده ایالاتو اداره د عمومي پلټونکی دفتر

د USAID\افغانستان د هغو ښوونځیو او روغتیایي کلینکونو د ودانیو کتنه چې د ښوونځیو او کلینکونو د رغونې او نوې کولو د پروګرام لاندې جوړ شوي
(راپور لمبر 5-306-10-002-0، خپره شوې په جون 24، 2010)

اخري راپور د 2010 د جون په 24مه خپور شوی و (A.R. No. 5-306-10-002-0). دا کتنه د عمومي پلټونکی د دفتر سره د KPMG کابل د قرارداد د لاندې ترسره شوې وه. د قرارداد له مخې، KPMG د هغو 776 ودانیو څخه چې د دې پروګرام د لاندې بشپړې شوي د 50 ودانیو د احصایي نمونو د ځایونو څخه لیدنه وکړه (30 ښوونځي او 20 کلینکونه). دې کتنې دوه مقاصد لرل: چې (1) معلومه کړای شي ایا دا ښوونځي او کلینکونه د خپلو اصلي اهدافو لپاره کارول کېدل که نه او (2) او د افغانستان خلکو ته د تعلیمي او روغتیایي خدمتونو په رسولو کې د دې پروګرام اغېز ته کتنه وکړي.

KPMG د 50 نمونو نه یوازې دوه ودانۍ داسې وموندلې چې د خپل اصلي هدف لپاره نه کارول کېدلې. په یوه ځای کې یو ښوونځی د تعلیمي اداري چارو لپاره کارول کېده ځکه چې په دغه سیمه کې اوسېدونکي زده کوونکي یې نشو ځای کولای؛ په بل ځای کې یو کلینک د امنیتي وضعیت د خطر له امله پرېښودل شوی و. د پروګرام د اغېز په تړاو، KPMG ته معلومه شوه چې په 30 ښوونځیو کې د 1385 ښوونځیو عمله وه کومو چې 57744 زده کوونکیو ته درسونه ورکول. په 20 روغتیایي کلینکونو کې د 109 تنو کلینکي عمله وه او په میاشت کې یې د شاوخوا 39500 تنو مریضانو روغتیایي علاج کاوه. راپور مشوره ورکړې چې مشن دې د اړوندو وزارتونو څخه د هغو ودانیو یو لیست وغواړي کومې چې د خپلو اصلي اهدافو لپاره نه کارول کېږي تر څو معلومه شي چې که کومو نورو اقداماتو ته اړتیا لري.

په عین حال کې، KPMG د ښوونځیو او کلینکونو د فزیکي حالتونو په تړاو د ډېرو کمزوریو یادونه کړې، چې په هغوی کې شامل دي جوړښتي ستونځې، خراب هارډویر، او خراب د اوبو خدمت او د اوبو نلکې – او همدارازد انتظام بیخې نشتوالی. KPMG یادونه کړې چې دې کمزوریو په ځینو حالتونو کې داسې یو چاپېریال جوړ کړی چې د معیاري زده کړې او روغتیایي خدمتونو لپاره ښه ندی او زده کوونکي، مریضان، او عمله د خرابو او خطرناکو روغتیایي شرایطو سره مخ کوي. راپور سپارښتنه کړې چې مشن دې د دې کمزوریو جاج واخلي او کومې چې جدي دي د هغوی د سمولو لپاره دې یو د اقدام پلان جوړ کړي.

په افغانستان کې د خصوصي امنیتي قراردادیانو په اړه د USAID\افغانستان د نظارت پلټنه
(راپور لمبر 5-306-10-009-P، خپره شوې په مې 21، 2010)

د پلټنې اخري راپور په مې 21، 2010 خپور شوی و (A.R. No. 5-306-10-009-P). دې پلټنې معلومه کړه چې دې مشن د اکتوبر 2006 او جون 2009 ترمنځ 149 "پېښو راپورونه" ترلاسه کړي، چې 44 یې د جدي خطرې د تعریف سره برابر دي. خو په دې راپورونو کې هغه ټولې پېښې چې رامنځته شوي ندي شاملې شوي ځکه چې دا مشن په خپلو موافقو کې داسې معیاري ماده نلري چې

راپور ورکول پکې لازم کړي.

پلټنې دا هم معلومه کړې چې مشن دا خبره نده يقيني کړې چې د دې د تطبيقوونکيو شريکوالو لخوا دې يوازې مسووليت لرونکي خصوصي امنيتي قراردادیان په کار وګومارل شي. په داسي حال کې چې مشن په دې اړه يو څه محدود اقدامات کړي دي، خو 2 خصوصي امنيتي قراردادیان چې بودیجې ورکړل شوې وې د افغان دولت جواز يې نه درلود؛ 17 خصوصي امنيتي قراردادیانو ته د ضمني قرارداد کولو رضايت نه و ورکړل شوی؛ او مشن په قرارداد کې داسي يوه ضروري ماده نه شاملوله چې مختلف امنيتي اقدامات يې لازمول. همدارانګ، مشن د امنيت په تړاو د بوديجو کوم شرط نه درلود، نو د قراردادونو دريمه برخه د ضمني قرارداد د امنيت سره معياري قراردادي شرايط نه درلودل. خو، که مشن په سمه توګه دا معاملات حل کړي وای، نو د دې هڅې به کافي نه وای، ځکه هغه قانوني او قاعدوي مادې چې د امنيتي خصوصي قراردادیانو د تعليمي استعدادونو او چلند د نظارت لپاره وې په افغانستان کې د مشن د رسمي لاربښودنو له لارې نه وې تطبيق شوې.

پلټنې دا هم معلومه کړې چې خصوصي امنيتي قراردادیان د امنيتي خدمتونو لپاره 167 مليونه ډالر اخيستي. په اوسط ډول، دا خدمتونه د قراردادونو د لګښتونو 8.3% وو. خو د خصوصي امنيتي ضمني قراردادونو د لګښتونو سلنه د ټولو لګښتونو نه ډېره مختلفه وه. د هغو سيمو لپاره چې نسبتاً خوندي دي د امنيتي خدمتونو سلنه شاوخوا 8% نه تر 10% کېدای شي، خو په هغو سيمو کې چې ډېرې خطرناکې دي تر 20%، 30% او تر 50% هم جيګېدلای شي.

دې راپور سپارښتنه کړې چې د USAID د افغانستان د قراردادونو افسر دې په ليکلي توګه غوښتنه وکړي چې د مشن مشر دې د هغو خصوصي امنيتي قراردادیانو چې د دفاع وزارت په ليست کې ندي او د هغوی د پرسونل لپاره په ټول مشن کې لاربښودنې خپرې کړي چې يا (1) هغه معيارونه تطبيق کړي چې د جيوګرافيک جنګي قوماندان لخوا ټاکل شوي، او يا (2) هغو خصوصي امنيتي قراردادیانو او د هغوی پرسونل ته چې د دفاع وزارت په ليست کې ندي لاربښودنه وکړي چې هغه لاربښودنه او پروسيجرونه تعقيب کړي کوم چې د جيوګرافيک جنګي قوماندان او\يا د هغه نه لاندې جنګي قوماندان لخوا خپاره شوي وي. نورو سپارښتنو د USAID\افغانستان د لاسته راوړنې او مرستې د مسوول دا اړتيا بحث کوله چې د امنيت سره تړليو مختلفو غوښتنو په اړه ليکلې لاربښودنې خپرې کړي.

### د زيات شوي زراعتي توليد لپاره د واوچرونو (AVIPA) د پروګرام په اړه د USAID\افغانستان د نظارت پلټنه

(راپور لمبر 5-306-10-008-P، خپره شوې په اپريل 20، 2010)

اخري راپور د 2010 د اپريل په 20مه خپور شوی و (A.R. No. 5-306-10-008-P). د دې پلټنې هدف دا معلومول وو چې ايا د 360 مليونه ډالرو د لګښت د AVIPA پروګرام د غنمو د توليد د زياتولو او د زراعت اړوند د ثبات د فعاليتونو د ترسره کولو خپل اصلي اهداف لاس ته راوړي که نه. دا پروګرام دوه اجزا لري: د افغانستان په شمالي، لويديځو او مرکزي ولايتونو کې د غنمو د تخم او سرې ويشل؛ او د افغانستان په جنوبي ولايتونو هلمند او کندهار کې يو شمېر زراعت سره تړلي د ثبات فعاليتونه ترسره کول، په ګډون کار لپاره د نغدو پروژو او د کوچنيو بوديجو د پروګرام.

دې پلټنې معلومه کړې چې دې پروګرام، په زرګونو وړو کروندګرو ته د غنمو د تخم او سرې په ورکولو سره، د هېواد په داخل کې د غنمو د توليد په زياتوالي کې رول ترسره کړی دی. خو، هغه حد تر کومه چې دې پروګرام په دې زياتوالي کې رول ترسره کړی واضح ندی ځکه چې دغې پلټنې معلومه کړې چې ځينې راپور شوې نتيجې د باور وړ نه وې او په 57% هغو قضيو کې په بشپړه توګه تاييد شوې نه وې چې د هغو ګډوډيو لپاره کتل شوې وې چې په ملاتړو ريکارډونو کې موندل

شوې وي. دا د دوکې احتمالي قضيې د څېړنو عمومي پلټونکي ته لېږل شوې دي. برسېره پر دې، په داسې حال کې چې دې پروګرام د افغانستان په جنوبي ولایتونو (هلمند او کندهار) کې د ثبات فعالیتونه پیل کړي ول، هلته امنیتي وضعې پروګرام د دې نه منع کاوه چې خپل فعالیتونه د پلان سره سم په پراخه توګه تطبیق کړي، چې په دې توګه یې د پروګرام دا توان محدود کړی و چې په دې سیمه کې خپل هدف په بشپړه توګه لاسته راوړي. نتیجتاً، پلټنې معلومه کړې چې تطبیقوونکی شریکوال به دا توان ونلري چې ورته ورکړل شوې بودیجې د پروګرام د ختمېدو د نیټې د 2010 د اګست تر 31مې پورې ولګوي او احتمال لري چې دغه بودیجې پاتې شي.

راپور سپارښتنه کړې چې USAID\افغانستان دې په خپل تطبیقوونکي لازمه کړي چې د پروګرام د نګرانی د پیاوړي کولو او ګډوډیو د معلوملو لپاره دې مناسب پروسیجرونه او کنټرولونه جوړ کړي. تطبیقوونکی دې ته هم اړتیا لري چې د یوې جواز لرونکې طریقې په کارولو سره د غنمو د تخم د ویش د اغېز ارزونه بیا وکړي. راپور دا سپارښتنه هم کړې چې مشن دې د پاتې کېدونکو بودیجو اندازه معلومه کړي او د هغوی لپاره دې په مناسبه توګه بیا پروګرام جوړ کړي.

## د نظارت روان فعالیتونه

د جون 30، 2010 سره سم، ګډون کوونکیو ادارو د افغانستان د بیا رغونې یا امنیت په اړه د نظارت د 32 روانو فعالیتونو راپور ورکړی. دغه فعالیتونه چې راپور یې ورکړل شوی په چوکاټ 4.2 کې یې لیست ورکړل شوی دی. په دې برخه کې هغه ټول تشریحات شامل دي چې ادارو ورکړي دي. په دې برخه کې هغه ټول وضاحتونه شامل دي چې دې ادارو ورکړي دي.

### د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر

د دفاع وزارت اوس هم د Overseas Contingency Operations (OCO)، چې پخوا یې ورته "د تروریزم په وړاندې نړیواله جګړه ویله"، په پلي کولو کې د ډېرو ننګونو سره مخ دہ. د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر د دغو ننګونو پر بنسټ خپل لومړیتوبونه پیژندلي دي او په جنوب لویدیځه اسیا کې د OCO د عملیاتو او حضور په زیاتولو او پراخولو سره یې ورته ځواب ویلی دی. څرنګه چې د دفاع وزارت خپل OCO ته ادامه ورکوي، چې د تلپاتې ازادۍ عملیات (OEF) پکې شامل کړي، د دې تمرکز به بیا هم په هغو مسلو وي چې د مشن د ترلاسه کولو او دې خبرې د یقیني کولو لپاره مهمې دي چې دا وزارت د جګړې د جنګیالي د مرستې لپاره د سرچینو کافي استعمال کوي.

د مالي کال 2010 د دریمې درې میاشتنی پر مهال، د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر په عراق او افغانستان کې د اضافي پلټونکو او څېړونکو ځای پر ځای کولو ته ادامه ورکړه. دغه اضافي پرسونل د ځارنیزو پروګرامونو د زیاتیدو له امله چې قانون او کانګرس، د دفاع وزارت لوړپوړو چارواکو او په عراق کې د دفاع وزارت د فعالیتونو د کمښت او په افغانستان کې د عملیاتي چټکتیا زیاتیدلو لپاره اړین دي لیږل شوي دي. ساحوي مسؤل په قطر، کویټ، عراق او افغانستان کې د نظارت او تحقیق د ملاتړ لپاره د پلټنې په برخه کې د دغو دفترونو وړتیا اضافه کوي. برسیره پر دې، د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر په پام کې لري چې جنوب ختیځې آسیا او افغانستان ته خپل نور کارکوونکي هم واستوي.

د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی تر مشرۍ لاندې د جنوب غربي اسیا د ګډ پلان ګروپ د فدرالي او د DOD OCO تر منځ همغږي رامنځته کوي او موجود مسایل یې له منځه وړي. دې ډلې خپله دیارلسمه غونډه په می 2010 کې وکړه. د می 2010 د جنوب لویدیځې اسیا د ګډ پلان جوړولو د ډلې پر مهال، د پوځ د مجهزاتو او معلوماتو قوماندې په جنوب لویدیځه اسیا کې د خپلو هڅو جزییات

چوکاټ 4.2

**د متحده ایالاتو د نورو ادارو د نظارت فعالیتونه، د جون 30، 2010 سره سم**

| اداره | د پروژې شمېره | د پیل نیټه | د پروژې سرلیک |
|---|---|---|---|
| DoD OIG | D2010-D000JO-0229.000 | 6/14/2010 | د افغانستان په پروان کې د بندیخاني رغونه |
| DoD OIG | D2010-D000JB-0157.000 | 3/4/2010 | د افغان ملي اردو د تجهیزاتو د ترمیمي خدماتو د روزني پروګرام قرارداد |
| DoD OIG | D2010-D000JA-0165.000 | 2/22/2010 | د متحده ایالاتو د استخباراتي، او پوځي قوماندانی د ژبني ملاتړ قرارداد کتنه |
| DoD OIG | D2010-D000JA-0165.000 | 2/18/2010 | په افغانستان کې معلوماتي عملیات |
| DoD OIG | D2010-D000FL-0100.000 | 2/18/2010 | د قوماندانانو لپاره دبیړني ځواب پروګرام لپاره د پیسو د ورکولو داخلي کنټرول، په افغانستان کې د عملیاتو د ملاتړ لپاره پیسې ورکړل شوي وي |
| DoD OIG | D2010-D000JA-0091.000 | 12/9/2009 | په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو د ساتني پروګرامونه |
| DoD OIG | D2009-D000LC-0237.000 | 6/11/2009 | د عراق د آزادي د عملیاتو او د تلپاتي آزادي عملیاتو په ملاتړ کې د هوایي کارګو ترانسپورټیشن قراردادونه |
| DoD OIG | D2008-D000CD-0256.000 | 8/7/2008 | د دفاع وزارت د بدني زغرو قرارداد |
| DoS OIG-MERO | 10-MERO-3004 | 2/2010 | د وګړو، کډوالو او مهاجرینو د بیرو د پروګرام د اغیزمنتیا ارزونه چې کډوال بیرته ټولني ته جذب او بیرته هستوګن کوي |
| DoS OIG-MERO | 10-MERO-3002 | 2/2010 | د بهرنیو چارو وزارت قرارداد د PAE د کمپنی سره چې په کابل کې د سفارت عملیات او څارنه ورته سپارل شوي دي |
| DoS OIG-MERO | 10-MERO-3001 | 2/2010 | PAE سره افغانستان کې د مخدره موادو ضد هڅو د یونټونو د عملیاتو او انتظام برابرولو لپاره د بهرنیو چارو وزارت<br>د قرارداد کتنه |
| DoS OIG-MERO | 10-MERO-3007 | 2/2010 | په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت ساتندویه ځواک (KESF) |
| DoS OIG-MERO | 10-MERO-3008 | 3/2010 | د بهرنیو کارکوونکو د بررسی لپاره ، په کابل کې د متحده ایالاتو د پالیسیو او پروسیجرونو لنډه ارزونه |
| GAO | 351492 | 4/30/2010 | په افغانستان کې د عملیاتو د مرستي لپاره پرسونل، مجهزات، او اکمالات |
| GAO | 320766 | 4/1/2010 | په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ملکیانو د زیاتولو کتنه |
| GAO | 351463 | 3/12/2010 | د افغانستان د ISR استعدادونه |
| GAO | 120874 | 11/12/2009 | په افغانستان او عراق کې د قراردادونو ژمنه شوي ارزونه |
| GAO | 351388 | 10/2/2009 | عراق او افغانستان کې د عملیاتو د ملاتړ لپاره آماده او روزل شویو پوځیانو مهیا کول |
| GAO | 320712 | 9/2/2009 | د مسلکي افغان ملي اردو په جوړولو کې د امریکا هڅې |
| GAO | 351395 | 8/21/2009 | په افغانستان کې د امریکایي پوځي عملیاتو لپاره لوژیستیکي ملاتړ |
| GAO | 351393 | 8/21/2009 | د عملیاتو پر مهال د دفاع وزارت د روغتیایي ارتیاوو مقررات |
| GAO | 351376 | 7/30/2009 | د هوایي جنګي ځواکونو او د هوایي حمایوي ځواکونو چمتوالی |
| GAO | 351387 | 7/30/2009 | د پوځ او سمندري ځواك د روزني ورتیا |
| GAO | 320680 | 5/8/2009 | په افغانستان کې د څښلو اوبو، د فاضله اوبو او د اوبو خور پروژې |
| GAO | 320662 | 3/16/2009 | په افغانستان کې د USAID د زراعت او متبادل پرمختیا پروژې |
| USAAA | A-2010-ALL-0480.000 | نه دي ورکړ شوي | د USFOR-A LOGCAP افغانستان د اقدام د کورس لپاره د موافقه شویو پروسیجرونو تصدیق |
| USAAA | A-2010-ALL-0103.000 | 2/22/2010 | د پلورونکو په ادائینو یا تادیاتو باندي کنټرول دویمه برخه-افغانستان |
| USAAA | A2009--ALL-0531.000 | 5/19/2009 | د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام (CERP) - افغانستان |
| USAAA | A2009--ALL-0106.000 | 2/2/2009 | د عراق او افغانستان د عملیاتو په ګډ قرار داد کې د عملیاتو قراردادي -- جلال اباد (افغانستان) |
| USAAA | A-2008-ALL-0401.000 | 9/1/2008 | د عراق او افغانستان د عملیاتو په ګډ قرار داد کې د عملیاتو قراردادي --کندهار او سالارنو (افغانستان) |
| USAID OIG | نه دي ورکړ شوي | نه دي ورکړ شوي | د USAID/افغانستان د پرمختیا د بدیل پروګرام د غځولو پلټنه، جنوب لویدیځ |
| USAID OIG | نه دي ورکړ شوي | نه دي ورکړ شوي | د USAID د دریو پروژو د امنیتي لګښت کتنه، کوم چې د ایډین بورګ انټرنیشنل لخوا د 1جنوري تر 31 دسمبر 2009 پورې اخیستل شوي دي |

سرچینې: د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 7/6/2010؛ DoS OIG-MERO، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 7/6/2010؛ GAO، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 7/8/2010؛ USAAA، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 7/7/2010؛ USAID OIG,، د سیګارد معلوماتو پوښتني ته ځواب، 7/6/2010؛

ورکړل، په ګډون د جنوب لویدیځه اسیا کې د ځواکونو په انتقال کې د مرستې. د همدغه ګروپ له لارې غړې هڅه کوي چې خپلې اړوندې نظارتي هڅې ، همغږې، شریکې او غیرمتعارضې کړې او خپل ځانګړې کارونه په شریکه ترسره کړې چې په دې هڅه کې به د جګړې د وخت د قراردادونو د کمیسیون او د هغې ماموریت سره یو ځای کار وکړي.

د مالي کال 2010 لپاره، د OEF سره اړوند بشپړ شوی او روان نظارت د بیا رغونې د هڅو په تړاو د پرسونل د تحفظ، د متحده ایالاتو د پرسونل لپاره د ځواک د تحفظ، د جایداد د احتساب، د قرارداد اداره کولو، د معلوماتي عملیاتو، د وسله والو استعدادونو، او افغان امنیتي ځواکونو لپاره د بودیجو د ترلاسه کولو، پلان او کنټرولونو چارې بحث کوي.

## د نظارت فعالیتونه

د مالي کال 2010 د دریمې درې میاشتنۍ لپاره، د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر د نظارت 34 روان فعالیتونه لرل او 15 داسې راپورونه یې خپاره کړل چې د OEF مرسته کوي. د دغو 34 روانو پروژو له جملې 8 چې په افغانستان کې د امنیت او بیا رغونې سره تړاو لري په دغه راپور کې ځای پر ځای شوي دي. د 15 خپرو شویو راپورونو څخه، 2 نبغ په نبغه په افغانستان کې د بیا رغونې یا امنیت د عملیاتو سره تړاو لري او په دې درې میاشتني راپور کې راځای کړای شوي دي.

### د افغانستان په پروان کې د بندیخانې رغونه

(پروژه لمبر D2010-D000JO—0229.000، پیل شوه په جون 14، 2010)

د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر غواړي معلومه کړي چې ایا د متحده ایالاتو د پوځ د انجینیرانو قول اردو او په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونو د افغانستان په پروان ولایت کې د بندیخانې د جوړولو لپاره د رغونې خدمتونه داسې ترلاسه کړي او د رغونې قرارداد یې داسې اداره کړی چې د مرکزي ترلاسه کولو د قاعدې او نورو تطبیقېدونکو قوانینو او قاعدو سره سم وي. په مشخصه توګه، د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر به دا معلوموي چې ایا د متحده ایالاتو د پوځ د انجینیرانو قول اردو په پروان کې د بندیخانې د جوړېدو پر مهال په سمه طریقه د قراردادي د کاري وړتیا نګراني کړې وه او که نه او ایا دا چې د متحده ایالاتو د پوځ د انجینیرانو قول اردو د احتمالي ظاهري خرابیو، بې خبرۍ، یا دوکې په صورت کې د قراردادي خلاف قانوني چاره ترسره کړې او یا به یې ترسره کړي که نه.

### د افغانستان د ملي اردو د تجهیزاتو د انتظام د ښودلو او خدمتونو د پروګرام قرارداد

(پروژه لمبر D2010-D000JB-0157.000، پیل شوه په مارچ 4، 2010)

د دفاع وزارت د پلټونکي عمومي دفتر دا ډاډ لاس ته راوړل غواړي چې آیا د افغان ملي اردو د وسایطو د ترمیماتو په قرارداد کې د کیفیت د ډاډ او د کنټرول له نظره ضروري پروسیجرې وجود لري که نه. په مشخصه توګه، د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر معلومول غواړي چې ایا د حکومت د قرارداد غوښتني ترسره کړای شوي او د قرارداد مناسبه نګراني ترسره کېږي که نه. برسیره پر دې د دفاع وزارت د پلټونکي عمومي دفتر به دا هم معلومه کړي چې قرارداد کوونکي کمپنۍ د خپلو دندو په ترسره کولو کې زیات ځای ته ضرورت لري که نه او یا دا چې قراردادکوونکوي یو عادلانه او مناسبه غوښتنه د پرزو د بیرته ورکولو په هکله ترسره کړې که نه.

د متحده ایالاتو د استخباراتي، او پوځي قوماندانی د ژبني ملاتړ قرارداد.
(پروژه لمبر D-2010-D000JA-0165-000، پیل شوی په فبروري 22، 2010)

د دفاع وزارت د پلټونکي عمومي دفتر دا موضوع تعیینوي چې آیا د متحده ایالاتو اردو د استخباراتو او امنیتي قوماندانیو د ژبني ملاتړ قرار داد (W911W4-07-D-0010) کې دقیق امنیتي احکام موجود وو که نه.

په افغانستان کې معلوماتي عملیات
(پروژه لمبر D2010-DOOJA-0138.000، پیل شوی په فبروري 18، 2010)

د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندې او په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو لخوا په افغانستان کې د معلوماتو د عملیاتو د ترسره کولو د توانمندۍ جاج اخلي. برسیره پر دې د دفاع وزارت د تفتیش عمومي دفتر به د دفاع وزارت هغه موسسات هم د ارزونې لاندې ونیسي چې مرکزي قوماندانی ته د معلوماتي عملیاتو په سرته رسولو کې مرسته کوي.

د قوماندانانو لپاره دبیړني ځواب پروګرام لپاره د پیسو د ورکولو داخلي کنټرول، په افغانستان کې د عملیاتو د ملاتړ لپاره پیسې ورکړل شوې وې
(پروژه لمبر D2010-D000FL-0100.000، پیل شوی په فبروري 18، 2010)

د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر معلوموي چې ایا د قوماندان د بیړني ځواب د پروګرام د هغو پیسو د لګولو د پروسې داخلي کنټرولونه چې په افغانستان کې د عملیاتو د ملاتړ لپاره ورکړل شوي، او د دفاع وزارت د مصرفونو د سیسټم له لارې ورکړل شوي، مناسب ول که نه. په مشخصه توګه، دا معلوموي چې ایا دغه کنټرولونه په کمپیوټر د ورکړل شویو پیسو د معلوماتو اعتبار یقیني کوي که نه او دا چې ایا دغه پیسې ورکول مناسب ول او د خپلو اصلي اهدافو لپاره کارول شوې وې که نه.

په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو د ساتنې پروګرامونه
(پروژه لمبر D2010-D000JA-0091.000، پیل شوی په دسمبر 9، 2009)

د دفاع وزارت د پلټونکي عمومي دفتر د ځواکونو د ساتنې پروګرام څخه ارزونه ترسره کوي د متحده ایالاتو د ځواکونو د اوسیدلو ځایونه او د پوځي ساحو اجازه نامې وګوري. په ځانګړې ډول دغه ارزونه د دغه پروګرام لپاره د امکاناتو څخه هم ارزنه کوي کومه چې قوماندانان یې د ودانیزو چارو لپاره د ځان سره لري او همداشان د تروریزم پرضد د مصوونیت. دغه تفتیش د بګرام او کندهار په هوایي اډه، د ایګرس په کمپ، او د کابل کمپونډ په نوې ودانۍ باندې تمرکز کوي.

د عراق د آزادي د عملیاتو او د تلپاتې آزادي عملیاتو په ملاتړ کې د هوایي کارګو ترانسپورټیشن قراردادونه
(پروژه لمبر D2009-D000LC-0237.000، پیل شوی په جون 11، 2009)

د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر دا پریکړه کوي چې آیا د عراق د آزادي عملیات (OIF) او OEF په ملاتړ کې د هوایي کارګو ترانسپورټیشن قراردادونه د اړوند فدرالي او دفاع وزارت له مقرراتو سره سم اداره شوي او که نه. په ځانګړي توګه، د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر به دا پریکړه کوي چې دا پریکړه چې له هوایي ټرانسپورټ څخه کار واخیستل شي عادلانه وه، او دا چې آیا د لیږدلو اوامر د اخیستونکو د انتخاب له معیارونو سره سم ورکړل شوي او که نه، او دا چې لیږل شوي کارګو د هوا له لارې د مقرراتو سره سم په ورکړل شوي وخت کې شوي وه او که نه.

د دفاع وزارت د بدني زغرو قرارداد

(پروژه لمبر D2008-D000CD-0256.000، پيل شوی په اګست 7، 2008)

د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر د بدني زغرو په اړوند قراردادونه او د قرار دادونو پړاونه د دقت لاندې نيسي. ځانګړې موخه پکې داده چې آيا په دغه قراردادونو کې د قراردادیانو مخينه اوصلاحيتونه، د قراردادونو د ورکړې معيارونه، د کيفيت په اړه د ډاډ پروسه، او داسې نورې اړيکې چې د حکومت او قراردادیانو ترمينځ وي، ارزول شوي که نه. دا ارزونه د کيفيت د ډاډ په اړه ارزونه به د لومړۍ وسيلې د آزمايلو او د بدني زغرو د قبليدو په اړه وي. د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر د 2010 د دسمبر په 21مه راپور لمبر 029—D-2010 خپور کړ چې زغره والو کاليو لپاره يې د دفاع وزارت د قراردادونو د ورکولو په اړه بحث کاوه. د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر پلان لری چې د دې پروژې په تړاو به اضافي راپورونه هم خپاره کړي.

## په منځني ختيځ کې د باندينيو چارو وزارت د عمومي پلټونکی سيمه ييز دفتر

### د نظارت فعاليتونه

د وګړو، کډوالو او مهاجرينو د بيرو د پروګرام د اغيزمنتيا ارزونه چې کډوال بيرته ټولنې ته جذب او بيرته هستوګن کوي

(پروژه لمبر 10-MERO-3004، پيل شوي په فبروري 2010 کې)

اهداف: مقاصد: د کاري ورتيا د دې پلټنې مقاصد معلومول دي د (1) ICRC، UNHCR، او موسسو سره د موافقو غوښتنې او شرايط؛ (2) دا چې د مرستې غوښتنې څنګه حساب شوې وې؛ (3) دا چې ايا مرسته اصلي هدف ته رسيدلې که نه؛ (4) د پروګرام د کاري ورتيا پيمانې جوړې شوې او ترلاسه شوې وې که نه؛ او (5) دې لپاره په کابل کې د سفارت او د ولايتي بيا رغونې د ټيمونو اغيزمنتيا چې په افغانستان کې د بشري مرستې ځواب منظم او منسجم کړي.

د بهرنيو چارو وزارت قرارداد د PAE د کمپنی سره چې په کابل کې د سفارت عمليات او څارنه ورته سپارل شوي دي

(پروژه لمبر -10-MERO3002، پيل شوي په فبروري 2010 کې)

اهداف: مقاصد: د کاري ورتيا د دې پلټنې مقاصد معلومول دي د (1) د قرارداد او هدف امرونو غوښتنې او شرايط؛ (2) د هغو بوديجو اندازه چې محکمې د مالي کال 2005-2009 لپاره د سفارت د عملياتو او انتظام د اسانتياو لپاره منلې او ورکړې؛ (3) د کابل د سفارت لپاره د عملياتو او انتظام د اسانتياو په برابرولو کې د PAE د قرارداد د کاري ورتيا اغيزمنتيا؛ (4) په افغانستان کې د متحده ايالاتو د جوړو کړيو سامانونو او جايدادونو د ليستونو د ساتلو، تاريخچو جوړولو، او ساتنې لپاره د PAE کنټرولونه، ايا چې د دې سامانونو په مناسبه توګه حساب ورکړل شوی، او د دوی د احتساب د ساتلو په وړاندې چيلنجونه؛ (5) په افغانستان کې د PAE د کاري ورتيا په اړه د نظارت د برابرولو لپاره محکمه قرارداد او هدف امرونه څومره ښه اداره کوي او ساتي؛ (6) ايا په قرارداد کې د FAR جمله لمبر 52.222.50 شامله ده که نه، کومه چې، که چيرې د قرارداد د مودې پر مهال، قراردادي يا ضمني قراردادي په خپله د قاچاق په سختو بڼو کې ښکيل شي، نو د هغې اداري علاج برابروي؛ او (7) څرنګه محکمه دا خبره يقيني کوي چې لګښتونه په مناسب ډول ورکړل شوي او مرسته يې شوې.

د بهرنیو چارو وزارت قرارداد د PAE د کمپنی سره چي په افغانستان کي د مخدره موادو پر وړاندې د افغان یونټ عملیات او څارنه ورته سپارل شوي دي
(پروژه لمبر -10-MERO3001، پیل شوي په فبروري 2010 کې)

اهداف: مقاصد: د کاري وړتیا د دې پلټنې مقاصد معلومول دي د (1) د قرارداد او هدف امرونو غوښتني او شرایط؛ (2) د هغو بودیجو اندازه چي محکمي د مالي کال 2005-2009 لپاره د سفارت د عملیاتو او انتظام د اسانتیاو لپاره منلي او ورکړي؛ (3) په افغانستان کې د مخدره موادو ضد یونټونو لپاره د عملیاتو او انتظام د اسانتیاو په برابرولو کې د PAE د قرارداد د کاري وړتیا اغېزمنتیا؛ (4) په افغانستان کې د متحده ایالاتو د جوړو کړیو سامانونو او جایدادونو د لیستونو د ساتلو، تاریخچو جوړولو، او ساتنې لپاره د PAE کنټرولونه، ایا چې د دې سامانونو په مناسبه توګه حساب ورکړل شوی، او د دوی د احتساب د ساتلو په وړاندې چیلنجونه؛ (5) په افغانستان کې د PAE د کاري وړتیا په اړه د نظارت د برابرولو لپاره محکمه قرارداد او هدف امرونه څومره ښه اداره کوي او ساتي؛ (6) ایا په قرارداد کې د FAR جمله لمبر 52.222.50 شامله ده که نه، کومه چې، که چیرې د قرارداد د مودې پر مهال، قراردادي یا ضمني قراردادي په خپله د قاچاق په سختو بنو کې ښکیل شي، نو د هغې اداري علاج برابروي؛ او (7) څرنګه محکمه دا خبره یقیني کوي چې لګښتونه په مناسب ډول ورکړل شوي او مرسته یې شوې.

په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت ساتندویه ځواک (KESF)
(پروژه لمبر -10-MERO3007، پیل شوي په فبروري 2010 کې)

اهداف: په کابل کې د سفارت د امنیتي ځواک د قرارداد د ټولو احکامو او شرایطو د لنډیز ارزونه. مشخص مقاصد یې دي (1) د قرارداد غوښتني اوشرایط؛ (2) ایا د قرارداد د کاري وړتیا پیماني جوړې شوي او ترلاسه کېږي که نه؛ (3) محکمي په کابل کې د Armor Group of North America د مناسب نظارت د برابرولو لپاره قرارداد څومره ښه اداره کړی دی؛ (4) ایا قرارداد په اغېزمنه توګه اداره کېږي؛ (5)ایا په قرارداد کې د FAR جمله لمبر 52.222.50 شامله ده که نه، کومه چې، که چیرې د قرارداد د مودې پر مهال، قراردادي یا ضمني قراردادي په خپله د قاچاق په سختو بنو کې ښکیل شي، نو د هغې اداري علاج برابروي؛ او (6) ایا Armor Group of North America محافظینو لپاره د اوسېدو یو خوندي او مناسب چاپیریال برابروي که نه او ایا محکمه د قرارداد او هدف امرونو مناسب نظارت برابروي که نه.

د بهرنیو کارکوونکو د بررسی لپاره ، په کابل کې د متحده ایالاتو په سفارت کې د پالیسیو او پروسیجرونو لنډه ارزونه
(پروژه لمبر 10-MERO-3008، پیل شوي په مارچ 2010 کې)

اهداف: مقاصد: د کاري وړتیا د دې پلټنې مقاصد دي (1) د هغې تګلارې او پروسیجرونو کتنه چې د هغو افغانانو چې په محلي توګه کار کوي له مخکې په ماموریت لګول شوي امنیتي معاینه کې د بهرنې خدمت د ملي څېړونکو (FSN-I) کارول کېږي؛ (2) د بهرني خدمت د ملي څېړني د دوسیو کتنه؛ (3) د هغو څېړنیزو تخنیکونو اسناد جوړول چې د FSN-I د پرسونل لخوا سفارت سره له ماموریت مخکې د بهرني خدمت د اتباعو د معاینې لپاره کارول کېږي؛ او (4) د سفارت د اوسنۍ عملي د دوستانه او فامیلي تعلقاتو کچه معلومول.

## د حکومت د احتساب دفتر

د تېرې درې مياشتنۍ پر مهال، GAO دوه ځل د کانګرس په وړاندې بيان ورکړ او د افغانستان د امنيتي چاپيريال، د متحده ايالاتو د ځواکونو د ټرينګ، او د قرارداد د مسلو په اړه يې درې راپورونه خپاره کړل او يوه ځانګړې خپرونه يې افغانستان کې د متحده ايالاتو د هڅو د ستراتيژيکي لايحې په اړه وکړه.

- لومړنی بيان نظارت په اړه د جرګې د استازو د کميټې او د ملي امنيت او بهرنيو چارو په اړه د حکومت د ريفورم د ضمني کميټې په وړاندې و. دې هغه بدلونونه بحث کول چې په دې اړه ورته اړتيا وه چې څرنګه د دفاع وزارت د فعاليتي قرارداد مرسته پلان او اداره کوي. په دې بيان کې يادونه وشوه چې په داسې حال کې چې د قراردادیانو د پلان جوړولو او سمبالښت د بهترولو لپاره د دفاع وزارت او انفرادي خدمتونو دننه هڅې ترسره شوې دي، خو دا هڅې په ټول دفاع وزارت کې د فعاليتي قرارداد د مرستې د يو کولو لپاره په بشپړه توګه کار نه کوي او کوم سيستماتيک بدلونونه ندي شوي. GAO د دفاع وزارت لپاره سپارښتنه وکړه چې په هغه طريقه غور وکړي په کومه چې دا اوس قراردادیان د راتلونکي په عملياتو کې کاروي، چې په راتلونکي کې د عملياتو د مرستې لپاره څنګه دا خپل قراردادیان کاروي، او هغه اغيز چې د دې قراردادیانو په اړه د سمبالښت او نظارت برابرول يې د ځای پر ځای شويو يونټونو پر فعاليتي اغيزمنتيا کوي (GAO-10-829T).
- دويم بيان د جرګې د استازو د کميټې د دفاع په اړه د اختصاصونو د ضمني کميټې په وړاندې و. د دې بحث افغانستان کې د تجهيزاتو د ويشلو په اړه د دفاع وزارت پر پرمختګ او چيلنجونو و. په دې بيان کې ويل شوي چې غرونه، موسم، د اورګاډي نشتوالی، کم سرکونه، او د هوايي ډګرونو محدود انفراسټرکچر د دفاع وزارت د دې توان مخه نيسي چې اکمالات وويشي. GAO د سامانونو د خوځښت د بشپړه ليد نشتوالی، د لوژيستيکونو په مرکزونو کې د ذخيره کولو محدود ظرفيت، د يونټونو او سامانونو د رارسيدو يو شان کولو کې مشکلات، او ايتلافي شريکوالو سره د سامان د رسولو خراب انسجام د سامانونو په رسولو او ويش کې د نورو چيلنجونو په توګه پيژندلي دي (GAO-10-842T).
- د افغانستان د امنيتي چاپيريال په اړه د GAO راپور معلومه کړې چې د مارچ 2010 سره سم د دفاع وزارت د بريدونو ډاټا ښيي چې په افغانستان کې د دښمنانو لخوا د بريدونو د پيل کولو رجحان په نوعيت کې اوس هم موسمي دی، چې عموماً هر کال د جون نه تر سپتمبر پروې اوج ته رسي او بيا د ژمي په مياشتو کې ټيټيږي. په داسې حال کې چې د بريدونو کچه د موسم سره بدليږي، له سپتمبر 2005 راهيسې هر کال د بريدونو اوج او ټيټه کچه په هر کال کې په ترتيب سره د هغې نه په مخکې کال کې د اوج او ټيټې کچې نه اوښتې ده. د يو خوندي چاپيريال نشتوالی اوس هم د بيا رغونې او پرمختيا د هڅو په وړاندې يو چيلنج دی. د دې امنيتي چيلنجونو ځينې مشخصې اغيزې دا دي (1) پروګرامونه ځنډوي او لګښتونه زياتوي، (2) د ځينو مخدره موادو ضد عملياتو مخه نيسي؛ او (3) د روانو پروګرامونو د نظارت د ترسره کولو توانمندي محدودوي. تمه ده چې په افغانستان کې د متحده ايالاتو د نظامي پرسونل شمير زيات شي. په افغانستان کې د متحده ايالاتو د نظامي پرسونل د حضور د پراختيا برسيره، متحده ايالاتو په افغانستان کې ملکي حضور ته هم د پام وړ زياتوالی ورکړی دی. (GAO-10-613R).

- د متحده ایالاتو د ځواکونو د ټرېننګ په اړه د GAO راپور یادونه کړې چې د خدمتونو د ټرېننګ د غوښتنو برسېره، CENTCOM د ټرېننګونو د داسې هدفونو یو لیست خپور کړی چې د عملیاتو په سیمه کې د ځای په ځای کېدو وړاندې باید بشپړ کړای شي. خو، له ځای په ځای کېدو وړاندې عسکر په ځینې لازمي هدفونو نه روزل کېږي او دا خبره ناواضح ده چې په کومو ځواکونو د CENTCOM شرطونه تطبیقېږي، هغه کوم شرایط دي چې د لاندې یې باید اهداف وروزل شي، او د دې ټرېننګ په بریالیتوب سره بشپړولو لپاره معیارونه. CENTCOM او خدمتونه دواړه د هغه حد په اړه بشپړ معلومات نلري تر کومه چې د پوځ او بحري ځواکونو د ملاتړ ځواکونه د جنګي مهارتونو دغه لازمي ټرېننګ بشپړوي. په داسې حال کې چې خدمتونه رسمي او غیر رسمي ذریعې لري چې په درسونو کې د زده کړې معلوماتو شریکول اسان کړي، په مختلفو روزنیزو ځایونو کې روزونکي په تسلسل سره د هغو بدلونونو په اړه معلومات نه شریکوي چې د خپلو روزنیزو پروګرامونو لپاره یې جوړ کړي (GAO-10-465).
- د قرارداد کولو په مسلو د GAO راپور یادونه کړې چې د دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت، او USAID لخوا د قراردادیانو د دې لپاره کارول چې د قراردادونو او بودیجو په اداره کولو کې مرسته وکړي، ډېر ښه و، هر څو که دې ادارو ته د دغسې قراردادیانو د استعمال بشپړ حد معلوم نه و. GAO معلومه کړې چې دې ادارو عموماً د حکومتي عملي نشتوالی، په دفتر کې د دننه مهارت نشتوالی، او یا د حکومتي پرسونل ډېر زیات بدلیدل هغه فاکتورونه دي چې د قراردادیانو د کارولو اړتیا پیښوي. GAO دا هم معلومه کړې چې د هغو خطرو د کمولو لپاره چې د قراردادیانو د کارولو سره ملګرې دي، د ادارو لپاره په دې پوهیدل ضروري دي چې قراردادیان باید کله، چیرته، او څنګه استعمال کړای شي، خو د ادارو د پریکړو لارښودنه عموماً د ادارو ترمنځ د کاري ځواک د پلان جوړولو په هڅو کې نه وه شوې. برسیره پر دې، GAO معلومه کړې چې د دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، او USAID د دې لپاره اقدامات کړي چې هغه د علاقمندۍ شخړې او د نظارت خطرې کمې کړي چې د هغو قراردادیانو سره تړلې وي چې د نورو قراردادیانو او بودیجو په اداره کولو کې مرسته کوي، خو دا خطرې یې تل په بشپړه توګه ندي حل کړې. په اخر کې، GAO معلومه کړې چې د دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، او USAID د قراردادونو چارواکیو عموماً هغه پراخ نظارت ندی یقیني کړی چې په داسې وضعیتونو کې لازمي و په کومو کې چې قراردادیان داسې خدمتونه برابروي چې د حکومت د کنټرول او د مشن اړوند تګلارې او د پروګرام د پریکړو د احتساب د احتمالي سقوط باوجود د سیمییزو حکومتي جوړښتونو سره له نږدې مرسته کوي (GAO-10-357).
- په افغانستان کې د متحده ایالاتو د هڅو لپاره د ستراتیژیکي لایحې په اړه د GAO ځانګړې خپرونه هغه اړوندې ستراتیژۍ او پلانونه تشریح کوي چې په شریکه په افغانستان کې د متحده ایالاتو د فعالیتونو او پرسونل لارښودنه کوي – د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژي، افغانستان او پاکستان لپاره د متحده ایالاتو ستراتیژي، او د افغانستان او پاکستان د سیمییز ثبات ستراتیژي. په دې لایحه کې د متحده ایالاتو پلانونه هم شامل دي: د OEF د کمپاین پلان، د ملي امنیت د شورا د ستراتیژیک تطبیق پلان، او د متحده ایالاتو د مربوط ملکي-نظامي کمپاین پلان (.ICMCP) ICMCP د هڅو درې کرښې – امنیت، دولتداري، او پرمختیا – د دې لپاره تشریح کوي چې د متحده ایالاتو د ملکي او نظامي پرسونل لخوا به تطبیقېږي. په پای کې، د شمالي اتلانتیک د تړون سازمان (ناټو) پلان لري چې د ناټو د جامع ستراتیژیک سیاسي نظامي پلان، او د ناټو او د ناټو د ماتحتي قوماندې – د نړیوال سوله ساتي ځواک (ایساف) – فعالیتي پلانونه هم پکې شامل کړي .(GAO-10-655R)

برسیره پر دې، GAO دوه نوي فعالیتونه پیل کړي چې تمرکز یې په دې دی چې د دفاع محکمه څرنګه د ټاکل شویو وختونو دننه د عملیاتو لپاره اکمالات کوي، او په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ملکي زیاتوالي یوه کتنه.

## د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره

### د نظارت فعالیتونه

د USFOR-A LOGCAP افغانستان د اقدام د کورس لپاره د موافقه شویو پروسیجرونو تصدیق
(د پروژې کوډ A-2010-ALL-0480.000، پیل شوي د مالي کال 2010 په دریمه درې میاشتنی کې)

دا تصدیقي کتنه په افغانستان کې ترسره کېږي. دا به معلوموي چې هغه سموونکي اقدامات چې د USFOR-A LOGCAP د اقدام د کورس په پریکړه کې وړاندې شوي ول تطبیقیږي او دا یقینداري ورکول چې شرایط د کتنې د مناسب پلاوي له لارې پر مخه وړل شوي دي.

قراردادیانو ته د پیسو په ورکولو کنټرول دویم پړاو – افغانستان
(د پروژې کوډ A-2010-ALL-0103.000، پیل شوي په فبروري 22، 2010)

دغه تفتیش به دا خبره معلومه کړي چې آیا د متحده ایالاتو اردو د احتمالي بهرنیو عملیاتو چې په جنوب لویدیځه آسیا (افغانستان) په ترڅ کې د پلورنکو ادایني په دقیق ډول ترسره کوي که نه.

د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام (CERP) - افغانستان
(د پروژې کوډ A-2009-ALL-0531.000, پیل شوي په می 19، 2009)

دا پلټنه به معلومه کړي چې ایا CERP په افغانستان کې داسې کافي داخلي کنټرولونه په لاره اچولي چې دا خبره یقیني کړي چې قوماندانانو او د یونټ پرسونل دا پروګرام په صحیح توګه تطبیق کړی.

د عراق\افغانستان د قرارداد کولو په ګډه قومانده کې د قرارداد کولو فعالیتونه – جلال اباد (افغانستان)
(د پروژې کوډ، A-2009-ALL-0106.000، پیل شوي په فبروري 2، 2009)

دا پلټنه به معلومه کړي چې ایا هغه سامانونه او خدمتونه چې د قرارداد د لاندې ترلاسه کړای شوي ول په سم ډول یې جواز موندل، ورکړل شوي، او اداره شوي ول که نه.

د عراق او افغانستان د عملیاتو په ګډ قرار داد کې د عملیاتو قراردادي --کندهار او سالارنو (افغانستان)
(د پروژې کوډ A-2008-ALL-0401.000، پیل شوي په سپتمبر 1، 2008)

دا پلټنه به معلومه کړي چې ایا هغه سامانونه او خدمتونه چې د قرارداد د لاندې ترلاسه کړای شوي ول په سم ډول یې جواز موندل، ورکړل شوي، او اداره شوي ول که نه.

## د نړیوالي پرمختیا لپاره متحده ایالاتو اداره د عمومي پلټونکی دفتر

### د نظارت فعالیتونه

د دې درې میاشتنی پر مهال د USAID د عمومي پلټونکی دفتر د هغه کار په اړه یوه د کیفیت د کنټرول کتنه (QCR) ترسره کړه چې دې دفتر لپاره افغانستان کې د پبلک اکاونټنګ د یوه شرکت لخوا شوی و او په دغې کتنه یې یو راپور خپور کړی. دغې کتنې معلومه کړې وه چې د هغوی کار په عموم کې د تطبیقېدونکو معیارونو او د عمومي پلټونکی د دفتر د لارښودنو سره سم ترسره شوی و. هم د دې درې میاشتنی پر مهال، د پنځو مالي پلټنو پلان جوړ شوی و، تر کار لاندې وې، او یا د راپور د مسودې په پړاو کې وې. د افغانستان دا مالي پلټنې د USAID او د USAID د عمومي پلټونکی د دفتر لپاره د DCAA او د پبلک اکاونټنګ د یوه شرکت لخوا ترسره کیږي.

په جنوب لویدیځ کې د USAID\افغانستان د بدیلې پرمختیا د پروګرام د غځوني پلټنه
هدف: د USAID تفتیش/ د افغانستان د پرمختیا د بدیل پروګرام پراختیا، جنوب او لویدیځ په اړه د معلوماتو موندل چې آیا نوموړي پروګرام خپله موخه چې د مخدره توکو له مینځه وړل د بدیلو پروګرامونو او په جنوب او لویدیځ کې د ټاکل شویو ولایتونو لپاره د اقتصادي فرصتونو رامینځ ته کول له لارې ، ترلاسه کړې که نه.

د USAID د دریو پروژو د امنیتي لګښت کتنه، کوم چې د ایدین بورګ انټرنیشنل لخوا د 1جنوري تر 31 دسمبر 2009 پورې اخیستل شوي دي
هدف: د داسې نښنو نښانو موندل چې وښایي چې د ایدین بورګ انټرنیشنل ته د USAID لخوا ورکړل شوي مالي مرستې څخه غلطه ګټه پورته شوې دې، یعنې طالبانو ته د حفاظت په بدل کې ورکړل شوي ده.

## د نورو ادارو څېړنې

د ځانګړي پلټونکی دفتر په منظم ډول د حکومتي ادارو سره تحقیق کوونکو ادارو سره خپل فعالیتونه همغږي کوي ترڅو د دغه تحقیقاتو د پرمختګ څخه نظارت وکړي. د جون 30، 2010 سره سم، د بهرنیو چارو وزارت د عمومي پلټونکی د دفتر د څېړنو د څانګې (DoS OIG-INV) د پنځو پرانیستو قضیو څېړنه شوې. چوکاټ 4.3 د جون 30، 2010 سره سم د پرانیستو او تړل شویو څېړنو شمیر لیست کوي.

چوکاټ 4.3

| څېړنیز فعالیتونه: د نورو ادارو څېړنې | | | |
|---|---|---|---|
| اداره | پرانیستي دوسیې | تړل شوي دوسیې | ټولې دوسیې |
| DoS-OIG-INV | 5 | 0 | 5 |
| ټول | 5 | 0 | 5 |

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د DoS-OIG-INV ځواب، 7/6/2010.

## د نورو ادارو معايني

سیگار همدا رنگه له نورو ادارو سره همغږي شوه چي په افغانستان کي معايني ترسره کوي. په تېره درې میاشتنی کي، د بهرنیو چارو وزارت د عمومي پلټونکی د دفتر د معاینو څانگي یواځي یوه معاینه لرله چي په چوکاټ 4.4 کي لیست شوې ده.

چوکاټ 4.4

| د معاينو روان فعاليتونه: د نورو ادارو معايني | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اداره | د پروژې نمبر | د پيل نيټه | د پروژې سرليک | هدف |
| DoS OIG-ISP | 09-ISP-3051 | 9/2009 | د کابل د سفارت معاينه | د سفارت د تطبيق کولو پاليسي، د سرچينو سمبالښت، د سمبالښت د کنټرولونو کفايت، او د خلکو، معلوماتو او تسهيلاتو د ساتني د اقداماتو ارزول. |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د DoS-OIG-ISP ځواب، 7/6/2010.

**د سیګار رسمي ټاپه**

د سیګار رسمي ټاپه د متحده ایالاتو او افغانستان ترمنځ د هڅو د ارتباط استازيتوب کوي څو د بیا رغوني احتساب او نظارت وکړي. د ټاپې په منځ کې د پورتنۍ غاړې په برابر فقره په دري کې ده او، په انګلیسي کې ژباړل شوې، چې د "سیګار" مانا لري. ټاپې په منځ کې د کښتنۍ غاړې سره فقره په پښتو کې ده او د انګلیسي ژباړې له مخې همدا مانا لري.

# ضميمي
# او پایلیکونه

# ضميمه الف -
## د راپور قانوني غوښتنې

دا ضميمه د دې راپور پاڼې د سيګار د جوړونکې قانون لاندې د شرايطو سره حواله ورکوي، د ملي دفاع د اختياراتو قانون د مالي کال 2008 لپاره، پی ایل شمیره 110-181 § 1229 (چوکاټ الف.1)

جدول الف.1

| د پي ايل لمبر 110-181, § 1229 لاندې<br>د دې راپور د سيګار د درې مياشتني راپورونو اوغوښتنو معاينه | | | |
|---|---|---|---|
| **د عامه قانون برخه** | **د سيګار توانمنوونکې ژبه** | **د سيګار عمل** | **برخه** |
| نظارت کول | | | |
| برخه 1229(e)(1) | عمومي پلټونکی باید نيغ په نيغه د بهرنيو چارو سکرتر او يا د دفاع سکرتر ته راپور ورکړي او يا د هغوی د عمومي نظارت لاندې وي. | د بهرنيو چارو سکرتر او د دفاع سکرتر ته راپور ورکوي | ټولې برخې |
| مسووليتونه | | | |
| برخه 1229(f)(1) | د افغانستان د بيا رغوني نظارت - دا به د عمومي پلټونکي وظيفه وي چې د هغو پيسو چې اختصاص شوي او يا په بله مانا په ا فغانستان کې د بيا رغوني لپاره په لاس ورکړل شوي، او د هغو پروګرامونو، عملياتو او قراردادونو هم چې د دې پروګرامونو په کارولو سره ترسره شوي، د څلند، سمبالولو او خرڅ نظارت وکړي او د پلټنو او تحقيقاتو انسجام يې وکړي. | کتنه اختصاص شوي\ موجودې بوديجې<br><br>د هغو پروګرامونو، عملياتو، قراردادونو کتنه چې اختصاص شوي\ موجودې بوديجې کاروي. | ټولې برخې |
| برخه 1229(f)(1)(A) | د داسې بوديجو د مسووليت او لګښت د حساب کتاب نظارت | د اختصاص شويو\موجود بوديجو د مسووليتونو او لګښتونو کتنه | د سيګار د نظارت بوديجې |
| برخه 1229(f)(1)(B) | د هغو قراردادونو نظارت او کتنه چې د داسې بوديجو لخوا تمويل شوې وي | د بيا رغوني د هغو فعاليتونو کتنه چې د اختصاصونو او خېراتونو لخوا تمويل شوي وي. | د سيګار نظارت |
| برخه 1229(f)(1)(C) | د هغو قراردادونو نظارت او کتنه چې د داسې بوديجو لخوا تمويل شوې وي | د هغو قرادادونو کتنه چې اختصاص شوي او موجودې بوديجې کاروي | يادونه 1 |
| برخه 1229(f)(1)(D) | د رياستونو، ادارو، او د متحده ایالاتو د سازمانونو، او شخصي او نادولتي سازمانونو ترمنځ د داسې بوديجو او ورسره تړلې معلوماتو د لېږدل نظارت او کتنه | د اختصاص شويو\موجود بوديجو د داخلي او خارجي لېږد کتنه | ضميمه ب |
| برخه 1229(f)(1)(E) | د داسې بوديجو په کارولو د تاريخچو سمبالتيا د دې لپاره چې په راتلونکې کې د داسې بوديجې[و] پلټنې او معاينې اسانې کړي | د پلټنې تاريخچې سمبالول | د سيګار نظارت<br>ضميمه ج<br>ضميمه د |
| برخه 1229(f)(1)(F) | د افغانستان ترون او د افغانستان د ملي پرمختيا د ستراتيژۍ په تطبيقولو کې د افغانستان د دولت او نورو مرستندويه هيوادونو سره د متحده ایالاتو د ارتباط د اغېزمنتيا نظارت او کتنه | نظارت او کتنه څرنګه چې تشريح شوي | پلټنې |

(جدول الف.1 (دوام لري)

| د عامه قانون برخه | د سيګار توانمنوونکي ژبه | د سيګار عمل | برخه |
| --- | --- | --- | --- |
| **د پي ايل لمبر 110-181, § 1229 لاندې**<br>**د دې راپور د سيګار د درې مياشتني راپورونو اوغوښتنو معاينه** | | | |
| برخه 1229(G)(1)(f) | د اضافي پيسو د ورکړې ځېرنه لکه د دوه ځلي پيسو ورکول يا دوه ځله بل او هر ډول احتمالي غيرقانوني يا ناسم عمل چې د فدرال مامورينو، قراردادیانو، يا اړوندو کسانو لخوا شوی وی، او د عدليي ورات ته د دې ډول راپورونو ورکول، کله چې ضرورت وي، چې دا ډاډ ترلاسه شي چې نورې ځېرنې، قانوني تعقيب، د اضافي پيسو بيرته ترلاسه کول، او نور جبرانوونکي کارونه ترسره شي. | د تحقيقاتو ترسره کول او راپور کول ځرنګه چې تشريح شوي دي | تحقيقات |
| برخه 1229(2)(f) | د نظارت سره اړوند نوري دندي.0-<br>عمومي پلټونکی بايد داسي سيسټمونه، پروسيجرونه، او کنټرولونه جوړ، سمبال او تر نظارت لاندی وساتي چې عمومي پلټونکی يي د پراګراف (1) لاندي د وظيفو د ترسره کولو لپاره مناسب ګني. | د سيسټمونو، پروسيجرونو، او کنټرولونو جوړول، سمبالول او نظارت کول | ټولي برخي |
| برخه 1229(3)(f) | د 1978 د قانون لاندي د عمومي پلټونکي وظيفي او مسووليتونه.—<br>په هغه برسيره،. . عمومي پلټونکی بايد د عمومي پلټونکي د 1978 د قانون لاندي د عمومي پلټونکيو وظيفي او مسووليتونه هم ولري. | هغه وظيفي چې د عمومي پلټونکي په قانون کي مشخص شوي دي | ټولي برخي |
| برخه 1229(4)(f) | د هڅو انسجام.-<br>عمومي پلټونکی بايد د لاندي هر يو سره همکاري وکړي او د هغوی همکاري هم ترلاسه کړي: (الف) د دفاع وزارت عمومي پلټونکی، (ب) د بهرنيو چارو وزارت عمومي پلټونکی، او (د) د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو د اداري عمومي پلټونکی. | د دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو او USAID له عمومي پلټونکو سره همکاري | د نورو ادارو نظارت |
| مرکزي ملاتړ او نوري سرچيني | | | |
| برخه 1229(A)(5)(h) | د مرکزي ادارو څخه مرسته.—<br>د مرکزي حکومت د هر رياست، اداري، يا بل سازمان څخه د عمومي پلټونکي د کومو معلوماتو يا مرستي په غوښتلو سره، د دغي اداري مشر بايد، تر کومه حده چې عملي کېدونکي او د کوم موجود قانون خلاف نه وي، عمومي پلټونکي، يا د هغه استازي ته، دغسي معلومات يا مرسته ورکړي. | څرنګه چې غوښتل شوی وي د ملاتړ تمه وکړئ | ټولي برخي |
| برخه 1229(B)(5)(h) | د همکاري نه کولو راپور ورکول.—<br>هر کله او هر وخت چې د عمومي پلټونکي لخوا د مرستي يا معلوماتو غوښتنه شوي وي، د عمومي پلټونکي په قضاوت او اختيار سره، چې بې له معقول دليل رد شي يا ورنکړای شي، عمومي پلټونکی بايد بې له ځنډه د هغوی راپور د بهرنيو چارو وزير يا د دفاع وزير ته ورکړي، څنګه چې مناسب وي، او همدا رنګه مناسب او اړوند د کانګريس کميټي ته د هغوی راپور ورکړي. | څرنګه چې غوښتل شوی وي د ملاتړ تمه وکړئ | ټولي برخي |

(جدول الف.1 (دوام لري)

| د پي ایل لمبر 110-181, § 1229 لاندې<br>د دې راپور د سیګار د درې میاشتني راپورونو اوغوښتنو معاینه | | | |
|---|---|---|---|
| **د عامه قانون برخه** | **د سیګار توانمنوونکې ژبه** | **د سیګار عمل** | **برخه** |
| راپورونه | | | |
| برخه 1229 (1)(i) | درې میاشتني راپورونه.-<br>د هر مالي کال د دریو میاشتو د پای نه تر ۳۰ ورځو زیات نه، عمومي پلټونکی باید د کانګرس مناسبو کمېټو ته یو راپور وړاندې کړي چې د دغې دورې، او تر کومه حده چې امکان لري د دغې درې میاشتنی راپور د پای د وخت څخه د راپور د داخلولو د وخت پورې په دې مهال کې د عمومي پلټونکي او د هغه د فعالیتونو د هغو پروګرامونو او عملیاتو لاندې چې بودیجه او پیسې د افغانستان د بیا رغونې لپاره ورکړل شوې وي یوه خلاصه وړاندې کړي.  په هر راپور کې، د هغې دورې چې په دې راپور کې یې یادونه شوې وي، د هغو مسوولیتونو، لګښتونو، او عایداتو یو تفصیلي بیان چې په افغانستان کې د بیا رغونې او بیا جوړونې د فعالیتونو سره ملګري وي، باید په ګډون د لاندې شامل وي: | راپور - 30 ورځې وروسته د هر کال د درې میاشتنی<br><br>د عمومي پلټونکي فعالیتونه خلاصه کول<br><br>د ټولو مسوولیتونو، لګښتونو، او عایداتو تفصیلي بیان | ټولې برخې<br>ضمیمه ب |
| برخه 1229(A)(1)(i) | د اختصاص شویو/خیرات کې ورکړ شویو بودیجو مسوولیتونه او لګښتونه | د اختصاص شویو/خیرات کې ورکړ شویو بودیجو مسوولیتونه او لګښتونه | ضمیمه ب |
| برخه 1229(B)(1)(i) | د هغو لګښتونو یو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام حساب چې تر دې نېټې د افغانستان په بیا رغونه کې لګول شوي، د دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، او د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې، تر کومه چې تطبیقېدونکی وي، د هرې پروژې او پروګرام د بشپړولو د لګښتونو د یو اټکل سره ملګري. | د لګښتونو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام حساب<br>د هرې پروژې یا پروګرام د نالګول شویو بودیجو لیست جوړول | بودیجې<br><br>یادونه 1 |
| برخه 1229(C)(1)(i) | د هغو بودیجو سره تړلي یا شامل عایدات چې هغو پروګرامونو او بودیجو ته د بهرنیو ملتونو یا نړیوالو سازمانونو لخوا ورکړل شوې وي د کومو بودیجې چې د متحده ایالاتو د کوم ریاست یا ادارې لخوا ورکړل شوې وي، او د داسې عایداتو مسوولیتونه او یا لګښتونه | د مرستندویه ادارو د بودیجو عایدات، مسوولیتونه، او لګښتونه | بودیجې |
| برخه 1229(D)(1)(i) | د هغو بودیجو سره تړلي یا شامل عایدات چې هغو پروګرامونو او پروژو ته د بهرنیو نیول شویو یا کنګل شویو شتمنیو څخه ورکړل شوي وي د کومو بودیجې چې د متحده ایالاتو د کوم ریاست یا ادارې لخوا ورکړل شوې وي، او د داسې عایداتو هر ډول مسوولیتونه او یا لګښتونه | د نیول شویو یا کنګل شویو شتمنیو د بودیجو عایدات، مسوولیتونه او لګښتونه | بودیجې |
| برخه 1229(E)(1)(i) | د هغو ادارو یا سازمانونو فعالیتي لګښتونه چې اختصاص شوې پیسې ترلاسه کوي او یا په بله توګه د افغانستان د بیا رغونې لپاره ورکړل شوې وي | د هغو ادارو یا کوم سازمان فعالیتي لګښتونه چې اختصاص شوې بودیجې ترلاسه کوي | بودیجې<br><br>ضمیمه ب |

(جدول الف.1 (دوام لري)

| د پي ایل لمبر 110-181, § 1229 لاندې<br>د دې راپور د سیګار د درې میاشتني راپورونو اوغوښتنو معاینه | | | |
|---|---|---|---|
| **د عامه قانون برخه** | **د سیګار توانمنوونکي ژبه** | **د سیګار عمل** | **برخه** |
| برخه 1229(F)(1)(i) | د هر هغه قرارداد، بودیجې، تړون یا د بودیجې د بل کوم میکانزم په صورت کې چې په پراګراف (2)* کې یې یادونه شوې ---<br>(1) د قرارداد یا د بودیجې د بل کوم میکانزم رقم؛<br>(2) د قرارداد یا د بودیجې د بل کوم میکانزم د ساحې لنډ بحث؛<br>(3) په دې اړه یو بحث چې څرنګه د متحده ایالاتو د حکومت هغه ریاست یا اداري چې په دې قرارداد، بودیجه، تړون، یا د بودیجې په بل میکانزم کې کار کوي د مهمو کاندیدانو وړاندیزونه وپېژندل یا وغوښتل چې دغه قرارداد، بودیجه، تړون، یا د بودیجې بل کوم میکانزم ترسره کړي، د نورو مهمو ادارو یا اشخاصو د یو لیست سره چې د دې وړاندیز ورته شوی یا غوښتل شوی و؛ او<br>(4) د حق او منظورۍ هغه اسناد په کومو چې د دې پروسو د پرېکړې بنسټ و له هغو پروسو پرته چې بشپړه او پرانستې مقابله وړاندې کوي | د قراداد جزییات تشریح کړئ | یادونه 1 |
| برخه 1229 (3)(i) | عامه ترلاسه کېدل.—<br>عمومي پلټونکی باید په یوه عامه ترلاسه کېدونکې انټرنېټي ویبپاڼه د دې ضمني برخې د پراګراف (1) لاندې هر راپور په انګلیسي او نورو هغو ژبو کې خپور کړي چې عمومي پلټونکی پوهېږي چې په افغانستان کې په پراخه پیمانه ویل کېږي او خلک پرې پوهېږي. | د راپور خپرول څرنګه چې یې لارښودنه شوې | www.sigar.mil<br><br>درې او پښتو تر کار لاندې دي |
| برخه 1229 (4)(i) | بڼه.—<br>د دې فرعي برخې لاندې غوښتل شوی هر راپور باید په ښکاره بڼه وړاندې شي، خو کیدای شي محرمې ضمیمې ولري، که چیرې عمومي پلټونکی هغه ضروري وګڼي | د راپور خپرول څرنګه چې یې لارښودنه شوې | ټولې برخې |

یادونه 1: که څه هم په عادي ډول ډاټا د سیګار په ویب سایټ کې موجود وي (www.sigar.mil)، خو هغه ډاټا چې سیګار ترلاسه کړې ده په نسبتاً خام شکل کې وي او اوسمهال د سیګار د راټلونکو ټولو موخو لپاره کتل کیږي، تحلیل کیږي، او تنظیم کیږي.

* تر پوښښ لاندې "د قراردادونو، مرستو، تړونونو، او د بودیجو مکانیزمونه" د پي ایل نمبر 110-181 په 1229 (i) برخې په (2) پراګراف کې تعریف شوي دي، لکه چې —

"هر لوی قرارداد، مالي مرسته، تړون، یا د بودیجې مکانیزم چې د متحده ایالاتو د دولت د هر ریاست یا اداري لخوا پکې برخه واخیستل کیږي، او په هغوی د افغانستان د بیا رغوني لپاره اختصاص شوي او یا بل ډول ورکړ شوي پیسې شاملې وي، که له هر ډول دولتي یا شخصي سازمان سره د لاندې هر مقصد لپاره وي:

په افغانستان کې د فزیکي انفراسټرکچر جوړول یا بیا جوړول.
د افغانستان د سیاسي یا ټولنیزې اداري تاسیس یا دوباره تاسیس.
د افغانستان خلکو ته د تولیداتو یا خدمتونو برابرول."

# ضميمه ب

## د متحده ایالاتو د دولت اختصاص شوي بوديجي (په ميليونو ډالرو)

دا جدول ب.1 د افغانستان د بیا رغوني د هڅو لپاره د اختصاص شویو بوديجو د پروګرام، یو کال، په حساب لیست وړاندې کوي.

چوکاټ ب.1

| د متحده ایالاتو د بوديجو سرچيني | اداره | ټول |
|---|---|---|
| **امنيت** | | |
| د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجه (ASFF) | DoD | 25,229.24 |
| روزنه او تجهيزات (د دفاع وزارت) | DoD | 440.00 |
| بهرني پوځي مالي مرستي (FMF) | DoS | 1,058.50 |
| نړيواله نظامي ښوونه او روزنه (IMET) | DoS | 8.30 |
| NDAA برخه 1207 انتقال | نوري | 9.90 |
| **ټول: امنيت** | | **26,745.94** |
| **دولتداري او پرمختيا** | | |
| د قوماندان د بيړني ځواب پروګرام (CERP) | DoD | 2,639.00 |
| د اقتصادي ملاتړ بوديجه (ESF) | USAID | 9,738.59 |
| پرمختيايي ملاتړ (DA) | USAID | 887.22 |
| د افغانستان د ازادی د ملاتړ قانون (AFSA) | DoD | 550.00 |
| د ماشوم بقا او روغتيا (CSH + GHAI) | USAID | 486.42 |
| د توليداتو د اعتبار اردو (CCC) | USAID | 25.87 |
| د ازادی د ملاتړ قانون (FSA) | USAID | 5.00 |
| د متحده ایالاتو د نړیوالي مرستي اداره (نوري) | USAID | 31.37 |
| ناتجارتي، تروريزم ضد، ماينونه ليري کول، او اړوند (NADR) | DoS | 371.60 |
| د ولايتي بيا رغوني د ټيم مشاوران | USDA | 5.70 |
| د خزانې تخنيکي مرسته | خزانه | 3.52 |
| **ټول: دولتداري او پرمختيا** | | **14,744.29** |
| **دمخدره موادو پرضد مبارزه** | | |
| د مخدره مواد نړيوال کنټرول او د قانون نفاذ (INCLE) | DoS | 2,684.75 |
| د نشه يي توکيو بنديز او د نشه يي توکيو پر ضد فعاليتونه (DoD CN) | DoD | 1,425.27 |
| د نشه يي توکيو په اړه د تنفيذ اداره (DEA) | DoJ | 127.37 |
| **ټول: د مخدره موادو پرضد مبارزه** | | **4,237.39** |
| **بشري** | | |
| پي ايل 480 عنوان I | USDA | 5.00 |
| پي ايل 480 عنوان II | USAID | 701.21 |
| په مصيبت کي نړيواله مرسته (IDA) | USAID | 346.33 |
| د انتقال ابتکارات (TI) | USAID | 33.86 |
| د مهاجرت او مهاجرو مرسته (MRA) | DoS | 594.83 |
| داوطلب سوله ساتل (PKO) | DoS | 69.30 |
| د مهاجر او مهاجرت بيړنی مرسته (ERMA) | DoS | 25.20 |
| خواړه د پرمختګ لپاره | USDA | 109.49 |
| 416 (b) د خوړو کومک | USDA | 95.18 |
| خواړه د تعليم لپاره | USDA | 50.49 |
| ايمرسن بوديجه | USDA | 22.40 |
| **ټول: بشردوستانه** | | **2,053.29** |
| **د نړيوالو چارو عمليات** | | |
| نظارت | | 76.20 |
| نوري | | 3,644.70 |
| **ټول: د نړيوالو چارو عمليات** | | **3,720.90** |
| **ټولي بوديجي** | | **51,501.81** |

يادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. د USAID ډېټا له 3/31/2010 سره سمې ورکړل شوي، ځکه کله چې دا راپور د چاپ لپاره تياريده، تازه معلومات په لاس کې نه ول.
الف. په ډيرو ادارو کې شاملې دي DoJ, DoS, USAID, خزانه، او USDA.

سرچينې: DoD، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7/14/2010، 7/13/2010، 10/14/2009 او 10/1/2009؛ مالي کال 2010 د دفاع وزارت د اختصاصونو قانون تشريحي بيان؛ DoS، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7/13/2010 او 7/12/2010؛ خزانه، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7/13/2010؛ OMB، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/19/2010؛ USAID، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 1/15/2010، 1/8/2010 او 10/9/2009. DoJ، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7/7/2009؛ USDA، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/2009.

| مالي كال 2010 | مالي كال 2009 | مالي كال 2008 | مالي كال 2007 | مالي كال 2006 | مالي كال 2005 | مالي كال 2004 | مالي كال 2003 | مالي كال 2002 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | |
| 6,562.77 | 5,606.94 | 2,750.00 | 7,406.40 | 1,908.13 | 995.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 290.00 | 150.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 396.80 | 413.70 | 191.00 | 57.00 |
| 1.50 | 1.40 | 1.60 | 1.10 | 0.80 | 0.80 | 0.60 | 0.30 | 0.20 |
| 0.00 | 0.00 | 9.90 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| **6,564.27** | **5,608.34** | **2,761.50** | **7,407.50** | **1,908.93** | **1,682.60** | **564.30** | **191.30** | **57.20** |
| | | | | | | | | |
| 1,000.00 | 550.67 | 488.33 | 209.00 | 215.00 | 136.00 | 40.00 | 0.00 | 0.00 |
| 2,037.00 | 2,088.32 | 1,399.51 | 1,210.71 | 473.39 | 1,278.97 | 893.89 | 239.29 | 117.51 |
| 0.00 | 0.40 | 149.43 | 166.81 | 187.02 | 169.58 | 153.14 | 42.54 | 18.30 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 250.00 | 135.00 | 165.00 | 0.00 |
| 94.30 | 58.23 | 63.07 | 100.77 | 41.45 | 38.00 | 33.40 | 49.68 | 7.52 |
| 0.00 | 4.22 | 13.02 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.33 | 7.30 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 3.55 | 22.32 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.00 | 0.50 | 0.00 |
| 57.80 | 48.60 | 26.60 | 36.60 | 18.20 | 38.20 | 66.90 | 34.70 | 44.00 |
| 0.00 | 5.70 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.44 | 0.75 | 0.13 | 0.19 | 0.95 | 0.06 | 1.00 | 0.00 |
| **3,189.10** | **2,760.13** | **2,163.03** | **1,724.02** | **935.25** | **1,911.70** | **1,332.39** | **534.04** | **194.63** |
| | | | | | | | | |
| 420.00 | 484.00 | 307.08 | 251.74 | 232.65 | 709.28 | 220.00 | 0.00 | 60.00 |
| 310.21 | 230.06 | 189.64 | 290.97 | 108.05 | 224.54 | 71.80 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 18.80 | 40.59 | 20.38 | 23.66 | 16.77 | 3.72 | 2.87 | 0.58 |
| **730.21** | **732.86** | **537.31** | **563.09** | **364.36** | **950.59** | **295.52** | **2.87** | **60.58** |
| | | | | | | | | |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.00 | 0.00 |
| 27.40 | 65.41 | 177.00 | 60.00 | 60.00 | 56.60 | 49.20 | 46.10 | 159.50 |
| 2.80 | 27.29 | 17.01 | 0.03 | 0.04 | 4.24 | 11.16 | 86.67 | 197.09 |
| 0.41 | 0.87 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.60 | 11.22 | 11.69 | 8.07 |
| 76.62 | 76.79 | 44.25 | 53.80 | 36.00 | 47.10 | 63.30 | 61.50 | 135.47 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 15.50 | 20.00 | 9.90 | 23.90 |
| 0.00 | 0.20 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 25.00 |
| 0.00 | 12.09 | 20.55 | 9.47 | 23.24 | 30.10 | 9.08 | 4.96 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 34.58 | 14.14 | 46.46 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 25.08 | 10.02 | 6.12 | 9.27 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 22.40 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| **107.23** | **182.65** | **281.21** | **123.30** | **144.36** | **165.16** | **204.66** | **249.23** | **595.49** |
| | | | | | | | | |
| 33.50 | 25.90 | 14.30 | 2.50 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 1,288.40 | 1,047.60 | 434.40 | 207.80 | 131.90 | 136.10 | 207.60 | 35.30 | 155.60 |
| **1,321.90** | **1,073.50** | **448.70** | **210.30** | **131.90** | **136.10** | **207.60** | **35.30** | **155.60** |
| **11,912.71** | **10,357.48** | **6,191.75** | **10,028.21** | **3,484.80** | **4,846.15** | **2,604.47** | **1,012.74** | **1,063.50** |

# ضميمه ج
## د سيګار پلټنې

### بشپړې شوي پلټنې
سيګار د 2010 کال د جولای 30 سره سم څلور پلټنې بشپړې کړې، لکه چې په چوکاټ ج. 1 کې لیست شوي دي.

چوکاټ ج.1

| د سيګار بشپړي شوي پلټنې، 1 اپريل - 30 جولای، 2010 | | |
|---|---|---|
| راپور شمېره | د راپور سرليک | د خپریدلو نيټه |
| سيګار-پلټنه-10-14 | په فراه کې د ملي اردو مرکز په عمومي ډول ښه جوړ شوی معلومېږي، خو ځينې د رغوني مسلې بايد حل شي | 7/30/2010 |
| سيګار-پلټنه-10-13 | د دې لپاره چې د افغان مېرمنو او انجونو اړتياوې حل او راپور یې ورکړل شي د کانګرس د لاربښودنو د مراعاتولو لپاره لا زيات انسجام ته اړتيا ده | 7/30/2010 |
| سيګار-پلټنه-10-12 | په کندهار کې د ملي پوليسو وداني په عامه توګه د قرارداد د شرايطو سره سمه ده خو د پروژې د پلانولو، نظارت، او دوامداری ستونزې لري | 7/22/2010 |
| سيګار-پلټنه-10-11 | د افغان امنيتي ځواکونو د ارزونو د اعتبار د بهترولو لپاره اقداماتو ته اړتيا ده | 6/29/2010 |

### نوې پلټنې
سيګار په دې درې مياشتنی کې پنځه نوې پلټنې پيل کړې، لکه چې په چوکاټ ج.2 کې لیست شوي دي.

چوکاټ ج.2

| د سيګار نوي پلټنې، 1 اپريل - 30 جولای، 2010 | | |
|---|---|---|
| د پلټنې شميره | د پروژې سرليک | د پيل نيټه |
| سيګار-030A | په افغانستان کې د CERP د منتخبو پروژو کتنه | 7/2010 |
| سيګار-029A | د کابل د ښاري ابادیو لپاره د خورو د بې امنيتی ځواب (FIRUP-K) د پروګرام لپاره د پاملرنې د نړيوالي موسسې سره د USAID د همکارانه موافقې کتنه. | 7/2010 |
| سيګار-028A | د افغان امنيتي ځواکونو د مرکزونو لپاره پلان جوړول | 7/2010 |
| سيګار-025A | په هرات او مزار شريف کې د متحده ايالاتو د هوايي ځواک د انجينيری د مرکز او د چاپيريال د انفراسټرکچر د پروژو کتنه | 5/2010 |
| سيګار-024A | په هلمند او کندهار کې د ملي پوليسو د ښيرو مرکزونو د جوړولو د پروژو کتنه | 5/2010 |

## رواني پلټنې

سیګار 10 پلټنې لري چې رواني دي، لکه چې په جدول ج.3 کې راغلي دي.

چوکاټ ج.3

| د سیګار رواني پلټنې، 1 اپریل - 30 جولای، 2010 | | |
|---|---|---|
| **د پلټنې شمیره** | **د پروژې سرلیک** | **د پیل نیټه** |
| سیګار-013A | د افغان ملي پولیسو (ANP) د پرسونل د سمبالښت کتنه | 6/2010 |
| سیګار 008A- | د ننګرهار د ولایتي اداري د احتساب او د فساد ضد استعدادونو او کاري وړتیا بهترولو لپاره د متحده ایالاتو هڅو ته کتنه | 5/2010 |
| سیګار-023A | د افغانستان د ملي پیوستون د پروګرام کتنه | 4/2010 |
| سیګار-021A | په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بیا رغونې د هڅې د مرستې لپاره د ملکي ماهرانو د ملاتړ د زیاتولو کتنه | 4/2010 |
| سیګار-020A | د معاشونو د هغې مرستې کتنه چې د متحده ایالاتو د دولتي ادارو لخوا افغان دولتي چارواکیو ته ورکول کېږي | 1/2010 |
| سیګار-018A | په افغانستان کې د بیا رغونې د قراردادونو د سترو ترلاسه کوونکیو معلومونه | 12/2009 |
| سیګار-017A | د قرارداد پلټنه: د ګلوبل ستراتیجیز انکارپوریشن لخوا د بیا رغونې د امنیتي مرستې خدمتونه | 11/2009 |
| سیګار 009A- | په افغانستان کې د بیا رغونې د پروګرامونو لپاره د امنیت برابرولو لپاره د متحده ایالاتو د ادارو لخوا د قراردادیانو د استعمال کتنه | 7/2009 |
| سیګار 007A- | د اداري فساد پر وړاندې مبارزې لپاره د افغان دولت د ظرفیت د جوړولو لپاره د متحده ایالاتو او نړیوالو هڅې | 6/2009 |
| سیګار 006A- | په افغانستان کې د ولسمشرۍ او ولایتي شورا ګانو د ټاکنو د تیارۍ او سرته رسولو لپاره د متحده ایالاتو د مرستو کتنه | 3/2009 |

## ساینسي پلټنې

سیګار درې ساینسي پلټنې ترسره کوي، چې په هغوی کې دوه پلټنې په دې درې میاشتنۍ کې اعلان شوي، لکه چې په جدول ج.4 کې لیست شوي دي.

چوکاټ ج.4

| د سیګار بشپړې شوي پلټنې، 1 اپریل - 30 جولای، 2010 | | |
|---|---|---|
| **د پلټنې شمیره** | **د پروژې سرلیک** | **د پیل نیټه** |
| سیګار-027A | د افغانستان د بیا رغونې په تړاو د بهرنیو چارو د وزارت د پیسو د انتقال د ډاټا ساینسي کتنه | 6/2010 |
| سیګار- 026A | د افغانستان د بیا رغونې په تړاو نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د اداري د پیسو د انتقال د ډاټا ساینسي کتنه | 6/2010 |
| سیګار-022A | د افغانستان د امنیتي ځواکونو د بودیجې د پیسو د انتقال د ډاټا ساینسي کتنه | 2/2010 |

# ضميمه د
## د سيګار تحقيقات او د تماس شميره

### د سيګار تحقيقات

په دې درې مياشتنی کې، سيګار 26 نوې ځيرنې پرانيستې او 14 هغه يې وتړلې. د پرانيستو ځيرنو او تحقيقاتو شمير اوس 55 دی. د پرانيستو تحقيقاتو له ډلې، ډير هغه يې په قرارداد کې د دوکې او اداري فساد په اړه دي، لکه چې په انځور د.1 کې ښودل شوي دي. د 14 تړل شويو تحقيقاتو له ډلې نه، ډيرو يې شواهد په لاس کې نه درلودل، يا ادعاوې بې بنسټه وې، لکه چې په انځور د.2 کې ښودل شوي دي.

انځور د.1

د سيګار تحقيقات: پرانيستې قضيې:1 اپريل – 30 جون، 2010




سرچينه: د سيګار د تحقيقاتو رياست، 7/19/2010.

انځور د.2

د سيګار تحقيقات: تړل شوې قضيې:1 اپريل – 30 جون، 2010




سرچينه: د سيګار د تحقيقاتو رياست، 7/19/2010.

### د سيګار ځانګړې شميره

په تيرو درې مياشتو کې د تماس شميرې له لارې د ترلاسه شويو 62 شکايتونو څخه، ډير يې د بريښناليک او ټيليفون له لارې ترلاسه شول، لکه چې په انځور د.3 کې ښودل شوي دي. د دې شکاياتو له ډلې نه، ډير يې تړل شوې، تر ځيرنې لاندې دي، يا نورو ادارو ته معرفي شوي دي، لکه چې په انځور د.4 کې ښودل شوي دي.

انځور د.3

د سيګار د تماس د شميرې د شکاياتو سرچينه 1 اپريل – 30 جون، 2010




سرچينه: د سيګار د تحقيقاتو رياست، 7/14/2010.

انځور د.4

د سيګار د تماس شميرې شکاياتو حالت:1 اپريل – 30 جون، 2010




الف. قضيه کتل شوې ده، او سيګار د اضافي معلوماتو د ترلاسه کولو په حال کې دی.
سرچينه: د سيګار د تحقيقاتو رياست، 7/14/2010.

# ضميمه هـ
## مخففات او لنډيزونه

| مخففات يا لنډيزونه | تعريف |
|---|---|
| ABP | افغان سرحدي پوليس |
| ADT | د زراعتي تجارت پرمختيايي ټيم |
| AED | د افغانستان د انجينرانو ټولنه |
| AEIC | افغان د برېښنا د معلوماتو مرکز |
| AGS | افغان جيولوجيکي سروې |
| AIHRC | د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کميسيون |
| AIT | افغان نړيوال ټرکونه |
| AIU | د هوايي ممانعت يونټ |
| ANA | افغان ملي اردو |
| ANCOP | د افغانستان د ملکي نظم ملي پوليس |
| ANDS | د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتيژي |
| ANP | افغان ملي پوليس |
| ANSF | افغان ملي امنيتي ځواکونه |
| APAP | د افغانستان د پارليماني مرستې پروګرام |
| ARTF | د افغانستان د بيا رغونې د باور بوديجه |
| ASFF | د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجه |
| ATT | افغان سوداګري ټرانسپورټ |
| AUP | افغان بی يونيفورم پوليس |
| AVIPA | افغانستان د زياتيدونکي توليدي زراعت شاهد دی |
| CAO | د کنټرول او پلټنې دفتر (افغان) |
| CBD | د ټولنې پر بنسټ د ماينونو ليرې کول |
| CENTCOM | مرکزي قومانده (متحده ايالات) |
| CERP | د قوماندان د بيړني ځواب پروګرام |
| CIGIE | د کفايت او موثريت په اړه د عمومي پلټونکو شورا |
| CIPE | د نړيوال شخصي تجارتونو مرکز |
| CM | د وړتيا معيارونه |
| CNPA | له مخدره موادو سره د مبارزې پوليس - افغانستان |
| CPC | د جزايي اجراآتو قانون |
| CPD | د مرکزي زندان رياست (افغان) |
| CRS | د مجازاتو د خيرنو خدمت |
| CSSP | د سمونې د سيستم د ملاتړ پروګرام |
| CSTC-A | د ګډ امنيت انتقالي قومانده - افغانستان |
| CUAT | د قوماندان د يونټ د ارزونې سامان |
| DEA | د نشه يي توکيو په اړه د تنفيذ اداره (متحده ايالات) |
| DoD | د دفاع وزارت (متحده ايالات) |

| مخففات یا لنډیزونه | تعریف |
|---|---|
| DoD CN | د دفاع وزارت له مخدره موادو سره مبارزه (متحده ایالات) |
| DoS | د بهرنیو چارو وزارت (متحده ایالات) |
| DST | د ولسوالیو د ملاتړ ټیم |
| ESF | د اقتصادي ملاتړ بودیجه |
| EUPOL | د اروپايي ټولني د پولیسو مشن |
| FAR | د فدرالي لاس ته راوړنو مقررات |
| FAS | د بهرنیو زراعتي خدمات (متحده ایالات) |
| FIRUP-K | د کابل د ښاري اوسیدونکو لپاره د خوړو د ناخوندیتوب ځواب |
| FMS | د بهرنیو پوځي خرڅونه |
| FPDD | د ولسوالی د پرمختیا تمرکز |
| FY | مالي کال |
| د مالي کال ۲۰۱۰ د یو ځای شویو اختصاصونو قانون | مالي کال 2010 د ټرانسپورټیشن او هستوګني او ښاري پرمختیا ځانګه، او اړوند ادارو د اختصاصونو قانون |
| د مالي کال 2010 د یو ځای شویو اختصاصونو قانون | مالي کال 2010 د دفاع وزارت د اختصاصونو قانون |
| GAO | د دولت د احتساب دفتر (متحده ایالات) |
| GDP | ناخالص کورنی تولید |
| د افغانستان اسلامي جمهوري دولت | د افغانستان اسلامي جمهوري دولت |
| نړیوال | د نړیوالي ستراتیژي ګروپ |
| HCMS | د تماس او د شکایتونو د سمبالښت سیسټم (سیګار) |
| HF | لوړې فریکونسي |
| HIG | د ګلبدین حزب اسلامي |
| HMMWV | د لوړ خوځښت، ګڼ هدفیزو ټایرونو موټر |
| HOO | د اداري فساد سره د مبارزي لپاره د نظارت لوی دفتر (افغان) |
| HQN | د حقاني شبکه |
| ICCTF | په قرارداد کې د اداري فسار نړیوال کاري ځواک |
| ICE | د انرژي لپاره بین الوزارتي کمیسیون (افغان) |
| IEC | د ټاکنو خپلواک کمیسیون (افغان) |
| IED | د سرک د غاړي چاودیدونکو مواد |
| IFES | د ټاکنیزو سیسټمونو لپاره نړیوال فونډیشن |
| IJC | د ایساف ګډه قومانده |
| IMF | د پیسو نړیوال صندوق |
| INCB | د مخدره موادو د کنټرول نړیوال هییت |
| INCLE | د مخدره موادو نړیوال کنټرول او د قانون نفاذ (متحده ایالات) |
| INL | د مخدره موادو او د قانون د تنفیذ د چارو نړیواله اداره |
| IOM | د مهاجرت لپاره نړیوال سازمان |
| ISAF | د امنیت نړیوال مرستندویه ځواک (ایساف) |
| ISW | د جګړي د څیړني لپاره انستیتیوت |
| IWA | د شفافیت کتنه افغانستان |
| JRAC | د افغان ملي امنیتي ځواکونو ګډ سیمییز مرکز |

| مخففات یا لنډیزونه | تعریف |
|---|---|
| LOTFA | د افغانستان لپاره د قانون د حاکمیت د باور بودیجه |
| MCIT | د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجي وزارت (افغانستان) |
| MCN | د مخدره موادو ضد د مبارزې وزارت (افغانستان) |
| MoD | د دفاع وزارت (افغانستان) |
| MoE | د ښوونې او روزنې وزارت (افغانستان) |
| MoF | د ماليې وزارت (افغانستان) |
| MoI | د کورنيو چارو وزارت (افغانستان) |
| MoJ | د عدليې وزارت (افغانستان) |
| MoPH | د عامې روغتيا وزارت (افغانستان) |
| NCO | بې کمیشنه افسر (خورد ظابطان) |
| NGO | غیر دولتي موسسې (انجیو) |
| NSP | د ملي پیوستون پروګرام |
| NTM-A | د ناټو د روزنې مشن - افغانستان |
| O&M | عملیات او څارنه |
| OMB | د سمبالښت او بودیجې دفتر (متحده ایالات) |
| OMLT | د فعالیتي روزنې او ارتباط ټیم |
| OSD | د دفاع وزارت د سکرتریت دفتر |
| PACT | د جامع علاج په اړه د عمل لپاره شراکت |
| PM/WRA | د سیاسي-نظامي چارو بیورو - د وسلو د لیرې کولو او نیولو دفتر (متحده ایالات) |
| PRT | د ولایتي بیا رغونې ټیم |
| QST | د کویټې شورا طالبان |
| RC | سیمییزه قومانده (ایساف) |
| آر سي کړکۍ | د دوامي لګښت کړکۍ |
| سیګار | د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی |
| TFBSO | په افغانستان کې د تجارت او ثبات عملیاتو په اړه ځواک |
| .U.K | بریتانیه |
| .U.S | بریتانیه |
| UN | ملګري ملتونه |
| UNDP | د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام |
| UNHCR | د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو لوی کمیشنر |
| UNODC | د مخدره موادو او جرمونو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر |
| USACE | د متحده ایالاتو د اردو د انجینیرانو فرقه |
| USAID | د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره |
| USAID OIG | د USAID د عمومي پلټونکي دفتر |
| USFOR-A | د متحده ایالاتو پوځونه - افغانستان |
| USGS | د متحده ایالاتو جیولوجیکي سروې |
| USTDA | U.S. Trade and Development Agency |
| VHF | ډېره لوړه فریکونسي |

# پايليکونه

1. په افغانستان د کابل نړيوال کنفرانس، "بيانيه،" 7/19/2010.
2. سفير ريچارد سي. هالبروک، "افغانستان: دولتداري او ملکي ستراتيژي: د ولسي جرګې د بهرنيو اړيکو د کميټي په وړاندې حاضريدل،" 7/14/2010.
3. په افغانستان د کابل نړيوال کنفرانس، "بيانيه،" 7/19/2010.
4. پي ايل 111-32 "اختصاصي بشپړونکي قانون 2009،" 6/24/2009.
5. د سيګار د ارزوني پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، 7/20/2010.
6. د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، 7/14/2010.
7. د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، 7/14/2010.
8. د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، 7/17/2010.
9. د دفاع وزارت عمومي پلټونکي دفتر، "د بوديجو ويش او د افغانستان د امنيتي ځواکونو د بوديجي د مديريت لپاره د اعتبار ورکولو مسؤولتونه - 1 پړاو،" 11/5/2007، انلاين وکتل شو 1/12/2010، مخ 2.
10. د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، 7/14/2010.
11. د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، 7/14/2010.
12. د دفاع وزارت، د مالي تنظيم مقررات، "د قوماندان د بيړني ځواب پروګرام: 12 ټوک، 27 فصل،" 1/2009 - مخ 3-27.
13. د سيګار د ارزوني پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، 4/21/2010.
14. د دفاع وزارت، "دفاعي تشريحي بيان،" مخ 405.
15. H.R. 3326، "د دفاعي اختصاصونو د قانون ځانګه، 2010،" مخ 57.
16. د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، 7/15/2010.
17. د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، 7/15/2010.
